د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې
د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کميټه

تله ۱۳۹۶



# د
# پوهنې وزارت
## د وزارت په کچه د اداري فساد د زيان منلنې ارزونه


لنډيز........................................................... (۰۳) پاڼه
الف برخه ښوونکي او زده کوونکي........................ (۲۵) پاڼه
ب برخه رهبري او مديريت.................................. (۶۹) پاڼه
دريیمه برخه د پرمختګ لار.................................. (۹۳) پاڼه
ضميمې.......................................................... (۱۱۷) پاڼه
مراجع............................................................ (۱۴۷) پاڼه


د راپور پښتو ژباړه

# د موضوعات لړليک


**لنديز** **{۰۳}**

- يژندګووي {۰۶}
- ميتودولوژي {۰۹}
- پخواني تحليلونه {۲۰}

**الف برخه ښوونکي او زده کوونکي**

- د ښوونکو په ګمارنه کې اداري فساد {۲۶}
- د ښوونځي په مديريت کې اداري فساد {۴۰}
- دارالمعلمينونه {۴۳}
- له نصاب او د ښوونځي له لنډ شوي کال څخه راپورته … {۴۸}
- تخنيکي او مسلکي زده کړه او روزنه او سواد زده کړه {۵۲}
- د زده کړې لپاره کتابونه او سرچينې {۵۹}
- بديل ښوونځي – د ټولنې پر بنسټ زده کړې او خصوصي ښوونځي {۶۴}

**ب برخه رهبري او مديريت**

- د پوهنې وزارت رهبري او مديريت {۷۰}
- په ولايتونو، ولسواليو او شوراګانو کې مديريت او رهبري {۷۸}
- د پوهنې معلوماتي سيستم (EMIS) {۸۲}
- تدارکات {۸۶}
- اداينه او د ريکارډ ساتنه {۹۲}
- څارنه، ارزونه او تفتيش {۹۴}

**دريیمه برخه د پرمختګ لار**

- مثبتې نښې {۹۶}
- پايلې او راتلونکې پړاو {۱۰۰}
- سپارښتنې {۱۰۷}

## ضميمي


- ضميمه .1 : د پوهنې په وزارت کې د فساد د تورونو په اړه  د رسنیو او ...    {۱۱۸}
- 2. ضمیمه: د ولایت، جنسیت، ښوونیز، ناښوونیز په اساس د پوهنې ...    {۱۲۵}
- 3.ضمیمه: د جنسیت او ولایت په اساس خصوصي ښوونځې    {۱۲۷}
- 4. ضمیمه: په مطلوبه ولایتونو کې ټاکلو ښوونځیو لپاره پرتلیزه نوم ...    {۱۲۸}
- 5. په هغو ښوونځیو کې د EMIS د معلوماتو د کتني نمونه چې د ...    {۱۴۴}

**مراجع**    **{۱۴۷}**






# لنډیز

د ۲۰۱۶ کال په جولای میاشت کې، د پوهنې وزیر جلالتمآب اسدالله حنیف بلخي، د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې له کمیټې څخه غوښتنه وکړه چې د پوهنې وزارت لپاره د "اداري فساد د زیان منني ارزونه" ترسره کړي. د وزارت په کچه د اداري فساد د زیان منني ارزونه (MVCA) په ټول وزارت کې د اداري فساد د زیان منو په اړه لومړۍ هر اړخیزه ارزونه ده.

د څارنې او ارزونې کمیټې، د پوهنې وزارت په ټولو برخو کې د اداري فساد زیان منه په مفصله توګه تحلیل کړې ده. یادې کمیټې له ښوونکو، سرښوونکو، د ښوونځیو مدیرانو، د ښوونځي د شوراګانو غړو، د ښوونکو روزونکو، د پوهنې وزارت د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو له مامورینو، تمویلوونکو او نورو ونډه والو، او زده کوونکو او د هغوی له میندو او پلرونو سره خبرې کړې دي. په ټوله کې، دې کمیټې ۵۴۲ فردي مرکې او ډله ییزې مرکېپه مرکز کابل، او نهو ولایتونو بدخشان، بلخ، فاریاب، غزني، هرات، خوست، بامیان، پنجشیر او ننګرهار، او په ۱۳۸ ښوونځیو کې ترسره کړې دي.

هغه څه چې د ښوونځیو د سیمو خلکو په خپلو مرکو کې د پوهنې سکتور کې د اداري فساد اړونده تجربو په اړه د څارنې او ارزونې کمیټې ته ویلي دي، ویجاړوونکي دي. ډېره اړینه ده چې دا نظرونه درک کړل شي او پر هیواد باندې د اداري فساد ناوړه اغیز وپیژندل شي. د خدمتونو د کاروونکو د ژوندی تجربو دا تحلیل کارول به پالیسي جوړوونکي د دې جوګه کړي چې د مثبت، اغیزناک او پایښت لرونکي بدلون لپاره معنا لرونکي ګامونه پورته کړي.

## بنسټیزه موندنه

د څارنې او ارزونې کمیټې ټولې مرکې د پوهنې سکتور د اداري فساد د ځانګړو په ګوته شوو زیان منو پر اساس تحلیل کړې دي. دا زیان منې د ښوونځي په کچه ستونزو څخه نیولې، لکه د ښوونځی د اسنادو د تعدیل لپاره رشوت ورکول، د وزارت په کچه ستونزو پورې، لکه د ښوونځیو په رغونه او د ښوونځیو د کتابونو په ویشلو کې اداري فساد پورې رسیږي. **د اداري فساد یوه زیانمنه تر ټولو جدي ښکارېږي –په ټول هیواد کې خپره د اغیز، یا خپلوي پالنې او رشوت پر بنسټ د ښوونکو ګمارنه، نه د استعداد او ورتیا پر بنسټ. په لنډو ټکو کې، د ښوونکو په ګمارنه کې ډېر اداري فساد ترسره کېږي. دا په هیواد کې د زده کوونکو د زده کړې لپاره تر ټولو ویجاړوونکې ستونزه ده.**

پدې توګه، د پوهنې وزارت کې د اداري فساد د ستونزې مرکز لومړنۍ ستونزې، لکه د تدارکاتو برخه کې اداري فساد یا خیالي ښوونکي نه دي. بلکې، د ستونزې زړه هغه ماشومان، کورنۍ، ښوونکي او د ټولنې نور غړي دي چې د پوهنې د دې غیرفعال سیستم لومړني زیان منیدونکي دي چې په مستقیمه توګه د هغو خلکو پر وړاندې پاتې راغلی دی چې سیستم یې یې د خدمت وړاندې کولو په برخه کې د زده کړو ورکولو لپاره مامور شوی دی. په پایله کې، ټولنو په بشپړه توګه پر نوموړي سیستم باندې باور له لاسه ورکړی دی.

> *"زموږ لپاره ځانمرګی برید تر ټولو خطرناک شی نه دی، ځکه چې یو څو تنه به مړه شي – افغان میندې به نور بچې راوړي. خو زموږ لپاره تر ټولو خطرناک شی غیرمسلکي او ناپوهه ښوونکي دي، ځکه دوی د افغانستان راتلونکې وژني."*
> **په ډله ییز بحث کې یو تن ګډونوال چې خوی یې زده کوونکی و.**

## نوري سترې موندنې

- دومره ستر او پیچلی وزارت ټل د اداري فساد د سترو کچو پر وړاندې زیان منونکی وي. نوموړی وزارت په هیواد کې تر ټولو ستر حکومتي ګومارونکی وزارت دی چې شاوخوا ۲۶۲۰۰۰ تنه، یا د حکومتي ګمارنې ۶۸ سلنه خلک

يي كومارلي دي. لـه همدې املـه، نوموړې وزارت پـه څرګنده توګـه د هغو کسـانو لپـاره لومړنی هدف ګرځـي چـي غواړي د خپلو ملګرو، خپلوانو، همکارانو یا د همکارانو د اولادونو لپاره بستونه پيدا کړي. او نوموړی وزارت تر ډيره پورې نه دی توانيدلی چي له دې فشار سره مقاومت وکړي.

- دا د خپلوان پالنې د اغيز تر ټولو افراطي کچي دي. تر هغه پورې چي دا اغيز له منځه وړل شوی نـه وي، يا پـه فوق العاده توګه مهار شوی نه وي، ستونزمنه ده چي وکتل شي څنګه بـه د ښوونکو د ګمارنې پر وړانـدې د اداري فساد زيان مننه کې ښه والی راشي.
- د ښوونځيو نصاب ډير ستر دی، چي پايله يي د اداري فساد زيان منني دي ځکه ښوونکي هڅه کوي چي زده کوونکي له نيمګړي چمتووالي سره د کانکور ازمويني څخه تير کړي.
- داسي ښکاري چي ډير لږ اصلاحي فکر لرونکي مامورين شتون لري چي د اصلاحاتو راوستل غواړي يا کولای شي د پوهني وزارت دننه اصلاحات راولي.
- د نويو فارغانو او د تدريس د ځايونو ترمنځ پرته لرې فاصله، تر ډيره پورې د اداري فساد له امله ده. نږدې ۷۵ سلنه د دارالمعلين فارغان نه شي کولای چي د ښوونکو په توګه دندې ترلاسه کړي.
- د څارنې، تفتيش او پلټنې سيستمونه بې اغيزې دي يا هيڅ شتون نه لري.
- د پوهني معلوماتي سيستم د ستونزو په اړه، د څارنې او ارزونې کميټې د هغو ښوونځيو په مرسته چي ليدنـه يي تـرې کړې ده، په ښوونځيو کې د نوم ليکنې او حاضرې ډيټا پرتله کړله. د پوهني معلوماتي سيستم ډيټا تر ډيره د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۵ کلونو د نوم ليکنې ډيټا ته ورته وه، شاوخوا ۲ فيصده. خو کله چي د حاضري ډيټا د پوهني معلوماتي سيستم لـه ډيټا سره پرتله شوه، د پوهني معلوماتي سيستم ډيټا د حاضري شمير په اوسط ډول ۲۳ فيصده پورتـه تخمين کـړې وه. که څه هم دا شميرې د نمونې د اندازې د کوچنيوالي له امله تعميم کيدلای نشي، دا د دې څرګندونـه کوي ډيټا پـه لويـه کچه د فساد پر وړاندې زيان منونکي ده.

## راتلونکی ګام

د څارنې او ارزونې کميټه سپارښتنه کوي چي په هيواد کې – د کابينې پـه کچـه، د پوهنې د رهبری پـه کچـه، او پـه ولايتونو، ولسواليو او د ښوونځيو په سيمو کې – يو بحث پيل کړی شي، چي د څارنې او ارزونې کميټې لـه موندنو پراخه ملاتړ وکړي او هغو سترو بدلونونو ته جزئيات ور اضافه کړي چي نوموړې کميټې وړاندې کړي دي.

## سپارښتنې

د څارنې او ارزونې کميټه ۶۶ سپارښتنې لري، چي په لاندې لسو کټګوريو ويشل شوې دي:

1. **سيمه ييز مسؤليت.** لومړۍ سپارښتنه دا ده چي د ښوونځي ټولنې، نه د پوهني رياستونه، بايد د خپلو ښوونکو د ټاکنې لومړنی مسؤليت ولري.

2. **اداري اصـلاحات.** د بنسـټيزو سپارښـتونو غوښـتنه دا ده چـي د پـوهني وزارت د پراخـوالي او کـاري سـاحي لـه مخـې وړوکی شي ، چي د مديريت وړ او د اداري فساد پر وړاندې لږ زيـان منونکی شي؛ د تخنيکي او مسلکي زده کړو روزنـه د پوهنې وزارت څخـه د بانـدې يوه خپلواکـه اداره شـي، د ښوونکو د ټاکلو لپـاره ميکانيزم اصلاح شـي، او د نصاب اندازه راکمه کړل شي.

3. **په برياليتوب سره د پوهني وزارت اداره بدلول.** د څارنې او ارزونې کميټه د يو دوه اړخيزې تګلارې سپارښتنه کوي: په سيمه ييزه کچه، د ټولنو پر مشرۍ د ښوونکو ګمارنې پر لـور پـه چټکـۍ سره د خوځيدلو، او د اصلاحي شبکو د ملاتړ له لارې. او په مرکزي کچه، د بدلون رسمي جوړښت په تنظيمولو سره، چې د بشپړ وخت لپاره يو کـاري ګروپ ورتـه ځـانګړی شوی وي او د کابينې لـه ټينـګ ملاتړ څخـه برخمن وي ، او يـو روښـانه سيستم ولـري چـي د ښوونکو د ګمارنې په پاکولو کې برياليتوب پرې اندازه کړل شي. د څارنې او ارزونې کميټه همدا ډول د پايلو لپاره د ظرفيت لوړولو د ګومارنو د پراختيا، او د ښوونکو لپاره د مثبت ملاتړ د پراختيا سپارښتنه کوي لکـه څنګه چـي يـي د پوهني دريم ملي ستراتيژيک پلان کې يادونه شوې ده.

4. **قانوني بدلونونـه.** د څـارنې او روزنـې کميټـه سپارښـتنه کـوي چـي د پـوهني وزارت رهبـري د اداري فسـاد د فعـالي

ننګوني او فعال عکس العمل لپاره يوه نوي پاليسي چمتو او پلي کړي.

5. **د سملاسي بدلون نښه.** د څارنې او ارزونې کميټه باور لري چې دوه ګامونه: د ښوونکو ګمارنې لپاره په سملاسي توګه د سيمه ييزې حساب ورکونې څرګندول؛ او د پوهنې وزارت د اداري فساد په اړه د شکايتونو خپلواکه اداره تنظيمول، د مثبت بدلون لپاره ښکاره نښې کيدلای شي. همدا ډول د څارنې او ارزونې کميټه سپارښتنه کوي چې د پوهنې وزارت دې په عامه توګه – د اداري فساد پر ضد د نوي ستراتيژۍ له لارې، د اغيز د ردولو له لارې، او د پوهنې وزارت د مفسدو چارواکو د عدلي تعقيب لپاره هڅو کولو له لارې – وښيي چې دوی د اداري فساد له منځه وړلو ته لومړيتوب ورکوي.

6. **د نړيوالې ټولنې کړنې.** د څارنې او ارزونې کميټه سپارښتنه کوي چې تمويلوونکي دې په چټکه توګه د ښوونې د کيفيت لوړولو او همدا ډول د برياليو پروګرامو لکه د ظرفيت لوړونې فعاليت د غځولو په موخه د بنسټ په توګه، د اداري فساد پر ضد مبارزې او خپلواکې څارنې باندې د نوي تمرکز لپاره خپلواک ملاتړ وښيي.

7. **د سيستمونو لوړول او خپلواکه څارنه.** د څارنې او ارزونې کميټه د پوهنې معلوماتمعلوماتي سيستم د پياوړتيا او د هغه دننه د بشري سرچينو د اداري سيستم ډول د پياوړتيا سپارښتنه کوي. کميټه د څارنې د ميکانيزمونو د هراړخيز لوړوالي سپارښتنه کوي: ۱) د پوهنې وزارت د داخلي تفتيش څانګې اساسي پياوړتيا، ۲) د پوهنې کيفيت او کارکړنې لپاره د څارنې د خپلواکو ادارو تاسيسول، او ۳) يو خپلواکه اداره چې د ښوونکو د ګمارنې روڼتيا وڅاري.

8. **ډيره شوې روڼتيا.** د څارنې او ارزونې کميټه سپارښتنه کوي چې د پوهنې وزارت يو ستر ابتکار ترسره کړي چې خپل فعاليتونه په لوړه توګه راڼه کړي؛ چې په احتمالي توګه د دريو کلونو دننه د حکومت تر ټولو پرانيستی او روڼ وزارت شي.

9. **غوره پلي کول.** د څارنې او ارزونې کميټه سپارښتنه کوي چې لويه څارنوالی د پوهنې وزارت د اداري فساد د قضيو اندراج په فعاله توګه واخلي.

10. **د بازار پر بنسټ بديلونه.** د څارنې او ارزونې کميټه د زده کوونکو او د هغوی د ميندو او پلرونو له خوا د کتابونو د اخيستلو لپاره د بازار حل لارو )ووچرونو( سپارښتنه کوي.

## ستاينه

له هر چا سره چې د څارنې او ارزونې کميټې مرکه کړې ده – چارواکو، ميندو او پلرونو، ښوونکو او زده کوونکو– په بشپړه توګه خپل وخت ورکړی دی او ليواله ول چې په دې څيړنه کې مرسته وکړي. دوی ټولو روښانه کړه چې ښوونه او روزنه د دوی د کورنيو او د هيواد د راتلونکي لپاره د مرکزي ارزښت لرونکي ده، او له همدې امله د هيواد لپاره لوړ لومړيتوب دی.

# 1.يژندګلوي

د ۲۰۱۶ کال په جولای میاشت کې، د پوهنې وزیر جلالتمآب اسدالله حنیف بلخي، د څارنې او ارزونې له کمیټې څخه غوښتنه وکړه چې د پوهنې وزارت لپاره د "اداري فساد د زیان منني ارزونه" ترسره کړي. د وزارت په کچه د اداري فساد د زیان منني ارزونه (MVCA) په ټول وزارت کې د اداري فساد د زیان منونو په اړه لومړی هر اړخیزه ارزونه ده.

د څارنې او ارزونې کمیټې د تحلیل موخه په افغانستان کې د ښوونځیو د ښوونې او روزنې سیستم کې د اداري فساد د زیان منونو د یو هر اړخیزه انځور ترلاسه کول، او بیا یې د رغنیزو کړنو لپاره سپارښتنې ترسره کول دي.

کله چې په ښوونه او روزنه کې په ملي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه د اداري فساد د لوړې کچې لرونکو تخنیکي اړخونو ته پام وکړل شي، نو اسانه ده چې له سرې لار ورکه شي چې څنګه اداري فساد د عادي افغانانو پر ژوند باندې اغیز لري. هغه څه چې د ښوونځیو د ټولنو غړو په خپلو مرکو کې د پوهنې سکتور کې د اداري فساد اړونده تجربو په اړه د څارنې او ارزونې کمیټې ته ویلي دي، ویجاړوونکي دي. ډیره اړینه ده چې دا نظرونه درک کړل شي او پر هیواد باندې د اداري فساد ناوړه اغیز وپیژندل شي. د خدمتونو د کاروونکو د ژوندی تجربو دا تحلیل کارول به پالیسي جوړوونکي د دې جوګه کړي چې د مثبت، اغیزناک او پایښت لرونکي بدلون لپاره معنا لرونکي ګامونه پورته کړي.

*"زموږ لپاره ځانمرګی برید تر ټولو خطرناک شی نه دی، ځکه چې یو څو تنه به مړه شي – افغان میندې به نور بچې راوړي. خو زموږ لپاره تر ټولو خطرناک شی غیرمسلکي او ناپوهه ښوونکي دي ځکه دوی د افغانستان راتلونکی وژني."*

**په ډله ییز بحث کې یو تن ګډونوال چې ځوی یې زده کوونکی و.**

د وزارت په کچه د اداري فساد د زیان منني دا ارزونه په ځانګړې توګه د دې لپاره طرحه شوې ده چې له ښوونځیو او هغو ټولنو سره ښکیلېدل په کې شامل شي چې دوی ورته خدمت کوي. دا ارزونه په ۱۳۰ ښوونځیو او د ښوونځیو ټولنو کې له ونډه والو سره د ۵۴۲ مرکو او ډله ییزو بحثونو له لارې ترلاسه شوې ده. د ټولنې پر بنسټ دا مرکې په ټول راپور کې له هغو مرکو سره یوځای په پام کې نیول شوې دي چې په ملي او ولایتي کچو د لوړ صلاحیت لرونکو بستونو لرونکو سره شوې دي.

د ثبوت راټولول تر ډیره پورې د بې نومه ژورو مرکو په وسیله دي. د دې ډول تحلیلونو لپاره د ثبوت راټولولو په موخه دا طبیعي خبره ده چې خلک د ساحې څیړونکو ته یواځې په دې شرط معلومات ښکاره کوي چې د دوی شهرت پټ وساتي. دا د شهرت پټولو چاره ځینې مهمو ځواب ویونکو ته جواز ورکوي چې د هغو ناوړه کړنو په اړه ریښتیني واوسي چې دوی لیدلي دي، خو ځینې نورو ته بیا دا فرصت ورکوي چې بې بنسټه دعوې او اوازې جوړې کړي. د څیړنې ټیم دنده لري چې ثبوت وتلي، لږ تر لږه له دوه نورو څخه تائیدوونکي بیانیې ترلاسه کړي – چې مثلث کول ورته وایي – او وارزوي چې ایا ورکړل شوې بیانیه د باور وړ ده او که نه. کله چې له بیلابیلو موقعیتونو له یو څخه زیات کسان او د بیلابیلو صلاحیتونو او مسولیتونو لرونکي کسان ورته څرګندونې وکړي، نو بیا یوه نمونه راپورته کیږي، او د څیړنې ټیم دا موضوعات تر هغه ډېر جدي نیسي چې دوی له یو شخص څخه د مهالنیو ملاحظاتو په شکل ترلاسه کړي وي. په بل عبارت، د څیړنې ټیم پر ځانګړو انفرادي قضیو باندې متمرکز نه ول، بلکې پر دې متمرکز ول چې څنګه دوی په ګډه سره د خطرونو یو انځور جوړوي.

له همدې امله، لوستونکی باید باوري اوسي چې د زیان مننو هر ډول راپور شوي موندني ښي اساسي شوې او د دې لپاره په ارزونه کې شاملې شوي دي چې ډېرو مهمو ځواب ویونکو ورته اندیښنې له ټیم سره شریکې کړې دي. د ښوونې او روزنې د دې تحلیل په حالت کې، د څارنې او ارزونې کمیټې وموندله چې د اداري فساد اصلي زیان مننې د مرکه ورکوونکو له ټولو ډولونو څخه د ستر شمیر ځواب ویونکو له خوا شریکې شوې دي. د ناوړه کړنو ځلور ډولونه چې نوموړي ټیم ته په تکراري توګه ویل کیدل د ښوونکو د ګمارنې او استخدام، ټولشموله رشوت، د ارقامو جعلکارۍ، او تدارکاتو اړوند ول. له دوی څخه یو چې ډیر زیات تاکید پرې کیدلو د ښوونکو د ګمارنې او استخدام په بهیر کې په ستره کچه اداري فساد و. یوازې پنځه مرکه ورکوونکو، چې د ټولو ۱ سلنه برخه تشکیلوي، وویل چې دا دومره ستره ستونزه نه ده.

له مرکو څخه په روښانه توګه څرګندیږي چې اداري فساد په دوامداره توګه او په ستره کچه ترسره کیږي، چې تر ډیرو کلونو پورې یې سر رسیږي. په لوړو ځوکیو ناست چارواکي – او د نړیوالې ټولنې غړي– له دې اداري فساد څخه خبر دي، خو پدې اړه هیڅ یا لږ اغیزناک ګامونه پورته کړل شوي دي، او ډیر کم خلک تر عدلي تعقیب لاندې نیول شوي دي. د څارنې او ارزونې کمیټې دا تحلیل د اداري فساد پر وړاندې لومړنی جدي ګام دی چې د نوموړې وزارت له خوا پورته کړل شوی دی.

سره لدې، د څارنې او ارزونې کمیټې د وزارت دننه له ډیرو خلکو سره کتنې ترسره کړې دي چې ریښتیني، صادقه او ښه خلک دي. دا خلک په خپلو کارونو کې د درناوي وړ دي او دوی پریکنده دي چې هر ډول مرسته وکړي چې یوه داسې ټولنه رامنځ ته کړي چې خلک یې ښې زده کړې ولري او په نړۍ کې ځانته نوم ولري.
حتی غه خلک هم چې په اداري فساد کې را ګیر شوي دي، ډیر خلک چې موږ ورسره د ارزونو په دوران کې ولیدل، د سیستم قربانیان دي، د دې پر ځای چې سرغړوونکي اوسیږي. دوی هم غواړي چې اوسنی سیستم ژر تر ژره بدلون ومومي.
دا راپور د ښوونې او روزنې په سکتور کې همدې ریښتینو خلکو ته ډالۍ دی. له شک پرته دوی حق لري چې پر مسؤلیت لرونکو بستونو وګومارل شي او همدوی کولای شي چې په نوموړي وزارت کې اداري فساد له بیخه ورک کړي.
د څارنې او ارزونې کمیټه هیله لري چې په دې راپور کې ځای شوي موندنې به د پوهنې وزارت او په نړیواله ټولنه کې د دوی د پراختیایي همکارانو ترمنځ د بدلون د پیل ټکی وي.

> *"موږ افغانستان د ښه تعلیمي سیستم په وسیله بدلولای شو؛ نه د بمونو، پوځیانو او ټانکونو په وسیله."*
> **په یوه نړیواله نادولتي مؤسسه کې د څیړنې یو افغان مامور**

## د دې راپور ترتیبول

دا راپور د کارول شوي میتودولوژۍ (۲ څپرکی)، او د افغانستان د ښوونې او روزنې سیستم د نورو تحلیلونو له یوې کتنې (۳ څپرکی) سره پیلیږي. بیا وړاندې ځي، په الف برخه کې، د ښوونکو اړونده ستونزو مرکزي نکته – د دوی ګومارل (۴ څپرکي)، د ښوونځیو مدیریت (۵ څپرکي)، دارالمعلینونو (۶ څپرکي)، ښوونیز نصاب (۷ څپرکي)، د زده کړې لپاره کتابونو او سرچینو (۸ څپرکي) او د بدیلو ښوونځیو (۹څپرکي) په اړه بحث کوي.

بیا په ب برخه کې، دا راپور هغه موندنو باندې تمرکز کوي چې په وزارت کې د مدیریت او رهبرۍ اړوندې دي (۱۰ څپرکی)، او په ولایتونو، ولسوالیو او شوراګانو کې دي (۱۲ څپرکی)، بیا هغه ستونزې چې د پوهنې معلوماتمعلوماتي سیستم اړوندې دي (۱۳ څپرکی)، د تداراکاتو (۱۴ څپرکی)، استحقاق او د سوابقو ساتلو (۱۵ څپرکی) او د څارنې او ارزونې ستونزې په (۱۶ څپرکي) کې بحث شوې دي.

وروسته په ج برخه کې، نوموړی راپور د پرمختګ لارې ته کتنه کوي چې یو څپرکی د هغو مثبتو نښو په اړه دی چې د ښارنې او ارزونې د سیمه ییزو ټیمونو له خوا لیدل شوې دي (۱۷ څپرکی)، پایلې او د پرمختګ پر لور راتلونکی ګام (۱۸ څپرکی) او سپارښتنې (۱۹ څپرکی).



# 2. میتودولوژي

## 2.1 د میتودولوژۍ عمومي کتنه

د څارني او ارزوني کمیټي له خوا غوره شوې میتودولوژي د ښووني او روزني سکتور کي د اداري فساد پر وړاندي د زیان منني ارزونه ده. د دې لپاره چې د پوهني وزارت کي د زیان منني یو هر اړخیز انځور ترلاسه کړل شي، نوموړې ارزونه د یوې سیستماتیکي لارې څخه، د یو لړ هغه ډول اشخاصو په ښکیلتیا چې لومړۍ لاس موندني ورسره وې، دیوې داسي پروسې له لارې ترسره شوه چې یادو اشخاصو پکي د خپلو تجربو څخه استنباط ترسره کړې دی. د اداري فساد پر وړاندي د زیان منني د ساحو په نښه کول یوه کشف کوونکې پروسه وه چې په ملي او سیمه ییزه کچه د ښووني او روزني سکتور له مسلکي کسانو او د ښوونځیو د ټولنو له غړو سره بحثونه؛ او د افغانستان د پوهني سکتور کي د اداري فساد د خطرونو تعریفولو لپاره د تیرو هڅو څېړنه په کي شامل ول. د اداري فساد پر وړاندي د زیان منني ارزونه د معلوماتمعلوماتو راټولولو د څلورو ډولونو له لارې ترسره شوې ده: مهمي معلوماتمعلوماتي/ژورې مرکې، ډله ییز بحثونه، مشاهدې، او د اسنادو کتنه.

په دې ارزونه کي، د څارني او ارزوني کمیټې، د امنیتي ستونزو او د وخت او سرچینو د محدودیت په پام کي نیولو سره، د سهم لرونکو له یوې پراخې ټاکل شوې برخې سره مشورې کړې دي چې د شونتیا تر بریده د افغانستان د متنوع نفوس استازیتوب کوي. لاندې تنوع او توپیرونه په څیړنه کي په پام کي نیول شوي دي.

- *موقعیت* – د افغانستان د مرکزي، شمال ختیځ، شمال لویدیځ او او سویل ختیځو ولایتونو استازیتوب په کي شوی دی؛
- *ښاري/کلیوالي* – له ښاري، کلیوالي او لرې پرتو سیمو څخه متوازن استازیتوب په کي شوی دی؛
- *ټولنیز-اقتصادي وضعیت* – د نسبي شتمنو، او عاید لرونکو او بیوزلو ټولنو استازیتوب په کي شوی دی؛
- *ژبې* – د اکثریت ژبو د ویونکو استازیتوب په کي شوی دی لکه پښتو او دري، او همدا ډول د اقلیت ژبو ویونکو استازیتوب هم په کي شوی دی لکه ترکمني او ازبکي؛
- *نژاد* – د هزاره، پښتون، تاجک، ترکمن او ازبک وګړو متوازن استازیتوب په کي شوی دی؛
- *دین* – د شیعه (اسماعیلیانو په ګډون) او سني ټولنو استازیتوب په کي شوی دی.

که څه هم د څارني او ارزوني کمیټي په دې ارزونه کي د کیفي او کمي میتودونو له ګډ شکل څخه ګټه اخیستې ده، خو دا څیړنه تر ډیره پورې یوه کیفي څیړنه ده او له همدې امله یې موندني د دې لپاره نه دي چې د عام کېدو وړ یا د انعکاس وړ شي لکه څنګه چې په کمي متمرکزو څیړنو کي وي. په هر حال، د څارني او ارزوني کمیټه باوري ده چې د دې ارزوني موندني په دې معنی "د انتقال وړ" دي، لکه څنګه چې لینکلن او ګوبا[1] یادونه کوي، "... په کافي جزئیاتو کي د یوې پدیدې په روښانولو سره، سړی کولای شي هغه حد وارزوي چې تر هغه پورې ترلاسه شوې پایلې نورو وختونو، تنظیمونو، وضعیتونو او خلکو ته د انتقال وړ وي." په مرکو او ډله ییزو بحثونو کي د اداري فساد پر وړاندي زیان منونو او اغیزو د "پنډو تشریحاتو"[2] وزن یو ستر ثبوت وړاندې کوي چې په افغانستان کي د پوهني سکتور کي د اداري فساد پر وړاندې زیان منني د کافي پراختیا او ژورتیا لرونکي دي چې د پوهني وزارت دننه جوړښت کي یې د پام وړ جدي ملاحظات رامنځ ته کړي دي.

## 2.2 د څارني او ارزوني کمیټي د تحلیل ټیم

د دې ستري څیړني لپاره یو ستر ټیم یوځای شوی و. نهه تنه د څارني او ارزوني کمیټي له سکرتریت، څلورویشت تنه د افغانستان لپاره د ناروی کمیټي (NAC) سره د څارني او ارزوني کمیټي له مشارکت څخه را اخیستل شوي ول، چې نوموړې اداره په افغانستان کي د پوهني سکتور سره د کار کولو ۳۷ کلنه تجربه لري. د دې ترڅنګ، د څارني او ارزوني کمیټي یو نړیوال د پوهني مجرب متخصص، او یو نړیوال مشاور ګومارلي ول چې د نیمه جوړو شوو مرکو او ډله ییزو بحثونو میتودولوژۍ کي تجربه لري.

د څارني او ارزوني کمیټي له نهو غړو څخه، درې ښځینه او شپږ نارینه ول، د افغانستان لپاره د ناروی کمیټي له ۲۴ غړو څخه، ۱۶ ښځینه او ۸ یې نارینه ول.

ټول ټيم ته د مرکو کولو د تخنيکونو، د معلوماتو کوډ کولو او د ډله ييزو بحثونو په جوړولو کي پرمختللي روزنه ورکړل شوي وه. ټولې مرکي ثبت شوي او د لاندي يادو شوو بيلابيلو کټګوريو سره سمي کوډ شوي وي.

## 2.3 مرکي

د دې ارزوني د ثبوت راغونډولو لپاره لومړنی وسيله د ځواب ويونکو له پراخي ډلي سره يو-په-يو مرکي ترسره کول و. په ټوله کي، ۵۴۲ مرکي او ډله ييز بحثونه ترسره شوي دي: ۳۸۸ مخامخ مرکي او ۱۶۰ ډله ييز بحثونه.

د مرکه ورکوونکو شپږ ډلي موجودې وي:

i) په کابل کي د پوهني وزارت کي د دې وزارت مامورين
ii) په اوه ولايتونو کي د پوهني رياستونو مامورين او د دارالمعلمينونو چارواکي
iii) د ښوونځيو مديران/آمرين او د ښوونځيو د مديريت د ټيم نور کارکوونکي
iv) ښوونکي
v) د ښوونځيو شوراګاني، زده کوونکي او د هغوی ميندي او پلرونه
vi) پراختيايي همکاران او د افغان او نړيوالو نادولتي مؤسسو کارکوونکي

د مرکه ورکوونکو په هرو شپږو ډلو کي د مرکو شمېر په لاندي ډول دی:

| د مرکه ورکوونکي کټګوري | شمېر |
|---|---|
| په کابل کي د وزارت چارواکي | 109 |
| په ولايت کي د پوهني رياستونه او دارالمعلمينونه | 126 |
| د ښوونځيو مديران/آمرين او د مديريت ټيم | 76 |
| ښوونکي | 93 |
| زده کوونکي او د هغوی ميندي او پلرونه | 125 |
| پراختيايي همکاران، نړيوالي نادولتي مؤسسي، داخلي نادولتي مؤسسي، بين الحکومتي اداري | 13 |
| نور | 9 |
| د مرکو مجموعي شمېر | 542 |

| د مرکه ورکوونکو د جنډر ترکيب | |
|---|---|
| د مرکي ډول | جزئيات |
| مخامخ | 66 ښځينه/ 328 نارينه |
| ډلي | 69 ښځينه/87 نارينه |

ولایتي مرکې (۲ کټګوري) په نهو ولایتونو کې ترسره شوي، نومورې ښکیلیدني د ولسوالی، ښوونځي او ټولني په کچه په لاندې ډول خپرې ترسره شوی:

| ولایت | ولایتي چاروکو د مرکو شمېر |
|---|---|
| بدخشان | 21 |
| بلخ | 20 |
| بامیان | 5 |
| فاریاب | 19 |
| غزني | 24 |
| هرات | 12 |
| خوست | 10 |
| ننګرهار | 8 |
| پنجشیر | 8 |

## 2.4 ښوونځي

د خارني او ارزوني کمیټي او د افغانستان لپاره د ناروی کمیټي ټیمونو په اوه ولایتونو کې په ۱۳۸ ښوونځیو کې له مدیرانو/آمرینو، ښوونکو، زده کوونکو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو سره مرکې ترسره کړې دي:

| ګڼه | ښوونځی | ولایت |
|---|---|---|
| 1 | میر فضل الله | بدخشان |
| 2 | مشهد د نجونو ښوونځی | بدخشان |
| 3 | نواباد ګندم قل د نجونو ښوونځی | بدخشان |
| 4 | بي بي اسماء | بدخشان |
| 5 | مهدبه ګډ ښوونځی | بدخشان |
| 6 | وخشي عالي لیسه | بدخشان |

| | | |
|---|---|---|
| 7 | بکتاش عالي لیسه (ګډ ښوونځی) | بدخشان |
| 8 | حلیمه سعدیه عالي لیسه | بدخشان |
| 9 | سنګ نهر | بدخشان |
| 10 | سیف شهید عالي لیسه (ګډ ښوونځی) | بدخشان |
| 11 | قره کمر منځنی ښوونځی | بدخشان |
| 12 | سبزه بهار | بدخشان |
| 13 | ده دهي د نجونو ښوونځی | بدخشان |
| 14 | خردمن شهید | بدخشان |
| 15 | د ټولني پر بنسټ ښوونځی مسلم اباد | بدخشان |
| 16 | ګنده چشمه | بدخشان |
| 17 | سم دره | بدخشان |
| 18 | خان آقا | بدخشان |
| 19 | خلم د هلکانو عالي لیسه | بلخ |
| 20 | خواجه برهان د هلکانو عالي لیسه | بلخ |
| 21 | خواجه برهان د نجونو عالي لیسه | بلخ |
| 22 | مسعود شهید عالي لیسه | بلخ |
| 23 | امین حسین د نجونو عالي لیسه | بلخ |
| 24 | عبدالرؤف خلمي عالي لیسه | بلخ |
| 25 | تنګي د نجونو عالي لیسه | بلخ |
| 26 | سلطان راضیه د نجونو عالي لیسه | بلخ |
| 27 | رهنور خصوصي عالي لیسه | بلخ |
| 28 | سلطان غیاث الدین عالي لیسه | بلخ |
| 29 | کارته صلح د نجونو عالي لیسه | فاریاب |
| 30 | کارته صلح د هلکانو منځنی ښوونځی | فاریاب |

| | | |
|---|---|---|
| فاریاب | گوهرشاد بیگم د نجونو عالي لیسه | 31 |
| فاریاب | جرنیل غوث الدین د هلکانو منځنی ښوونځی | 32 |
| فاریاب | خراسان د هلکانو عالي لیسه | 33 |
| فاریاب | ستاره د نجونو عالي لیسه | 34 |
| فاریاب | کوه خانه د هلکانو عالي لیسه | 35 |
| فاریاب | کوه خانه د نجونو عالي لیسه | 36 |
| فاریاب | ابو عبید جوزجاني د هلکانو عالي لیسه | 37 |
| فاریاب | افغان کوټ د نجونو عالي لیسه | 38 |
| فاریاب | تاتار خانه د نجونو عالي لیسه | 39 |
| فاریاب | توکلي خانه د نجونو عالي لیسه | 40 |
| فاریاب | توکلي خانه د هلکانو منځنی ښوونځی | 41 |
| فاریاب | ایدین خصوصي ښوونځی | 42 |
| فاریاب | عرب خانه د هلکانو عالي لیسه | 43 |
| فاریاب | پشه خاني د هلکانو منځنی ښوونځی | 44 |
| فاریاب | پشه خاني د نجونو منځنی ښوونځی | 45 |
| فاریاب | مولانا امرالله د نجونو عالي لیسه | 46 |
| غزني | فیضیه د هلکانو عالي لیسه | 47 |
| غزني | فیضیه د نجونو عالي لیسه | 48 |
| غزني | سلطاني د هلکانو عالي لیسه | 49 |
| غزني | شهداء د نجونو عالي لیسه | 50 |
| غزني | سید احمد الودل د نجونو عالي لیسه | 51 |
| غزني | سبز چوب بالا | 52 |
| غزني | سنگ جوی لومان گده عالي لیسه | 53 |
| غزني | لومان د هلکانو عالي لیسه | 54 |

| | | |
|---|---|---|
| غزني | لومان د نجونو عالي ليسه | 55 |
| غزني | سيد جمال الدين د نجونو عالي ليسه | 56 |
| غزني | سيد جمال الدين د هلکانو عالي ليسه | 57 |
| غزني | مهاجرين د هلکانو عالي ليسه | 58 |
| غزني | مهاجرين د نجونو عالي ليسه | 59 |
| غزني | خدايداد د هلکانو عالي ليسه | 60 |
| غزني | خدايداد د نجونو عالي ليسه | 61 |
| غزني | سنايي گردان خدايداد | 62 |
| غزني | مغولان د نجونو عالي ليسه | 63 |
| غزني | البيروني د نجونو عالي ليسه | 64 |
| غزني | فاطمه زهراء د نجونو عالي ليسه | 65 |
| غزني | قلعه شهدا د هلکانو عالي ليسه | 66 |
| غزني | ولي اثر د نجونو عالي ليسه | 67 |
| غزني | خواجه روشنايي د نجونو عالي ليسه | 68 |
| غزني | توحيداباد د هلکانو عالي ليسه | 69 |
| غزني | قلعه اميرمحمد خان د نجونو عالي ليسه | 70 |
| غزني | بهلول گډه عالي ليسه | 71 |
| غزني | کودال منځنی ګډ ښوونځی | 72 |
| غزني | ميرادينه د نجونو عالي ليسه | 73 |
| غزني | ميرادينه د هلکانو عالي ليسه | 74 |
| غزني | سوکا د هلکانو عالي ليسه | 75 |
| غزني | لالچک د نجونو عالي ليسه | 76 |
| غزني | مکنک د هلکانو عالي ليسه | 77 |
| غزني | مکنک د نجونو عالي ليسه | 78 |

| | | |
|---|---|---|
| غزني | سبزک د هلکانو عالي لیسه | 79 |
| غزني | سبزک د نجونو عالي لیسه | 80 |
| هرات | ملکه جلالي عالي لیسه | 81 |
| هرات | فخرالمدارس عالي لیسه | 82 |
| هرات | دارالحفاظ | 83 |
| هرات | امیر علیشیر نوايي د نجونو عالي لیسه | 84 |
| هرات | سلطان غیاث الدین غوري | 85 |
| هرات | امیر علیشیر نوايي د هلکانو عالي لیسه | 86 |
| هرات | گوهر شاد د نجونو عالي لیسه | 87 |
| هرات | د کرنې او وترنرۍ انستیتیوټ | 88 |
| هرات | تجربوي د نجونو عالي لیسه | 89 |
| هرات | تجربوي د هلکانو عالي لیسه | 90 |
| هرات | جمعیت سرویستان گده عالی لیسه | 91 |
| هرات | سردار محمد داؤد عالي لیسه انجیل ولسوالي | 92 |
| هرات | قوای زره د انجیل ولسوالۍ کې | 93 |
| هرات | توحید ښوونځی (خصوصي) | 94 |
| کابل | عبدالرحیم شهید د هلکانو ښوونځی | 95 |
| کابل | زینب کبری د نجونو عالي لیسه | 96 |
| کابل | ابو قاسم فردوسي عالي لیسه | 97 |
| کابل | گل دره د نجونو عالي لیسه | 98 |
| کابل | یسری ښوونځی | 99 |
| کابل | د عبدالرحیم شهید عالي لیسه | 100 |
| کابل | امیر حمزه | 101 |
| کابل | بي بي حنیفه | 102 |

| | | |
|---|---|---|
| کابل | غلام حیدرخان (د ورځي لیسه) | 103 |
| کابل | غلام حیدرخان (د شپې لیسه) | 104 |
| کابل | حبیبیه | 105 |
| کابل | محمد هاشم میوندوال | 106 |
| کابل | هزاري بغل | 107 |
| کابل | جمال مینه ۱۹ شمیره منځنی ښوونځی | 108 |
| کابل | خواجه عبدالله انصاري | 109 |
| کابل | خانهء نور شمیره ۲ | 110 |
| کابل | شهرک محمدیه | 111 |
| کابل | پیشگامان استقلال | 112 |
| کابل | رابعه بلخي | 113 |
| کابل | سید جمال الدین افغان | 114 |
| کابل | سید نورمحمد شاه مینه | 115 |
| کابل | سید شهداء د نجونو عالي لیسه | 116 |
| کابل | صوفي اسلام | 117 |
| کابل | ذبیح الله عصمتي | 118 |
| کابل | محمود هوتکي | 119 |
| کابل | ظهیرالدین فارابي | 120 |
| کابل | طوطیه د نجونو عالي لیسهد نجونو عالي لیسه | 121 |
| کابل | قلعه حشمت خان عالي لیسه | 122 |
| کابل | سید نورمحمدشاه | 123 |
| کابل | بي بي زینب کبری | 124 |
| کابل | ابن سینا عالي لیسه | 125 |
| کابل | اریانا عالي لیسه | 126 |

| | | |
|---|---|---|
| 127 | ګذرګاه د نجونو ښوونځی | کابل |
| 128 | جهان خصوصي ښوونځی | کابل |
| 129 | معرفت خصوصي ښوونځی | کابل |
| 130 | ګلوري خصوصي ښوونځی | کابل |
| 131 | شهید داؤد د هلکانو عالي لیسه | خوست |
| 132 | عبدالحی حبیبي د هلکانو عالي لیسه | خوست |
| 133 | صدیق روهي، د نجونو عالي لیسه | خوست |
| 134 | صدیق روهي، د هلکانو عالي لیسه | خوست |
| 135 | سیربند، د هلکانو عالي لیسه | خوست |
| 136 | درګی، د هلکانو عالي لیسه | خوست |
| 137 | درګی، د نجونو عالي لیسه | خوست |
| 138 | پیربادشاه د نجونو ښوونځی | خوست |

د ښوونځي پر بنسټ مرکي د افغانستان لپاره د ناروی کمیټې او د څارنې او ارزونې د کمیټې د مجربو ساحوي ټیمونو له خوا ترسره شوې دي. د افغانستان لپاره د ناروی کمیټې ټیم په ۱۰۸ ښوونځیو او نورو تعلیمي بنسټونو کې د ښوونځیو په کچه ښکیلیدنې ترسره کړې، چې خصوصي او دولتي اداري په کې وې، په داسې حال کې چې په کابل کې میشت د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم په کابل ښار کې له ۳۰ دولتي او خصوصي ښوونځیو څخه په ټولو پړاوونو کې لیدنې ترسره کړې دي. د څارنې او ارزونې کمیټې د تحلیل په دوران کې، ۵۴۲ انفرادي مرکې او ډله ییز بحثونه بشپړ شول. دا ټول د اړوندې ټایپولوژۍ او د حل لارو د لیدلورو سره سم درج او کوډ شوي دي (لاندې وګورئ).

## 2.5 په افغانستان کې د ښوونې او روزنې د تیرو تحلیلونو کتنې

په ښوونیزو خپرونو کې د اړونده اداري فساد په اړه د شته ادبیاتو یوه پراخه ځیرنه ترسره شوه او د پراختیایي همکارانو او ادارو د ارزونو راپورونو ته یوه کتنه ترسره شوه چې د متحده ایالتونو نړیوالې پراختیایي اداره، د افغانستان لپاره د امریکا د بیارغونې د مرستو د څار اداره یا سیګار، د ډنمارک نړیوالې پراختیایي اداره (DANIDA)، د کاناډا د نړیوالو چارو اداره، د ناروې د پراختیایي همکارۍ اداره (Norad)، د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه، او یونیسکو په کې شاملې دي. د پوهنې وزارت لپاره د څار عالي اداري پلټنې هم وکتل شوې.

د دې ترڅنګ، د پوهنې اړوند اداري فساد په اړه د افغان رسنیو راپورونو په اړه هم یوه لټه ترسره شوله، چې ډیر راپورونه یې د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو اړوند ول (۱ ضمیمه وګورئ).

## 2.6 د پوهنې ډیټا (شمیرې) او د پوهنې معلوماتي سیستم

د ښوونځیو د ډیټا تائیدول – چې په ټول هیواد کې د زده کوونکو شمیر له ۶ ملیونو څخه تر ۱۰ ملیونو پورې دی – بنسټیزه ستونزه ده. که څه هم د دې ستونزې تحلیل د دې ځیرنې موخه نه وه، د څارنې او ارزونې کمیټې له

فرصت څخه ګټه واخیستله چي د پوهني معلوماتي سیستم ډیټا له هغو شمېرو سره وګوري چي موږ ته راپور شوي وي او د هغو ۱۳۸ ښوونځیو د سوابقو له مشاهدي څخه مالومه شوي وه چي موږ کتلي ول.

## 2.7 د ښوونځی په زده کړو کې د اداري فساد ډولونه

په تیرو ۲۰ کلونو کې په منځنیو ښوونځیو کې د اداري فساد د ځانګړو ستونزو په نښه کولو ته د پام وړ نړیواله پاملرنه اوښتي ده. د پیل ټکی یې په ۲۰۰۱ کال کې د یونیسکو کار و، چې ورروسته بیا د نورو نړیوالو ادارو پاملرنه هم ورته واوښته، چې UNDP، د اقتصادي همکارۍ او پراختیا اداره، نړیوال بانک، U4 او د روڼتیا نړیوالي اداري نومونه د یادولو وړ دي. په پایله کې، د پوهني سکتور کې د اداري فساد ځانګړو ستونزو ډیر ډولونه شتون لري. د څارني او ارزوني کمیټي ددا پخواني ډولونه د دي تحلیل لپاره چمتو او ترکیب کړي دي، چې د پوهني په سکتور کې یي د اداري فساد ۳۶ ډوله ستونزي په نښه کړي دي.

د اداري فساد ستونزي په دوه سترو ډلو ویشل شوي دي: د اداري فساد هغه میکانیزمونه چې د ښوونځیو او ولسوالیو په کچه راپورته شوي دي، او د اداري فساد هغه میکانیزمونه چې په مرکزي توګه، معمولاً د وزارت تر مستقیم کنترول لاندي، اغیزمن کیږي. د پوهني اړوند د اداري فساد ځانګړو ستونزو بشپړ حد په لاندي جدول کې ښودل شوی دی:

| معارف کې د اداري فساد مشخص خطرونه | | |
|---|---|---|
| مرکزي – پالیسي | مرکزي - مالي او کنټرول | په ښوونځیو کې – مستقیمه اغیزه |
| د تعلیمي بودیجو ناسمه لاربښودنه | د مرکزي بودیجو انحراف | ښوونځي د شمولیت لپاره پیسي ورکول |
| ادارو، پروژو ته ناسم تخصیص | د پروژو د بودیجو انحراف | د غوره نمرو ترلاسه کولو لپاره پیسي ورکول |
| ډیر لوړ تعلیمي نصاب | د معارف د شتمنیو انحراف | د نو پایلو ترلاسه کولو لپاره پیسي ورکول |
| مرکزي – ښوونکي او بشري منابع | مفتشینو او څارونکو ته بډي ورکول | د ښوونځي شهادتنامو لپاره پیسي ورکول |
| د ښوونکیو ګمارني او تبدیلي | په ښوونځیو کې – غیر مستقیمه اغیزه | د ازموینې سوالونو لپاره پیسي ورکول |
| د ښوونکیو جوازونه | د لوړې کچي ناسوبتیا قبلول | ځان په ځای د بل له لوري ینې ورکولو لپاره پیسې ورکول |
| د ښوونکیو د امتیازاتو تخصیص | د ښوونکي له لوري په غوره ځایونو کې د دندو لپاره بډې ورکول | محروم شویو زدکوونکیو څخه پیسې اخستل |
| د ښوونکي د رزوني غوراوی | شخصي مقصدونو لپاره د ښوونځیو کارول | د ځینو درسي کتابونو کارولو ته د زدکوونکیو مجبورول |
| د ښوونکو روزنه: نمرې ورکول، ازموینې، فراغت | د ښوونځیو د بودیجو انحراف | سوصي صنفونو ته مجبورول |
| مرکزي - تدارکات | د ځایي راتولو شویو بودیجو انحراف | ښوونکو لپاره وړیا کار کولو ته مجبورول |
| د درسي کتابونو چاپ او ویش | خوړو او یونیفورم لپاره ډیره لوړه بیه | د ښوونکو له خوا جنسي غوښتني |
| د ودانیو او زیربناو قراردادونه | ښوونځیو خواړه، ترمیم، او مراقبت قراردادونه | |
| بودیجو او تمدیدونو باندې کمیسونونه | منابع د خوښي ښوونځیو ته ځانګړې کول | |

*په هره مرکه کې د اداري فساد د يادو شوو ځانګړو ستونزو کوډ کول:*

ټولې ۵۴۲ مرکې د پوهنې اړوند اداري فساد ستونزو له لسو ډولونو څخه په يو کې، د ډلبندی د دې فرعي سيټ سره سم، په لاندې توګه کوډ شوې دي.

1. د کلتور، پاليسی، کړنلارو او سيستمونو اړوند اداري فساد
2. په مالي چارو، کنټرول او تفتيش کې اداري فساد
3. د بشري سرچينو مديريت کې اداري فساد
4. په ولايتي پیاوړتيا او حساب ورکولو کې اداري فساد
5. د ښوونځي په کچه: د ښوونځي مديريت کې اداري فساد
6. د ښوونځي په کچه: د ښوونکو اداري فساد
7. د ښوونځي په کچه د ښوونځيو په نورو ډولونو (خصوصي او د ټولنې پر بنسټ زده کړه) کې اداري فساد
8. د ارقامو تائيدولو او د سندونو په اعتبار ورکولو کې اداري فساد
9. د ښوونځيو د کتابونو اړوند او د زده کړې لپاره سرچينو کې اداري فساد
10. د تمویلوونکو اړوند تو‌پيرونو له امله اداري فساد

## 2.8 د ممکنو حل لارو ډولونه

نوموړې ميتودولوژي همدا ډول د لسو لارو وړاندوينه کوي چې له مخې يې د ارزونې ټيم ټولې شونې حل لارې کټګورې بندي کولای شي چې د مرکو په دوران کې يې د مرکه ورکوونکو له خوا سپارښتنه شوې وه. دا ډول لس د "حل لارې ليدلورې" شتون لري:

- **د حل لارې ليدلورى الف: د ښاريانو کړنې** او د ملکي او/يا سيمه ييزې څارنې نور ډولونه – هغه کړنې چې بدلون راوستلای شي، لکه د ټولنې پراختيايي شورا په کچه، يا د مدني ټولنې څارنې په وسيله، يا د غوره شمبرو د خپرولو په وسيله.

- **د حل لارې ليدلورى ب: اداري اصلاحات** – اداري، تشکيلاتي او د سيستمي بدلونونه چې د اداري اغيزناکتيا لوړوي او په ورته وخت کې د مفسد سلوک مخه نيسي.

- **د حل لارې ليدلورى ج: د اداري بدلون رهبري** – څنګه وزارت، ښوونکي، دارالمعلمينونه او د پوهنې ولايتي رياستونه په اداري توګه بدلونونه پلي کولای شي.

- **د حل لارې ليدلورى د: د قانون او مقرراتو په اساس وقايه** – څنګه د قوانينو يا قانوني تطبيقاتو؛ اداري اجراآتو؛ يا د ښاريانو د شکايتونو ميکانيزمونو په اساس د ناکامی مخه ونيولای شي.

- **د حل لارې ليدلورى ه: خلکو ته د بدلون نبني ښودل** – ځانګړې کړنې، که لږې وي او که د پام وړ وي، چې خلکو ته وښيي چې کارونه د بدلون په حالت کې دي.

- **د حل لارې ليدلورى و: د نړيوالې ټولنې او پراختيايي همکارانو کړنې** – څنګه د دوی پر ملاتړ غوره تمرکز کيدلای شي او په راتلونکې کې کنټروليدلای شي؟ څنګه او په کومه برخه کې دوی ښه مرسته کولای شي؟

- **د حل لارې ليدلورى ز: د معلوماتو سيستمونه، د کنټرول او تفتيش سيستمونه، او خپلواکه څارنه** – د موجودو معلوماتي سيستمونو، کنټرول سيستمونو، ښې راپور ورکونې او خپلواکې بهرنۍ څارنې څخه د ښه والي د کيلي په توګه کار اخيستل.

- **د حل لارې لیدلوری ح: د روڼتیا تدابیر** – څنګه به د پالیسی، بهیر او کړنو روڼتیا او د پالیسیو، معیارونو، پلانونو، بودیجو، پایلو او راپوړونو پرانیستي خپرونه د اداري فساد په راټیټولو کې مرسته وکړي.

- **د حل لارې لیدلوری ط: پلي کول** – تادیبي ګامونه، پلټنې، عدلي تعقیب، او د معافیت ستونزې ته ځواب ویل.

- **د حل لارې لیدلوری ی: د بازار پر بنسټ بدیلونه** چې د حکومت عرضه انحصاري کړي. که څه هم د بازار پر بنسټ حل لارو سره تړلې ډیرې ځرګندې ستونزې شتون لري، خو بیا هم دوی د معیارونو په لوړولو، د دولت له خوا وړاندې کیدونکو خدمتونو کې د پیسو ارزښت لوړولو، او د خلکو له خوا د دولتي سیستم د پریښودلو لپاره د رایې ورکولو له لارې د اداري فساد د شتون په ښودلو کې مثبت اغیز درلودلای شي.

د اداري فساد راکمولو لپاره د دې لس بیلابیلو تګلارو په اړه دا لیدلوری په ۱۹ څپرکي کې د سپارښتنو د جوړولو پر مهال کارول شوی دی.

# 3. پخواني تحلیلونه

> *"ما د ظاهر شاه د پاچاهی پر مهال تر ۴ تولګي پورې ښوونځی لوستی دی او زه لیکل او لوستل کولای شم، خو زما ځوی په ۱۱ تولګي کې دی، او لیکل او لوستل نه شي کولای."*
> **د یو زده کوونکي پلار**

سره له دې چې دا ارزونه په هیواد کې تر ټولو مفصله ترسره شوې ارزونه ده، خو د افغانستان د پوهنې سیستم کې اداري فساد نه کومه نوې، او نه هم نامالومه پدیده ده. غوره دا ده چې د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د دې ارزونې موندنې د افغانستان د پوهنې سیستم د پراختیا د تاریخچې په رڼا کې وګورو او پرې پوه شو[3]. د افغانستان په څیر هیوادونه چې په تاریخي توګه یې د خپلو اتباعو لپاره ښوونې او روزنې ته ډیر کم لاسرسی لرلی دی، ډیر احتمال لري چې له هغو هیوادونو څخه ډیر اداري فساد په کې شتون ولري چې ښوونې او روزنې ته ډیر لاسرسی لري.[4]

اداري فساد، د پوهنې د نورو مثبتو او منفي اړخونو په څیر، تر ډیره بریده د افغان ولس او د دوی د حکومت تر منځ اړیکو اغیزمن کړی دی او دا کار تاریخي مخینه لري، چې اوس ډیره پیچلې شوې ده. لکه څنګه چې یزدي[5] وایي:

*"د افغان تاریخ درسونه زده کړه ورکوونکي دي. تاریخ ښيي چې پوهنه د افغانستان د خلکو او حکومت تر منځ دوه طرفه کوڅه ده. د ظاهر شاه په دوره کې، افغان ټولنه چمتو نه وه یا خبره نه وه چې د عصري ښوونې او روزنې له ګټو څخه برخمن شي. له همدې امله، د ښوونځیو د تاسیسولو او خلاصولو عامه ازادي چې د ظاهرشاه له خوا ورکړل شوه، لږ بریالی وه. د کمونیستانو په دوره کې، حکومت ډیر سخت دریځه شو او د خپلې ایډیالوژۍ د نرمولو لیوالتیا یې نه لرله، او د افغان کلتور او دودونو د واقعیت درک کول یې رد کړل. په پای کې طالبان، په متشدده توګه د افغان دودونو یو ښستیز ډول پلي کولو لاري، ونه توانیدل چې د افغان کلتور تکامل او د راستنیدونکو کډوالو تجربې په پام کې ونیسي، د یوه ولس هغه غوښتنې چې غوښتل یې د عصریت ځینې عناصرو، لکه پوهنې ته غیږ پرانیزي. لدې څخه دا درس زده کولای شو چې په فعاله توګه افغانانو ته د هغه ډول زده کړو وړاندې کول چې دوی یې غواړي، بریالي دي، خو د دوی اړ کول چې ایډیالوژیکې تولنیزې جوړې شوې پروژې پلي کړي، یواځې مقاومت او کرکه راپاروي. "*

په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د حکومت له راپرځیدو وروسته، د افغانستان د پوهنې سیستم د بیا راژوندي کیدو له پام وړ بهیر څخه تیریږي. په همدې حال کې دې مودې، چې د تمویلوونکو د پیسو او پروګرامونو د چټک هجوم په وسیله په ګوته شوې ده، له ځان سره د اداري فساد جدي ستونزې رامنځ ته کړې دي.[6]

لکه څنګه چې د افغانستان د پوهنې سکتور کې د اداري فساد په اړه د هال ۲۰۱۱ رساله[7] کې یادونه شوې ده، ډیرو راپورونو، چې د پوهنې او وضعیت د نازکتیا په اړه د ۲۰۰۹ کال په بیرنیو حالتونو کې د زده کړې بین الاداري شبکې راپور[8] او د ۲۰۰۹ کال د USAID د اداري فساد ارزونې راپور[9] هم په کې شامل دي، د افغانستان د پوهنې سیستم کې د پراخه او ثابت شوي اداري فساد څخه یادونه کړې ده چې خیالي ښوونکي، رشوت، او نیپوتیزم یې له ډلې څخه دي.

د ۲۰۰۱ راهیسې، د افغانستان د ښوونځیو په نوم لیکنه کې ډیر زیات پرمختګ رامنځ ته شوی دی چې په ملیونونو زده کوونکي بیرته ښوونځي ته ګرځیدلي دي[10]، خو بیا هم د ښوونځیو په نوم لیکنه کې زیاتوالی د زده کړو د کیفیت په لوړوالي کې له پرمختګ سره برابر نه دی. له شک پرته چې نوم لیکنه له کیفیت څخه جلا شی دی. په افغانستان کې د ښوونځیو د نوم لیکنې په اړه بحث کې، ګویمبرټ او نور د ښوونځیو نوم لیکنه او د زه کړې د کیفیت ترمنځ ارزښتناک تړاو ته اشاره کوي، او سپارښتنه کوي چې یواځې په عرضه کې زیاتوالی د کیفیت د زیاتوالي سبب نه ګرځي.[11]

د ښوونځیو د نوم لیکنو د شمیر تر څنګ، په افغانستان کې د پوهنې اړوند نورو کمي اندازو کې هم پرمختګ شوی دی، خو لکه څنګه چې صمدي یادونه کړې ده، "په داسې حال کې چې له مقداري یا کمي لحاظه او د ابتکاراتو د تنوع له مخې، پراختیاوې د پام وړ دي، خو د زده کړو کیفیت او اغیزناکتیا د ملي چاړواکو لپاره لا هم یوه ننګونه ده..."[12]

## په پوهنه کې اداري فساد ته اوسنی مراجعه

که څه هم په تیرو ۱۰ کلونو کې– د بیلابیلو تمویلوونکو او پراختیایي همکارانو په ملاتړ – د افغان حکومت له خوا ډیرې هڅې ترسره شوې دي چې د پوهنې سیستم کې اداري فساد ته ځواب ووایي، خو نوموړې ستونزې په ژوره توګه پیچلې او درول یې ډیر ستونزمن دي. د پوهنې وزارت، تمویلوونکو ټولنې، او د افغان ولس ترمنځ په پوهنه کې د اداري فساد په اړه له پراخه پوهاوي سره سره، ډیر کم ثبوتونه شته چې د افغانستان د پوهنې سیستم کې د اداري فساد اړونده پخوانیو پلټنو، راپورونو او رسالو کوم د پام وړ او پاییدونکي مثبتو بدلونونو او اصلاحاتو ته لار هواره کړې وي.

د افغانستان د پوهنې سیستم کې د اداري فساد په اړه د ۲۰۱۲ کال یوه څیړنیزه رساله کې[13]، د اداري فساد په اړه د سینټیر تبصرې د دې تحلیل د موندنو سره سم په ۲۰۱۷ کې هم د وړاندوینې وړ دي:

*"له بده مرغه، د افغانستان د پوهني ملي سيستم په درډوونکي توګه مفسد دی، چې په مليونونو د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان يې د زده کړې له فرصت څخه بې برخې کړي دي. تاسو تصور کړئ چې يو ښوونکی ياست او د خپلې تنخوا ترلاسه کولو لپاره رشوت ورکولو ته اړ شئ. فرض کړئ چې تاسو يو پلار ياست او د خپل ماشوم د بريا لپاره د نمرو ترلاسه کولو په موخه رشوت ورکولو ته اړ شئ. فکر وکړئ چې تاسو يو ګمارونکی ياست او نه شئ کولای چې د اصلي او جعلي ډيپلومونو ترمنځ توپير وکړئ. د اوسني شديد اداري فساد، چې په افغانستان کې خپور دی، له خپلو پرته به د دې هيواد ښوونيز هدفونه همداسې ناترلاسه شوي پاتې وي، چې هيواد به له تر ټولو سترې سرچينې بې برخې کړي: لوستي ماشومان. "*

د اوسنيو راپورونو او رسالو نوري بيلګې چې د افغانستان د پوهني وزارت، د دوی د تمويلوونکو او پراختيايي همکارانو په تړاو د اداري فساد ستونزې په ګوته کوي، په لاندې توګه دي:

- د افغانستان د پوهني احصائيه کې د اختلافاتو په اړه د افغانستان تحليلګرانو شبکې د ۲۰۱۷ کال يو راپور[14] د پوهني په سيستم کې پراخه اداري فساد په ګوته کوي او وايي د افغان حکومت له لوري د تاکل شوي کميسيون، چې د پوهني سيستم کې يې د اداري فساد دعوې وپلټلې، مخربې پايلې هيڅ کله د عامو خلکو لپاره خپرې نه شولې[15] . لکه څنګه چې د افغانستان تحليلګرانو شبکه يادونه کوي "**... د حقيقت موندونکي کميسيون د مايوسی او خپګان تر کچې، د نومړو بدلونونو په تړاو هيڅ ډول ښکاره ګام اخيستل شوی نه دی."[16]**
- د ښوونځيو د کتابونو د تدوين او ويشلو په اړه د USAID د (۲۰۱۶) ارزونې، د ۲۰۰۵ کال راهيسې د ښوونځيو د کتابونو په تړاو د وزارت د پراخه اداري فساد په اړه خبر ورکړی او سپارښتنه يې کړې چې "د پوهني وزارت، د پوهني د ولايتي رياستونو، او د ولسواليو د پوهني آمريتونو ټول کارکوونکي چې د ښوونځيو د کتابونو په ويش کې ښکيل دي بايد د سلوک مقرره د خپلې ګمارنې د عادي قرارداد ترڅنګ لاسليک کړي چې په مفسدو کړنو کې د ګډون او د پاليسيو سره مطابقت کې د پاتې راتللو لپاره جريمې مشخصوي."[17] دا سپارښتنه چې په ارزونه کې د نورو سپارښتنو ترڅنګ ياده شوې وه، لا تر اوسه پلې شوې نه ده.
- د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۴ ترمنځ موده کې د افغانستان لپاره د ناروې پراختيايي مرستې په اړه د ۲۰۱۶ کال يو هر اړخيز راپور يادونه کوي، "د افغانستان د بيارغوني وجهي صندوق او د زده کړو د کيفيت لوړوني پروګرام تمويل له نږدې څخه دوامداره تعقيب او څارنې ته اړتيا لري، چې د اداري فساد او هوايي زده کوونکو او د ښوونځيو د شمير په اړه اندېښنو سره مبارزه وکړي، او د کيفيت پرمختګ لپاره د دوامداري پاملرنې ډاډ ورکړي."[18] همدا ډول نومړی راپور يادونه کوي، "د پوهني په برخه کې – د پوهني وزارت له خوا د وړاندې شوي ډيټا او شميرو د اعتماد په اړه عمومي اندېښنه شتون لري."[19]
- د ۲۰۱۵ کال د يونيسکو د *"زده کړه د ټولو لپاره ملي کتنې"* هم د افغانستان د پوهني د ډيټا د کره توب په اړه اندېښنې څرګندې کړې دي. نومړې کتنه روښانوي، "په داسې حال کې چې د پوهني د مهمو شاخصونو په اړه د ډيټا شتون کې ښه والی راغلی دی لکه د ښوونځي د نوم ليکنې نسبتونه، ښوونځي پريښودل، لومړنی بشپړتيا، او د سواد زده 22کړې درجه، خو بيا هم د ډيټا راغونډولو کره توب د پوښتنې لاندې دی، او ډيټا پر وخت سره د لاسرسي وړ نه وي."[20]
- د ښوونکو د ګمارنې په اړه، د افغانستان د پوهني سکتور د تحليل د ۲۰۱۶ کال راپور يادونه کوي، "د ښوونکو په ګمارنه کې خپلوان پالنه يا نيپوتيزم او سياسي مداخله په ټول هيواد کې خپره پديده ده."[21]
- د دې ترڅنګ، د ښوونکو د ګمارنې[22] او د پوهني د کيفيت لوړاوي پروګرام[23] په اړه د څارنې او ارزونې کميټې د اداري فساد پر وړاندې د زيان منني د ارزونې دوو پخوانيو راپورونو د پوهني په دې ساحو کې د پراخه اداري فساد په اړه خبر ورکړی و او د نومړي راپور له خپرېدلو راپدېخوا په دې ساحو کې د پام وړ ښه والي لږ څرک ليدل کيږي.

دي کي شک نشته، د پوهنې سيستم کې د اداري فساد پړه بايد يواځې د پوهنې وزارت يا د نوموړي وزارت په اوسنۍ يا پخوانۍ رهبري باندې وانه چول شي، ځکه چې د تمويلوونکو او پراختيايي همکارانو پيچلتيا هم يوه ستونزه ده. په افغانستان کې د ناروې د پراختيايي مرستې په اړه مخکې ياد شوې راپور (د ۲۰۰۱ او ۲۰۱۱ ترمنځ موده کې د افغانستان لپاره د ناروې پراختيايي مرستې پخوانۍ ارزونې ته اشاره ده) يادونه کوي چې د کمزورې حکومتولۍ او اداري فساد په اړه:

*"تمويلوونکو د هم مهالو هڅو سره سره چې اصلاحات راولي، (د اداري فساد د ستونزو) په اړه د څو کلونو په موده کې خبرتيا درلوده، زغملې يې دي، او په ځينې حالتونو کې يې نورې هم چټکې کړې دي."* [24]

تمويلوونکو او پراختيايي همکارانو هم د پوهنې سيستم کې د مثبتو، پاييدونکو بدلونونو راوستلو په برخه کې د پوهنې وزارت په ننګونو کې برخه لرې ده چې دې ته د اداري فساد د پياوړې کوونکي په توګه کتل کيدای شي. د بيلګې په توګه، د ناروې د پراختيايي مرستې په اړه راپور[25] او په افغانستان کې د بنسټيزو زده کړو او جنسيت برابرۍ لپاره د سويډن په ملاتړ د يونيسف پروګرام[26]، دواړه د تمويلوونکو يا پراختيايي همکارانو د اساس او سيستمونو نشتوالی په ډاګه کوي، کوم چې د وخت په تيريدو سره د بدلون کره ګامونو او پرمختګ ته لاره هواروي.

لکه څنګه چې وروستنۍ کتنه روښانوي، د دې معنی داده چې "... هغه عوامل چې بدلون ته لاره هواروي له پامه لويدلي دي او زده کړل شوي درسونه مستند او اداري شوي نه دي."[27] د دې ترڅنګ نوموړې کتنه زياتوي چې "...کارکوونکي او مديريت له ډيرو کمزورتياوو خبر دي او نظرونه هم لري چې څنګه له نوموړو ننګونو سره مقاومت وکړي، خو دا ارزوونکي غبرګونونه د څارنې په سيستم کې ځای شوي نه دي او نه هم د ټولنې له غړو، د پوهنې وزارت تخنيکي کارکوونکو، د ښوونځيو مديريت يا ښوونکو سره بحث شوي دي."[28]

پر دې سربيره، لکه څنګه چې د يونيسکو *"زده کړه د ټولو لپاره د ۲۰۱۵ ملي کتنه"* يادونه کړې ده "پراختيايي همکاران د خپلو بهرنيو پروژو په اړه معلومات په بشپړه توګه نه شريکوي، او د پوهنې وزارت او پراختيايي همکارانو ترمنځ ګډ پلان جوړول لا تر اوسه بيخي کم دي."[29]

يوه اړونده ساحه، چې د پوهنې سکتور کې يې د سيستماتيکي ارزونې او د اداري فساد ځواب ويلو مخه ډب کړې ده، د خپلو پروګرامونو په ارزولو کې د تمويلوونکو پاتې راتلل دي. لکه څنګه چې په افغانستان کې د زده کړو لپاره د متحده ايالتونو د ملاتړ لپاره د سيګار ۲۰۱۶ راپور يادونه کړې ده، "د دفاع وزارت، دولت، او USAID افغانستان کې د زده کړو د ملاتړ لپاره خپلې هڅې په کافي توګه ارزولې نه دي."[30] نوموړی راپور ادامه ورکوي، "ځکه نوموړې اداره د افغانستان د پوهنې کارکړنو پر شميرو باندې تکيه کوي چې په يواځې او مستقيمه توګه د USAID پروګرامونو لپاره ځانګړې نه ده او د اعتبار وړ نه ده، USAID کيدای شي د هغې مرستې په اړه يو ناسم انځور وړاندې کړې چې د دوی پروګرامونه يې په افغانستان کې د پوهنې سکتور ته وړاندې کوي."[31]

همدا ډول د سيګار په راپور کې په افغانستان کې د زده کړو ملاتړ کوونکو بيلابيلو امريکايي ادارو ترمنځ د همغږۍ د نشتوالي ستونزه ياده شوې ده.[32] د همغږۍ دا نشتوالی شتون لري او دا کار د پوهنې وزارت او ټولو سترو تمويلوونکو او پراختيايي همکارانو ترمنځ ستونزې جوړوونکی دی او يو لړ ستونزې رامنځ ته کوي لکه: د پروګرامونو ناړين زياتوالی، ګډ او په احتمالي توګه متناقض پيغامونه او مشورې، او پاشلي پلانونه او د پروګرامونو وړاندې کول – چې ټولو ته د حساب ورکولو او اداري فساد له منځه وړلو پر وړاندې د خنډ په توګه کتل کيدلای شي. له دې نيوکو څخه زياتې يې کيدای شي ټکی په ټکی په نورو وزارتونو کې راغبرګې شي، چې د دې ډول ستونزو د هغه برید څرګندونه کوي چې د افغان حکومت مشرتابه ورسره لاس او ګريوان دی، او عام خلک دا بار په اوږو وړي.

په احتمالي توګه، د افغانستان د پوهنې سيستم (او په ځانګړې توګه د USAID د ملاتړ) اړوند د اداري فساد په اړه تر ټولو پراخه او پاينت لرونکې پلټنې د سيګار له خوا ترسره شوې دي. د سيګار د ارزونو يو لړ راپورونو او څيړونو

چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۶ ترمنځ ترسره شوې دي، د اداري فساد پر وړاندې مهمې زیان منني په ګوته کړې دي چې: د پوهنې وزارت کې د اعتبار وړ، تازه معلوماتو نشتوالی؛[33] په افغانستان کې د عامه زده کړو لپاره د USAID له خوا د خپلو ملاتړ کوونکو پروګرامونو د هر اړخیزو ارزونو نشتوالی؛[34] د ښوونځیو د رغونې پروژو کې ناکافي پلان جوړول، کمزوری خوندیتوب، د کیفیت کمزوری کنټرول، د مالي مرستو ضایعات، جعلکاري او ناوړه ګټه اخیستنه، او له رغونې وروسته ژر د جوړښت ویجاړیدل؛[35] [36] [37] [38] [39] د دارالمعلینونو د اسانتیاوو په رغولو کې کمیانې؛[40] خیالي ښوونځي، زده کوونکي او ښوونکي؛[41] او د ښوونکو او زده کوونکو غیرحاضري په کې شامل دي.[42]

په پای کې، د څارنې او ارزونې کمیټې د څار د عالي اداري پلټنو ته کتنه وکړه چې د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ لمریز کلونو لپاره یې د پوهنې وزارت په اړه ترسره کړې دي. د پلټنې پایلې په ۵ ضمیمه کې ښودل شوې دي. په هر حال، د تحلیل کچه د مفصلو مالي معاملاتو په کچه ده، او له همدې امله په ډیرو سترو موضوعاتو باندې بحث نه دی شوی، نو ځکه نوموړې پلټنې په دې تحلیل کې مرسته نشي کولای. د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ لمریز کلونو د پلټنو پایلې لا تر اوسه د لاسرسي وړ نه دي.

**په دې څیړنې یې پلې کول**

د افغانستان د پوهنې سیستم د پخوانیو کتنو دا تحلیل، د څارنې او ارزونې ټیم ته له څو اړخونو څخه ډیر ګټور دی:

- نوموړې څیړنې – د پوهنې معلوماتي سیستم د اندازه کولو له ستونزو سره سره – د ماشومانو په شمیر کې د ستر او ارزښتناک ډیروالي لپاره پراخه ثبوتونه وړاندې کوي چې د افغانستان د پوهنېسیستم ته په تیرو پنځلسو کلونو کې ننوتي دي؛
- نوموړې څیړنې د اداري فساد په اړه یوه دوامداره اندیښنه ښيي، چې د پراخه خپلوان پالنې یا نیپوټیزم د اغیز په اړه پوهاوی هم په کې شامل دی، پرته له دې چې د نوموړې موضوع په اړه مستقیمه څیړنه ترسره کړي. څیړنې ښيي چې د اداري فساد دا ستونزې هم خپله د پوهنې وزارت او هم تمویلوونکو ته ښې څرګندې دي
- د زده کړو کیفیت په لوړولو کې دوامداره ستونزو څخه یادونه کوي.

خو، د پوهنې سیستم کې د اداري فساد او د کیفیت د ستونزو ترمنځ کوم روښانه تړاو نه ورکوي؛ چې د دې تحلیل له مهمو برخو څخه یوه برخه ده.



# الف برخه

# ښوونکي او زده کوونکي

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې
د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه

## 4. د ښوونکو په ګمارنه کې اداري فساد

د ښوونکو ګمارنه کې اداري فساد هغه بنسټيزه ستونزه ده چې له ۹۰ سلنه څخه زياتو مرکه ورکوونکو يې په اړه خبر ورکړی دی. دا پايله د مرکه ورکوونکو په ټولو شپږو ډلو، ټولو ښوونځيو او ټولو ولايتونو کې راغبرګه شوې ده. ټولو تبصرو د پوهنې وزارت د کارکوونکو له خوا خپلوان پالنې ، فيورتيزم او د زورواکو شخصيتونو له خوا واسطو ته اشاره کوله، چې د ملي شورا غړي هم په کې شامل دي.

پدې توګه، د پوهنې وزارت کې د اداري فساد د ستونزې مرکز لومړنی ستونزې، لکه د تدارکاتو برخه کې اداري فساد يا خيالي ښوونکي نه دي. بلکې، د ستونزې زړه هغه ماشومان، کورنۍ، ښوونکي او د ټولنې نور غړي دي چې د پوهنې د دې غيرفعال سيستم لومړني زيان منيدونکي دي چې په مستقيمه توګه د هغو خلکو پر وړاندې پاتې راغلی دی چې سيستم يې د خدمت وړاندې کولو په برخه کې د زده کړو ورکولو لپاره مامور شوی دی. په پايله کې، ټولنو په بشپړه توګه پر نوموړي سيستم باندې باور له لاسه ورکړی دی.

عام ولس ته د کمزورو يا کم استعداد لرونکو ښوونکو د ګمارنې له امله، چې د خپلوان پالنې پر بنسټ ګومارل شوي دي او بيا په ښوونځيو کې د همدې ښوونکو د کمزوري سلوک له امله په تدريس ورکولو کې پاتې راتلل په دې څېرکي کې، د بيلابيلو لارو څخه بحث شوي دي، چې د ښوونکو کمزورتيا ورڅخه څرګنديږي، لکه:

- د ښوونکو بستونه د واک لپاره د بازار په توګه
- د نويو ښوونکو له خوا د بستونو اخيستل
- مفسدې کړنلارې او بيوروکراتيک خلط
- د ښوونکو د شميرو د باوري سوابقو نشتوالی، او په اسانۍ سره د سيستم غولول
- د پايلو پر بنسټ د ظرفيت لوړاوي له لارې د لوړپوړو ټاکنو ورو بهير
- د تشو بستونو په ډکولو کې د روڼتيا نشتوالی
- د کمزورې وړتيا لرونکي ښوونکي
- د تقاعد له عمر څخه وروسته په دنده پاتې د پاتې کيدو لپاره د ښوونکو پيسې ورکول
- د جنسيت پر بنسټ تبعيض او د ښځينه ښوونکو ځورول
- د کارکړنو د مديريت نشتوالی
- د ژمنو ښوونکو په تناسب کې راپور شوی کموالی
- د ښوونکو غيرحاضري او جعلي هويت
- د ښوونکو له خوا د رشوت غوښتنې
- ځورونه؛ فزيکي، لفظي او عاطفي
- د زده کوونکو او د هغوی د ميندو او پلرونو ليدلوري

### 4.1 د پوهنې وزارت د دندو لپاره د خپلوان پالنې بازار دی

د پوهنې وزارت کارکوونکي د ټول افغانستان د ملکي مامورينو ۶۸ سلنه برخه جوړوي. له دې کارکوونکو څخه ډيره برخه يې ښوونکي دي. د پوهنې وزارت د بشري سرچينو رياست له شميرو سره سم، په ټول افغانستان کې د پوهنې وزارت له خوا اوس مهال 43۲۱۶۰۰۰ ښوونکي ګومارل شوي دي. د پوهنې وزارت د معاشونو استحقاق ځانګه نشي کولای چې د هغو خلکو يو کره شمير وړاندې کړي چې دوی ورته په تيرو دريو مياشتو کې تاديه کړې ده.

دا په دې معنی چې له ټولو افغان وزارتونو څخه، د پوهنې وزارت دی چې تر اوسه پورې د خپلوانو او ملګرو لپاره په دندو پيدا کولو کې د اغيز کارولو لپاره تر ټولو ډيره پراخه ساحه لري.

د څارنې او ارزونې کمیټې مرکو موندلې ده چې د پوهنې وزارت لپاره دا فشار، چې له خپلو کړنلارو سرغړونه وکړي چې خپلوان، ملګري او د خوښې افراد وګوماري، بې وقفې او په هر ځای کې شتون لري، چې په سلګونو مرکه ورکوونکو پدې اړه خبر ورکړی دی. تر ټولو ډیر او زیات فشار د ملي شورا د غړو له خوا وي. مرکه ورکوونکو خبر ورکړی دی چې د ملي شورا غړي د ګومارلو او ترفیع په ټولو کچو، او د خوښې وړ ځایونو کې د ښوونکو په ځای کولو کې لاسوهنه کوي.

*"زه د طالبانو له ګواښونو نه ویریږم، بلکې د ملي شورا د غړو له ګواښونو او بلک میل څخه ویریږم."*
**د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت کې یو لوړپوړی مامور**

که چیرته د بشري سرچینو څانګه هڅه وکړي چې له دې فشار سره مقاومت وکړي، د څارنې او ارزونې ټیم ته هم ثبوت وړاندې کړل شوی چې د ملي شورا غړي په مستقیمه توګه د ګمارنې یا انتقال مکتوبونه له وزیر یا مرستیال وزیرانو څخه ترلاسه کوي، چې په اغیزناکه توګه د بشري سرچینو بهیر څنګ ته غورځوي. کله چې دا مکتوبونه صادر شي، د بشري سرچینو لپاره په اغیزناکه توګه ناشونې ده چې د نوموړې ټاکنې مخه ونیسي. د معلوماتو راغونډولو پر مهال، د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د ارزونې ټیم دوه ځلې د ملي شورا غړي د بشري سرچینو په څانګه کې ولیدل چې د بشري سرچینو په بهیرونو کې یې مداخله کوله.

د پوهنې وزارت له چاراواکو سره مرکو کې په تکراري توګه دا جمله ویل کیدله چې د ښوونکو د ګمارنې بهیر کله کله مفسد نه، بلکې ۱۰۰ سلنه فساد ته نږدې دی. د بشري سرچینو ډیرو مشرانو وویل چې تقریباً د دوی په سیمو کې هر شخص د خپلوان پالنې پر بنسټ ګومارل شوی دی، پرته له دې چې رسمي کړنلارې کارول شوې یا نه دي کارول شوې.

*"د ښوونکو د ګمارنې بهیر ۱۰۰ سلنه فاسد دی. له هغه وخته چې زه د بشري سرچینو په څانګه کې کار کوم هیڅ مستحق شخص د ښوونکي دنده ترلاسه کړې نه ده؛ دوی یواځې د لوړپوړو چاراواکو په واسطه ګومارل کیږي او زه بله هیڅ چاره نه لرم مګر دا چې دوی تائید کړم او د اوسنۍ فاسدې کړۍ یوه برخه وګرځم."*
**د پوهنې وزارت یو مامور**

ډیرو مامورینو تبصره کوله چې د پوهنې وزارت لوړپوړي مامورین د واک د زنځیر په کړۍ کې بند شوي دي چې د دوی لپاره اوس راوتل ډیر ستونزمن کار دی، سره له دې چې د دوی ارادې به ډیرې ښې وي. د دې لپاره نه چې د دې کسانو سپیناوی وشي، بلکې د دې لپاره چې په ډاګه کړل شي چې څنګه موجود سیستم د افرادو لپاره ډیره ننګوونکې کوي چې په اداري فساد کې له ککړیدو پرته کار وکړي، که څه هم په نسبي واک لرونکو بستونو کې وي.

### 4.2 د ښوونکي دندې ترلاسه کولو لپاره پیسې ورکول عامه خبره ده

د ښوونکو ګومارل د پوهنې وزارت د ګومارنو تر ټولوستره برخه تشکیلوي.

د سلګونو مرکه ورکوونکو په وینا، د نویو مسلکي کسانو لپاره چې د دارالمعلین څخه فارغیږي، ډیره ستونزمنه ده چې د ښوونکو په توګه دنده ترلاسه کړي، پرته له دې چې رشوت ورکړي. د ګمارنې لپاره د تادیې عام شوی عرف

اوس ډیر پیاوړی شوی دی، چې په منځنۍ کچه له غوښتونکو څخه له ۵۰۰۰۰ تر ۷۰۰۰۰ افغانۍ (۸۰۰- ۱۰۰۰ امریکايي ډالر) اخیستل کیږي. نوموړی مبلغ د بست په جلبولو پورې اړه لري.

همدا ډول دا په دې معنی ده چې ځینې ښوونکي اړ دي چې له ښوونځي څخه بهر اضافي کار وکړي چې خپلو ماشومانو او کورنیو ته خواړه وګټي ځکه چې دوی اړ ول چې د خپل یو کال یا دوه کلونو معادل معاش په رشوت کې ورکړي چې د ښوونکي دنده ترلاسه کړي.

حتی هغه ښځې چې سکالرشیپونه ورکړل شوي دي څو وهڅول شي چې دارالمعلین ولولي، خبر ورکوي چې دوی باید د خپل سکالرشیپ جایزې زیاته برخه وساتي ځکه کیدای شي یو څه اندازه پیسو ته اړتیا پیدا شي چې دوی د ښوونکي په توګه خپله لومړنۍ دنده واخلي.

په ولایتونو کې د مرکو په دوران کې، ډیرو مرکه ورکوونکو خبر ورکړی دی چې له ښوونکو څخه ترلاسه شوي عواید د ښوونځي د مشر، د ولسوالۍ د پوهنې آمر، او د پوهنې د ولایتي رئیس ترمنځ ویشل کیږي.

## 4.3 د ګمارنې مفسدې کړنلارې

د پوهنې وزارت د ګمارنې بیلابیلې مقررې تعقیبوي. په اصل کې، ټولې ګمارنې باید د افغانستان د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون سره سمې ترسره کړل شي. د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د ارزونې ټیم واوریدل چې د افغانستان د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قوانین په ډیرو وختونو کې له پامه غورځول شوي، ناليدلي نیول شوي، یا په بشپړه توګه تعقیب شوي نه دي.

حتی که بستونه اعلان شوي هم وي، چې دا کار ډیر کم پیښیږي، هغه غوښتنلیک وړاندې کوونکي چې یو ځانګړی تړاو ونلري – کورنی، قبیلوي، سیاسي – په عامه توګه د حقیقي ګمارنې ترلاسه کولو کې پاتې راځي. د لوړپوړو کارکونکو د ګومارلو لپاره د پایلو پر بنسټ د ظرفیت لوړاوي سیستم په خلاف، د ښوونکو لپاره د ګمارنې پر بهیر باندې هیڅ کومه خپلواکه څارنه شتون نه لري؛ د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني ارزونې تر اوسه پورې هیڅ کومه قضیه نه ده موندلې، چې یو څوک دې د ګمارنې له پالیسۍ څخه د سرغړونې یا له سیستم څخه د ناوړه ګټه اخیستنې لپاره په سزا رسول شوی وي.

په ۲۰۱۵ کال کې د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني یوه خپره شوې ارزونه کې د څارنې او ارزونې کمیټې په مفصله توګه د ښوونکو په ګمارنه کې د مفسدو کړنو په اړه خبر ورکړی و، چې د ښوونکو له خوا د بستونو ترلاسه کولو لپاره په منظمه توګه رشوتونه ورکول کیږي، او د ګمارنې بهیر کې روڼتیا په بشپړه توګه شتون نه لري[44]. د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د دې ارزونې له موندنو څرګندیږي چې ډیر لږ بدلون راغلی دی.

د مستقیم اداري فساد ترڅنګ، د ګمارنې ستونزه په وزارت کې د شته خلط له امله نوره هم چټکه شوې ده چې بشري سرچینې په کې د دوه بیلابیلو بشري سرچینو څانګو له خوا اداره کیږي:

1. د پوهنې وزارت، د بشري سرچینو عمومي ریاست د پوهنې وزارت او د بشري سرچینو عمومي موضوعات اداره کوي. دا برخه دوه ریاستونه لري، د استخدام ریاست او د پراختیا او څارنې ریاست.

2. د پوهنې وزارت د پراختیایي بودیجې د بشري سرچینو څانګه د پراختیایي پروژو د بشري سرچینو د مدیریت مسولیت په غاړه لري چې د پراختیایي همکارانو له خوا تمویلیږي لکه نړیوال بانک او نور ستر پراختیایي همکاران.

د بشري سرچینو عمومي ریاست او پراختیایي بودیجې د بشري سرچینو څانګه په جلا توګه کار کوي او داسې ښکاري چې د دواړو ترمنځ لږه همکري شته یا هیڅ همکاري شتون نه لري. د پراختیایي بودیجې د بشري سرچینو د مشر په وینا، دا نهاد د یوې نړیوالې مؤسسې په توګه کار کوي، ځکه چې د دوی تمویل تر ډیره پورې د پراختیایي همکارانو له خوا کیږي.

په همدې توګه د کارکوونکو نور ډولونه هم شتون لري چې د پوهنې وزارت کې کار کوي، لکه تخنیکي مرسته کوونکي؛ دې کسانو ته په مستقیمه توګه د بشري سرچینو د پراختیایي بورډ (او د وزارت دننه د نورو برخو) د پلي کوونکو ادارو له خوا معاش ورکول کیږي.

## 4.4 د ښوونکو د شمیر د باوري سوابقو نشتوالی، او په اسانۍ سره د سیستم غولول

د پوهنې وزارت کې د بشري سرچینو معلوماتي سیستم (HRMIS) د حالت په اړه متناقض راپورونه شتون لري. له یو حسابه، نوموړی معلوماتي سیستم یو ماډیول دی چې د پوهنې معلوماتي سیستم سره جوړ شوی دی؛ له بل حسابه، USAID د نوموړي وزارت لپاره د بشري سرچینو یو ډیټابیس جوړ کړی دی. د څارنې او ارزونې کمیټې ته ویل شوي دي چې نوموړي مشاور استعفاء ورکړې ده او نوموړی بهیر په ټپه دریدلی دی. د بشري سرچینو د فعال او باوري معلوماتي سیستم په نشتون کې، د معاشونو او د بشري سرچینو نورو دندو پر مخ وړل، لکه د کارکوونکو حقوق، د درجو بدلونونه، د معاشونو زیاتوالی/کموالی، ټول د کاغذ پر مخ وي.

د وزارت په کچه د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني ارزونې ټیم معلومات ترلاسه کړل چې د کابل ښار د پوهنې ریاست کې د بشري سرچینو څانګه د خپلو کارکوونکو لپاره کمپیوټري سوابق نه لري، او د ډیرو افرادو په وینا چې مرکي ورسره ترسره شوې، نه یې غواړي. د ګمارنې او د معاشونو د استحقاق لپاره د روڼ او باوري سیستم نشتوالی د اداري فساد اسانتیا زیاتوي.

استحقاق د سیمه ییزو ښوونځیو په کچه د عمومي حاضرۍ په وسیله پیل کیږي. د پوهنې وزارت کارکوونکو له خوا هیڅ معیاري حاضري نه کارول کیږي. د حاضرۍ ډیټا په لاس سره په "۴۱ فورم" کې داخلیږي. د "۴۱ فورم" کاغذي نقلونه هرې ولسوالۍ ته د ولسوالۍ د پوهنې د آمر د تائید لپاره راوړل کیږي. له هغه ځایه بیا د هر ولایت مرکز ته لیږدول کیږي چې کابل ته ولیږل شي. کابل بیا نوموړې فورمې له خپل سیستم سره چیک کوي او که کومې نیمګړتیاوې په کې وي نو اړین تغییرات په کې راولي. نوموړې ډیټا بیرته د هر ولایت مرکز ته د نورو اجراآتو لپاره لیږل کیږي. بیا په هر ولایت کې د پوهنې ریاست په مالي څانګه کې استحقاقونه چمتو کیږي او د مالیې وزارت ولایتي مستوفیت ته د تادیې د اجراء لپاره وړل کیږي. دا ستونزمن سیستم په ډیرو کچو د بې کفایتیو او سیستماتیک اداري فساد لپاره پرانیستی دی، چې د پروسې په پیل کې د حاضرۍ د ډیټا داخلولو څخه نیولې د معاش تر اجراء کولو، چیک کولو او تائیدولو، او په پای کې د تادیې تر اجراء کولو پورې په کې لاسوهنه کیدلای شي.

د څارنې او ارزونې کمیټې مرکو ښودلې ده چې دا منل شوې حقیقت دی چې په اسانۍ سره سیستم غولول کیدلای او هویتونه په کې جعلي کیدلای شي؛ د بیلګې په توګه، د ښوونکو د حاضرۍ لپاره هیڅ ډول منظم بایومتریک چیک شتون نه لري– پداسې حال کې چې په نورو ډیرو حکومتي څانګو کې د ګوتې چاپ (فنګرپرنت) پیژندنه یوه عادي چاره ګرځیدلې ده.

## 4.5 د پایلو پر بنسټ د ظرفیت لوړاوي له لارې د لوړپوړ تاکنو ورو پرمختګ

د پایلو پر بنسټ د ظرفیت لوړاوي نوښت یوه پروسه ایجاد کړې ده چې داډ ورکړي چې د لوړپوړو مامورینو ټولې ټاکنې د یوې دریمګړې بهرنۍ ډلې له خوا وڅارل شي، یو داسې نقش چې اوس مهال د یو نړیوال پراختیایي همکار له خوا پر مخ وړل کیږي. د عبرابري داډمنولو دا بهرنۍ تائیدوونکې داډ ورکوي چې نوموړی بهیر له مفسدو کړنو څخه خوندي دی او هوکړه شوي او خپاره شوي پروتوکولونه او سیستمونه تعقیبوي، لکه له نوماندانو څخه د کره او اصلي خلص سوانحو غوښتل؛ پرانیستې او د استعداد او وړتیا پر بنسټ د لنډلیست جوړولو بهیر؛ د مرکې مناسبه او عادلانه کړنلاره؛ او په ځینې وختونو کې لیکلې ازموینه.

د پایلو پر بنسټ د ظرفیت لوړونې پروګرام موخه د حکومت په ظرفیت کې د پام وړ لوړوالي راوستل دي چې بنسټیز خدمتونه وړاندې کړي او د ملي لومړیتوب پروګرامونه پلي کړي، په داسې حال کې چې پر بهرنۍ تخنیکي مرسته باندې له حده د زیاتې تکیې ستونزې ته ځواب وواېي. له ځانګړو شوو بستونو څخه د پوهنې وزارت ونډه ۱۰۰ لوړپوړي بستونه کیږي. تر اوسه پورې، د پوهنې وزارت توانیدلی دی چې له دې ۱۰۰ څخه ډیر لږ بستونه له دې لارې ډک کړي. په اصل کې، ټول عمومي ریاستونه او د پوهنې ولایتي ریاستونه باید د پایلو پر بنسټ د ظرفیت

لوړوني د پروسې له لارې ډک شوي وای، خو د څارنې او ارزونې کمیټې معلومات ترلاسه کړل چې د سیاسیونو، او د اوسنیو بستونو اشغالوونکو له خوا د نوموړې پروسې مخه نیول شوې ده.[45]

## 4.6 د تشو بستونو په ډکولو کې د روڼتیا نشتوالی

له دومره لوی کاري ځواک لرلو سره، حتمي ده چې په دوامداره توګه به د کارکوونکو بدلیدل شتون ولري، چې تش بستونه باید په دوامداره توګه بیرته ډک کړل شي. که څه هم په نږدې کلونو کې د وزارت په تشکیل کې کوم ستر بدلونونه راغلي نه دي، بیا هم بستونه تشیږي ځکه چې خلک تقاعد کیږي، دنده پریږدي، کډوال کیږي، یا مړه کیږي. د وزارت په کچه د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د دې ارزونې له مخې، د دې تشو بستونو د ځایناستو ګومارل ډیر کم وختونه په پرانیستې او رڼه توګه ترسره کیږي.

په ځینو حالتونو کې ښوونکي د ګمارنې په تمه له معاش اخیستلو پرته کار کوي. د بېلګې په توګه، د ښوونځیو د یوې شورا غړو خبر ورکړ چې د دوی په ټولنه کې یو ښوونکي د ګمارنې په ازموینه کې ښې نمرې اخیستې وې او په لومړیو کې یې د دوی په ښوونځي کې له معاش پرته څو کلونه دنده اجراء کړې وه.



***د هلکانو عالي لیسه، بدخشان***

*"زموږ په ښوونځي کې ډیر ښوونکي وړتیا نه لري. د ځینې مضامینو لپاره موږ بیخي ښوونکي نه لرو، لکه موږ د انګلیسي لپاره ښوونکی نه لرو. زموږ ښوونکی موږ ته له بیګینر څخه درس راکوي، نه د پوهنې وزارت له کتاب څخه، او زموږ د عربي مضمون ښوونکی تدریس نه شي کولای. موږ د کال له پیل څخه تر اوسه پورې یوازې د کتاب دوه مخونه لوستي دي. کله چې ښوونکي خبر شي چې د ولسوالی مفتشین به له ښوونځي لیدنه کوي، دوی ښه درس ورکوي، خو په نورو ورځو کې په ټولګي کې درسونه نه وي. د ولسوالی د پوهنې مفتش هیڅ د ښوونکو د تدریس پروسه نه ګوري."*

**د هلکانو د منځني ښوونځي زده کوونکی**

## 4.7 د کمزورې ورتیا لرونکي ښوونکي

د څارنې او ارزونې کمیټې د موندنو پربنسټ، داسې څرګندیږي چې د یو ځانګړي متخصص ښوونکي لپاره د سیمه ییزې اړتیا او د هغه ښوونکي ترمنځ چې د پوهنې ولایتي ریاست یې ښوونځی ته لیږي، په ښکاره هیڅ تړاو نشته. د څارنې او ارزونې کمیټې ټیمونو ته په ډیرو قضیو کې ویل شوي چې کله کله ښوونځیو یو ځانګړی ښوونکی غوښتی دی، لکه د ریاضي ښوونکی، خو پر ځای یې ورته د اسلامیاتو ښوونکی ورلیږل شوی دی. د پوهنې ریاست څخه د نویو بستونو د غوښتنو لپاره، د ښوونځیو مدیران ډیر لږ واک لري – له همدې امله په یو ښوونځي کې د زده کوونکو د حقیقي اړتیاوو او له وزارت څخه د ورلیږل شوو کارکوونکو ترمنځ سمون نه تر سترګو کیږي.

د دې ترڅنګ، مدیران کولای شي چې هغه تش بستونه ډک کړي چې د تعلیمي کال په دوران کې تشیږي او د دې لپاره د خپل ملاتړ له شخصي شبکو څخه کار اخلي؛ دا چاره مدیرانو ته اجازه ورکوي چې یو داسې ځایناستی راپیدا کړي چې دوی ورڅخه یو څه پیسې ترلاسه کولای شي. د وزارت د فعالیتونو د ټولو نورو اړخونو په څېر، د ښوونکو ګومارل د غوښتنې پر بنسټ نه دي، بلکې د هغو خلکو د ګټو له مخې تشخیصیږي چې د عرضې زنځیر ترڅنګ پر بیلابیلو ځایونو واک لرونکي وي.

په ښوونځیو کې د نامناسبو او وړتیا نه لرونکو کارکوونکو خلکو شتون یواځې تر ښوونکو پورې محدود نه دی؛ په خپله مدیران هم ډیر وخت یواځې محدودې زده کړې لري، لکه څنګه چې د ډله ییزو بحثونو پر مهال د ډیرو میندو او پلرونو له خوا په ګوته شول.

> *"له ۱۰ څخه ډیرو کلونو لپاره، یو سړی چې د ۱۲ ټولګي سند لري د هلکانو د دې ښوونځي د مدیر په توګه دنده ترسره کوي."*
> **د میندو او پلرونو د ډله ییز بحث ګډونوال**

## 4.8 د تقاعد له عمر څخه وروسته په دنده پاتې د پاتې کیدو لپاره د ښوونکو پیسې ورکول

د لوړو درجو لرونکي ښوونکي ډیر وختونه د تقاعد له عمر وروسته کار کوي او د دوی له ډلې څخه د پام وړ کسانو له ۱۲ ټولګي پورته هیڅ زده کړې نه دي ترلاسه کړې.

د څارنې او ارزونې کمیټې تیم وموندله چې ډیر ښوونکي چې د تقاعد له عمر اوښتي دي هڅه کوي چې خپل بستونه، په عمومي توګه د نیپوټیزم او رشوت ورکولو له لارې وساتي. دا دود نوي ښوونکي د بستونو له ترلاسه کولو څخه منع کوي. لکه څنګه چې د یو ښوونځي مدیر روښانه کړله، "ډیر ښوونکي فکر کوي چې تقاعد د دوی جنازه ده ځکه چې له تقاعد وروسته د دوی مکافات ډیر کم دي. دا مبلغ د دوی د ژوند د ورځیني لګښتونو پوره کولو لپاره کافي نه دی او بله خبره دا چې حکومتي سکتور دوی ته د تقاعد پیسې پر وخت، او له رشوت پرته نه ورکوي." دا چاره د دې سبب ګرځي چې لږ-وړتیا لرونکي، زاړه ښوونکي په ټولګیو کې پاتې شي، په داسې حال کې چې د دوی ښه-وړتیا لرونکي سیالان د ښوونې له دندو لرې ساتل شوي دي.

ځینې ژمنو سرښوونکو خبر ورکولو چې دوی هغه ښوونکي لرې کوي چې د تقاعد عمر یې پوره وي او محدود مهارتونه او په تدریس کې لږه لیوالتیا ولري، چې دوی له دې پاتې کوي چې په ښوونځیو کې د نویو، هڅوونکو او وړتیالرونکو ښوونکو په اضافه کولو سره خپل تدریس او زده کړې لوړې کړي.

## 4.9 د جنسیت پر بنسټ تبعیض او د ښځینه ښوونکو خورول

دا چې د جنسیت ستر نا برابری ورته په میراث کې پاتې و، نو د افغانستان نوي حکومت د بن کنفرانس (۲۰۰۱) کې هوکړه وکړه چې په ټولنه کې د ښځو نقش ته باید ځانګړې پاملرنه وشي. حکومت د دې موخې لپاره یوه ځانګړې

اداره، د ښځو چارو وزارت (MoWA)، تاسيس کړ. نوموړی وزارت ډيرې برياوې لري او د ښځو او نجونو د وضعيت په ښه کولو کې يې ډيره مرسته کړې ده. د ۲۰۰۲ کال راهيسي د ښځو او نجونو لپاره د لوړو شو فرصتونو ډيرې بيلګې شتون لري چې په ښوونيزو، ټولنيزو او کلتوري فعاليتونو کې يې برخه اخيستې ده. په هر حال، په عمومي توګه په ښاري سيمو کې ښځې له دې فرصتونو څخه، د لرې پرتو ولسواليو د ښځو په پرتله ډيره ګټه اخلي.

د پوهنې وزارت د معينيتونو او رياستونو دننه، هم په کابل او هم په ولايتونو کې، ډير خنډونه او موانع شته چې ښځې د بشپړ برابري له ترلاسه کولو څخه منع کوي. د بيلګې په توګه، د پوهنې وزارت کې، اوس يوه ښځه ده چې د عمومي رياست دنده پرمخ بيايي. د وزارت په کچه د اداري فساد پر وړاندې زيان منني د ارزونې ټيم له مرکو څخه، چې د دې لپاره ځانګړې شوې وې چې د وزارت په ټولو کچو د واک لرونکو استازيتوب په کې وشي، له ۱۰۰ مرکه ورکوونکو څخه يوازې اته تنه يې ښځې وې.

له يو ولايت څخه تر بل ولايت پورې، د ښځو لپاره د ښوونکو دندو اخيستلو لپاره فرصتونه بدلون مومي. په کابل ښار کې، د ښځو ښوونکو تناسب له نړيوالو اصولو سره برابر دی: تقريباً درې پر يو د ښځو په ګټه (۱۹۲۸۴ ښځې، د ۷۵۱۱ نارينه وو په پرتله) دی. خو په کابل ولايت کې په لرې پرتو سيمو کې، بيا قضيه سرچپه ده، چې د ۳۹۸۹ نارينه وو په پرتله يوازې ۱۷۶۶ ښځې تدريس کوي. دا ستونزه په ټول هيواد کې راغبرګه شوې ده چې نارينه ښوونکي په ستره کچه له ښځينه ښوونکو څخه زيات دي؛ په شپږو ولايتونو کې ښځينه ښوونکي د کاري ځواک له ۱۰ څخه کمه سلنه تشکيلوي: په پکتيکا کې له ۱۰ سلنه کمې ښوونکي ښځې دي، په ارزګان کې ۳ سلنه، خوست کې ۴ سلنه، پکتيا کې ۵ سلنه، او ميدان وردګ کې ۶ سلنه دي. خو د هرات او بلخ په لويو ښاري مرکزونو کې د نارينه او ښځينه ښوونکو تناسب تقريباً برابر دی چې په دواړو قضيو کې ښځينه له نارينه وو څخه لږ زياتې دي: هرات ۸۴۰۷ ښځينه او ۷۹۳۰ نارينه؛ بلخ ۶۵۹۵ ښځينه او ۵۳۸۱ نارينه ښوونکي لري. دا ارقام په افغانستان کې د ښځو لپاره د ژوند ټولو عادي برخو او کاري فرصتونو کې د ښاري-کليوالي ويش څرګندونه کوي. خو په ځينې لرې پرتو ولايتونو کې نوموړی انځور په ټوليزه توګه د نارينه وو په حاکميت کې نه دی: په لږ نفوس لرونکي نيمرزو ولايت کې ۹۱۱ ښځينه ښوونکي او ۶۲۹ نارينه ښوونکي دندې لري.[46]

> *"ډيرې ښوونکې د رشوتونو په ورکولو سره ګومارل کيږي او ډيرې يې له ناوړه جنسي استفادې او ځورونې سره مخ کيږي، هغه کسان چې دا کارونه کوي د پوهنې وزارت دننه د مافيا په څير کار کوي."*
>
> **د پوهنې وزارت مامور**



***د هلکانو او نجونو ګډ لومړنی ښوونځی، خوست ولایت***

د یادونې وړ ده چې د نارینه ښوونکو ستره برخه ملایان دي چې د اسلامي زده کړو له لارې یې د تدریس شرایط پوره کړې دي. د څارنې او ارزونې کمیټې ټیمونو وموندله چې په یوه ولسوالۍ کې له ۴۵۰ ښوونکو څخه ۳۵۰ یې ملایان دي. مناسبه ده چې فرض کړل شي د دې ښوونکو ظرفیت به په اسلامي مضامینو کې لوړ وي، خو په نورو برخو، لکه ساینس او ریاضیاتو کې به ډېر محدود وي.

*"وزارت له وړتیا لرونکو ښځو څخه بې برخې دی."*
**د یوې نړیوالې نادولتي مؤسسې د پوهنې مامور**

په ولایتونو، او همدا ډول په کابل کې د مدیریت په لوړو کچو کې، ښځې له یو شمیر ننګونو سره مخ دي:

- وړ او باستعداده ښځې نه شي کولای چې لوړ بستونه ترلاسه کړي، ځکه چې دوی نه دي توانیدلې چې لوړې زده کړې ترلاسه کړي؛
- مدیریتي بستونه په پرانیستې توګه خرڅیږي او ښځې دومره سرچینو ته لاسرسی نه لري چې د دې ډول بستونو لپاره پیسې ورکړي؛
- کورنیو ژمنتیاوو په اړه د ښځو نرمښت نه منونکی تصور چې دوی اړ کوي څو په یو وخت کې دوه رولونه پرمخ بوځي، هم د کارکوونکې ښځې او هم د کور د میرمنې؛
- ښځو ته فرصتونه نه دي برابر شوي چې خپل ظرفیتونه لوړ کړي او له وړتیا لرونکو نارینه وو سره سیالي وکړي؛
- امنیتي وضعیت ډیرو ښځو ته اجازه نه ورکوي چې په ډیرو لوړو بستونو کې کار وکړي؛
- ښځې د مسلکي ملاتړ هغه شبکې نه لري چې نارینه یې لري.

د ډیرو کورنیو له لیدلوري، تدریس د ښځو لپاره یو زړه راښکونکی مسلک دی؛ کورنۍ پوهنې ته د نسبتاً خوندي فرصت په سترګه ګوري. له دې پرانیستنې څخه د ګټې اخیستلو لپاره پروګرامونه جوړ شوي دي، لکه د افغانستان لپاره د ناروې کمیټې له خوا یې چې ملاتړ کیږي، چې د ۱۲ ټولګي سند لرونکو ښځینه ښوونکو ته سکالرشیپونه ورکوي چې د ډیپلومې کورسونو لپاره د ژمي په رخصتیو کې دارالمعلمین ولولي او بیرته د تعلیمي کال په پیل کې

خپلو کليو ته د تدريس لپاره ورشي. نور پروګرامونه لکه د ښځينه ښوونکو د زده کړو پروګرام (FTEP)، چې د نړيوالي مرستې ماموريت له خوا پرمخ وړل کيږي، له ۸-۱۰ ټولګي د نجونو ملاتړ کوي چې ويې روزي او لـه ۱۲ ټولګي څخه له فارغيدو وروسته په خپلو سيمو کې ښوونکې شي.

په هر حال، د هيواد په ډيرو برخو کې د ښځينه ښوونکو کموالی تر ډيره پورې هغو زده کړو ته د نجونو د لاسرسي فرصتونه محدودوي چې د دوی ميندې او پلرونه يې مناسبي او خوندي ګڼي. داسې خبر ورکول شوی دی چې ډيرې کورنۍ خپې لوڼې له دې امله زده کړو ته نه پريږدي چې په ښوونځي کې يوازې نارينه ښوونکي وي. د ښوونځي عمر لرونکو ماشومانو ترمنځ د جنسيت پراخه نابرابري ترسترګو کيږي چې د جنسيت د عمومي برابری لـه شاخص (GPI) ۰،۶۶ څخه زياته ده. په هيواد کې، د پام وړ سيمه ييز تغييرات شتون لري او داسې ډيرې ساحې شته چې د نجونو د نوم ليکنې لپاره ځانګړي تمرکز ته اړتيا لري. د بيلګې په توګه، په داسې حال کې چې په هرات او بدخشان کې د جنسيت د عمومي برابرۍ شاخص ۰،۹ (۹ نجونې او ۱۰ هلکان) دی، په زابل او ارزګان کې نوموړی شاخص ۰،۱ (۱ نجلۍ او ۱۰ هلکان) دی.[47]

له دې حقيقت سره سره چې د ۴۲ دارالمعلمينونو لـه زده کوونکو څخه ډيرې يې ښځينه زده کوونکي دي – بيا هم ښځينه فارغانې د ښوونکو دندو په ترلاسه کولو کې له ستونزو سره مخ دي. په عمومي توګه، د دارالمعلمين څخه د هرې فارغيدونکې جوړې يوازې ۲۵ سلنه د ښوونکو دندې ترلاسه کولو باندې برلاسي کيدلای شي. همدا ډول د څارنې او ارزونې کميټې ټيم له ښځو څخه بې شميره کيسې ثبت کړې دي چې په دارالمعلمينونو، د پوهنې رياستونو او هغو ښوونځيو کې جنسي ځوروني روښانه کوي چې بالاخره دوی په کې دنده ترلاسه کړې ده.

## 4.10 د کارکړنو د مديريت نشتوالی

د کارکړنو مديريت ترسره کولو لپاره د پوهنې وزارت کې د مامورينو مسلکي ظرفيت په عمومي توګه ډير کم دی، چې اوس مهال په هغو تخنيکي مرستندويانو باندې تکيه دي چې د پراختيايي همکارانو لـه خوا ګومارل شوي او تمويليږي. د پوهنې وزارت کې د کارکړنو مديريت بهيرونه تر ډيره پورې انفرادي دي. د ښوونځي په کچه، هغه څارونکي چې ښوونکي ارزوي يو څو حقيقي ټولګي ګوري، کـه چيرتـه وي. د مديريت تسلسل لـه مسولينو پرتـه، د ښوونځيو مديران پخپله ډيرې لږې تبصرې د ښوونکو د کارکړنو مديريت کې ځای کوي. د پاليسۍ اسنادو، لکه د پوهنې دويم او دريم ملي ستراتيژيک پلان کې د دې ډول عرفونو له ځانګړو غوښتنو سره سره، د څارنې او ارزونې کميټې د تحليل د موندنو له مخې، د ښوونځي په کچه د څارنې او کارکړنې مديريت تـه هيڅ لومړيتوب نـه دی ورکړل شوی.

## 4.11 د ژمنو ښوونکو په تناسب کې راپور شوی کموالی

په نړۍ کې د پوهنې سيستمونو کې تل داسې افراد شتون لري چې تدريس ته د خپلې پياوړې شخصي هڅونې له لارې راځي. ستونزمنه ده چې يو ځای کې دې له داسې ښوونځي ليدنه ترسره شي چې هلته يو يا دوه ښوونکي داسې نـه وي چې خپل مسلک ته ژمن وي او له ډيرو لارو څخه خپلو زده کوونکو ته روحيه ورکوي چې د دوی تر پاملرنې لاندې دي. دا خلک تدريس ته د شخصي مسلک له لارې راغلي دي او د خپلو شاوخوا خلکو لپاره نيکې نمونې دي. ښکاره خبره ده چې دا ډول ډير ښوونکي پـه افغانستان کې شته؛ د څـارنې او ارزونـې کميټې ټيم لـه دوی څخـه د تـدريس پـر مهال ليدنې ترسره کړې او له دوی سره يې د مسلک لپاره د ليوالتيا په اړه خبرې کړې دي.

سره لدې، په هره مرکه او هر ډله ييز بحث کې، د ښوونکو پـه اړه د منفي ځوابونو شمير، وزن او غلظت، د څـارنې او ارزونې کميټې په مرکو او ډله ييزو بحثونو کې، له هر ډول مثبتو ملاحظاتو څخه زيات ول.

د مرکه ورکوونکو له خوا يو عام ځواب دا و چې په افغانستان کې پياوړي او مخلص مسلکي ښوونکي ډير کم دي.

## 4.12 د ښوونکو غيرحاضري او جعلي هويت

د ولايتي چارواکو له خوا له کمزوري څارنې سره مل، د ښوونځيو د کمزورۍ، مفسد او بې اغيزې مديريت پـه پايلـه کې، د ښوونکو غيرحاضري په ټول سيستم کې يو دود ګرځيدلی دی.

اوسمهال، په افغانستان کې د عامه او خصوصي سکتور په ډېرو برخو کې، د کاري ځای حاضري د بایومتریک دخولي/خروجي سیستم له لارې تصدیقیږي – په ډېرو حالتونو کې دا د ګوتې نښاني ساده لوستل دي چې د کار لپاره د کارکوونکي د رارسیدلو پر مهال او بیرته د کارځای پرېښودلو پر مهال اجراء کیږي. دا ټکنالوژي ازمایل شوې او کارول شوې ده، ډېر لګښت نه لري، او فساد کول په کې ستونزمن دي. ډېټا یې په سیمه ییزه کچه یا په حقیقي وخت کې یو ملي ډېټابیس ته د موبایل ټیلیفون شبکې له لارې لیږدول کیدلای شي. دا سیستمونه د پیچلو برېښنایي شبکو یا پیچلي معلوماتي ټکنالوژۍ کارولو ته اړتیا نه لري. حتی په هغو ځایونو کې چې پر برېښنایي عرضو او د معلوماتي ټکنالوژۍ وسیلو باندې کمه تکیه کوي، د څارنې دا سیستمونه مدیریت او د ښوونکو او کارکوونکو د حاضرۍ څارنه پیاوړې کولای شي.

*"لومړی، ډېر ښوونکي چمتو نه دي چې خپلو زده کوونکو ته درس ورکړي ځکه دوی په کورونو کې ډېر کارونه لري او د سترو کورنیو ملاتړ ورپه غاړه دی. له بل پلوه، دا ښوونکي له اړتیا سره سمه وړتیا نه لري؛ له دوی څخه ډېر ښوونکي د کورنیو اړیکو یا هغو اړیکو پر بنسټ ګومارل شوي دي چې له چارواکو سره یې لري، له همدې امله، په ښوونځیو کې د تدریس کیفیت کافي نه دی."*
**د میندو او پلرونو د ډله ییز بحث ګډونوال**

دا ډول سیستم د افغانستان په دولتي ښوونځیو کې نه کارول کیږي، که څه هم دا اوس د نړۍ په نورو برخو کې عادي سیستم دی. پر ځای یې، ښوونکي له یوې لاسي پاڼې څخه د دخول او خروج لپاره کار اخلي. دا یو ناخوندي سیستم دی او په اسانۍ سره په کې غلطه دخولي یا لاسوهنه کیدلای شي.

*"ډېر ښوونکي د پنج شنبې په ورځ د بهانو لیکونه لیږي. په ښوونځي کې د تدریس پر ځای په خپل کور کې شخصي کارونه مخ ته وړي."*
**د میندو او پلرونو د ډله ییز بحث ګډونوال**

دا چې قیودات او توازنونه محدود دي، او ډېر لږ خلک پوهیږي چې په حقیقت کې په ټولګیو کې څه روان دي، د ښوونکو لپاره ډېره اسانه ده چې له ښوونځي څخه ووځي او د ځان پر ځای یو بدیل ټولګي ته ولیږي چې کیدای شي وړ او مناسب بدیل وي یا نه وي.

*"...دلته ځینې وختونه داسې پیښیږي چې کله یو ښوونکی د یوې اونۍ لپاره ښوونځي ته نه راځي، دوی د خپلې غیرحاضرۍ پر مهال د ځان پر ځای خپل خپلوان رالیږي؛ د بیلګې په توګه، زموږ له ښځینه ښوونکو څخه یوې د یوې اونۍ لپاره شخصي رخصت اخیستی و او میره یې د هغې پر ځای ښوونځي ته راتللو."*
**د میندو او پلرونو د ډله ییز بحث ګډونوال**

د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم ته ډېرې بیلګې وړاندې شولې چې ښوونکي ناروغه شوي، بل ځای ته تللي، یا مړه شوي دي، او مخکې له دې چې د دوی غیرحاضري په ډاګه شي، د دوی معاش لا هم د یو څه مودې لپاره تادیه شوی دی. په نورو بیلګو کې، نوموړي ټیم په هغو ناامنو، د وسلوالو تر ولکې لاندې ولسوالیو کې د بشپړو خیالي یا هوایي ښوونځیو په اړه معلومات ترلاسه کړل چې وزارت ورته د ډېټا تائیدولو لپاره لاسرسی نه لري.

## 4.13 د ښوونکو له خوا د رشوتونو غوښتل

له ډېرو ولایتونو څخه د زده کوونکو میندو او پلرونو یادونه وکړه چې ډېر وخت پر زده کوونکو فشار راوړل کیږي چې د ښوونکو د خصوصي تدریس مرکزونو کې د حاضرۍ لپاره پیسې ورکړي چې د ښوونځي له درسي ساعتونو بهر وخت کې وي. هغه زده کوونکي چې د دوی پر وینا عمل کوي غوره توب ورکول کیږي او کله چې بیرته ښوونځي ته راځي نو لوړې نمرې ورکول کیږي.

*"په ښوونځیو کې د ازموینو بهیر کې کافي روڼتیا نشته. د بیلګې په توګه، یو ځل یو ښوونکي د ازمویني پوښتنې په بازار کې چاپ کړې وې، او د ازموینې له ورځې مخکې، ځینې زده کوونکو نوموړې پوښتنې له بازار څخه اخیستې وې."*
**د زده کوونکو د ډله ییز بحث ګډونوال**

د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم ته د ښوونکو په اړه ووېل شول چې له زده کوونکو او د دوی له کورنیو څخه بې پیسې اخیستې دي، ځینې وختونه د ساده شیانو لکه تباشیر لپاره، خو په نورو وختونو کې بیا د ازموینو پوښتنې او ځوابونه خرڅیږي. د ځینې زده کوونکو په اړه خبر ورکول کیږي چې د ښوونکو لپاره شخصي کارونه کوي، لکه په کرنیزو ځمکو کې او د کور رغوني کارونه ترسره کول.

*"ښوونکي زده کوونکو ته قناعت ورکوي چې په ټولګي کې د غیرحاضرۍ لپاره پیسې ورکړي. همدا ډول، زده کوونکي د بیلابیلو غونډو، او د ښوونځي اداري ته د قرطاسیې اخیستلو لپاره پیسې ورکوي. زده کوونکي بیلابیلو موخو لپاره پیسې ورکوي لکه د ښوونځي د کتابونو چاپ کول او فوتوکاپي کول او اخیستل، د انټرنیټ کڅوړې، د ازموینې پاڼې، د ښوونکو معاشونه، د ښوونکو د غرمې ډوډۍ، او د ښوونځي د ساتنې لپاره مرسته."*
**د زده کوونکو د ډله ییز بحث ګډونوال**

## 4.14 ځورونه؛ فزیکي، لفظي او عاطفي

د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم وموندله چې، د کابل پر خلاف، په ولایتونو کې اکثریت ښوونکي نارینه دي. له دوی څخه ډېر یې په زوړ نسل پورې تړاو لري چې د ماشومانو د حقونو له عصري پوهاوي، یا مثبت دسپلین او د ټولګي مدیریت سره ناآشنا دي. که څه هم دوی کیدای شي په نظري توګه د ماشومانو د وهلو ټکولو د غیرقانونیت ستاینه کوي، په عمل کې، د عصري تفکر په رڼا کې د تدریس د هغو عمري پخوانیو عادتونو بدلول ستونزمن کار دی. په ځانګړي توګه د ښوونکو لپاره ستونزمنه ده چې د بدني سزا له سیستم څخه د مثبت دسپلین سیستم ته بدلون وکړي، په داسې حال کې چې دوی د خپلو زده کړو او تدریس په ټوله موده کې یوازې بدني سزا تجربه کړې وي.

د ښوونکو لپاره عادي خبره ده چې له زده کوونکو څخه له نورو لارو ناوړه ګټه پورته کړي. لاندینۍ تبصره هغه عامه تبصره ده چې په ټولو اووه ولایتونو کې چې ساحوي ټیمونو په کې ډله ییز بحثونه ترسره کړي دي، په ټولو ښوونځیو کې له زده کوونکو څخه په تکراري توګه اوریدل شوې ده.

*"موږ جرئت نه شو کولی چې د ښوونکو په اړه شکایت وکړو، دوی موږ ګواښي او په کتابونو، د اوسپنې خط کښونو، او لښتو مو وهي – دوی موږ ته سزا راکوي؛ او ښوونکي ټل لایقه زده کوونکي هڅوي او هغه زده کوونکي چې سمه زده کړه نه شي کولای ځپي؛ او ښوونکي له شتمنو زده کوونکو سره مینه لري: دوی نوموړو زده کوونکو ته په درس کې پاملرنه کوي او دوی ته لوړې نمرې ورکوي."*
**د زده کوونکو د ډله ییز بحث ګډونوال**

## 4.15 جنډر/جنسیت

ښاري-کلیوالي ویش ښکاره څرګند دی، په ښاري سیمو کې ښځې فرصتونو ته د هیواد د لرې پرتو او کلیوالي سیمو د ښځو په پرتله زیات لاسرسی لري.

ښځینه زده کوونکي (په ښوونځیو کې نجوني او په دارالمعلمین کې ښځې)، ښځینه ښوونکې، د پوهنې مدیراني او اداري کوونکي لا هم په پوهنه او کاري ځایونو کې د تبعیض او جنسي ځورونې له لوړې کچې سره مخ دي. د بیلګې په توګه، د څارنې او ارزونې کمیټې د ډیرو قصدي ناوړه ګټه اخیستنو د قضیو په اړه له خلکو واوریدل چې د ازموینو پر مهال د لوړو نمرو یا نورو ګټو په بدل کې زده کوونکي (په لیسو او دارالمعلمینونو کې) جنسي اړیکو ته مجبوره شوي ول. په ځینې نورو قضیو کې، د جنسي اړیکو لپاره د ښځینه ښوونکو د مجبورونې هڅې شوې دي، او په ځینې حالتونو کې د شغل د پرمختګ او د خوښې وړ دندو ترلاسه کولو لپاره واده ته اړ شوي دي.

## 4.16 ښوونکي د "زیانمن" په توګه

ښوونکو ته ټیټ معاشونه ورکول کیږي او د ښوونکو د اړتیا ستونزه چې باید له ښوونځي بهر نیمه ورځ کار وکړي، د ښوونځیو په ډیرو ټولنو کې مطرح شوه چې د څارنې او ارزونې کمیټې د تحلیل په دوران کې ورسره مشورې کیدلې. لکه څنګه چې د ښوونځي د ټولنې د غړو له خوا یادونه وشوه، کله چې ښوونکی اړ شي چې لـه ښوونځي بهر اضافي کار وکړي، نو د دوی پر تمرکز، د تدریس پلانونو او چمتووالي، او د دوی د تدریس پر انرژۍ منفي اغیزه کوي.

دا چې ښوونکي اړ دي چې د یو کال مزد په رشوت کې ورکړي چې خپله دنده ترلاسه کړي، دوی ډیر وختونه دویمه دنده اخلي چې هغه پانګونه جبران کړي چې دوی د ګومارلو لپاره ترسره کړې ده. همدا ډول دوی لـه خپلو کمو معاشونو څخه لـه نورو لارو هم پیسې لـه لاسه ورکوي. د یوې ولسوالۍ د پوهنې آمر یادونه وکړه چې د وسلوالو مخالفینو قومندانان په بریالۍ توګه له ښوونکو څخه ښوونځیو ته د تګ او تدریس اجازې ورکولو په بدل کې پیسې اخلي او همدا ډول یې هڅه کړې ده چې د ولسوالۍ د پوهنې له آمریت څخه پیسې ترلاسه کړي.

## 4.17 د زده کوونکو او د هغوی د میندو او پلرونو لیدلوری

د پورته یادو شوو ټکو ترڅنګ، په پوهنه کې د اداري فساد په اړه د زده کوونکو او د دوی د میندو او پلرونو لـه خوا په لاندې ډول معلومات ورکړل شوي دي:

**میندې او پلرونه:**

- پر نوموړي سیستم د زده کوونکو د میندو او پلرونو اعتماد له منځه تللی دی، چې ډیره برخه یې، یوازې د دې لپاره چې د خپلو زامنو او لونو لپاره اساسي تعلیم ترلاسه کړي، د حکومت له خوا د وړاندې کیدونکو خدمتونو لـه کمزورې وړاندې کولو، د کتابونو او ساده عرضو د کموالي – حتی د تختو لپاره تباشیر – او د رشوتونو پـه ورکولو چې دوی یې باید ورکړي، ستړي او نهیلي شوي دي. لاندې ملاحظات د هغو عادي مایوسیو او قهرجنو نفرتونو بیلګې دي چې ډیرو میندو او پلرونو څرګندې کړې دي.

- میندې او پلرونه، کورنۍ او شوراګانې په پراخه کچه په ښوونځیو کې د ښوونکو د حاضرۍ د نشتوالي او په ټولګیو کې د ګډون په اړه اندیښمن ول. په ډیرو کلیوالي سیمو کې میندو او پلرونو د هغو ښوونکو پـه اړه شکایت درلود چې پـه حقیقت کې پـه ښار کې اوسیږي، خو پـه تخنیکي توګه پـه ولسوالیو کې د ښوونکو دندې لـري. میندو او پلرونو روښانه کړه چې نوموړي ښوونکي د خپلو معاشونو یوه برخـه د تدریس لپاره ولسوالیو تـه د نـه ورتـګ پـه بدل کـې د پوهنې ولایتي ریاست تـه ورکوي، یا دوی خپلو وړتیا نـه لرونکو خپلوانو تـه پیسې ورکوي چـې د دوی پر ځـای پـه ټولګیو کې درس ورکړي.

- میندو او پلرونو او کورنیو د دوی د ماشومانو ښوونځي کې د ښوونکو له خوا د ناکنټرول شوي تاوتریخوالي او نورو ناوړه ګټه اخیستنو په اړه اندیښني درلودې.

- میندې او پلرونه او کورنی د کتابونو، فرنیچر او ځیني وختونه د ښوونکو په معاشونو کې د اضافه پیسو په ورکولو کې له ستونزو سره مخ دي، په داسې حال کې چې تعلیم باید وړیا وي.

- ټولنې د دې جوګه نه دي چې خپلو لونو باندې زده کړې وکړي ځکه چې ښوونځي او د پوهنې آمریتونه ښځینه ښوونکي نه شي ګومارلی، که څه هم په ورته وخت کې په زرګونه ښځینه ښوونکي دندې نه لري.

*"د تاوتریخوالي او ناوړه ګټه اخیستنې دود په ښوونځیو کې ښه او ژوندی دی. ښوونکي له خپلو زده کوونکو څخه کار اخلي چې په ازموینو کې د ښو نمرو په بدل کې د دوی لپاره په کور کې کار وکړي."*
**د میندو او پلرونو د ډله ییز بحث ګډونوال**

**زده کوونکي:**
د دې لپاره چې د اداري فساد په اغیز باندې ښه پوه شو، اړینه ده چې په ګوته کړل شي ولې زده کوونکو، په ځانګړې توګه، د پوهنې په سیستم باندې خپل باور او هیلې له لاسه ورکړې دي. لاندې د زده کوونکو مهمې تبصرې دي:

- ډیر ښوونکي ټولګیو ته نه راځي، ځیني خو حتی ښوونځي ته هم نه راځي، په داسې حال کې چې ځیني په ښوونځي کې حاضر وي خو له زده کوونکو سره محدوده ښکیلتیا لري. ډیر وختونه، د ټولګي وخت له پلان شوو ۴۵ دقیقو څخه نیمایي وخت، یا له هغه څخه هم کم وخت ته راکمیږي. ځیني ښوونکي وړتیا نه لرونکي خپلوان ګوماري چې د دوی پر ځای درس ورکړي.

- هغه زده کوونکي چې پیسې لري ډیر وخت د ازموینو پایلې اخیستلای شي (د لوړو نمرو لپاره له ۵۰۰-۱۰۰۰ افغانۍ، په ډیرو ولایتونو کې خبر ورکړل شوی دی). په یوه بله بیلګه کې، یو ښوونکي وویل چې د هغوی په ښوونځي کې ډیرو زده کوونکو ته په هغو ازموینو کې د بریالیتوب نمرې ورکول شوي دي چې هیڅ ورته راغلي نه دي. ځیني زده کوونکي په ازموینو کې د نیپوتیزم او فیورتیزم له امله لوړې نمرې اخلي. د هغو زده کوونکو له خوا د بې عدالتۍ تجربه کول د دوی په ټولنیزه او احساساتي ښیګڼه او لیوالتیا باندې اغیز لري چې د خپلې سختې مطالعې او اخلاص په پایله کې ښه کارکړنه لري، خو هغه زده کوونکي ورڅخه په نمرو کې مخکې کیږي چې رشوت ورکوي او د ښوونکو خوښ وي. یوې بلې زده کوونکي خبر ورکړ چې نوموړې د دې ډول تجربې د فشار له امله ښوونځی پریښود او بیرته ښوونځي ته د پلار په ملاتړ او د ډاکټر په مداخله راوګرځیده.

- ځیني زده کوونکي هیڅ ښوونځي ته نه حاضریږي (ځیني یې په حقیقت کې په نورو هیوادونو کې اوسیږي) خو کورنی یې د دوی لپاره د پیسو ورکولو توان لري چې جعلي سندونه او ډیپلومې ورته ترلاسه کړي.

- په عمومي توګه، هغه زده کوونکي چې پیسې لري یا د خپلوۍ مناسبې اړیکې لري که غیر حاضر هم وي حاضر شمیرل کیږي، خو برعکس هغه زده کوونکي چې پیسې نه ورکوي، یا اړیکې نه لري، د قانوني عذرونو لکه ناروغی یا کورنیو بیړنیو کارونو لپاره هم اجازه اخیستلو کې له ستونزو سره مخ وي. د هغو زده کوونکو لپاره چې سرچینې ولري، اسانه ده چې جعلي طبي سندونه ترلاسه کړي چې دوی له غیرحاضرو ټولګیو څخه معاف کړي.

- د ټولو ولایتونو او ولسوالیو زده کوونکو، چې د وزارت په کچه د اداري فساد پر وړاندې د زیان منونې په دې ارزونه کې ورسره لیدنې شوي، خبر ورکولو چې د ښوونکو له خوا د خوښې وړ چلند په بدل کې پیسو ورکولو او/یا تحفو

ورکولو او/یا د دوی لپاره کار کولو ته اړ شوي دي، لکه له ښوونځي څخه بهر، د کور کارونه یا په پټي کې کار کول. د بیلګې په توګه، د زده کوونکو او د دوی د کورنیو له خوا له مالي فشار سره مخ کیدل، چې له دوی څخه غوښتنه کیږي چې د ښوونځي د ساتنې، موادو، کتابونو یا د ښوونکو معاشونو لپاره پیسې ورکړي، د دې سبب ګرځیدلی چې نوموړي زده کوونکي په بشپړه توګه ښوونځی پریږدي.

- همدا ډول زده کوونکي، پلرونه او کورنۍ یې له افغانستان څخه بهر اوسیدونکو زده کوونکو ته د خرڅیدونکو سندونو په اړه خپګان څرګند کړ – چې د خیالي زده کوونکو د پدیدې یو اړخ دی.

- ډیر ښوونکي د مضمون په اړه پوهه نه لري او نه شي کولای چې زده کوونکو ته په خپله مطالعه کې لارښوونه یا د هغوی ملاتړ وکړي.

- ځینې ښوونکي له زده کوونکو سره په هغو درسونو کې له مرستې کولو انکار کوي چې له دوی څخه په ټولګي کې د غیرحاضرۍ له امله تیر شوي وي.

- د زده کوونکو د اداري فساد تجربه د ډیر دروند درسي نصاب څخه هم سرچینه اخلي. د نجونو د عالي لیسې یوې زده کوونکې وویل چې په لومړنیو ښوونځیو کې زده کوونکي اړ دي چې شپږ مضامین په یوه ورځ زده کړي، چې د هغې په وینا د کوچنیو ماشومانو لپاره ستونزمن کار دی. همدا ډول دا هم یوه ستونزه ده چې د لومړي ټولګي زده کوونکي باید د کتابونو دومره دروند بار یوسي.

## 4.18 پایلې – ټولنو د اداري فساد له امله پر سیستم باندې باور له لاسه ورکړی دی

د ښوونځیو ټولنو لپاره، اداري فساد کیفیت لرونکي تعلیم ته د لاسرسي د فرصتونو له لاسه ورکولو سبب ګرځي. بده لا دا چې د اداري فساد د دې تجربو له لارې، ماشومان زده کوي چې دوی اړ دي چې په زده کړو کې د بریا لپاره باید پیسې ورکړي. دا په روښانه توګه د هیوادوالو لپاره ناسمه زده کړه ده او د افغانانو د راتلونکي نسل باور کمزوری کوي.

## 5. د ښوونځي په مدیریت کې اداري فساد

*"له میاشتو راهیسې زه کوښښ کوم چې د ځان لپاره تائیدي ترلاسه کړم چې د کورنیو ستونزو له امله په یوه بله ولسوالۍ کې دنده وکړم. ټولې فورمې مې ډکې کړې خو هیڅ ونه شول. یوه ورځ د مدیر په دفتر کې ناسته وم او هغې وویل، دا په لاس چې دې ګوته ده ماته یې راکړه چې د تګ اجازه درکړم."*
**ښوونکې**

### 5.1 په دنده ګمارل او له دندې لرې کول

د ښوونځیو مدیران د خپلو شخصي اړیکو له لارې د ډیر څه کولو وړتیا لري. کله چې بستونه خالي شي، دوی د خپلو اړیکو په دایره کې د نومورې فرصت په اړه پوهاوی محدودوي او ځان ډاډه کوي چې دوی له نومورې ګومارنې څخه شخصي ګټې ترلاسه کړي. په داسې حال کې چې د وړتیا لرونکو ښوونکو نشتوالی ډیر وختونه د څارنې او ارزونې کمیټې په ډله ییزو بحثونو کې راپورته شوی دی، د وړتیا لرونکو مدیرانو ستونزه هم په برابره توګه راپورته شوې ده. د بیلګې په توګه، د ښوونځي شورا یو غړي خبر ورکړ چې یو وړتیا نه لرونکي مدیر د یو ځانګړي سیاسي ګوند له ملاتړ او خوندیتوب سره یو ښوونځی پر مخ وړلو او په ښوونځي کې د ښوونې او ملاتړ بستونو لپاره د ځانګړو ډلو د خلکو د ګمارنې په سپارښتنه او واسطه کې ښکیل و.

*"کله چې په ښوونځي کې یو بست اعلان شي، زورواکي د خپلو خپلوانو او کورنیو سپارښتنه کوي، که څه هم دوی د اعلان شوي بست لپاره وړ نه وي."*
**ښوونکی**

سیمه ییز زورواکي، جنګسالاران او د ملي شورا غړي معمولاً د ښوونځیو له مدیرانو سره یو ځای پلانونه جوړوي او د ښوونځیو په مدیریت کې مداخله کوي. په ځینې حالتونو کې، خبر ورکول شوی و چې حتی د صفاکارانو د ګمارلو په پریکړو کې هم مصلحت وشي. ډیر ښوونکي په ټولنه کې د دې زورواکو له خوا ګمارل کیږي. د ډیرو ښوونکو او د ښوونځیو ټولنې د نورو غړو په وینا د ډیرو ښوونځیو مدیران د واک د شبکو د ننه د خپل اغیز ساتلو په اړه د دوی په ښوونځیو کې له تدریس او زده کړې د څارلو څخه زیات اندیښمن دي. په پایله کې، ښوونکي مایوسه کیږي، ځکه چې هیڅ حقیقي حساب ورکول شتون نه لري، او د زده کړو کیفیت یې ټیټ وي.

*"که چیرته ښوونکي ترقي وغواړي نو مدیران ورڅخه رشوت غواړي."*
**د ښوونکو د ډله ییز بحث ګډونوال**

بله ستونزه چې په تکراري توګه د ښوونکو په ډله ییز بحث کې راپورته کیدله د اضافه کارۍ په ویش کې د روڼتیا نشتوالی و. پدې اړه فرصتونه پټ ساتل کیږي او ډیر وخت راپور ورکول شوی چې یو څو د خوښې کسان په یو ښوونځي کې د ورځې دوه یا درې وخته تدریس کې ښکیل وي، په داسې حال کې، چې په ورته وخت کې، نور ښوونکي د تدریس ساعتونه هم نه شي پوره کولای. د دې موضوع د پلټنې لپاره کافي وخت نه و. دا د پوهنې وزارت له یوې مشاهدې سره په ټکر کې ده چې وایي "د ښوونکو لپاره ډیر کم وختونه داسې راځي چې تدریسي ساعتونه پوره نه کړي، او له دوی څخه ډیر یې له تدریسي ساعتونو څخه زیات تدریس کوي. "

*"... زموږ په ښوونځي کې اته کسان وروڼه او خوېندې، يا مېندې او زامن دي."*
**د ښوونکو د ډله ييز بحث ګډونوال**

## 5.2 رشوت، فيورټيزم او پيسې شکول

د رشوت او فيورټيزم دعوې د مېندو او پلرونو په ټولو ډله ييزو بحثونو کې عامې وې چې په ټولو ولايتونو کې د اداري فساد پر وړاندې د زيان منني د ارزونې لپاره ورڅخه ليدنه شوې ده. له ښوونکو څخه د پيسو غوښتل چې د خپلو بشري سرچينو د سوابقو لپاره د خوښې وړ ارزونه ترلاسه کړي، يا له هغو ښوونکو څخه چې غواړي بل ځای ته انتقال شي اړ شوي دي چې د خپل اوسني ښوونځي مدير ته رشوت ورکړي.

د خوښې کارونو په بدل کې پيسې ترلاسه کول تر ښوونکو پورې محدود نه دي. کورنيو ته د عايد د ګټورې سرچينې په سترګه کتل کيږي: د کابل ښار د نسبتاً شتمنې برخې د يو ښوونځي مدير د مسلکي مخينې لرونکو مېندو او پلرونو، لکه انجينرانو او ډاکټرانو څخه د نامعلومو او حساب نه ورکوونکو دلايلو لپاره په کلنۍ توګه د ۵۰۰۰ افغانيو مبلغ غوښتنه کړې ده. د ټګۍ په يوه بله بېلګه کې، د اداري فساد پر وړاندې د زيان منني د ارزونې ټيمونو يو بل دود وليدلو چې د حاضرۍ پاڼو کې جعلکاري شوې وه چې په دوامداره توګه غير حاضر زده کوونکي په کې د ۵۰۰۰ افغانيو په بدل کې حاضر په نښه شوي ول. په ورته توګه خبر ورکول کيږي چې همدغه نرخ د ښوونځي ازموينو کې د برياليتوب د نمرو لپاره هم کارول کيږي، چې زده کوونکو ته اجازه ورکړي چې بل ټولګي ته پرمختګ وکړي.

## 5.3 له ښوونکو څخه کمزورې سيمه ييزه حساب غوښتنه، څارنه او نظارت

په ډېرو برياليو ښوونځيو کې، مديران د زده کوونکو او د دوی له کورنيو څخه ځانونه خبروي او پوهوي، چې د زده کوونکو د زده کړې اړتياوې وارزوي، او د ښوونکو کارونه وڅاري. د ښوونکو، مېندو او پلرونو او زده کوونکو د ډله ييزو بحثونو ځواب ويونکو په وينا، دا ډول رهبران ډېر کم ليدل کيږي.

غوره دا ده چې د ښوونځي مديريت او اداري ټيمونه هم بايد د ښوونځيو له شوراګانو او د ټولنې له پراختيايي شوراګانو سره پرانيستې او مثبتې اړيکې ولري چې ښوونځي د خپلې ځايي ټولنې اړتياوې راغبرګې کړي. بيا هم، د ښوونځيو د شوراګانو يو څو ښې بېلګې شتون لري چې د دې په تضمين کې فعال او مهم نقش لوبوي چې ښوونځي د هغو ټولنو پر وړاندې حساب ورکوونکي دي چې دوی يې خدمت کوي؛ دې بېلګو ته د ښوونځي د رهبرۍ له خوا هرکلی ويل کيږي. له بده مرغه، په حقيقي ژوند کې دا ډول بېلګې کمې دي.

لکه څنګه چې د څارنې او ارزونې کميټې په دې تحليل کې روښانه شوې ده، د ډېرو ښوونځيو مديران د خپلو ځايي ټولنو سره په ښه تړاو کې له ستونزو سره مخ دي، او پخپله د ښوونکو په وينا، مديران په خپلو ښوونځيو کې ښوونکو ته ډېر لږ ملاتړ او لارښوونه وړاندې کوي. د ولسوالۍ د ځايي څارونکو سره په مشارکت کې کارکولو پر ځای چې د تدريس کيفيت لوړ کړي، د څارونکو ليدنې په بدنامو تبادلو فرصت وي – له څارونکي نيولې چې د مالي هڅونو د ترلاسه کولو کوښښ کوي چې د ښوونځي په خوښه راپور برابرکړي او د دوی د ترانسپورت له لګښتونو څخه پيسې ترلاسه کړي، بيا تر مديرانو پورې چې هڅه کوي چې له ښوونکو څخه په کرايي-ټولونې کې د دوی په انحصار کې له مداخلې مخنيوی وکړي.

*"زده کوونکي له ښوونځي څخه له رسمي وخت يو ساعت مخکې وځي چې په ځايي بازار کې د کانکور چمتووالي په کورس کې برخه واخلي."*
**د زده کوونکو د ډله ييز بحث ګډونوال**

په ځینې حالتونو کې، ښوونکي د ښوونځیو د اداره کوونکو او/یا د پوهنې آمریت/مدیریت او د پوهنې ریاستونو له خوا د اداري فساد یا نیپوټیزم یا د اداري فساد د نورو ډولونو لـه لارې تخریبیږي، د بیلګې پـه توګـه، دوی اړ کیږي چې د ځینې ځانګړو زده کوونکو ازموینو تـه لـه سره نمرې ورکړل شي چې هغوی پـه کې لوړې نمرې ترلاسـه کړي. ښوونکي ډیر کم حقیقي فرصتونه لري چې د نورو ښوونکو، زده کوونکو یا د ښوونځي د اداره کوونکو د غیرعادلانـه چلند په اړه شکایت وکړي، یا ځواب ورکړي، په ځانګړې توګه کله چې نوموړي افراد زورواکي وي او ښې اړیکې ولري.

## 5.4 د سرچینو کمزورې ساتنه

لکه څنګه چې د زده کړې لپاره د سرچینو او کتابونو په اړه په ۹ څپرکي کې روښانه شوې ده، ښوونځیو تـه د کتـابونو وړانـدې کولـو د عرضـې یـو اوږد زنځیر لـه ډیرو کړیو سره شتون لـري. پـه نومـوړي زنځیـر کـې وروستـۍ کړۍ د ښوونځي مدیر/آمر دی، او نوموړی کولای شي چې په خپل ښوونځي کې د کتابونو د سیمه ییزې عرضې یا رسولو پـه تشخیصولو کې له ډیر قدرت څخه ګټه واخلي. په ځینې حالتونو کې، مدیران په ښکاره توګه د حکومت لـه خـوا صـادر شوو کتابونو کې د تور بازار په پیاوړي کوولو کې ښه پراخه مرسته کوي، په داسې حال کې چې نوموړي کتابونه باید وړیا زده کوونکو ته وویشل شي.

د ښوونځي د کتـابونو د ویشلو د تفتیش یـو ازماییښت ښـیي چـې د کابل لـه ګـودام نیـولې تـر ښـوونځیو پـورې کتابونـه ورکیږي او بهر ته ویستل کیږي. په ښوونځیو کې، ډیرو ځواب ویونکو د څارنې او ارزونې کمیټې ساحوي ټیمونو تـه وویل چې د ښوونځیو مدیران په عادي توګه زده کوونکو ته د کتابونو ویشل د یوې تحفې په توګه ګڼي. ډیرو ځـواب ویونکو – میندو او پلرونو، زده کوونکو او ښوونکو – وویل چې د ګوتو په شمیر زده کوونکي د کتـابونو بشـپړ سیټ ترلاسه کوي، خو ډیر یې هیڅ کتابونه نه ترلاسه کوي او له همدې امله اړ دي چې سیمه ییز بازار ته مخه کړي چې د حکومت له خوا صادر شوي کتابونه واخلي، یا یې ډیر وخت، ارزانه، خو کمزوري کیفیت لرونکي نقلونه واخلي.

د زده کړې د نورو سرچینو اړوند وضعیت هم پـه ورتـه توګـه دی، د بیلګـې پـه توګـه، کمپیوټرونـه. ډیر کم ښـوونځي، حتی د کابل په ښار کې هم کم لیدل کیږي چې د کمپیوټر بشپړه فعاله څانګه ولري. په ډیرو ځـایونو کـې کمپیوټرونـه لا هم په خپلو کارتنونو کې په ګردجنه بکسه کې بند پراتـه دي. د یـادولو وړ ده چې ډیر ښـوونځي، پـه ځانګړې توګـه پـه کلیوالي او لرې پرتـو سیمو کـې بریښنا تـه لاسرسـی نـه لـري، چـې د دوی لپـاره یـې ناشـونې کـړې ده چې کمپیوټرونـه وکاروي، که څه هم دوی یې غواړي. همدا ډول مدیران زده کوونکو تـه وایـي چـې دوی د کمپیوټر لپاره وړ ښـوونکی نه لري. د څارنې او ارزونې کمیټې ته خبر ورکړل شوی چې مدیران دعوه کوي چې غوره دا ده چې نوموړي وسـایل په خپلو کارتنونو کې وساتل شي، لکه څنګه چې دي. د وخـت پـه تیریـدو، د دې ناپرانیستل شوو کمپیوټرونو د شمیر کموالی عادي خبره ده، څکه چې نوموړي وسایل ځایي تور بازار ته لاره پیدا کوي.

## 6. دارالمعلمینونه

په افغانستان کې ۴۲ دارالمعلمینونه شتون لري، چې په هر ولایت کې لږ تر لږه یو دارالمعلمین شته. دارالمعلمینونه په کابل کې د ښوونکو د روزنې ریاست تر لارښوونې لاندې کار کوي. د ولایتونو دارالمعلمینونه د ولسوالۍ په کچه بیلابیلې څانګې لري، چې د فرعي مرکزونو په څیر کار کوي، او د حمایوي مرکزونو په نوم یادیږي. نوموړي دارالمعلمینونه د دندې لرونکو ښوونکو لپاره داخل-خدمت پروګرامونه هم لري.

*"د ښوونکو روزنه بواځې د دارالمعلمین د کنترول لاندې نه ده چې د زده کوونکو نوم لیکنه وکړي – په ځانګړې توګه هغوی چې په دنده کې دي. د تولنې زورواکي غړي په پروسه کې مداخله کوي او پر دارالمعلمین فشار راوړي چې هغه زده کوونکي په کې شامل کړي چې وړتیا نه لري. د داخل-خدمت ښوونکو د روزنې پروګرام کې ډیر زده کوونکي حتی ښوونکي هم نه دي. همدا ډول، ډیر داسې کسان هم شته چې د دیني مدرسو پوهه لري خو له یو عادي ښوونځي څخه هم د فراغت سند نه لري."*
**د دارالمعلمین مشر**

زده کوونکي په خپل ولایتي دارالمعلین کې د دوی د کانکور نمرو48 پر بنسټ داخلیږي. د څارنې او ارزونې کمیټې په تکراري توګه له ځواب ویونکو اوریدلي چې ځوان کسان چې د کانکور ټیټې نمرې ولري د ښوونکو د دندې پر لور رهي کیږي – په داسې حال کې چې د لوړو نمرو لرونکي کسان پوهنتون ته جذبیږي. که څه هم د کانکور ټیټې نمرې په رسمي توګه په دارالمعلمین کې د داخلې لپاره اړینې دي، خو بیا هم د نوم لیکنې پروسې اسانه دي او ډیر وخت د تولنو د مشرانو د فشار له امله د دوی په ساحه کې یا د پوهنې وزارت د لوړپوړو چارواکو د مداخلې له امله منحرفې کیږي.

### 6.1 د دارالمعلمین نصاب

دارالمعلمینونه په څلورو سمسترونو کې د ډیپلومې دوه کلن پروګرام وړاندې کوي چې نصاب یې د ښوونکو د روزنې ریاست له خوا چمتو شوی دی. هغه زده کوونکي چې هیله لري خپلې زده کړې د لیسانس تر حده وغځوي، که چیرته یې غوښتنه بریالۍ وي، د پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي کې دوه کاله نورې زده کړې هم کولای شي. زده کوونکي په دارالمعلمین کې په خپل وروستي سمستر کې د پوهنتون لپاره عریضه کولای شي او د شمولیت ازموینه ترې اخیستل کیږي.

د دارالمعلمینونو د نصاب په اړه یوه اندیښنه د دې حقیقت په اړه ده چې دا د ښوونځیو له نصاب سره سمون نه لري – د بیلګې په توګه، د ښوونځي د ۱۲ ټولګي د نصاب غوښتنه له هغه څخه ډیره لوړه ده چې په دارالمعلمینونو کې تدریس کیږي. په نظري توګه، د دارالمعلمینونو فارغان باید تر ۱۲ ټولګي پورې درس ور نه کړي، خو په عمل کې، بیا داسې کیږي. کله چې د دارالمعلمین زده کوونکي فارغ شي، دوی په رسمي توګه د دې لپاره ثبت کیږي چې تر ۹ ټولګي پورې درس ورکړي، خو بیا هم د دارالمعلمین ډیر زده کوونکي لیدل شوي دي چې ۱۲ ټولګي ته درس ورکوي.

*" د انتیګرال معادلې د ښوونځي په ۱۲ ټولګي کې یو مهم بحث دی، خو په دارالمعلمین کې زموږ زده کوونکو ته دا درس نه ورکول کیږي."*
**د دارالمعلمین استاد**

په عادي توګه، د دارالمعلمین له زده کوونکو څخه نږدې ۲۵ سلنه یې کولای شي چې د پروګرام له بشپړیدو وروسته د ښوونکو دندې واخلي. لکه مخکې چې یادونه وشوه، د دارالمعلمینونو ځینې فارغان هڅه کوي چې د پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی د دوه نورو کلونو لپاره ولولي چې د لیسانس سند ترلاسه کړي. په هر صورت، په پراخه کچه خبر ورکول کیږي چې د پوهنتونو دا څوکۍ هم د وړتیا پر بنسټ نه ورکول کیږي – د لوړو نمرو لرونکي تل بریالي نه وي – په داسې حال کې چې د ټیټو نمرو لرونکي کولای شي د پوهنتون څوکۍ د اړیکو او اغیز د نورو لارو څخه ترلاسه کړي.

## 6.2 د دارالمعلمین د ښوونکو ګمارنه او سلوک

په دارالمعلمینونو کې د ښوونکو د ګمارلو کړنلاره ډیره مرکز-محوره ده. د ښوونکو د روزنې ریاست باید په ټولو ګمارنو کې وروستی پریکړه وکړي – دا پروسه تر هغه پورې سالمه ده چې رئیس باوري او اعتمادي شخص وي. خو نوموړی سیستم هم د انحراف پر وړاندې زیان منونکی دی. همدا ډول، نوموړی سیستم تر ډیرې لوړې کچې مرکز-محوره دی، او د دارالمعلمینونو د اړتیاوو کره تحلیل ډیر وخت په پام کې نه نیول کیږي. یو ولایتي دارالمعلمین چې د اداري فساد پر وړاندې د زیان مننې ارزونې ټیم ورڅخه لیدنه وکړه، ۲۸ ښوونکي لرل، په داسې حال کې چې یوازې ۲۰۰ ثبت شوي زده کوونکي یې لرل؛ له زیات وزګار وخت لرلو سره، د ځینې ښوونکو په اړه خبر ورکول شوی چې د خصوصي ښوونې له لارې یې پیسې ګټلې، چې د زده کوونکو کورنیو ورته په مستقیمه توګه د خصوصي تدریس لپاره پیسې ورکولې.

> *" ... زموږ ډیر ښوونکي په نورو ځایونو کې درس ورکوي ځکه چې موږ دلته دارالمعلمین کې کافي ټولګي نه لرو."*
> **د دارالمعلمین استاد**

## 6.3 رهبري، مدیریت او څارنه

> *" ... د ازموینو پایلې ډیرې وروسته اعلانیږي، ۳ یا ۴ ورځې وروسته. ځینې ښوونې نمرې نه اعلانوي او زده کوونکو ته وایي چې د نمرو پوښتنه د ډیپارتمنټ له مشر نه وکړي. په دې ورځو کې، زه یقیني یم چې اداري فساد ترسره کیږي او هغه کسان چې پیسې لري، پیسې ورکوي او خپلې نمرې لوړوي."*
> **د دارالمعلمین زده کوونکی**

د دارالمعلمینونو مشرانو روښانه کړه چې دوی په خپله دنده کې لږ یا هیڅ صلاحیت نه لري، او دوی دوه لورو ته ځواب ویونکي دي: د پوهنې ریاستونو ته چې د دوی په ساحه کې دي، او په کابل کې د ښوونکو د روزنې ریاست ته. د دارالمعلمینونو مشرانو د مایوسۍ څرګندونه کوله او خپل ځانونه یې بې واکه ګڼل ځکه دوی داسې انګیرله چې ګمارنې په بشپړه توګه د کورنیو یا قبیلوي اړیکو پر بنسټ ترسره کیږي.

> *"د ګمارنې لپاره کیفیت په نظر کې نه نیول کیږي، اړیکې ډیرې مهمې دي."*
> **د دارالمعلمین استاد**

د څارني او ارزونې کميټې په ډله ييزو بحثونو کې، يو ښوونکي وويل چې له هغه راهيسې چې د دوی په ولسوالۍ کې دارالمعلمين جوړ شوی دی، "... هيڅوک د کابل د ښوونکو د روزنې له رياست څخه نه دي راغلي چې له نوموړي دارالمعلمين څخه ليدنه وکړي او کړنلارې يې وڅارې." يوه زده کوونکي زياته کړه، "له بهر څخه هيڅکله دارالمعلمين ته څوک نه دي راغلي چې وضعيت وڅاري." نوموړي همدا ډول د ليليې او نورو اسانتياوو د فزيکي وضعيت په اړه شکايت وکړ، "... اته زده کوونکي په يوه وړه کوټه کې اوسيږي چې خواړه هم هملته تيارولې؛ د سپورت لپاره هيڅ اسانتياوې نشته، او دروازې، کړکۍ او چتونه په بيړنۍ توګه بيارغونې ته اړتيا لري."

په هغو دارالمعلمينونو کې چې په ښکاره توګه په کې څارنه ترسره شوې وه، د څارنې د کيفيت په اړه ډېر شکايتونه کېدل؛ په ځانګړې توګه دا چې د پوهنې رياست د کشرانو مامورينو له خوا ترسره شوې وه.

*په دارالمعلمينونو کې د ښوونکو څارنه او نظارت د پوهنې رياست د کشرانو له خوا کيږي چې د ۱۲ يا ۱۴ ټولګي فارغ وي – څنګه دوی د هغو ښوونکو په اړه قضاوت کولای شي چې له پوهنتون څخه فارغ وي؟*
**د دارالمعلمين مشر**

د ښوونکو د روزنې رياست او دارالمعلمينونو ترمنځ د کمزورې همغږۍ اړوند ستونزې هم په ډله ييزو بحثونو کې روښانه شوې: د سندونو په تړاو، د نوم ليکنې بهير ډېر زيات وخت نيسي چې په کابل کې د پوهنې وزارت له خوا نهايي شي.

*"موږ له خپل دارالمعلمين څخه زده کوونکی لرو چې په ۱۳۹۵ کال کې فارغ دي خو تر اوسه يې خپلې ډيپلومې نه دي ترلاسه کړي؛ که څه هم دوی د نوم ليکنې او نورو اړوندو موضوعاتو لپاره ۳۰۰ افغانۍ ورکړې، خو کله چې دوی د پوهنې وارت ته ورغلل، سندونه لا هم د پوهنې وزارت ته د نوم ليکنې او تصديق لپاره رسيدلي نه ول."*
**د دارالمعلمين مشر**

همدا ډول د غيرحاضرو زده کوونکو په اړه هم راپورونه ورکول کېدل چې رشوت ورکوي چې د فراغت سندونه ترلاسه کړي، سره له دې چې حاضر هم نه ول.

*"زه په دې ولايت کې د ځينې ولسواليو په اړه پوهيږم چې زده کوونکي يې د بشپړو دوه کلونو لپاره غير حاضر وي خو بيا هم له دارالمعلمينونو څخه فارغيږي – پرته له دې چې ټولګيو ته حاضر شي."*
**د دارالمعلمين استاد**

## 6.4 د نویو ښوونکو لپاره پراختیایي فرصتونه

د ځارنې او ارزونې کمیټې د دې تحلیل له ډیرو مرکه ورکوونکو واوریدل چې د ښوونکو لپاره موجود مسلکي پراختیایي فرصتونه تر ډیره پورې مقطعي او پاشل شوي وي (او ډیر وخت کیفیت او تراو نه لرونکي وي)، د ښوونکو لپاره ډیر وخت د لاسرسي وړ نه وي، او ډیر وختونه ښوونکو ته د نیپوتیزم پر بنسټ وړاندیز کیږي. د اوس لپاره هیڅ داسي لار نشته چې ډاډ ورکړي چې پراختیایي مسلکي فرصتونه: همغږي دي، د انفرادي ښوونکو او په ټوله کې د ښوونیز سیستم له اړتیاوو سره سم دي، (د تدریس، د ټولګي مدیریت، ارزونه او داسې نورو برخو کې) د ښوونکو د ظرفیت لوړونو د سیستماتیکي تګلارې برخه دي ، ټولو ښوونکو ته په عادلانه او منظمه توګه د لاسرسي وړ او د شغل پرمختګ او لوړو معاشونو لپاره فرصتونو سره تړلي دي؛ چې دا ټولې د ښوونکو د اغیزناک مسلکیتوب سیستمونو سره تړلې نښې نښانې دي. په یاد ولرئ چې د پوهنې وزارت باور لري چې نوموړی سیستم له هغه څخه ډیر غوره دی چې دلته د ځارنې او ارزونې کمیټې د مرکه ورکوونکو له خوا روښانه شوی دی[49].

که څه هم د ښوونکو مسلکیتوب چې پر ښوونکو دا جبري کوي چې باید د لوړو زده کړو درجې ولري کیدای شي د هیواد د راتلونکو هیلو لپاره ګټور کار وي، خو اوس مهال، د ښوونیز سیستم لپاره د اړینو اصلاحاتو رامنځ ته کول خو پر ځای پریږده، د افغانستان د لوړو زده کړو سیستم دومره ظرفیت او کیفیت نه لري چې د ښوونکو لپاره داسې لوړې زده کړې وړاندې کړي چې په معنا لرونکې توګه په ښوونځیو او ټولګیو کې د دوی پر تدریس/زده کړې باندې اغیز ولري. همدا ډول دا چاره د هغې اړتیا ستونزې ته هم ځواب نه وایي چې له موجودو ښوونکو سره کار وکړل شي چې خپل ظرفیتونه لوړ کړي او مرسته ورسره وکړل شي چې لوړې وړتیاوې ترلاسه کړي، پرته له دې چې خپل ټولګي پریږدي.

## 6.5 د کنټرول کمزورتیاوې

د ولایت د پوهنې ریاست او په کابل کې د ښوونکو د روزنې ریاست، دواړو ته د دارالمعلمینونو دوه اړخیزه حساب ورکونه، د هغو کسانو لپاره فرصتونه برابروي چې له کمزورتیاوو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په لټه کې دي.

دارالمعلمینونو ته د دوی د پروګرام په ساحه کې د عرضو، خدمتونو او استهلاک کیدونکو توکو د کلنۍ بودیجې په اړه معلومات نه ورکول کیږي. د یو دارالمعلمین مشر له مفسد سیستم څخه خپله خواشیني څرګنده کړه چې د یو څو مفسدو افرادو اړتیاوې پوره کوي په داسې حال کې چې زده کوونکي کړیږي. نوموړي په مفصله توګه روښانه کړه چې څنګه د روڼتیا نشتوالی او کمزوری کنټرول د اداري فساد خطرونه لوړوي:

> *"نړیوال بانک له ۱۳۹۳ تر ۱۳۹۶ پورې د ظرفیتونو لوړاوي لپاره هر کال ۱۶۰۰۰ امریکایي ډالر تخصیص کړي ول. په ولایتي کچه یوه عمومي ناسته ترسره شوه او ټولو دارالمعلمینونو ته یې امر وکړ چې د خپلو اړتیاوو پر بنسټ یو پروپوزل چمتو کړي. موږ ورته خپلې د اړتیا ساحې په ګوته کړې او ولایت ته مو وسپارلې. په مجموعي ډول نوموړی مبلغ تر ۴۸۰۰۰ امریکایي ډالرو پورې رسیدلو. د ولایت دارالمعلمین، د پوهنې ریاست او د ولایت مقام د اجناسو په بڼه ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ، نه د نقدو په شکل کې، تادیه کړې، او موږ ته یې هغه تجهیزات راکړل چې موږ هیڅ په خپل پروپوزل کې لیست کړي نه ول. په ورته وخت کې، دوی د هر جنس بیه له خپلې اصلي بیې څخه دوه ځله زیاته حساب کړې وه؛ همدا ډول دوی موټرسایکلونه ورکړل چې اصلي بیه یې ۴۸۰۰۰ افغانۍ ده، خو دوی یې بیه ۹۵۰۰۰ افغانۍ لیکلې ده. له دې مبلغ څخه پاتې برخه ټوله د ولایت د لوړپوړو چارواکو جیبونو ته ورسیدله."*
>
> **د دارالمعلمین مشر**

## 6.6 جنډر یا جنسیت

د ښوونکو په زده کړو او تدریس کې، لـه دې حقیقت سره سره چې د پوهنې وزارت د ۴۲ دارالمعلمینونو د زده کوونکو ترمنځ د ښځو شمیر د نارینه وو په پرتله زیات دی، بیا هم د فارغیدونکو جوړو څخه یواځې ۲۵٪ یې کولای شي چې د ښوونکو په توګه دندې ترسره کړي، او پـه دې برخـه کې ښځینه فارغانې پـه ځانګړې توګه لـه تاوان سره مخ دي.

د ښوونکو په توګه دندې ترلاسه کولو لپاره د ښځو پر وړاندې لا هم ډیر خنډونه شتون لري، پـه ځانګړې توګه د هیواد په لرې پرتو او کلیوالي سیمو کې، چې دا چاره د ښځینه ښوونکو د کموالي د ستونزې سبب ګرځیدلي ده.

د اټکل شوو ۲۱۵۰۰۰ افغان ښوونکو ترمنځ د جنسیت اړوند روښانه احصائیه شتون نه لري، خو ثبوتونه ښیي چې په افغانستان کې لـه ۲۰ ٪ څخه کم ښوونکي ښځینه دي. د سیمه ییزې پرتلې لـه مخې، پـه ایران کې ۶۰٪ ښوونکي ښځینه دي. سره له دې چې نړیوال بانک په هغو سیمو کې نجونې ښوونځي او کار کولو تـه لېږ لاسرسی لري د ولایتونو د نجونو د سکالرشیپ پروګرامونو باندې په بیلیونونو ډالر لګوي ، خو د پام وړ خبره ده چې دوی له نومورو ښځینه وو څخه په خپلو ولایتونو کې د ۴۰٪ سکالرشیپ لرونکو لپاره هم د ښوونکو پـه توګه دندې ترلاسه کړي نه دی.

د هیواد په ډیرو برخو کې د ښځینه ښوونکو اوسنی کموالی زده کړو ته د نجونو د لاسرسي فرصتونو کې د پام وړ محدودیت رامنځ ته کوي.

## 7. له نصاب او د ښوونځي له لنډ شوي کال څخه راپورته کيدونکی اداري فساد

ملي نصاب د يو ملت له خوا د هغه څه روښانه کول دي چې دوی يې له خپل ښوونيز سيستم څخه تمه لري او د مضامينو له تش ليست او د زده کيدونکو حقايقو له لړی څخه ډير څه دي. په رسمي نصاب کې يواځي هغه څه نه دي شامل چې تدريس کيږي، بلکې عمده اصول او جوړښتونه په کې شامل وي. په دې کې دا هم شامل دي چې څنګه مضامين تدريس کيږي او په ټولګي کې څه کيږي. د وخت په تيريدو سره، يواځې منځپانګه نه، بلکې د نصاب اراده او موخه هم زده کوونکو ته ليږدول کيږي. د ملي نصاب موخه له دې لارې څخه زده کوونکو ته فرصت برابرول دي چې بشپړ او فعاله سواد لرونکي ښاريان شي چې د خپلې وړتيا تر وروستي بريده پورې په اقتصادي توګه توليدوونکي وي.

په نړيواله کچه، ملي نصابونه د دې لپاره طرحه کيږي چې زده کوونکي وکولای شي چې:

- د حساب او سواد بنسټيز کارول کيدونکي مهارتونه زده کړي؛
- د خپلې ټولني پر ماهيت، په ټولنه کې پر خپل نقش، خپلو حقونو او مسوليتونو باندې پوه شي؛
- د کارموندلو کليدي مهارتونه له ځانه وښيي چې وکولای شي د کاري ځواک برخه شي، د خپلو کورنيو ملاتړ وکړي، او د هيواد په اقتصاد کې فعاله مرسته کوونکی شي.

له دې درې واړو بنسټيزو عناصرو څخه د هر يوه د ترلاسه کولو اړوند، د مرکه ورکوونکو له نظره د افغانستان د پوهنې وزارت نصاب په بشپړه توګه پاتې راغلی دی.

د څارنې او ارزونې کميټې تشخيص کړې ده چې ستونزه په لاندې ډول ده:

- په نصاب کې ډير زيات اضافي مضامين شامل دي[50]؛
- د ښوونځي لنډ شوی کال، د ښوونځي لنډ شوي ساعتونه او د ښوونځي لنډې شوې ورځې دا ستونزه پيچلې کوي؛
- د مضامينو دا زياتوالی د اداري فساد د ډيرو ستونزو سبب ګرځي:
  - ښوونکی نه شي کولای چې بشپړ نصاب تدريس کړي، نو دوی دي چې هغه څه ټاکي چې تدريس کوي يې؛
  - ښوونکي او مديران پوښتني او پايلې خرڅوي چې زده کوونکي له ازموينو څخه بريالي وباسي؛
  - دا چاره له مجبورولو او اداري فساد سره مل ده چې په کانکور ازموينه کې زده کوونکي بريالي کړي.

### 7.1 د نصاب زياتوالی

له ۱ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې نصاب په لاندې اته ساحو باندې ويشل شوی دی:[51]

i) اسلاميات
ii) ژبې
iii) رياضيات
iv) طبيعي علوم
v) ټولنيز علوم
vi) د ژوند مهارتونه
vii) هنر، عملي کار او تخنيکي زده کړې
viii) بدني روزنه

له دې اتو ساحو څخه هره ساحه بيا د ځانګړو ټولګيو لپاره په نورو مضامينو ويشل شوې ده. له ۱ څخه تر ۳ ټولګيو کې زده کوونکي ۸ مضامين؛ له ۴ څخه تر۶ ټولګي ۱۱ مضامين؛ د ۷ څخه تر۱۰ ټولګي ۱۷ مضامين؛ او په ۱۱ او ۱۲ ټولګي کې ۱۶ مضامين لولي.

په شته وخت کې، په فزيکي توګه شوني نه ده چې په هر مضمون کې دې توله تشريح شوې منځپانګه تر پوښښ لاندې ونيول شي، خو بيا هم د مضامينو متخصصين او ځانګړې ډلې د دوی د اغيزې د ساحې محدودولو د ښکاره ويرې له امله په خپل تخصص کې د کمي راوستلو پر وړاندې مقاومت کوي. په دې کې هم، په افغانستان کې د پوهنې د نورو برخو په څير (لکه د ترلاسه کيدونکو زده کړو د کيفيت پر وړاندې د نوم ليکونکو زده کوونکو شمير)، له کيفيت څخه پر کميت اغيز ډير دی.

د نصاب يوه عمومي هر اړخيزه کتنه اوس مهال تر کار لاندې ده، چې مشري يې د پوهنې وزارت په مشرۍ د يونيسکو په ملاتړ سره ترسره کيږي. د عمومي کتنې د پيل د پړاو په دوران کې پراخه عمومي مشورې ترسره کيږي، او د نصاب اصلاح د افغان حکومت لپاره مهم لومړيتوب دی. وړانديز کيږي چې د اصلاح شوي نصاب پر بنسټ نوي کتابونه به په ټولګيو کې د شونتيا تر بريده ژر وکارول شي، کيدای شي له ۲۰۲۰ مخکې.

د نصاب کتنه ښيي چې د پوهنې وزارت د مضامينو د وخت اوسني تخصيص ته د کتنې په اړتيا پوهيږي، او دا چې بايد ورته مضامين يا منځپانګې سره يوځای شي، او همدا ډول د زده کړې د هرې ساحې حجم راکم کړل شي. ډيرو ګډونوالو تبصرې وړکولې چې نوموړې اړتياوې بيرنۍ دي، او د نصاب کتنه ډيره ورو روانه ده، او هغه هم په داسې حال کې چې ځوانان د ښوونځي رسمي زده کړې پريږدي، ځکه چې له ۹ تر ۱۲ ټلونو زده کړې څخه يې هيڅ نه دي ترلاسه کړي چې چاته يې وښيي.

په هر صورت، د څارنې او ارزونې کميټه باور لري چې دا کتنه به د اداري فساد پر ستونزو باندې هيڅ ډول مثبت اغيز ونه لري، مګر دا چې نوموړې عمومي کتنه په داسې ډول رهنمايي شي چې د نصاب منځپانګه کې د پام وړ کموالی راولي. دا د څارنې او ارزونې کميټې صلاحيت نه دی چې د نصاب پر منځپانګه خبرې وکړي، خو موږ باور لرو چې د نصاب عمومي منځپانګه بايد د اوسنۍ اندازې ۵۰ سلنه حجم ولري، ځکه چې د افغانستان د پوهنې سيستم د وخت ډير محدوديتونه لري.

## 7.2 د وخت محدوديتونه

د درندې-منځپانګې لرونکی نصاب بايد په داسې تعليمي کال کې وړاندې کړل شي چې د نړۍ له لنډو تعليمي کلونو له ډلې څخه دی. په ژمي کې لږ تر لږه د ۹۰ ورځو رخصتي لري، د اوړي رخصتي يې هم ۱۵ يا له هغه څخه زياتې ورځې ده، چې کلنۍ او منځنۍ ازموينې يې ۵۲ نورې ورځې په بر کې نيسي. له دې پرته، د تعليمي کال موده، نږدې ۲۰ اونۍ پاتې کيږي، چې په دې موده کې د ښوونځي حاضري تر ډيره پورې په اونۍ کې له ۲۰ ساعتونو څخه کمه وي، يا په ټول تعليمي کال کې ۴۰۰ ساعته وي. پايله يې دا وي چې ډير مضامين په کم وخت کې لوستل کيږي، او موضوعات يې له يو بل سره هيڅ تړاو نه لري.[52]

> *"د سهار له اتو بجو تر لسو بجو زده کوونکي ښوونځي ته پر لاره وي او له لسو بجو تر ۱۲ بجو بيرته له ښوونځي څخه کور ته پر لاره وي."*
> **د ښوونځي د شورا غړی**

ډير کليدي ځواب ويونکي د ښوونځي د تعليمي کال د لنډې مودې په اړه انديښمن ول، او ډير وخت يې د هغو ساعتونو په اړه انديښنه څرګندوله چې زده کوونکي يې په حقيقت سره په ښوونځي کې تيروي. د بيلګې په توګه، د ښوونځي شورا يو غړي خبر ورکړ چې د دوی په ساحه کې د ښوونځي مديريت کمزوری دی او د ښوونځي بشپړ ساعتونه نه تدريس کيږي. همدا ډول خبر ورکړل شوی دی چې ځينې ښوونکي د درس هغه لنډ ساعت نور هم له ۴۵ دقيقو نه ۳۰ دقيقو ته راکموي. دا ستونزه عامه ده، لکه څنګه چې په نورو ولايتونو کې د ګډونوالو له خوا روښانه شوه. په يو ولايت کې زده کوونکو دې کار ته د يوې ستونزې نوم ورکړ او ويل يې چې ځينې ښوونکي خپل تدريس تر ۲۵ يا ۲۰

دقیقو پورې راکموي. د ښوونځي په ساعتونو کې کمول د ښوونځي د څارونکي له خوا د یوې ستونزې په توګه په نښه شو چې نومورې ولایت تر پوښښ لاندې راولي.

د ښوونځي لنډ شوی کال او د ښووني لنډ شوی وخت، د سیمې د تعلیمي سیستمونو په پرتله له نیمايي څخه کم دی. د بیلګې په توګه، په پاکستان کې چې ښوونځي په کال کې د ۳۴ اونیو لپاره پرانیستي وي، د تدریس اونیز وخت ۳۴ ساعته دی (۱۱۵۶ ساعته په تعلیمي کال کې)؛ په ایران کې په کال کې ۳۷ تعلیمي اونۍ، او په اونۍ کې تعلیمي ساعتونه ۲۲،۵ ساعته دي (په تعلیمي کال کې ۸۳۳ ساعته)[53].

## 7.3 لږې لاسته راوړنې او د ازموینو د پانو خرڅول

د ښوونځي حاضري ډېره ټیټه ده – په ښاري سیمو کې تر ټولو ډېره ۵۰ سلنه، او په کلیوالي سیمو کې له ۳۰ سلنه څخه کمه ده. د افغانستان د سواد کچه په نړۍ کې تر ټولو ټیټو کچو څخه ده[54]؛ د جنسیت برابرۍ کې روښانه توپیرونه په ټول هیواد کې ښکاره دي. په افغانستان کې له پنځو ښځو څخه یوازې یوه یې لوستې ده او په کلیوالي سیمو کې د ښځو د سواد کچه له ښاري سیمو څخه درې ځله کمه ده. د ګډون له داسې کم نرخ سره، په افغانستان کې د زده کړې لاسته راوړنې په شدیده توګه کمې دي.

په هیواد کې د سواد اټکل شوې درجه ۳۸ سلنه ده (د یونیسکو د هیواد راپور، ۲۰۱۵[55]) – چې هم له نړیوالې متوسطې کچې چې ۸۴ سلنه ده، او هم د ګاونډیو هیوادونو له کچې چې په پاکستان کې (۵۶ سلنه) او په ایران کې (۸۷ سلنه) ده، ډیره ټیټه ده. د ګډون کچه په اساسي او منځنیو زده کړو کې هم ډیره ټیټه ده. په ۲۰۱۵ کې، په لوړو زده کړو کې د نیدرلینډ نړیوالې پراختیایي ادارې (NUFFIC) خبر ورکړ چې "د زده کوونکو له څلورمې برخې څخه کم زده کوونکي د زده کړې لومړي ۹ کلونه بشپړوي، په داسې حال کې چې له ۱۰ سلنه کم تر ۱۲ ټولګي پورې زده کړې تعقیبوي."[56] په یو هیواد کې چې ۴۱،۸ سلنه نفوس یې له ۱۵ کلونو کم عمره وي[57]، د زده کړو کیفیت، برابري، او لاسرسی د ملي پراختیا بیړنۍ اندیښنې دي.

د ۶ ټولګي د زده کوونکو د زده کړې ارزونې د څېړنې پایلې[58] ښیي چې:

- ۱۰ سلنه زده کوونکي ساده ټکي هم نه شي لوستلای؛
- ۱۴ سلنه زده کوونکي په ریاضیاتو کې د ساده شکلونو نومونه هم نه شي اخیستلای؛
- ۳۱ سلنه زده کوونکي ساده کلمه نه شي لیکلای.

افغانستان تر اوسه پورې د لومړنیو یا منځنیو ښوونځیو لپاره ملي ازموینې یا د ورځنیو کړنو معیاري ازموینې نه لري. دا خالیګاوې د زده کړو د پایلو ارزول ستونزمنوي. هر ښوونځی د ازموینو لپاره خپله طریقه لري، چې په ښکاره توګه معیاري نه دي، او د منځپانګې او کیفیت له پلوه سره پراخه توپیرونه لري.

د ښوونځیو دا ازموینې، د خپل طبیعت له پلوه، د اداري فساد لپاره په ډېره اسانۍ سره زمینه برابروونکې دي. د زده کوونکو د ډله ییزو بحثونو ډیرو ګډونوالو د ښوونځي د ازموینو په طریقه کې د عدالت، پرانیستتیا او شفافیت د نشتوالي په اړه خپلې اندیښنې راپورته کړې. زده کوونکو په پرانیستې او تکراري توګه د ازموینو د پانو او د ځوابونو په اړه خبرې کولې چې له ازموینو وړاندې د خرڅلاو لپاره دلاسرسي وړ وي.

## 7.4 د کانکور ازموینه

کلنۍ ازموینې مهمې دي، ځکه ناکامي په دې معنا ده چې زده کوونکو ته اجازه نه ورکول کیږي چې د ښوونځي راتلونکي ټولګي ته پرمختګ وکړي، او اړ دي چې نومورې ټولګی تکرار کړي – دا یو داسې سیستم دی چې په لوړه توګه مورال غورځوونکی دی او هیڅکله په کلنیو ازموینو کې د دویم ځل لپاره د بریا پایلې نه لري. په کلنیو ازموینو کې په تکراري توګه پاتې کیدل له ښوونځیو څخه په ټیټو ټولګیو کې د وتلو لامل ګرځي چې د پوهنې سیستم له امله ناکام شوي دي. د زده کوونکو یوازینۍ ازموینه چې په ملي کچه معیاري ده د کانکور ازموینه ده، چې له ۱۲ ټولګي وروسته د هغو زده کوونکو له خوا ورکول کیږي چې پوهنتون ته تګ وغواړي یا له دولسم ټولګي وروسته زده کړو بشپړول وغواړي.

د کانکور ازموینه په ملي کچه اداره کېږي او د رسمي ښوونځي د بشپړیدو په پای کي له پنځو میاشتو وروسته ورکول کیږي. د کانکور ازمویني ارزښت دومره زیات دی چي د کانکور چمتووالي لپاره یوه ستره سوداګریزه کړۍ راپورته شوې ده.

د ښوونځي په وروستي کال کي، ورکول شوی نصاب څوک نه ګوري او په ښوونځیو او د خصوصي کورسونو په درسي ساعتونو کي د دي ملي "ګتي یا بیي" ازمویني لپاره له چمتووالي پرته نور هیڅ نه وي. دا چي په عمل کي، د زده کوونکو اکثریت برخه د ۹ ټولګي په پای کي ښوونځی پریږدي، یواځي ۱۰ شاوخوا د هر عمر لرونکي زده کوونکي ښوونځی تر پایه بشپړوي، دا چاره تر ۹ ټولګي پورې د یو هر اړخیز نصاب د چمتو کولو پر ارزښت باندي تاکید نور هم زیاتوي. همدا ډول دا د فرصتونو پر اړتیا باندي تاکید کوي چي د یو مسلکي نصاب له لارې د لاسرسي وړ وي، چي د نوموړو ۱۴ کلنو یا پورته عمر لرونکو زده کوونکو اکثریت وکولای شي چي د یوې دندې ترلاسه کولو لپاره لازم مهارتونه ترلاسه کړي. په ښوونځیو کي د څارني او ارزوني کمیټي له ساحوي کار څخه، داسي ډیر راپورونه ورکول شوي دي چي ښوونکو هڅه کړې ده چي له مخکي څخه د ازموینو پاڼو د خرڅولو لپاره رشوت ترلاسه کړي، یا له خلکو څخه پیسي ترلاسه کړي چي د ازموینو پاڼو ته داسي نمرې ورکړي چي د هغو زده کوونکو او کورنیو په ګټه وي چي پیسي ورکوي.

دا په دې معنا چي د خصوصي درسونو لپاره یو ستر او مخ پر ودې مارکیټ شتون لري، په ځانګړې توګه د کلنیو ملي ازموینو پر مهال، د هغو زده کوونکو لپاره چي خپل ځانونه یې د نوموړي سیستم له لارې تر ۱۲ ټولګي پورې ساتلي دي، چي د کانکور ازمویني لپاره چمتووالی ونیسي. د کانکور چمتووالي لپاره یوه سوداګریزه کړۍ جوړه شوې ده، چي ارزښت ته یې د ښوونځي په وروستي ټول کال کي بل هیڅ ښوونیز کار نه شي رسیدلای. دا پخپله د اداري فساد یو خطر دی، پرته له هغو جعلکاریو او نورو مفسدو چارو څخه چي په ازموینه کي د کیناستلو په دوران کي ترسره کیږي.

## 7.5 پایله- نهایي تیټ کیفیت او اداري فساد

د نصاب د زیاتوالي او د ښوونځي په ورځ کي د تدریس د وخت د کموالي په پام کي نیولو سره، ناشوني ده چي د لاسرسي وړ وخت کي ټوله اړینه منځپانګه تر پوښښ لاندې ونیول شي[59]. دا کار یو لړ مصلحتونو او د اداري فساد ستونزو ته لار هواروي:

- ښوونکي له نصاب څخه هغه څه د نموني په توګه را اخلي چي دوی یې غواړي، او بیا ډاډ ورکوي چي د نوموړي موضوع د منځپانګي ازمویني له هغه څه سره سمون خوري چي دوی یې تدریسوي.
- تر دې شرایطو لاندې، تدریس یواځي سطحي او تر ډیره پورې د کال وروستیو ازموینو باندې د لوړ لومړیتوب په توګه متمرکز وي. دا لوړې ازمویني په مرکزي توګه جبري نه دي، یا اداره کیږي نه، نو ځکه ناشوني ده چي د نصاب پوښښ تائید کړل شي.
- له همدې امله ډیرې هڅي شوې دي چي ډیټا کي جعلکاري وشي او د نصاب د پوښښ په اړه راپور ورکړل شي چي په ورکړل شوي وخت کي یې پوښښ ناشونی دی.
- د ټاکنو پروسي ناسم ماهیت په دې معنا دی چي ازمویني مقطعي او نامنظمي کیدلای شي. له زده کوونکو غوښتنه کیږي چي ناتړلي حقایق په یادو حفظ کړي چي د دوی د معنا یا تړاو لپاره د پوهاوي هیڅ یا لږه ساحه لیدل کیږي.

په اوسنیو شرایطو کي چي نصاب له حده ډیر مضامین تر پوښښ لاندې نیسي، د ازموینو رژیم مفسد دی، او له لیسي هاخوا د پرمختګ لپاره فرصتونه ډیر کم دي، نو اداري فساد لپاره د پوهني سیستم کي ښه زمینه مساعده ده. د ښوونځیو د ادارو ماهیت – چي د ټولنیز کیدلو مهارتونو ته په کي د کم لومړیتوب په سترګه کتل کیږي او د اداري فسادد کوچنی کچي منظم شهود په کي عامه خبره ده – د سبا ورځ ښاریانو تر منځ دا روحیه پیاوړې کوي چي اداري فساد په افغانستان کي د ژوند کولو لپاره لازمي کار دی

# 8. تخنيکي او مسلکي زده کړه او روزنه او سواد زده کړه

موضوعات:

- ***د تخنيکي او مسلکي زده کړو نصاب زوړ دی او د ګمارنې په مارکيټ پورې تړاو نه لري.***
- ***د تخنيکي او مسلکي زده کړو ښوونکي د اداري فساد ځينې ستونزې او د ښوونځيو د ښوونکو په توګه د وړتيا نه لرلو ستونزې لري.***
- ***د نادولتي مؤسسو او نړيوالو نادولتي مؤسسو له خوا د تخنيکي او مسلکي زده کړو وړاندې کول د پوهنې وزارت له پروګرامونو څخه لوړ کيفيت لري.***
- ***د سواد زده کړې پروګرام په بشپړه توګه مفسد او بې اغيزې دی.***

د پوهنې د اغيزناک سيستم له دندو څخه تر ټولو مهمه دنده زده کوونکو ته د هغو مهارتونو وړاندې کول دي چې دوی ورته د دندې اخيستلو لپاره اړتيا لري. د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې ښه تصور شوی او جوړ شوی سيستم دا توان لري چې د کارمونده‌نې هغه مهارتونه ځوانانو ته وړاندې کړي چې دوی ورته اړتيا لري چې د سبا ورځ لپاره کاري ځواک ايجاد کړي. خو په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې دولتي سيستم ته د مرکه ورکوونکو له خوا په داسې سترګه کتل کيدل چې دوی د کاري ځواک د هغې ۴۰ سلنه د اړتياوو ځوابولو لپاره لږ څه کوي چې بې دندې دي يا بيکاره دندې لري.

> *"د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنې سيستم درې شديدې نيمګړتياوې لري: د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنې ډلې د سيستم دننه نه دي؛ نږدې ٪۸۵ ښوونکي يې وړتيا نه لري؛ د سيستم په کچو باندې نه پلې کيدونکې سلوک. پايله: صفر ته نږدې."*
> **د پراختيايي همکار دفتر مشر مامور**

د يوې عملي، ارزښتناکې، هر اړخيزه او معنی لرونکې زده کړې نه لرلو او هغو ځوانانو ته چې ۱۴ کاله يا تر هغه زيات عمر لري د روزنې ورکولو د امکاناتو نه لرلو تر ټولو ستر خطر دا دی چې د دوی بيکاره توب او ناليوالتيا د دولت-ضد ځواکونو له خوا په اسانۍ سره په نښه او ورڅخه ناوړه ګټه اخيستل کيږي – چې دا ځوانان ډير زيانمن کوي چې بې خبره جنګيالي شي. د اوس لپاره، هغه کسان چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنې ادارو ته درومي، ځانونه په داسې مسلکي ښوونځيو کې مومي چې د عملي مهارتونو د لوړولو لپاره په کې لږ يا هيڅ تجهيزات نه وي؛[60] نصاب يې له کلونو راهيسې تازه شوی نه وي، يا دا چې ښوونکي يې د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې د تخصصي سوداګرۍ د اوسنيو کاري کړنو سره لږه اشنايي لري چې په فرضي توګه بايد د دوی ښوونځي ورته نوموړي زده کوونکي چمتو کړي.

د پوهنې وزارت ته په کريډيټ ورکولو سره، نوموړي وزارت په نږدې وختونو کې يو څه ګامونه اخيستي دي چې دا ستونزه حل کړي.[61]

## 8.1 د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنې نصاب

د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې لپاره هيڅ کوم معياري نصاب نشته، بلکې يو شمير مختلف نصابونه دي چې په افغانستان کې د يادو زده کړو د بيلابيلو وړاندې کوونکو له خوا پلې شوي دي – د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې ښوونځيو لپاره خپل نصاب لري، په داسې حال کې چې د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو چارو وزارت د خپلو تخنيکي روزنيزو مرکزونو لپاره د نصاب معيارونو يو جلا سيټ کاروي چې تر ډيره پورې کوچني کورسونه دايروي. خصوصي وړاندې کوونکي، داخلي نادولتي مؤسسې، او نړيوالې نادولتي مؤسسې

کیدای شي له دې دواړو وزارتونو څخه د یو درسي مواد وکاروي، خو دا چاره په یوه بڼه نه ترسره کیږي. تر نږدې وختونو پورې، د مهارتونو پراختیا ملي پروګرام د تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې ادارو کې بشکیل و، چې د شغلي مهارتونو ملي معیارونو پراختیا پروګرام هم په کې شامل و، چې دوی بیا د خپل نصاب پراختیایي کار لپاره بنسټ کیښود. په هر صورت، له دې موادو څخه ګټه اخیستل عام شوي نه دي. اوس مهال یونیسکو له دولت څخه د تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې د نصاب په کتنه کې ملاتړ کوي، خو دا چې دا چاره تر کومه بریده پورې په عمومي زده کړو کې د نصاب له رواني اصلاح سره سمون خوري، لا روښانه نه ده.

*"موږ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنې یو ښوونځي ته ورغللو چې د افغانستان د مهارتونو پراختیا پروګرام له خوا تمویل شوی دی او ومو موندله چې ټول کارکوونکي یې د مدیر خپلوان ول."*
**د یوې نادولتي موسسې مشر مامور**

نړیوال بانک د افغانستان د مهارتونو پراختیا پروګرام په شکل کې د پرله پسې جایزو دوه لړی تمویل کړي دي. د تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې پروګرام کې اکثریت زده کوونکي، له ۱۰،۱۱،۱۲ او د ۱۳ او ۱۴ ټولګي معادل، هغه نصاب تعقیبوي چې په ۲۴۰ تخنیکي او مسلکي ښوونځیو کې کارول کیږي چې مرکه ورکوونکو خبر ورکولو چې ډیر زوړ دی، په سمه توګه نه تدریس کیږي، او نه د زده کوونکو له اړتیاوو سره سمون خوري او نه هم د ملي اقتصاد په درد خوري.

د تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې نصاب د پوهنې وزارت د نصاب په روانه کتنه کې شامل شوی نه دی چې د یونیسکو په ملاتړ ترسره کیږي.

## 8.2 د پراختیایي همکارانو او نادولتي مؤسسو له خوا د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بدیلونه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو روزنې پروګرام په پای کې، زده کوونکو او ګډونوالو موږ ته خبر راکړ چې دوی ډیر لږ عملي مهارتونه لري چې دوی یې کاري ځایونو ته انتقالولای شي. د بیلګې په توګه، هغه زده کوونکي چې د موټر له تخنیک څانګې فارغ شوي ول، د عصري موټرو د کار په اړه چې د ماشین کمپیوټري مدیریت سیستم لري، لږ پوهه لرله. په بدیله توګه، غیررسمي اقتصاد د حقیقي او د لاسرسي وړ کاري فرصتونو د ډیرې سترې برخې استازیتوب کوي، خو بیا هم دا برخه تر ډیره پورې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د روزنې رسمي سیستم کې بشکیل شوی نه ده.

د دې فرصت په درک کولو سره، د جرمني د پراختیایي همکارۍ اداري یا GIZ په وروستیو کې د مسلکي او تخنیکي زده کړو د روزنې یو نوی پروګرام معرفي کړ چې په بشپړه توګه غیررسمي اقتصاد رانغاړي او د دندې پر مهال روزنې (او د پوهنتون نیمه ورخ روزنې) د هغو ځوانانو لپاره وړاندې کوي چې له مخکې څخه په غیررسمي سکتور کې کار کوي. نوموړی پروګرام د استاذ-شاګردۍ دودیز سیستم پر بنسټ جوړ شوی دی چې له نسلونو نسلونو څخه زده کوونکي د "کسبګرو استادانو په څنګ کې" زده کړې کوي.

د افغان نادولتي مؤسسو او نړیوالو نادولتي مؤسسو د پورته کړل شوو ګامونو ترمنځ، د GIZ ابتکار، د صنعتي تړاو او د زده کوونکو د شمیر له لحاظه، د هغو په پرتله چې د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو روزنې سیستم بشپړوي، د عملي زده کړې ښه فرصتونه وړاندې کوي. دا روزنې د عملي پایلو لیږدولو، کارموندنې، یا د مهارتونو لوړولو باندې متمرکزې دي چې د ګټې توان لوړ کړي.

*"استاذ-شاګردي د ۵۰۰ کلونو لپاره پر ځان بسیا وه؛ ډیرې ستونزې، او د کرایې پیداکول، خو بیا هم تر یوې اندازې پورې کار کوي."*
**د پراختیایي همکارۍ اداري مشر مامور**



***د هلکانو ښوونځی، کیشم ولسوالي، بدخشان***

## 8.3 د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنې بدیل وړاندې کوونکي، چې د پوهنې وزارت جواز ورکړی دی

په نږدې کلونو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنې بدیل ماډلونه رامنځ ته شوي چې د پوهنې وزارت له خوا اجازه ورکړل شوې ده چې نوموړی سکتور را ژوندی کړي.

- اټکل کیږي چې په افغانستان کې د ۹۰ سلنه شاوخوا اقتصادي فعالیت په غیر رسمي اقتصاد کې ترسره کیږي.[62] د دې چارې په درک کولو سره، GIZ د استاذ-شاګردۍ ۲ کار زده کړې پلې کړې، چې د جرمني دوه اړخیزې ښارنې سیستم پر بنسټ دي. دا کار زده کوونکي جوګه کوي چې معاش لرونکې دنده ولري، په داسې حال کې چې په ورته وخت کې د یوې مسلکي روزنې پروګرام جوړښت تعقیبوي. په عمل کې، ګډونوال د تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې پروګرام کې د خپلو کاري اونیو په نیمایي وخت کې زده کړه کوي، او د اونۍ په پاتې نیمایي برخه کې په یو اضافي یا تکمیلي مهارت یا سوداګرۍ کې معاش لرونکی کار کوي.
- افغان تخنیکي او مسلکي انسټیټیوټ (ATVI) ته د پوهنې وزارت او امریکایي کمپنیو د ډلې ترمنځ د عامه-خصوصي مشارکت په سترګه کتل کیدل. په ۲۰۱۲ کې افغان تخنیکي او مسلکي انسټیټیوټ په عروج کې و، نوموړې اداري ۱۲۰۰ زده کوونکي لرل. د پراختیایي همکارانو پر مالي مرسته باندې تکیه د ګډونوالو لپاره د کورس فیس تادیه کولو سبب شوه او نوم لیکنه په چټک ډول په ۲۰۱۴ کې راټیټه شوه.
- د فیروزه یې غر انسټیټیوټ (TMI) د استاذ-شاګردۍ په دود کې جوړه شوه، چې د سوداګرۍ، زرګرۍ، کلالۍ، او خطاطۍ له برخو څخه یې زده کوونکي له کسبګرو سره یو ځای کول. زده کوونکي خپل نیم وخت د کسب د زده کوونکو په څیر، او پاتې نیم د پوهنې وزارت د نصاب په تعقیبولو تیروي. د فیروزه یې غر انسټیټیوټ د لایقه زده کوونکو لپاره د سوداګرۍ د چټکې زده کړې پروګرام لري چې له زده کوونکو سره مرسته وکړي چې نوي شرکتونه جوړ کړي، دا چاره د پوهنې وزارت له خوا اداره کیدونکو د تخنیکي او مسلکي زده کړو له انسټیټیوټونو سره توپیر لري چې د مناسبې ودې له مارکیټونو سره اړیکې نه لري.

*"زموږ په پروژو کې زده کوونکي له مهارتونو او وسایلو پرته ډیر څه ته اړتیا لري: دوی ویاړ، عزت او اعتماد ته اړتیا لري. دا کارونه د چارواکو له خوا په نصاب کې نشته. موږ مونډلي ده چې دا شیان زموږ د زده کوونکو د خالیګاوو بل اړخ دی. موږ نه شو کولای چې یواځې تخنیکي مهارتونه تدریس کړو او تمه ولرو چې دوی د دې وړتیا ولري چې له فراغت وروسته سند ترلاسه کړي او د اقتصاد برخه وګرځي..."*
**د یوې نړیوالي نادولتي مؤسسې د روزنې مدیر**

لاندې د اغیزناکې مسلکي روزنې ډېرې نورې بېلګې دي چې هم د ځایي او هم د نړیوالو نادولتي مؤسسو له خوا په بیلابیلو ولایتونو او کابل ښار کې وړاندې شوې دي. د دې ټولو پروګرامونو یوه عامه ځانګړتیا د دوی سملاسي تړاو، د دوی لوړ عملي خاصیت او مارکیټ ته د دوی نږدې کېدل دي چې د پروګرام فارغان د دندې ترلاسه کولو تمه لرلای شي.

د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د ارزونې ټیم له ۴۰ ډوله څخه زیاتو پروګرامونو کې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د وړاندې کولو او ترلاسه کولو تجربه وڅېړله، چې ۱۶ ولایتونه تر پوښښ لاندې نیسي. له پنځو افغان نادولتي مؤسسو او درېو نړیوالو نادولتي مؤسسو څخه کارکوونکو او اداري د یو-پر-یو مرکو له لارې د ارزونې په دې برخه کې همکاري کړې ده. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اته پروګرامونو ګډونوالو په ډله ییزو بحثونو او یو-پر-یو مرکو کې برخه واخیستله. له دې پروژو څخه ډېرې یې د هیواد په لوړ خطر لرونکو سیمو کې ترسره کیږي، نو د دې لپاره چې د ګډونوالو خوندیتوب او امنیت وساتل شي، په دې برخه کې همکارۍ تر ډېره په مستعار ډول دي.

### 1. د مهارت/موضوع ټاکل

دا چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنې پروګرامونو کې باید په کوم مهارت تمرکز وکړل شي، تر ډېره پورې پلي کوونکو ته پرېښودل شوي دي. زده کوونکو ته د وړاندې کیدونکو موضوعاتو پر سر د موافقې میتودونه د مارکیټ سروې له رسمي خېړنو او د اړتیاوو ارزونې څخه نیولې د مزدورانو د مارکیټ ارزونو، د ټولنې د پوهاوي ناستو، له مشرانو سره مشورو، د سهم لرونکو ډله ییزو بحثونو او د اړتیاوو تر غیر رسمي ارزونو پورې رسیږي.

*"زموږ خلک څه ډول مهارتونو ته اړتیا لري؟ دا هغه څه دي چې موږ یې باید وپوښتو. کوم مهارتونه به زده کوونکو ته غوره راتلونکې او تر ټولو ډیر فرصتونه ورکړي چې د خپلې کورنۍ ملاتړ وکړي؟ دا غوښتنې دي. دا باید زموږ تمرکز وي چې کله د روزنې ناستو لپاره پلان جوړوو... زموږ په اداره کې، موږ د ټولنې له اړتیاوو څخه پریکړې کوو، له هغه څه چې موږ یې په دې ځایونو کې له خلکو اورو او وینو."*
**د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرام مدیر چې د یوې سیمه ییزې نادولتي مؤسسې له خوا یې ملاتړ کیږي**

د افغان او نړیوالو نادولتي مؤسسو له مدیریت سره د ترسره شوو مرکو لنډ ټکي:

- ***افغانه نادولتي مؤسسه ۱*** په ۱۰ ولایتونو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنې فعالیتونه پلي کوي. د دوی د مهارت/موضوع ټاکل د پراختیایي همکارانو لومړیتوبونو، د ټولنې پوهاوي ناستې چې معلومات وړاندې کړي او لومړیتوبونه په ګوته کړي، تر هدف لاندې سیمو کې د ځایي مارکیټ د اړتیاوو ارزونې، او د ټولنې د ګټو او لومړیتوبونو ارزولو لپاره د اشتراکي کلیوالي ارزونې لارو چارو ته پاملرنه راغبرګوي.

- ***افغانه نادولتي مؤسسه ۲*** په شپږو ولایتونو کې یې د زیانمنو ډلو لپاره مسلکي روزنې پلې کړې دي. د مهارت/موضوع ټاکلو لپاره د دوی تګلاره په غیررسمي ارزونو، له مشرانو سره مشورو، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت او پوهنې وزارت؛ او پر معلولیت-متمرکزو د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو پروګرامونو کې د عامې روغتیا وزارت څخه پر لارښوونو تکیه وي. همدا ډول نوموړې نادولتي مؤسسه په سیمه ییزو بازارونو کې نیمګړې اړتیاوې ارزوي، او د ټاکل شوو (شارټ لیست شوو) مهارتونو/موضوعاتو دویم ځلي واقع بینانه ازمایښتونه ترسره کوي، ځکه چې د سیمه ییزو چارواکو له خوا د غیرواقعي توقعاتو تجربه د مایوسۍ سبب وګرځیدله. نوموړي ازمایښتونه اومه توکو ته سیمه ییز لاسرسی او د مارکیټ زنځیر اوسنۍ او احتمالي کړۍ په پام کې نیسي.

- ***افغانه نادولتي مؤسسه ۳*** د معلولیت لرونکو، او نورو ټولنیزو او اقتصادي زیانمنو ډلو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو پر پروګرامونو باندې تمرکز کوي. د خپلو روزنو لپاره د مهارتونو/موضوعاتو د ټاکلو په موخه د یوې نسبتي تګلارې له لارې: په سیمه ییز بازار کې د شرایطو غیررسمي ارزونې، د معلولیت لرونکو خلکو له ادارو او د ټولنې د مشرانو سره د مشورو له موندنو سره یوځای جمع کیږي؛ د مشاهدو او بیرته ترلاسه شوو تبصرو ترمنځ اړیکې د دې تضمین کوي چې اړوند مهارتونه/موضوعات ټاکل شوي دي.

- ***افغانه نادولتي مؤسسه ۴*** د کوچنیو او منځنیو کچو شرکتونو پراختیا د ملاتړ لپاره یې زده کړې او تخنیکي روزنې پلې کړې دي. د کورسونو لپاره د مهارتونو/موضوعاتو د ټاکلو تګلاره یې د ولسوالۍ د پراختیایي پلانونو هدفونه د دوی د خپلو ټولنیزو مفتشینو (چې د بازارونو پر سیمه ییزو مشاهدو متمرکز دي)، د ټولنې مشرانو، او د کورسونو د نارینه او ښځینه ځوانو ګټه اخیستونکو څخه اخیستل شوو مشورو سره یوځای کوي.

- ***نړیواله نادولتي مؤسسه ۱*** د دوی د پروګرامونو لپاره د مهارتونو/موضوعاتو د ټاکلو تګلاره په عمومي او خصوصي سکتورونو کې د کار د مارکیټ د کلنیو هر اړخیزو ارزونو پر بنسټ ده، چې ډېر ټینګار یې د خصوصي سکتور پر فرصتونو باندې دی. له ځوانانو هم پوښتنه کیږي، ځکه چې دوی د دې پروګرامونو تر هدف لاندې ګټه اخیستونکي دي. د دې ترڅنګ، نوموړې اداره اوس مهال په منظمه توګه تر هدف لاندې ټولنه کې د موجودو او احتمالي مارکیټ تړاوونو ارزونې ترسره کوي، چې موخه یې د هغو ښځینه ګټه اخیستونکو د بریا فرصتونه لوړول دي چې د مارکیټ زنځیر سرچینو په پراختیا کې لږه یا هیڅ تجربه نه لري.

- ***نړیواله نادولتي مؤسسه*** ۲ مهارتونه/موضوعات د ځایي ټولنو د غیررسمي ارزونو، او د ټولنې د غړو د ځانګړو غوښتنو د ترکیب پر بنسټ ټاکي. نوموړې اداره د ارزښت زنځیر ارزونه ترسره کوي او د پریکړې کولو پر مهال مارکیټ ته لاسرسی تحلیلوي. د دوی د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو پروګرامونو اصلي موخه د مهارت نه لرونکو کارکوونکو په ګوته کول او د دوی مهارتونه لوړول دي؛ دا کار د دې ډاډ ورکوي چې فارغان به د هیلې لرلو پر ځای، د خپلې پخوانۍ تجربې پر بنسټ بریالي اوسي.

- ***نړیواله نادولتي مؤسسه ۳*** د ولسوالۍ په کچه جوړو شوو مارکیټ سروې ګانو ترمنځ تعادل باندې ټینګار کوي، چې د خپلو تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو پروګرامونو دننه لومړیتوبونو په اړه له ځایي ټولنې څخه تبصرې ترلاسه کړي.

**2. د زده کوونکو/ګډونوالو ټاکل**

د مناسبو زده کوونکو په ګوته کولو او ټاکلو پروسه تر ډیره پورې د پلي کوونکو ترمنځ توپیر لري. د ټاکل کیدلو یا ردیدلو تجربه تر ډیره پورې د پلي کوونکو ادارو او پراختیایي همکارانو په هدفونو او موخو پورې تړلې ده، چې د پراختیایي همکارانو له خوا د نوم لیکنې لپاره ځینې زیانمن یا څنګ ته شوي خلک ځانګړي شوي دي.

*"زمونږ ښوونکي د مهارتونو د ازموینو له بشپړولو وروسته د ژوند لپاره د هر زده کوونکي په چمتووالي هم تمرکز کوي؛ زده کوونکي پخپله مونږ ته نه وايي، (زه پر خپل ځان وياړ ته اړتيا لرم. زه خپل عزت غواړم.) خو د څو کلونو لپاره د دې کورسونو لوستلو څخه، زه پوهېږم چې څنګه بايد د غوره بريا ملاتړ وشي. مونږ داسې زده کوونکو ته اړتيا لرو چې مهارتونه غواړي او زمونږ له ملاتړ څخه، په هره لاره ګټه اخيستلای شي."*
**د يوې افغان نادولتي مؤسسې رئيس**

***افغان نادولتي مؤسسې:*** د زده کوونکو د په ګوته کولو او ټاکلو لپاره ستراتيژيو کې له اندراجونو (لکه د کار، ټولنيزو چارو وزارت) څخه له افرادو سره اړيکه نيول، د کلي په کچه له ټولنې سره مشورې، د تيرو خدمتونو يا ملاتړ ترلاسه کوونکو ليستونه، او د کار ګمارنې کمپاينونه شامل دي.

***نړيوالې نادولتي مؤسسې:*** د نړيوالو نادولتي مؤسسو له خوا په تشريح شوو ستراتيژيو کې د اعلانونو نصبول چې ټولنې ته د روزنې د فرصت په اړه خبر ورکړي، په نورو کورسونو کې د مخکينې تړاو پر بنسټ د زده کوونکو ټاکل، او له بهرنۍ ارزونې سره مل د ټولنې د نوماندانو ټاکنه چې د سيالۍ تضمين وکړي، شاملې دي.

### 3. توليدات، پايلې، او د پورته کړل شوو ګامونو د "پاتې کيدونکي قدرت" ارزول

د توليداتو/محصولاتو او پايلو لپاره د مستند کولو کړنې په ټولو افغان او نړيوالو ادارو کې يو ډول وې.

په توليد کې په کورس کې د شاملو زده کوونکو شمير، د مشخصو ډلو يا خلکو لپاره د نوم ليکنې ځانګړي هدفونه، د کورس ډولونه چې هر زده کوونکی يې پيلوي، هغه موده چې هر زده کوونکی يې په کورس کې تيروي (لکه، په حاضرۍ کې د ورځو شمير او سلنه)، او د بشپړولو نرخونه شامل دي.

په پايلو کې يو لړ حساس شاخصونه ښودل شوي دي چې د کورس په پايله کې متوقع بدلون يا په روزنه کې اشتراک (نوي مهارتونه يا زيات شوي مهارتونه)، د مارکيټ تړاوونه چې تاسيس شوي يا زيات شوي وي، نوی يا لوړه شوي سواد زده کړه، د حساب نوي يا لوړ شوي مهارتونه، د دندو پيدا کول، د نوي شرکت ايجادول، د نويو مهارتونو يا لوړو شوو مهارتونو څخه د ګټې اخيستنې په پايله کې د ټولنيز اقتصادي وضعيت ښه والی، او د غړ پورته کولو توانمندي، او د کورنۍ دننه اغيز شامل دي.

- ***افغانه نادولتي مؤسسه ۱*** ډيرې ستراتيژۍ پلې کوي چې بريالی پايلې رامنځ ته کړي، چې په فعاله توګه له خپلو زده کوونکو، سواد زده کړې او حساب زده کړې سره د ځايي او سيمه ييز مارکيټ د تړاوونو جوړول، ليدنې او عملي سفرونه چې د فرصتونو پراختيا پر لارو تفکر وغځوي، د کورس د عناصرو په توګه د سوداګرۍ د پلانونو ماډيولونه، لوحې او سوداګريز کارتونه، او اړين د سافټوير مهارتونه لکه د سوداګرۍ پراختيا، د پيرودونکو پاملرنه، حسابداري او بازارموندنه په کې شامل دي.
- ***افغانه نادولتي مؤسسه ۲*** په خپلو تخنيکي کورسونو کې سواد زده کړې او حساب زده کړې ته ځای ورکوي (که پراختيايي همکار يې غوښتنه کوي يا نه) د دې لپاره چې د دوی اداري هدفونه ترلاسه کړل شي چې د پايلې په توګه د وياړ، عزت او پر ځان باور لوړول دي. نوموړي اداري ټينګار کولو چې دوی د څو دورو په موده کې دې باور ته ورسيدل چې د موضوعاتو د مضامينو کره لړۍ بايد د کورس دوره تحريک کړي؛ په عمومي توګه دا خبره په دې معنی ده چې ټول کورسونه يو مهارت، سواد زده کړه، حساب زده کړه او بيارغونه تر پوښښ لاندې نيسي.

- ***افغانه نادولتي مؤسسه ۳*** د خپلو کورسونو د پايلي په توګه پر ټولنيزي اقتصادي توانمندۍ باندي تمرکز کوي؛ دا چاره د ټولو فارغانو لپاره د مناسبي دندي موندلو په اړه د نوموړي اداري په مرکزي تمرکز کي په حقيقت بدله شوې ده. د مناسبو دندو موندلو ته لاسرسی د اداري د ګمارني هدفونه او د کورس د ټولو ګډونوالو لپاره متوقعه پايلي تحريکوي.

- ***افغانه نادولتي مؤسسه ۴*** په فعاله توګه هڅه کوي چي د کورس پلانولو او د پايلو د هدفونو ټاکلو پر مهال د ولسوالی د پراختيايي پلانونو د لاسته راوړنو ملاتړ وکړي. نوموړي اداره د کورس د اصلي مهارت تر څنګ څو ډوله نوري لارښووني په کي شاملوي چي سواد زده کړه، حساب زده کړه، د دندو موندلو لوړاوی، د کوچنيو او منځنيو سوداګريو او رسمي زده کړو لپاره اړين د سافټوير مهارتونه په کي شامل دي.

***ننګرهاره نادولتي مؤسسه*** ۱ له خوا د سملاسي برياليو پايلو د تشخيصولو لپاره شرايط روښانه کوي، چي هغو فارغانو ته د "کڅوړو" د ويش محدول پکي راځي چي د پلان شوو درسونو ۹۰-۹۵ سلنه يي بشپړه کړي وي، او له بل پلوه، د خپل دکان له ايجادولو سره، په يو ثابت دکان کي د دندي پيداکولو اوږدمهاله پايلي ، په کي شاملي دي. همدا ډول نوموړي اداري د منځنی-تر-اوږدي مودي کچي پورې د فارغانو د وضعيت ارزوني ستونزې هم بيان کړي چي د اغيز ارزولو لپاره ترسره کيږي.

***ننګرهاره نادولتي مؤسسه ۲*** د خپلو کورسونو لپاره د پايلو عادي اندازو باندي تکيه کوي، خو په کورنی کي د "غږ" او/يا اغيزي پراختيا ارزونه هم په کي شاملوي، نه يواځي دا چي پر هغو ګټو حساب وکړي چي د دوی په کورسونو کي د نوو يا زياتو شوو مهارتونو پورې تړاو لري.

- ***ننګرهاره نادولتي مؤسسه ۳*** د نورو افغان او ننګرهارو نادولتي مؤسسو په څير د توليد او پايلو اندازه کول لري، چي په موجوده سوداګرۍ کي د دندي ترلاسه کول، د نوي سوداګرۍ پيلول، لوړ شوی اقتصادي وضعيت، او په کورنۍ کي لوړه توانمندي په کي شامل دي. نوموړي اداري د "ځانګړو پايلو لپاره د حساسو شاخصونو" په اړتيا ټينګار وکړ.

## 8.4 د سواد زده کړي پروګرام

> *"ښکاره خبره ده چي د سواد زده کړي ٪۵۰ پروګرامونه خيالي پروګرامونه دي."*
> **د پوهني رياست مشر مامور**

د سواد زده کړي پروګرام يو ابتکار دی چي د سواد کمزوري زده کړي ته، د ټاکلي مودي لنډمهالو کورسونو له لاري د ټولني په کچه په ټولو ولايتونو کي، ځواب ووايي. نوموړی پروګرام بايد د پروګرام په پيل کي، د پلي کيدلو پر مهال او د پروګرام په پای کي وڅارل شي. په همدي حال کي، د پروګرام مامورين خبر ورکوي چي دوی د څارني لپاره بوديجه ډيره ناوخته ترلاسه کړه او ونه توانيدل چي د ټولني په کچه د پروګرام وړاندي کيدلو ډيره برخه وڅاري.

د مرکه ورکوونکو له خوا پراخه تبصرو کي ويل کيدل چي ډير وخت نوموړي پروګرامونه په ولايتونو کي موجود نه ول. د سواد زده کړي معينيت کي مامورينو پخپله د پروګرامونو په پلي کولو او د پوهني وزارت او د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت ترمنځ همغږۍ کي د پراخه ننګونو تصديق کولو. کمزوري څارني په ډيرو ځايونو کي د ستونزو سبب ګرځيدلي دي، چي ناسم پلي کول، د هر ډول پلي کولو د نشتوالي پټولو په اړه ټګي، نامناسب او غولوونکي ګډونوال، او د پروګرام بې شميره خيالي ساحي په کي شامل دي.

# 9. د زده کړې لپاره کتابونه او سرچينې

"د امريکا د متحده ايالتونو د نړيوالي پراختيايي اداري
پرته ټولو پراختيايي همکارانو د اداري فساد د ستونزو او
ليدلورو له امله د کتابونو له تدارکاتو څخه لاس
واخيست."
**د متحده ايالتونو د نړيوالي پراختيايي اداري لوړپوړی چارواکی**



*د نجونو عالي ليسه، فارياب ولايت*

## 9.1 کتابونه

د پوهنې وزارت په بشپړه توګه په پراختيايي همکارانو تکيه دی چې په ټول افغانستان کې ښوونځيو ته کتابونه چاپ او وليږي. له ۲۰۰۲ کال راهيسې، د امريکا د متحده ايالتونو نړيوالي پراختيايي اداري په افغانستان کې د زده کوونکو لپاره د لومړنيو او منځنيو ټولګيو د ۱۳۰ ميليونه کتابونو د چاپولو او ويشلو مرسته کړې ده؛ مساوي شمير کتابونه د ډنمارک نړيوالي پراختيايي اداري له خوا هم وړاندې شوي دي. دا چې د نصاب برخې د ډيرو کتنو څخه تيرې شوي دي، هره کتنه او اصلاح د نوو کتابونو د ځانګړتياوو غوښتنه کوي.

په ۲۰۰۹ کال کې، د پوهنې وزارت د عمومي او اسلامي زده کړو لپاره يو اصلاح شوی نصاب پيل کړ چې د ۱ څخه تر ۹ ټولګي لپاره د ښوونکو لارښود هم په کې شامل ول. د نوموړي چوکاټ پر بنسټ، د بنسټيزو زده کړو لپاره نوي کتابونه د امريکا د متحده ايالتونو نړيوالي پراختيايي اداري او نورو پراختيايي همکارانو لکه ډنمارک او نړيوال بانک په ملاتړ چاپ او وويشل شول. د امريکا د متحده ايالتونو نړيوالي پراختيايي اداري د بنسټيزو تعليمي زده کړو او روزني پروژې لاندې چاپ شوي کتابونه داسې طرحه شوي ول چې وروستني اصلاحات په کې راغبرګ شي. په پخواني نصاب کې له اصلاحاتو سره سره، د پوهنې دريم ملي ستراتيژيک پلان د ۲۰۱۴ مسودې له يونيسکو څخه مهمې تبصرې را اخيستې وې چې دا تبصره هم په کې شامله وه "په کتابونو کې د منځپانګې اړوند او ليکنيزې تيروتنې شته؛ د نوي نصاب د تدريس چمتووالي لپاره ښوونکو ته اړينه مسلکي روزنه نه ده ورکول شوې؛ ډير کتابونه د ولسوالۍ د پوهنې مديريت ګودامونو کې پراته دي او د بوديجې د نشتوالي له امله ښوونځيو ته ويشل شوي نه دي. د کتابونو ويشل ډير ننګوونکي ثابت شول. د کافي کتابونو له چاپ سره سره، ډيرو زده کوونکو ته کتابونه رسيدلي نه دي يا يې له مارکيټ څخه د کتابونو نقلونه اخيستي دي."[63]

د زده کوونکو ميندو او پلرونو تبصره کوله چې دولتي کتابونه د پوهنې رياست د چارواکو، ښوونکو او زده کوونکو له خوا پلورل کيږي. د ښوونځي يوې شورا يادونه وکړه چې د پوهنې وزارت هغو ښوونځيو ته د نورو په پرتله ډير کتابونه ليږي چې ښې اړيکې او مناسبت ورسره ولري.

*"... ډیر ماشومان شته چې ښوونځي ته په منظمه توګه نه راځي یا ډیر پابند نه دي، اصلي لامل یې د کتابونو نشتوالی او د ښوونځي د زده کړو د سرچینو نشتوالی دی. هغه زده کوونکي چې کورنۍ یې بیوزلې وي، نه شي کولای چې له مارکیټ څخه د کتابونو اخیستلو لپاره له ۵۰۰ تر ۸۰۰ افغانۍ ورکړي."*

**د میندو او پلرونو د ډله ییز بحث ګډونوال**

یو ښکاره واقعیت چې په دوامداره توګه ورسره د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د ارزونې څیړونکي په ساحه کې مخ کیدل، په ټولګیو کې د درسي کتابونو نشتوالی و. په ټوله کې د لږو کتابونو مشاهده کول عادي خبره وه، او هغه کتابونه چې هلته ول، ډیر یې د ټیټ کیفیت لرونکي، زاړه او شلیدلي، یا د زړو اصلي کتابونو کمزوري تولید شوي نقلونه ول. له همدې امله، په دې کې ډیر کتابونه د نصاب تعدیلات نه رانغاړي او ډیر وختونه د څو مضامینو لپاره یو کتاب ولیدل شو چې د څو زده کوونکو ترمنځ شریکیدلو.

دې مشاهدې ته د پوهنې وزارت ځواب "کتابونه د ښوونځیو په ګودامونو کې دي او د (ښوونځي د معتمد) له خوا ثبت شوي او یواځې زده کوونکو ته ویشل کیږي، ښوونکو ته نه. له همدې امله ناشوني ده چې ښوونکي دې کتابونه وپلوري" د ډیرو مرکه ورکوونکو په تبصرو کې تایید شوی نه دی.




***د کتابونو نشتوالی (او له مارکیټ څخه د اخیستل شوو فوتوکاپي کتابونو کارول) د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د ارزونې ټیم له خوا د هیواد په ټولو برخو کې لیدل شوي دي.***

*"... سږ کال، ما له ښوونځي څخه یواځې ۵ کتابونه ترلاسه کړي دي او نور باید له مارکیټ څخه واخلم."*

**د ۹ ټولګي زده کوونکی**

معمولاً هغه کتابونه چې زده کوونکي یې له ښوونځي څخه ترلاسه کوي زاړه تور او سپین کتابونه وي، په داسې حال کې چې د ښه کیفیت لرونکي، نوي، او رنګه کتابونه په ځایي بازار کې د لاسرسي وړ وي. په ځینې ښوونځیو یا ځایونو کې چې زده کوونکي د ښوونځي له ښوونکو یا مدیر سره اړیکي ولري، د کتابونو بشپړ سیټ ترلاسه کوي – په داسې حال کې چې په همغو ټولګیو کې نور زده کوونکي باید کتابونه له وپیري.

*"زه داډه یم چې د پوهنې وزارت د کتابونو د ویش پروسه کې اداري فساد او فیورتیزم شتون لري، ځکه زه نور ښوونځي ګورم چې د ښار په بله څنډه کې موقعیت لري ډیر کتابونه ترلاسه کوي، په داسې حال کې چې زموږ په خوا کې، هیڅ ښوونځي نوموړي کتابونه ترلاسه کړي نه دي، او هر کال همدا حال وي. "*

**ښوونکی**

په ښارونو کې، معمولاً ټول کتابونه په مارکیټ کې د لاسرسي وړ وي، خو په کلیو او لرې پرتو سیمو کې، ځینې کتابونه د لاسرسي وړ نه وي، نو ځکه زده کوونکي د ښوونځي له اداري غوښتنه کوي چې دوی ته کتابونه وړاندې کړي، خو هیڅ مثبته پایله نه لري.

*"سږ کال موږ د ښوونځي اداري ته ۱۰۰۰ افغانۍ ورکړې چې د ولایت له مرکز څخه موږ ته کتابونه راوړي چې دا چاره له شک پرته اداري فساد رامنځ ته کولای شي. خو له بل پلوه، ډیری کورنۍ چې په لرې پرتو سیمو کې اوسیږي ډیر ماشومان لري چې اقتصادي وضعیت یې کمزوری وي، نو ځکه ډیری کورنۍ نه شي کولای چې د خپلو ماشومانو لپاره د کتابونو اخیستلو لګښتونه وګالي او دوی مجبور دي چې کال له کتابونو پرته تیر کړي چې له شک پرته د دوی د زده کړو پر کیفیت باندې او په زده کړو کې ددوی پر لیوالتیا باندې اغیز کوي."*

**د ۱۲ ټولګي زده کوونکی**

په نړدې وختونو کې د وزارت په کچه د کتابونو د تدارکاتو اړوند ډیرې ستونزې وې. د بیلګې په توګه، یو افغان خپرندویه شرکت د ۲۰۰۴ او ۲۰۱۰ ترمنځ د کتابونو تدارکاتو له ۶ څخه ۵ داوطلبۍ وګټلې، سره له دې چې د قرارداد په ملکفیتونو کې پاتې راغلی دی چې په هیواد کې دننه کتابونه چاپ کړي.[64] پراختیایي همکارانو چې د کتابونو تدارکاتو کې ښکیل دي - د امریکا د متحده ایالتونو نړیواله پراختیایي اداره او ډنمارک- داسې ګامونه پلي کړي دي چې د تدارکاتو کړنلارې لوړې کړي او په لوړه کچه د اداري فساد کړنې راکمې کړي، خو ډیرې ستونزې د عرضې کرښې په ښکته خوا کې راپورته شوې دي.

هغه کتابونه چې کابل ته لیږدول کیږي په اغیزناکه توګه د ولایت او بیا د ولسوالیو ګودامونو او بیا ښوونځیو ته نه ویشل کیږي. ډیرو کلیدي ځواب ویونکو وویل چې د دې ویش لپاره هیڅ داسې بودیجه شتون نه لري چې د ښوونځي مدیران اړ کیږي چې د ویش له ځایه خپلو ښوونځیو ته یې د کتابونو د لیږلو لپاره ترلاسه کړي. د رسولو په زنځیر کې دا وروستۍ کړۍ په اسانۍ سره د اداري فساد وړ ده ځکه چې دا په بشپړه توګه د ښوونځیو د مدیرانو پر ګټورتیا او ریښتینولۍ باندې تکیه ده. زده کوونکو ته د کتابونو رسولو لپاره یو کامیاب او له ګټې ډک مارکیټ شتون لري، او هغه کورنۍ چې کولای شي په مارکیټ کې کتابونه واخلي پر هغو کورنیو باندې برترې ترلاسه کوي چې بیوزله او لرې پرتې وي او کمزورې سرچینې او محدود لاسرسی لري.

د اقلیتونو په ژبه کې د کتابونو کموالی شتون لري، د بیلګې په توګه، په یو ولایت کې چې ډیر خلک یې په ازبکې خبرې کوي، په ازبکي کې ډیر کم کتابونه د لاسرسي وړ دي. د یو ښوونځي شورا وویل چې دوی د ازبکي ژبې کتابونو ته اړتیا لرله خو یواځې یو کتاب د دوی د ټولنې ښوونځي کې په ازبکي ژبه شتون درلود چې له ۶ څخه تر ۱۲ ټولګي ټولو زده کوونکو ته تدریس شي.

د ځیني ولایتونو اړوند د تبعیض قضیو په اړه هم خبر ورکول شوی دی چې هیڅ کتابونه ورته نه رسیږي. یو ولایت چې په مرکزي برخه کې پروت دی خبر ورکړ چې دوی له تیرو پنځو کلونو راهیسې هیڅ کتاب ترلاسه کړی نه دی، خو بیا هم، په کابل کې د وزارت په وینا، نوموړي ولایت ته په منظمه توګه کتابونه ویشل شوي دي.

## 9.2 د زده کړې وسایل او سرچینې

د زده کړې لپاره کتابونو او سرچینو ته د لاسرسي نابرابري ولایتي، نژادي او قبیلوي تقسیمات چټکوي او د ډلو ترمنځ اختلافاتو ته لمن وهي.[65] د موادو لیږلو او قراردادیانو ګمارلو اړوند چارو کې اداري فساد عامه خبره ده. ځینې وختونه، د نادولتي موسسو او پراختیایي همکارانو له خوا تمویل شوي تعلیمي پروګرامونه د تجهیزاتو ژمني کوي، خو وروسته مومي چې له کمي څارنې سره چاپیریال کې د تجهیزاتو لیږدول د اداري فساد اړوند د پام وړ خطرونه لري. لکه دلته چې یادونه شوې ده:[66]

*"د امریکا د متحده ایالتونو نړیوالې پراختیایي ادارې تاکید کولو چې موږ باید ښوونځیو ته د معلوماتي ټکنالوژۍ وسایل – د فوټوکاپي ماشینونه، کمپیوټرونه، پرنټرونه او داسې نور شیان ورکړو... موږ یو بهرنی څارونکی ولیږلو، چې پروګرام پورې یې اړه نه لرله، چې ځینې ښوونځي وګوري، چې داډ ورکړي چې موږ د هغه څه پیسې ورکړي دي چې هلته شتون لري... د اجناسو د رسید یادښت شتون درلود چې د ښوونځي مدیر/آمر لاسلیک کړی و چې ویل یې نوموړي وسایل یې ترلاسه کړي دي، خو هیڅ شی هم موجود نه و. دا کار په څو نورو ښوونځیو کې هم ترسره شوی دی، یواځې یو ښوونځی نه، بلکې ۸ یا ۹ ښوونځیو کې.*

*موږ له موټر چلوونکي سره اړیکه ونیوله، (هو، هو، ما هغه توکي ولیږدول...) نوموړي دوه ورځې وروسته بیرته زنګ وواهه، او ویې ویل (ګوره، د روژې میاشت ده، موږ باید رښتیا ووایو... او دا زموږ لپاره هغه وخت دی چې باید رښتیني واوسو، ښه، ما هغه توکي هیڅ لیږدولي نه دي. دوی ماته پیسې راکړې چې تا ته ووایم چې ما نوموړي توکي ولیږدول، خو ما ونه لیږدول). ښه، ښه، نو بیا موږ مدیر ته وویل، (نو ولې دې د اجناسو د رسید پاڼه لاسلیک کړه چې تاته اجناس در رسیدلي هم نه ول؟) (اوه، دوی ماته پیسې راکړې چې په دې اجناسو لاسلیک وکړم. دوی ماته پیسې راکړې چې په دې فورمه لاسلیک وکړم) دا چې اوس نوموړي اجناس چیرته دي، زه خبر نه یم.*

*ایا مدیر نوموړي اجناس ترلاسه او بیا یې خرڅ کړل؟ ایا هغه خپلې کورنۍ ته یوړل؟ ایا دکاندار پر بل چا خرڅ کړل؟ هیڅوک نه پوهیږي چې نوموړي وسایل چیرته دي، خو په ښوونځیو کې نشته او موږ یې پیسې ورکړې دي. د خندا وړ خبره ده... چې د یو [ولایت په منځ کې] یو چاته نوی فوټوکاپي ماشین له رنګه کارتریجونو سره ورکړو. څوک به یې کاروي؟ ایا دوی کافي بریښنا لري؟ تاسو پوهیږئ، دوی یو کاغذ ونښلوي یا کارتریج ختم کړي، بس دا یې اخري خاتمه ده."*

### 9.2.1 د ساینس لابراتوارونه

د څارنې او ارزونې کمیټې د ټیم د مشاهداتو او د ښوونځیو د ټولنو د مرکو پر بنسټ، د ساینس زده کړې د ملاتړ لپاره هیلې تر اوسه پورې له شته سرچینو څخه ډیرې دي. په ډیرو ښوونځیو کې د ساینس لابراتوارونه تش په نوم دي ځکه چې د ساینس مرکزونه اړین وسایل او تجهیزات نه لري. دا ستونزه په کابل او همدا ډول لرې پرتو ولایتونو کې مشاهده شوې او خبر یې ورکول شوی دی.

ډیر وختونه د ساینس تدریسي مواد په لابراتوار کې موجود نه ول او په هغو لږو ښوونځیو کې چې یو څه مصرف کیدونکي سرچینې یې لرلې، نوموړي مواد د خوندي کارونې له نیتې څخه اوښتي ول. د ساینس ښوونکو تصدیق کړه چې دوی تجربې نه شي ترسره کولای ځکه چې دوی د دې دندې لپاره اړین مهارتونه او تخنیکي پوهه نه لري. په پایله کې، حتی په هغو ځایونو کې چې د ښوونځي لابراتوارونه هم شته، زده کوونکي ډیر کم فرصت ترلاسه کوي چې ورڅخه کار واخلي او په عملي کار کې ښکیل شي.
د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم له یو دارالمعلمین څخه لیدنه ترسره کړه او د پراختیایي همکار په همکارۍ جوړ شوی لابراتوار یې ولید چې شپږ لابراتوارونه یې لرل- د بیولوژي، کیمیا او فزیک هر یو لپاره دوه دوه لابراتوارونه. نوموړی لابراتوار د ساینسي تجربوي کارونو تر یوې کچې پورې مجهز و چې د فعالیتونو لپاره تاسیس شوی و، او د

نصاب له هغې منځپانګې څخه پورته و چې د دارالمعلمین زده کوونکي یې لپاره روزنه ترلاسه کوي (تر ۹ ټولګي). د دارالمعلمین هیڅ کارکوونکی پخپله په ساینس کې روزل شوی نه و او دوی تصدیق کړه چې دوی اړ ول چې د یوټیوب ویډیوګانې وګوري چې یو نظر ترلاسه کړي چې څنګه نوموړي مواد تدریس کړي. په دې حالت کې، د ساینس نصاب د وړاندې کولو د هیلو، د زده کړې مناسبو سرچینو، او سیمه ییزو شرایطو ترمنځ ښکاره فاصله موجوده وه.

### 9.2.2 د کمپیوټر ټولګي

د ۱۳۸ ښوونځیو څخه چې د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني د دې ارزونې لپاره کتنه شوې، ډېرو کمو یې د کمپیوټر ټولګي لرلي؛ په هغو لږو کې هم نوموړي ټولګي کولپ شوي او د زده کوونکو له خوا نه کارول کېدلي. کله چې پوښتنه وشوه، یو مدیر د کمپیوټر د وړ ښوونکي نشتون د دلیل په توګه یاد کړ چې ولې د کمپیوټر ټولګه همداسې بیکاره پاتې وه. په هر صورت، د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم داسې ښوونځي وموندل چې د ریاضیاتو یا ساینس ښوونکي په کې حاضر ول او په ښکاره توګه یې د کمپیوټر ټولګیو د تدریس وړتیا لرله، خو دوی ته دا مهال ویش نه و ورکړل شوی. د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم د ښوونځیو راپورونه واوریدل چې اداري پخپله کمپیوټرونه کارول، د کمپیوټر ټولګي یوازې د ښوونکو لپاره پرانیستلي شوي، یا دا چې ښوونځي د اعتبار وړ بریښنا نه لري چې د وسایلو د کارولو اجازه ورکړي.

د ډېټا غونډولو پر مهال، د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم د هغو ولایتونو په اړه زده کړل چې کمپیوټر ساینس په کې د نصاب منل شوی جز دی، خو په سیمه ییزو ښوونځیو کې د کمپیوټر ټولګي نشته. په کابل کې د پوهنې وزارت کې د یوې مرکې د ځواب ویونکي په وینا، د EQUIP پروژې لاندې شاوخوا ۷۰۰۰ کمپیوټرونه واخیستل شول، خو هغو ځایونو ته وویشل شول چې د کمپیوټر ښوونکي، د کمپیوټر ټولګي، او/یا بریښنا نه لري. هغه وویل چې په شخصي توګه یې په یوه ولسوالۍ کې یو ښوونځی لیدلی چې کمپیوټرونه په کې په یوه ګرد وهلې کوټه کې ایښي ول او هیڅ کارول شوي نه ول.

> *"... یو ځل موږ یو زیات شمیر څوکۍ ولیدلې چې زموږ ښوونځي ته راوړل شوې، د یو څه وخت لپاره تر خیمې لاندې وې خو موږ یې ویش ونه لید او ناڅاپه ترې تم شوې."*
> **د یوې لرې پرتې ولسوالۍ ښوونکی**

### 9.3 فرنیچر

اکثریت ښوونځي، هم په سترو ښارونو او هم په لرې پرتو سیمو کې، په دوامداره توګه په ټولګیو کې د څوکیو او میزونو د نشتوالي له ستونزې سره مخ دي. د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم دوه-نفري څوکۍ ولیدلې چې د فرنیچر د کموالي له امله پرې څلور زده کوونکي کیناستل، او په بل ځای کې زده کوونکي ولیدل شول چې پر ځمکه ناست ول.

په اصل کې، د فرنیچر بیارغونه باید پخپله د وزارت له خوا پر غاړه واخیستل شي، ځکه چې انفرادي ښوونځي دومره اضافي بودیجه نه لري چې د بیارغونې لپاره یې ځایي کسبګر او مزدوران ونیسي. په پایله کې، په ځینې ځایونو کې د ښوونځي مدیریت له زده کوونکو څخه د څوکیو او میزونو د رغولو لپاره پیسې ټولوي، خو هیڅ څارنه یې نه کیږي چې نوموړې پیسې څنګه لګول کیږي، او داسې خبر ورکول شوی چې په ډېرو حالتونو کې هیڅ رغونه ترسره شوې نه ده. د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم د کلیو له ادرسه دا هم واوریدل چې د ښوونځي اداري د ښوونځي د څوکیو او میزونو له اسانتیاوو څخه د خپلو شخصي او کورنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره کار اخلي.



***د نجونو عالي ليسه، جاغوري، غزني ولايت***

# 10. بديل ښوونځي – د ټولنې پر بنسټ زده کړې او خصوصي ښوونځي

*"ډېر پراختيايي همکاران د ټولنې پر بنسټ زده کړو پلويان دي، خو پايلې يې ډېرې متغيرې او ځينې وختونه موږ نه پوهيږو چې څه روان دي ځکه چې نوموړي پروګرامونه د نادولتي موسسو له خوا په غيربوديجوي توګه پرمخ وړل کيږي. داسې خطر شته دی چې دوی د پوهنې وزارت سره موازي يو بل سيستم جوړ کړي."*
**د پوهنې وزارت لوړپوړی چارواکی**

## 10.1 د ټولنې پر بنسټ زده کړه

د ټولنې پر بنسټ زده کړه (CBA) يوه عمومي اصطلاح ده چې د زده کړې ټول ډولونه په کې شامليږي لکه لومړنۍ زده کړې، منځنې ښوونځي (له ۱ څخه تر ۹ ټولګي)، د هغو نجونو/ميرمنو لپاره د روزنې ټولګي چې له منځنې ښوونځي، او د کوچيانو له ټولګيو څخه وتلې دي.[67] د ټولنې پر بنسټ زده کړې اوس مهال د ۶۸۰۰۰ ماشومانو (۶۲ سلنه نجونو) لپاره د زده کړې خدمتونه وړاندې کوي، که څه هم دا شميره کيدای شي لوړه وي.[68] په دې کې معلوليت لرونکي ماشومان هم شامل دي، چې د ۲۵۰۰۰ شاوخوا ښوونکو له خوا ورته درس ورکول کيږي.[69] د کلي پر بنسټ ښوونځيو کې، زده کوونکو ته رسمي ملي نصاب تدريس کيږي. نوموړي ښوونځي د دې لپاره طرحه شوي دي چې د هغو زده کوونکو لپاره خدمتونه وړاندې کړي چې د پوهنې وزارت له نږدې ښوونځي څخه کم له کمه درې کيلومتره لرې اوسيږي؛ زده کوونکي لږ تر لږه په اونۍ کې شپږ ورځې (له جمعې پرته)، د ورځې ۲،۵ ساعته درس وايي.

*"دا ښوونځی زموږ د خلکو لپاره ډېر اړين دی ځکه چې په عامه ښوونځيو کې ښځينه تعليم لرونکې ښوونکې نشته او همدا ډول زموږ له کلي څخه ښوونځی ډېر لرې دی چې زموږ د ماشومانو لپاره ښوونځي ته تګ ستونزمن دی"*
**د کليوالي لومړني ښوونځي سرښوونکی**

### 10.1.1 د ښوونځي مديريت – نادولتي موسسې او ځايي ټولنې

د ټولنې پر بنسټ زده کړو مرکزونه تر ډېره پورې د داخلي نادولتي مؤسسو او نړيوالو نادولتي مؤسسو له خوا په کليوالي او لرې پرتو جغرافيوي سيمو کې حمايه کيږي چې هلته عامه ښوونځيو ته لاسرسی ستونزمن وي، په

ځانګړې توګه د تنکيو ماشومانو او نجونو لپاره. د څارنې او نظارت مسوليت يې د ولسوالی د پوهنې مديريت او د پلي کوونکو ادارو د څارونکو په غاړه دی.

د څارنې او ارزونې کميټې د ټيمونو د مرکو، ډله ييزو بحثونو، او مشاهدو پر اساس، د ټولنې پر بنسټ زده کړو مرکزونو ته د هغو ټولنو له خوا درناوی او ارزښت ورکول کيږي، چې نوموړي مرکزونه په کې شتون لري. دا چې نوموړي مرکزونه هغو کورنيو ته نږدې دي چې خدمت ورته کوي، نو د مالکيت احساس يې د پوهنې وزارت د لري پرتو ښوونځيو پـه پرتلـه زيات دی. د دې مرکزونو فعاليتونه او مديريت اغيزناک ښودل شوی دی. د دې ترڅنګ، ميندې او پلرونه کولای شي چې د ساحې د نږدېوالي له امله، د ټولنې پر بنسټ زده کړو له ټولګيو څخه ليدنه او څارنه وکړي.

## 10.1.2 د زده کړې چاپيريال

*"زموږ د ښوونځې مديره په منظمه توګه ټولګې او د ښوونځې چاپيريال څارې. نوموړې له ښوونکو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو سره منظمې ناستې لري. موږ يوه فعاله شورا لرو او ميندې او پلرونه په منظمه توګه د ټولنې پر بنسټ زده کړو څخه ليدنه ترسره کوي."*
**د ټولنې پر بنسټ زده کړې منځنې ښوونځې کې ښوونکې**

د اداري فساد پر وړاندې د زيان منني د ارزونې ټيم داسې ښوونکي وليدل چې هڅول شوي ښکاريدل او د زده کړې-محوره تدريس ميتودونو څخه يې کار اخيستلو چې زده کوونکي ښکيل کړي، چې ډله ييز کارونه هم په کې شامل ول.

خبر ورکول شوی دی چې د ټولنې پر بنسټ ټولګې هم د تمويلوونکو داخلي/نړيوالو نادولتي مؤسسو او هم د کليو شوراګانو له خوا منظمې څارنې تجربه کوي. د هغو مشاهدو پر بنسټ چې د څارنې او ارزونې د کميټې ټيم له خوا ترسره شوي، د ټولنې پر بنسټ زده کړو کې د غيرحاضرۍ کچه د عامو ښوونځيو په پرتله ډيره ټيټه وه. د دې ترڅنګ، ټولګې يې ډير پاک سوتره او زده کوونکي يې ډير با دسپلينه ښکاره کيدل.

*"... د ټولنې پر بنسټ زده کړو ټولګې د کلي د شورا له خوا څارل کيږي، په ځانګړې توګه د ماشومانو د غيرحاضرۍ له لحاظه، او موږ کافې کتابونه،قرطاسيه او د زده کړې نورې سرچينې لرو."*
**د ټولنې پر بنسټ ښوونځې ښوونکې**

*"... د ماشومانو حاضري ښه ده ځکه چې ښوونځی د کلي په زړه کې پروت دی او زه نوموړی ټولګی وخت پر وخت ګورم؛ له بل پلوه ماشومان د وسايلو او تجهيزاتو لکه بکسو، رنګه پنسلونو او نورو ځايي جوړو شوو موادو په ترلاسه کولو سره ډير هڅول کيږي. دا چاره زده کوونکي پابند کوي او همدا ډول په دې کلي کې شورا ډيره فعاله ده او د ټولنې پر بنسټ زده کړو ټولګی د کوچنيو ماشومانو لپاره ښه ځای دی، په ځانګړې توګه د نجونو لپاره ځکه دوی کولای شي چې خپلو ټولګيو ته له کوم خطر پرته لاسرسی ولري."*
**د ټولنو پر بنسټ زده کوونکي پلار/مور**

د ټولنې پر بنسټ زده کړو په چاپيريال کې، د ټولنې مالکيت پياوړی وي او د ساحې د مديرانو او د تمويلوونکو ادارو د چارواکو له خوا د فعاليتونو منظمه څارنه او نظارت ترسره کيږي، د ښوونکو لپاره ډير کم فرصتونه شتون لري چې له کوم دليل پرته غيرحاضر شي. له دې ځايونو څخه، د سهم لرونکو د مرکې له مخې، ډير کم احتمال لري چې د

زده کړې سرچینې د بې پروایۍ یا مفسدو کړنو له لارې بې لارې یا منحرفې شي. د ټولنې پر بنسټ زده کړو د مرکزونو سرچینې او تجهیزات پر خپل وخت، له کافي کیفیت او کمیت سره رسیدل.

*"[پلې کوونکې اداره] د ښوونځي لپاره هر درې کاله وروسته نوي کتابونه راوړي. کتابونه د زده کوونکو لپاره د زده کړې موادو تر ټولو مهمه برخه ده."*
**د ټولنې پر بنسټ زده کړو ښوونځي کې ښوونکی**

په دې کوچنې او غیررسمي ځای کې (چې تر ډیره پورې لومړنۍ زده کړې دي)، ښوونکي اړ دي چې وکولای شي په ډیرو مضامینو کې تدریس وکړي او له وسایلو او تجهیزاتو سره اشنا وي، د بیلګې په توګه د ساینس په ټولګیو کې. دا د ډیرو عمومي ښوونځیو سره توپیر لري چې د ساینس ځانګړې اسانتیاوې په کې د کره تجهیزاتو او عرضو د ښودنې لپاره بیکاره پرتې وي.

### 10.1.3 د زده کړې پایلې

ځانګړو څیړنو ثابته کړې ده چې د هغو زده کوونکو د زده کړې پایلې چې د ټولنې پر بنسټ زده کړو په چاپیریال کې یې زده کړې کړې دي د هغو زده کوونو په پرتله غوره دي چې په دولتي ښوونځیو کې یې زده کړې کړې دي. د ماشومانو د ساتنې موسسې له خوا یوې ترسره شوې څیړنې موندلې ده چې د ټولنې پر بنسټ زده کړو سیستم کې د ۳ ټولګیو ۷۳ سلنه زده کوونکي په بشپړه توګه لوستل کولای شي، دا ارقام د عامو ښوونځیو د ورته عمر لرونکو ماشومانو په بیلګو کې ۴۳ سلنه ته راولویدل.[70]

*"زه د کیمیا او فزیک ښوونکی یم. د ځینې لوستونو لپاره زه سیمه ییز مواد راوړم او ځینې وختونه له زده کوونکو غوښتنه کوم چې ساده مواد راوړي، او زده کوونکي قانع کیږي. زه غواړم چې د ټولو عامه ښوونځیو د ښوونکو لپاره د ځایي موادو د کارولو په اړه د روزنې یوه ناسته ترسره کړم، ځکه ډیر ښوونکي نه پوهیږي چې څنګه ځایي مواد وکارول شي."*
**د کلي مرکز کې د ټولنې پر بنسټ زده کړو یو ښوونکی**

یوې بلې سترې څیړنې په ۳۱ کلیو کې د ټولنې پر بنسټ زده کړو وړاندې کول تحلیل کړل چې ۱۴۹۰ ماشومانو ته په کې د افغانستان شمال ختیځه برخه کې په کلیوالي ټولنو کې درس ورکول کیدلو.[71] نوموړې څیړنې موندلې ده چې په زده کوونکو کې د دولتي لومړنیو ښوونځیو په پرتله، د ازموینو نمرې لوړې او نوم لیکنه یې د پام وړ اندازه زیاته وه. په نوم لیکنه کې یې په عمومي توګه ۴۲ سلنه زیاتوالی و او د جنیست پر بنسټ نابرابرۍ ۲۱ سلنه له منځه تللې وه؛ د ازموینو نمرې یې د کنټرول ښوونځیو په پرتله د پام وړ اندازه زیاتې وې او د نجونو لپاره په غیرمتناسبه توګه ګټې زیاتې وې.

## 10.2 خصوصي ښوونځي

د خصوصي ښوونځیو شمیر کم دی، چې په ملي کچه د ټولو ښوونځیو ۱۰ سلنه تشکیلوي. نوموړي ښوونځي د ښوونځي-عمر لرونکو کسانو ۲ سلنه څخه لږو خلکو ته زده کړې برابروي. په سترو ښاري سیمو لکه کابل او هرات کې، په خصوصي ښوونځیو کې د زده کړې تناسب کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی (۳ ضمیمه په ټول هیواد کې د خصوصي ښوونځیو د شمیر او ډول په اړه لنډیز وړاندې کوي). په کابل کې، د ښوونځي عمر لرونکو خصوصي زده کوونکو تناسب ۵ سلنه ته رسیږي، چې د ملي اوسط څخه دوه نیم ځله لوړ دی؛ که څه هم نوموړې کچه د پرتلیزو زده کړو سیستم کې له نړیوال اوسط څخه ډیره ټیټه ده. د پوهنې وزارت معلوماتي سیستم څخه اخیستل شوې ډیټا ښیي چې

د کابل ښار د خصوصي ښوونځیو تر ټولو ستر شمیر لري چې ۵۹۹ ښوونځي کیږي، ورپسې هرات (۱۴۲)، خوست (۹۳)، ننګرهار (۸۴) او بلخ ۵۱) خصوصي ښوونځي لري.

د څارنې او ارزونې کمېټې ټیم ولیدل چې نسبتاً کم فیس لرونکي ښوونځي (د کال ۲۵۰ امریکایي ډالر) غیر انتفاعي خصوصي ښوونځي خبر ورکوي چې دوی کولای شي خپلو ښوونکو ته د پوهنې وزارت ښوونځیو د ښوونکو په پرتله لوړ معاشونه ورکړي. له دې خصوصي ښوونځیو څخه مېندو او پلرونو د اداري فساد پر ورانديې د زیان منني ارزونې ټیم ته وویل چې د تدریس لیدل شوي لوړ کیفیت او شته سرچینو دوی دې ته وهڅول چې خپل ماشومان له دولتي ښوونځیو څخه راوباسي او په خصوصي ښوونځیو کې یې شامل کړي.

بل پېچلی عامل چې په ډېرو خصوصي ښوونځیو کې شته، د پوهنې وزارت د ملي نصاب ترڅنګ د اکسفورډ کتابونو کارول دي. مېندو او پلرونو ویل چې د انګلیسي ژبې د دې اضافي منځپانګې ورانديې کول د خصوصي ښوونځیو د زده کړې مهمه ځانګړتیا ده. د خصوصي ښوونځیو یوه بله توپیروونکې ځانګړتیا د پراخې ژمنی رخصتۍ څخه خلاصون دی، چې د دولتي ښوونځیو په څېر درې میاشتې رخصتي نه لري.

د خصوصي ښوونځیو تر څنګ، د خصوصي کورسونو ټولګیو له لارې د ښوونځیو د درسونو بشپړولو لپاره یو ځلانده مارکېټ شتون لري. دا ټولګي په ځانګړې توګه د لږ عاید لرونکو مېندو او پلرونو لپاره زړه راښکونکي دي چې په خصوصي ښوونځي کې د بشپړ وخت حاضرۍ ورکولو لپاره د فیس ورکولو توان نه لري. د خصوصي کورسونو ټولګي ډېر وختونه د ښوونځي له منظمو ساعتونو څخه بهر وخت کې د دولتي ښوونځیو د ښوونکو له خوا دایریږي. د دې ټولګیو موجودیت په دې معنی دی چې ښوونکي کیدای شي وهڅول شي چې په دولتي ښوونځي کې له معیار څخه ټیټ درس ورکړي چې د پیسو ترلاسه کولو لپاره خپل توان زیات کړي، او خپل "غوره" تدریس د بهرنیو ټولګیو لپاره وساتي. په هر حال، کله چې د دولتي ښوونځي ښوونکي خصوصي ټولګي ورانديز کوي، نو دا کار د دوی تمرکز خرابوي او د دولتي تدریس له مسئولیت څخه د دوی انرژي بلې خوا ته منحرفوي.

د خصوصي ښوونځیو د کیفیت د څارنې اړوند د پوهنې وزارت د ظرفیت په اړه پوښتنې راپورته کیږي. ډېرې داسې بیلګې شته چې ښوونځیو ته په کې ګواښ شوی دی او تړل شوي دي، په ځانګړې توګه د کابل ښار کې، خو د پوهنې وزارت له خوا ترسره شوې کړنې په نسبي توګه کمې دي (۱ ضمیمه وګورئ). د ۲۰۱۷ کال په جنوري میاشت کې، رسنیو راپورونه خپاره کړل چې په کابل ښار کې ۵۲ خصوصي ښوونځي د پوهنې وزارت له خوا د سوداګرۍ جواز نه لرلو، له مالي څخه تښتیدلو یا د تدریس د ټیټ کیفیت له امله وتړل شول. د خصوصي ښوونځیو مدیران او مالکان، چې د اداري فساد پر ورانديې د زیان منني د ارزونې ټیم ورسره مرکه کړې ده، د پوهنې وزارت د ګواښونو او د دوی د ښوونځیو د تړل کیدلو په تړاو یې د "غیرعادلانه او نامناسبو مالیاتي غوښتنو" په اړه څرګندونې کولې.

### 10.2.1 خصوصي ښوونځیو ته د تګ هڅونې

د څارنې او ارزونې کمېټې ته د هغو زده کوونکو مېندو او پلرونو یو لړ دلایل ورانديې کړل چې خپل ماشومان یې خصوصي ښوونځیو ته تبدیل کړي دي، په دې دلایلو کې په دولتي ښوونځیو کې د تدریس ټیټ کیفیت څخه ناهیلي کیدل او د ښوونځیو دوامداره غیرحاضري شامل ول. په داسې حال کې چې په خصوصي سکتور کې ستر تغییر لیدل کیږي، هغه خصوصي ښوونځي چې د څارنې او ارزونې کمېټې د دې ارزونې په دوران کې ورڅخه کتنه وکړه، په فزیکي توګه د پوهنې وزارت د ښوونځیو په پرتله ډېر ارام ښوونکي ول چې د زده کوونکو لپاره یې کتابونه او د زده کړو سرچینو شتون درلود؛ او مهمه دا چې په ټولګیو کې یې ښوونکي موجود ول. نومړو مشاهدو څرګنده کړه چې خصوصي ښوونځي د زده کړې لپاره ډېر وخت ورکوي، چې د ښوونځیو اوسط ورځې یې اوږدې دي، او په ډېرو حالتونو کې، یې تعلیمي کال هم اوږد دی، چې لامل یې د پوهنې وزارت د ښوونځیو په پرتله د ژمي لنډه رخصتي ده.

د خصوصي ښوونځیو په فیسونو اخیستلو کې پراخه توپیر شته، خو ډېر غیرانتفاعي بنسټونه شته چې په نسبي توګه د خلکو ورته وس رسیږي، لږ تر لږه د هغو کورنیو چې یو ګټیالی ولري. له مارکیټ څخه په خبر لرلو سره، ډېرو مېندو او پلرونو ویل چې خصوصي ښوونځي پر خدمت او قناعت باندې متمرکز دي، مدیرانو ته وړاندې شوې شکایتونه په جدي توګه ارزول کیږي او نیمګړتیاوو ته په معمولي توګه ځواب ورکول کیږي.

د ښوونکو له ليدلوري، د څارني او ارزوني کميټي د ټيم له خوا د راټولو شوو معلوماتو پر بنسټ، دوی په خصوصي سکتور کې له کار کولو څخه په عمومي توګه خوښ دي. ډير هغه تازه فارغان چې په دولتي ښوونځيو کې دنده پيدا کول ورته ستونزمن کار دی، يا نه غواړي چې هغه عرفي ۱۰۰۰ ډالر رشوت ورکړي چې په دولتي ادارو کې دنده واخلي، خصوصي سکتور ورته دندو ته ښه لاسرسی وړاندې کوي. يو ځانګړی تاوان چې د اداري فساد پر وړاندې د زيان منني ارزوني ټيم د خصوصي ښوونځيو له ښوونکو څخه واوريد په خصوصي ښوونځيو کې د اوږدو تدريسي ساعتونو لرل دي، چې دا ستونزه تر يوه بريده د لوړو معاشونو ورکولو يو څه تته کړې ده.

### ii. په خصوصي ښوونځيو کې د اداري فساد خطرونه

په خصوصي ښوونځيو کې اداري فساد په دوه اړخونو کې راپور شوی دی، دا چې ښوونځي په ملي نصاب کې اداري فساد کوي چې د پوهنې وزارت له خوا ورته د تدريس جواز ورکول شوی دی، او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه د غيراخلاقي لارې د پيسو ترلاسه کول، له بل پلوه، د ښوونځيو مالکان د پوهنې وزارت د چارواکو له خوا قربانيان دي چې د رشوت غوښتنه کوي.

په لومړي حالت کې، ډير ښوونځي شته چې جواز نه لرونکي کتابونه کاروي، د بيلګې په توګه له پاکستان څخه، چې د نصاب هغه ضروري منځپانګه او پراخوالی تر پوښښ لاندې نه نيسي چې د پوهنې وزارت په نصاب کې ځانګړې شوې ده. د دې ترڅنګ، د ښوونځيو د داسې بې پروا مالکانو بيلګې شته چې له کورنيو څخه پيسې ترلاسه کوي چې د زده کوونکو غيرحاضري او د ښوونځي ازموينو کې ناکامي ناليدلي وګڼي. د څارني او ارزوني کميټي ټيم له ځينو ميندو او پلرونو څخه راپورونه واوريدل چې، "... خصوصي ښوونځي د پيسو ترلاسه کولو لپاره په سوداګريزو ځايونو د بدليدلو په حال کې دي."

د خصوصي ښوونځيو مالکان هم د اداري فساد قربانيان کيدلای شي، چې اړ دي ځايي چارواکو ته په مهالنۍ توګه د ښوونځيو د ازموينو ډيټا اجراء کولو لپاره پيسې ورکړي، کنه نو اړ دي چې په مياشتو انتظار وکړي چې پايلې يې تائيد شي. د څارني او ارزوني کميټي ټيم د ښوونځي له مالکانو څخه راپورونه ترلاسه کړل چې د پوهنې وزارت چارواکو له خوا ورڅخه د رشوت غوښتنې شوې دي او د اداري فساد کوچني فعاليتونه ترسره شوي دي. په يوه بيلګه کې، د خصوصي ښوونځي مالک څرګنده کړه چې د ښوونځيو لپاره د ماليې قوانين يوه زيان منونه ده: په لومړيو کې نوموړي ښوونځي ته ويل شوي ول چې ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ ماليه ورکړي، خو وروسته ورته خبر ورکول شوی و چې که چيرته دوی په مستقيمه توګه يو چارواکي ته ۷۰۰۰۰ افغانۍ ورکړي، نو اسناد به يې پاک کړل شي.



# ب برخه
# رهبري او مديريت

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې
د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه

## 11. د پوهنې وزارت رهبري او مديريت

تر اوسه د څارنې او ارزونې کميټې دې راپور د پوهنې سيستمد (عرضي په پای) تمرکز کړی دی: دا چې څنګه ښوونکي د زده کوونکو لپاره درسي مواد برابروي. دلته د پوهنې د سيستم ازمويل پيل شو، او په دې برخه کې د مرکچيانو قضاوتونه هم ډېر روښانه وو: فساد شته دی، په تيره د ښوونکو په ګمارنه کې چې د ښوونيز سيستم کيفيت يې ډېر را ټيټ کړی، او پوهنې وزارت په هغه اصلي موخه کې چې هڅه کوي، د هيواد ځوانان باسواده کړي، پاتې راغلی دی.

دې اساسي ټکي ته د مرکه ورکوونکو له لوري په وارو وارو اشاره شوې، په تيره د مينڅو او پلرونو له لوري؛ کله چې د پوهنې اصلي مفهوم له فساده ډک وي، راتلونکی نسل دومره وړتيا نه شي پيدا کولای، تر څو په يوه ډيموکراتيکه ټولنه کې غوره رول ولوبوي، ځکه چې دوی د لوست او حساب د سواد له نشت سره مخ کيږي؛ دوی هغه اساسي وړتياوې او ظرفيتونه نه شي درلودلای تر څو په دې له سياليو ډکه نړۍ کې ژوند وکړي. شايد تر ټولو مهمه دا وي چې دوی به پياوړی مورال هم و نه لري تر څو غلط له سمو څخه جلا او له چارواکو څخه په اړينو مواردو کې پوښتنه وکړي.

پداسي حال کې چې د پوهنې سيستم ډېر مرکزی شوی ، د ډېری ستونزو –او حل لارو- سرچينه د سيستم په زړه (د پوهنې وزارت او کابل کې چارواکو) کې موندل کيدلی شي. د پراخې بې نظمۍ ستونزې، کمزوری کنټرول، بېکاره او له فساده ډکې لارې چارې او پاليسۍ ښه پژندل شوې او دوامداره دي، چې ان تر ۱۵ کاله مخينه لري.

په دې ډول د څارنې او ارزونې کميټې هڅه وکړه چې له چارواکو او نورو ګډونوالو سره مرکې وکړي، تر څو د اداري فساد د ستونزو په پېچلتيا پوه شي. د څارنې او ارزونې کميټې په کابل کې په وزارت کې دننه له ۱۱۱ تنو او د پوهنې په ولايتي رياستونو کې له ۱۲۷ تنو سره مرکې وکړې، او له چارواکو څخه يې ګڼ شمير غوره او ګټورې ژمنې تر لاسه کړې.

دې چارواکو ورته نظرونه درلودل، چې مخکې په دې راپور کې څرګند شوي دي:

**مديران واک نه لري:** مثلاً: "د مرکزي ادارو مديران په هغو څارونکو ټيمونو چې په ولايتونو او ولسواليو کې کار کوي، مستقيم کنټرول نه لري."؛ "مونږ د ترانسپورت اسانتياوې نلرو چې له پروژو ښه څارنه وکړو او د پروژو کيفيت وڅارو. "؛ "کله چې بوديجه تخصيص کيږي، د پراختيايي بوديجې او عادي بوديجې تر منځ هيڅ ډول همغږي په نظر کې نه نيول کيږي."؛ "د پروګرامونو او ادارو تر منځ هيڅ ډول روښانه سيستم نشته؛ د پلان جوړونې او بوديجې ادارو تر منځ هيڅ ښه همغږي نشته؛ سياسي فشارونه، د پارلمان د وکيلانو له لوري د پوهنې وزارت د چارواکو هيڅ ډول درناوی نه کيږي.»

**په تدارکاتو کې فساد:** "د پروژې اعلان، د پروژې قرارداد او د هغې پروژې څارنه يوازې د تدارکاتو د ادارې له لوري کيږي او دا تر ټولو غټه غلطي ده، همدا خلاوې فساد ته لاره هواروي"، "په ولايتونو کې د نغدو پيسو د ورکولو پراخ فساد، او په قراردادونو او تدارکاتو کې فساد."، "د کتابونو په ويش کې لا تر هغه هم ډېر فساد دی."؛ "د درسي کتابونو په چاپ او تدارکاتو کې پراخ فساد، تصديق نامو، ودانيزو چارو، ايکويپ او د سواد زده کړو کورسونو کې پراخ فسادونه."، "په تدارکاتو او قراردادونو کې پراخ خيانتونه."؛ "په ځانګړي ډول په هغه ولايتونو کې چې ناامنه دي او يا له مرکزه لرې دي او څارنه يې ستونزمنه ده، په تدارکاتو او قراردادونو کې پراخ فسادونه شته دي." "هغه انجينران چې د پوهنې وزارت له لوري د ښوونځي د ودانۍ جوړولو پروژو د څارنې او ارزونې مسئوليت لري له پلې کوونکي شرکت سره معامله کوي.؛ د پارلمان غړي په تدارکاتو کې ډېره لاسوهنه کوي. "

**د خيالي ښوونځيو او ښوونکو په اړه ګڼ شمير راپورونه**

**د معلوماتو غلطه ښودنه:** " ډېر غلط معلومات شته دي. "؛ "په دې ډيپارټمنټ کې تر ټولو عامه او غټه ستونزه دا ده چې په ښوونځيو کې د خالي بستونو هيڅ دقيقه شميره نشته؛ له دې ورهاخوا د ښوونکو او کارکوونکو د ثبت هيڅ ډيټابيس نشته."؛ "هيڅ داسې د معلوماتو راټولولو او معلومولو ميکانيزم او سيستم نشته چې له مختلفو سرچينو څخه راټول شوي معلومات په کې ځای پر ځای او وساتل شي، بل خوا د ښوونځيو د مديرانو او سرمعلمينو له لوري له حده ډېر معلومات."؛ "هيڅ داسې جامع ډيټابيس نشته چې په هغه کې معلومات په اساني سره ځای پر ځای شي او د فساد مخه ونيول شي."؛ "په جګړه ځپلو سيمو او زونونو کې د زده کوونکو شميره راټيټيږي چې دا بدلونونه د پوهنې معلوماتي سيستم کې نه دي ښودل شوي."؛ "د څارنې اداره د ښوونکو او زده کوونکو په اړه هيڅ ډول شميرې نه لري، ځکه ځينې سياسي فشارونه او اړيکي موږ ته نه پرېږدي چې د ښوونکو او زده کوونکو کره شميره راټوله کړو."؛ "سياسي فشارونو او اړيکو په ولايتونو کې د پراختيايي بوديې بيلانس ګډوډ کړی دی."

**درسي کتابونه: "**له ۱۵ کلونو راهيسې د درسي کتابونو د چاپ په برخه کې د بهير په نامه يوازې له يوې چاپ خونې سرهقرارداد شوی، دې کمپنۍ ته په ميليونونو پيسې ورکړل شوې دي، خو لا تر اوسه هم موږ په ښوونځيو کې کافي اندازه درسي کتابونه نه لرو. بهير بيا له دوو نورو بهرنيو چاپ خونو سره په هند او ماليزيا کې قرارداد کوي، د کتابونو له جملې نيمايي يې چاپ شوي او د نيمو کتابونو د چاپ پيسې د بهير چاپ خونې او دوو قرارداد شويو بهرنيو چاپ خونو تر منځ وېشل شوي"؛ "په ځينې ولسواليو کې ښوونځي تړلي دي، خو د کتابونو د ليږل کيدو راپورونه يې ورکول کيږي، په حقيقت کې د دې کتابونو د چاپ پيسې له مخکې د چاپ خونو جيبونو ته تللې دي."؛ "فعال ښوونځي کافي اندازه کتابونو نه لري، چې دا د څارنې د ټيم د راپورونو له مخې ډېره لويه ستونزه ده."

**د اړيکو پالل:** "د دولت د مهمو پوستونو نيوونکي او د پارلمان وکيلان له خپل واک څخه غلطه استفاده کوي، دوی د دولت د ګمارنو چارې د خپلوانو په ګمارلو او يا طرفداري کاروي."؛ "ګمارنې د اړيکو پر بنسټ کيږي."؛ "مخکې تر دې چې د کار لپاره ازموينه واخيستل شي، نامناسبو خلکو ته پوښتنې ورکول کيږي."؛ "د ښوونکو په ګمارنه کې تر وړتيا او تخصص طرفداري او اړيکو ته ډېر ارزښت ورکول کيږي"؛ "زموږ په برخه (تخنيکي او مسلکي زړه کړه او روزنه) کې تر وړتياوو او تحصيلاتو ډېر سياسي ګمارنو ته ارزښت ورکول کيږي."؛ "ډېری وختونه د ښوونځي مديران د ښوونکو پوستونو ته خپل خپلوان ورپيژني؛ موږ د ښوونځيو د ښوونکو حاضري کتابچې وکتلې، خو د ښوونځيو مديرانو موږ ته اجازه نه راکوله، تر څو د ښوونځيو د حاضرې کتابچې په ښه ځير سره وګورو؛ ښوونکي اضافه کاري پوره نه تر لاسه کوي، ځکه ډېرې پيسې د ښوونځي د مديرانو جيبونو ته ځي، دا هر څه له دې امله دي چې د ښوونځيو مديران له پوهنې وزارت سره ښې اړيکې لري."

د هغو چارواکو له ډلې چې د فساد د مخنيوي په تړاو يې ښه دقيق ځوابونه راکړل، څلور ستونزې چې لاندې ښودل شوې، راپورته کړې:

**د چارواکو له لوري عمده په ګوته شوې د فساد ستونزې:**

د مالي برخې/بوديجې کمزوری او يا نامناسب کنترول

کمزورې، زړې او ګډوډې پاليسۍ او کړنلارې

د معلوماتو غلطه ښودنه

د اړيکو پالل

چارواکو لاندې عملي ټکو ته هم اشاره وکړه:

- زموږ په وزارتونو کې تر ټولو عمده ستونزه دا ده چې سیاست هر وخت بدلیږي، دا هم د شوي کار کیفیت او هم کچه اغیزمنوي، ځکه کله چې سیاست بدل شي، ورسره د وزارت چارواکي او کارکوونکي هم بدلیږي؛
- د سرپرستو پوستونو شتون. په ډېرو کلیدي پوستونو کې، سرپرست کارکوونکي د اوږدې مودې لپاره په پوستونو پاتې کیږي، دوی د کارونو اغیزمنتیا او کټورتیا ته دومره فکر نه کوي، ځکه دوی په دې نه وي ډاډمن چې ایا دوی به د اوږدمهال لپاره په دې پوسټ کې وګمارل شي او که نه، نو دوی له وخته څخه په ګټه اخیستلو، هڅه کوي تر څو له ممکنو او فساد څخه ډکو لارو ډېرې پیسې تر لاسه کړي؛
- د څارنې لپاره ډېره کمه بودیجه ځانګړې شوې ده؛ کارکوونکي یې کم دي؛ د کارکوونکو مسوولیتونه یې هم کم دي؛ په هیواد کې د بې سوادۍ د کچې راټیټولو په موخه د لوړپوړو چارواکو له لورې د هغوی هیڅ ملاتړ نه کیږي؛
- هغه ستر حد چې تر هغه پورې "تخنیکي مرسته کوونکي" په حقیقت سره ټولې کلیدي پروسې پرمخ بیایي.

## 11.1 فرهنګ، پالیسي او سیستمونه

د دې ارزونې لپاره په ګنو مرکو کې، په وزارت کې ځواب ویونکو موږ ته وویل چې اداري فساد د افغانستان د فرهنګ برخه نه ده، په دې وروستیو کلونو کې هر څه بدل شوي او اوس مهال دا هر څه د فرهنګي توقعاتو یوه برخه ګرځیدلې ده. د دې معنی دا ده چې اوس مهال هر یو، چارواکي او عام وګړي، دا مني چې فساد د دوی د ورځني ژوند یوه برخه ګرځیدلې. هغه عام وګړي چې په عامه سکتور کې د کار په لټه کې دي، پوهیږي چې که وغواړي چې د ګمارنې په بهیر کې بریالي ووځي، باید یا رشوت ورکړي، یا اړیکي ولري او یا هم سیاسي تړاو ولري. د څارنې او ارزونې کمیټې دې ارزونې ښودلې چې دا چارې تر ډېره د پوهنې وزارت کې شته دي. د دوه کلونو په ترڅ کې له هغه مهال راهیسې چې د څارنې او اروزنې کمیټې د پوهنې وزارت کې د ګمارنو په تړاو د اداري فساد پر وړاندې د زیان منني ارزونه کړې وه پرمختګونه ندي شوي، په هغه ارزونه کې داسې راغلي وو «...داسې معلومیږي چې د پوهنې وزارت نه شي کولای او یا نه غواړي چې د ښوونکو د ګمارنې د بهیر څارنه وکړي... د ښوونکو د ګمارنې په بهیر کې د فساد کچه ډېره لوړه ده.»[72]

د قانون د پلي کولو اداري، په تیره پولیس، د لوی څارنوالی دفتر او د محکمو د کارونو لاري ناکامي شوې دي تر څو د خلکو باور بیرته تر لاسه کړي. د دې ادارو کمزورۍ او د فاسدو تجربو بیا تکرارول، دولتي او عامه کارکوونکي په دې باوري کړي دي چې دوی هر څه کولای شي، بې له دې چې حساب ورکونې ته ور وبلل شي، په دې راپور کې ګڼ شمیر ځواب ویونکو ویلي چې د پوهنې په سکټور کې حساب نه ورکونه په وارو وارو لیدل شوې ده. د وزارت په کچه د اداري فساد د زیان منني ارزونې ټیم له لو ري مرکه شویو چارواکو څخه ډېر کم اوریدل شوي چې د پوهنې د سکتور مدیرانو او کارکوونکو ته دې په تیرو ۱۵ کلونو کې د فساد له امله د محکمو له لورې سزا ورکړل شوې وي. خو په همدې وخت کې د لویې څارنوالی په پلټونکو، پولیسو او محکمو کې ګڼ شمیر د اداري فساد اظهارات اوریدل شوي دي.

له ۲۰۰۱ کال را په دې خوا هیواد په تعلیمي بهیر کې ډېر پرمختګ کړی دی، په داسې حال کې چې ښوونځیو ته د تلونکو شاګردانو شمیرې تر څو سوه زره پورې رسیده؛ اوس مهال دا شمیرې اوو یا اتو میلیونه ته ختلې دي، که څه هم حقیقي شمیرې شاید په څو میلیونه فکتور سره وښودل شي او تر بحث لاندې دي (دا شاید د سیاسي میکانیزم له امله وي - شاید د پوهنې وزارت د مختلفو مدیریتونو له لورې ورکړل شوې شمیرې قصداً لوړې او یا ټیټې ښودل شوې وي - په ډېره ټیټه کچه د افغان ښوونیزې احصایې کمزورۍ ته اشاره ده.)[73, 74] په ډېره لنډ موده کې د دومره ښوونځیو د ودانیو جوړول او دومره ښوونکي ګمارل د افغانستان په تاریخ کې بې ساري دی. سره لدې چې شمیرې لوړې شوې، خو د هیواد لپاره د زده کړو کیفیت لا هم یوه ننګونه پاتې ده. د پام وړ مالي سرچینې چې په تیره لسیزه کې د دې چټکې پراختیا لپاره په کار واچول شوې، د ځینو لپاره سخته پارونه وه تر څو دوی د پوهنې په سکتور کې په فاسدو کړنو تمرکز وکړي.

راپور شوې ده چې د ګمارنې کړنلاره، د ټولو لپاره خو په ځانګړي ډول د پوهنې وزارت د لوړپوړو بستونو لپاره، په پراخه کچه د اخلاقي تبعیض په وړاندې د معافیت فرهنګ ښکارندویي کوي. په مختلفو برخو کې د پوهنې وزارت له

لوري د ګمارنې لپاره ډول ډول کړنلارې کارول شوې دي. تر ټولو لوړپوړي چارواکي اوس د ګمارنې پر مهال تر يوه سياليز بهير تيريږي چې د دريمې ډلې، مثلاً د پايلو لپاره ظرفيت لوړولو اداري، څارونکو له لوري يې څارنه کيږي. د پايلو لپاره د ظرفيت لوړولو نوښت هڅه کوي تر څو د عدالت او وړتيا پر بنسټ ګمارنې وکړي. سره لدې هم په پوهنې وزارت کې ډېرې ګمارنې د ګمارنې د مکتوب په وسيله چې د وزير او يا مرستيال وزير له لوري صادر شوې وي، کيږي. ډېرى ځواب ويونکو تصور کولو چې هغوى چې په دې ډول ګمارل شوي دي، د خپل پوسټ او درجې له پام کې نيولو پرته، فکر کوى چې تر ټولو ممتاز دي او پدې ډول اجازه لري چې هر څه کول غواړي، هغه وکړي، بې له دې چې کومه سزا ورکړل شي. د وزارت په کچه د زيان منني ارزونې ټيم ته ويل شوي چې د پارلمان وکيلان، د دولت لوړپوړي چارواکي او نور پيژندل شوي خلک دندو ته وګړي ور پيژني. په پوهنې وزارت کې دا ګمارل شوي وګړي، داسي تشريح يږي چې دوى د هر ډول غلطو کړنو پر وړاندې له ځان سره د خلاصون لپاره سياسي ملاتړ لري.

بله غټه ستونزه چې ډېرو ځواب ويونکو په مرکو کې ورته اشاره کړې، قراردادونه دي چې د پانې په مخ ډېر رانه ښودل شوي، خو په حقيقت کې هغو کمپنيو ته ورکړل شوي چې په لوړپوړو چارواکو پورې مربوطې دي او يا هم د دوى د خپلوانو دي. تر کومه ځايه چې دا کمپنۍ په لوړپوړو چارواکو پورې تړلې دي، يا دوى ته ګډه ګټه ورکوي او يا يې ملاتړ کوي، دوى ته تر ډېره د خپلو غلطو کړنو لپاره جزا نه ورکول کيږي. د قراردادونو دا ډول کړنې او خطرونه يوازې تر پوهنې وزارت پورې نه دي محدود.

د پوهنې وزارت د تدارکاتو رياست يو کاروکوونکي وويل، "د جنسي ځانګه کولی شي جعلي نرخونه چمتو کړي او يا له دوه يا درې شرکتونو سره د جوړو شوو (ساختګي) نرخونو پر سر جوړجاړى وکړي." او "زه د تدارکاتو د رياست د کارکوونکي په توګه اعتراف کوم چې د دې رياست دننه يوه فاسده کړۍ تاسيس شوې. دوى يو بل ته فرصتونه چمتو کوي. پداسې وضعيت کې د تدارکاتو پروسه له پيله تر پايله د فساد پر وړاندې زيان منونکې ده. په ځانګړې ډول د ارزونې (داوطلبۍ پرانيستنې) مرحله او د تطبيق مرحله ډيره زيان منونکې ده.

په يو بل مثال کې، دپوهنې وزارت کې هيڅ ډول داسې کومه کړلاره نشته چې يوې کمپنۍ ته بايد تر کومې کچې او يا څومره قراردادونه ورکړل شي. د مثال په ډول، په باميان ولايت کې يوې کمپنۍ ته ۶۲ قراردادونه ورکړل شوي دي، خو هغه يې په پوره کولو کې پاتې راغلې ده، نو کمپنۍ هم هغه پروژې نه پوره کوي. د دې تر څنګ نورې کمپنۍ هم شته چې ځينې پروژې يې نيمايې پاتې دي، خو بيا هم د پوهنې وزارت له تدارکاتو رياست څخه قراردادونه تر لاسه کوي.

په پوهنې وزارت کې د اداري فساد د ډېرو قضيو راپورونه ورکړل شوي دي، خو د دې قضيو پر وړاندې اخيستل شوي ګامونه يا خو ناکام شوي او يا هم تر اوسه يې پر وړاندې هيڅ کار نه دى شوى. د وزارت د معينيت په يوه قضيه کې د وزارت په کچه د اداري فساد د زيان منني ارزونې ټيم ته د يوه رياست په اړه ويل شوي وو چې د دې رياست رييس چې د پارلمان د يوه وکيل له خپلوانو څخه دى، له خپلې وظيفې او صلاحيتونو څخه په غلطه او شخصي ګټه اخيستنه تورن وو او له خپلې څوکۍ څخه برطرفه شوى وو، خو د ليرې کيدو پر ځاى هغه د پارلمان د وکيل په ملاتړ بيرته راغلى، دا رييس بيرته نه يوازې دا چې بيا ګمارل شوى وو، بلکې د هغه په راتګ سره د وزارت معيين وظيفې پرېښودو ته اړ ايستل شو.

په بله بيلګه کې، د پوهنې وزارت کې ډيرو خلکو د پوهنې ولايت په رياستونو کې د بشري سرچينو د مدير شخصي روڼتيا تر پوښتنې لاندې راوستله. د دې شخص تر څارنې لاندې، دعوه کيږي چې د ولايت په مرکز کې د ښوونکو بستونه له ۱۰۰۰ ډالرو تر ۱۳۰۰ ډالرو پورې په معمولي توګه خرڅيږي. د دې کړنې په اړه ډيرو ښوونکو او د دوى خپلوانو شاهدي ورکړه.

## 11.2 سياسي مداخله – دلالي او نيپوتيزم

په افغانستان کې د پوهنې وزارت په اړه خواشينې کوونکې شى ډلبازي او د انسجام نشتوالى دى چې د وزارت دننه او بيلابيلو برخو ترمنځ شتون لري؛ دا ټول کارونه د مفسدو کړنو لپاره مساعده زمينه رامنځ ته کوي.

د پوهنې وزارت د زورواکو اشخاصو او د ملي شورا د غړو د فشار پر وړاندې، د مخکې وړاندې شوو دلایلو له امله په ځانګړې توګه زیان منونکی دی- چې د پوهنې وزارت د دندو تر ټولو ستره ذخیره ده. تر هغه پورې چې ټاکل شوې استازې او نور لوړپوړي دولتي چارواکي په ازاده توګه په دولتي ګمارنه او د ترقی په پروسو کې مداخله کوي پرته له دې چې له شخصي تعقیب سره مخ شي، مرکزي اصلاحات ناشوني دي.

## 11.3 د پوهنې بودیجه او د ښوونځیو نفوس

د پوهنې وزارت له ټولو ملکي وزارتونو څخه زیاته بودیجه لري (د کورنیو چارو او دفاع وزارت پرته). د پوهنې وزارت د (۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۴ کلونو) لګښتونه د ۲،۵ بیلیونه ډالرو په شاوخوا کې اټکل شوي ول، چې لږ تر لږه ۴۳ سلنه یې د پراختیایي همکارانو له خوا تمویل شوي ول. د پراختیایي همکارانو له مرستې څخه، یواځې ۲۵ سلنه یې بودیجوي وه، چې پاتې پراختیایي لګښتونه یې غیربودیجوي ول.[75] د افغانستان په اړه د توکیو ۲۰۱۲ کنفرانس کې له ترسره شوو ژمنو سره سم، پراختیایي همکاران د خپلو مالي مرستو د بودیجوي مبلغ زیاتولو ته ژمن پاتې دي، خو د پراخو مفسدو کړنو په اړه لا ژور دوه زړه توب شتون لري. د عامه بودیجې ناسم تناسب د پراختیایي همکارانو ټولنې ترمنځ معلومه خبره ده – او دوی په زیاتیدونکې توګه زړه نازړه دي چې د پوهنې وزارت باندې د پروژو د تطبیق او څارنې برخه کې په تکیې سره د خپلو پروژو کنټرول له لاسه ورکړي.

دا چې بودیجه د ښوونځې عمر لرونکو ځوانانو د شمیر له خوا تحریکیږي، چې د ښوونځیو د ځایونو لپاره غوښتنه تشخیصوي، د ښوونځیو د زده کوونکو د شمیر کره اندازه د راتلونکو پلان جوړونو لپاره ډیره اړینه ده. له بده مرغه، لکه مخکې چې یادونه وشوه، دا ارقام په سیاسي توګه تحریک شوي دي چې ډیرې هڅونې شته چې اصلي ارقام زیات وښیي (۱۰،۵ ملیونه)، یا یې کم وښیي (۶ ملیونه).

د دې ډیرو ناکره توبونو لپاره دلایل روښانه دي: لومړی، څکه چې راپور ورکول شوی دی چې نږدې ۵۰ سلنه اداري ولسوالۍ د دولت په کنټرول کې دي، په داسې حال کې چې پاتې یې د مخالفو ځواکونو په لاس کې دي چې له حکومت سره د همکارۍ لپاره هیڅ دلیل نه لري؛ او دویم دا چې د حکومت تر واک لاندې ولسوالیو کې، د پوهنې معلوماتي سیستم کې د ډیټا له داخلولو وړاندې د ډیټا لاسي راغونډول یواځې په ۵ سلنه ښوونځیو کې تاییدیږي، او د ښوونځې مدیرانو او د ولسوالۍ چارواکو لپاره طبیعي مکافات شتون لري چې نوموړي ارقام زیات وښیي چې ډیرې سرچینې ترلاسه کړي.

د فعالیتونو له لیدلوري دا نامشخصوالی هیڅ وخت نه ننګول کیږي او ډیر وخت ادامه مومي، لکه څنګه چې د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد د پوهنې سکتور په تړاو یادونه کوي: "په افغانستان کې د خدمتونو وړاندې کولو په اړه ډیر څه نامعلوم دي، په ځانګړې توګه د ولسوالیو په کچه، چې د زده کوونکو د حاضرۍ حقیقي کچې، د ښوونکو د وړتیا، او د ښوونکو د غیر حاضرۍ په اړه بنسټیز معلومات په کې شامل دي."[76] د ډیټا د قصدي ناسم وړاندې کولو ترڅنګ، د پوهنې ډیټا راغونډولو، شریکولو او تحلیلولو کې د پوهنې د کارکوونکو، په ټولو کچو کې، د کمزوري ظرفیت په اړه هم جدي اندیښنې شتون لري.[77] [78] [79]

## 11.4 د تفتیش څانګه

د پوهنې وزارت د تفتیش د څانګې په وینا، دوی څارنوالۍ ته د اداري فساد ۶۱ مشکوکې قضیې راجع کړې دي، چې د پیچلتیا او جدي والي بیلابیلې کچې لري، خو له ښکیلو کسانو څخه یو هم تر عدلي تعقیب لاندې نیول شوی نه دی. د تفتیش څانګې کارکوونکې په نوو قضیو باندې له کار کولو څخه ناهیلي شوي دي څکه چې دوی شک لري چې هیڅ به ترسره نه شي. په پایله کې، په خپلسرې توګه دا چارواکې د دې پر ځای چې د مشکوکو مفسدو همکارانو پر وړاندې اقدام وکړي، د مفسد سیستم برخه ګرځي. داسې ډیرې قضیې شته چې ښکاره ثبوت یې پر ضدوړاندې شوی دی، لکه د پوهنې رئیس له خوا په مالي اسنادو (اینوایسونو) کې ښکاره او قصدي جعلکاري، خو تر اوسه پورې یې پر وړاندې هیڅ اقدام نه دی شوی. دا کار د اداري فساد ناوړه اغیزې پیاوړې کوي – څکه چې د هغو کسانو د ناراحتۍ او بدبینۍ سبب ګرځي چې د دې اداري فساد کړنو پر خلاف په ښه موقف کې ځای لري.

## 11.5 پراختیايي همکاران

په ۲۰۰۲ کې د طالبانو حکومت له پرځېدو وروسته، او په افغانستان کې د پوهنې سیستم د پیلولو لپاره په یوه هڅه کې، نړیوالې ټولنې په تېرو ۱۵ کلونو کې ډېرې مالي مرستې وړاندې کړې دي. په لنډو کې یې ارقام توپیر لري، چې د سرچینې او میتود په حساب پورې اړه لري، خو د ۲۰۱۶ په پای کې یوازې د امریکا د متحده ایالتونو پراختیايي اداري تقریباً ۱ بیلیون ډالر د زده کړو په پروګرامونو باندې لګولي ول. د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د پراختیايي همکارانو ټولنې څخه مالي مرستې اداره کوي، چې نیمایي فنډ یې د امریکا د متحده ایالتونو پراختیايي اداري څخه او د پاتې برخې څخه ډېره یې له نړیوال بانک څخه راځي. د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق له لارې، د پوهنې کیفیت لوړاوي پروګرام د پوهنې وزارت ته د بودیجوي ملاتړ میکانیزم له لارې فنډ ورکوي.[80] د پوهنې کیفیت لوړاوي پروګرام په ډېرو پروژو کې د کنټرول سترې کمزورتیاوې ښتون لري چې داسې اټکل شوي چې د نوموړو مالي مرستو ۴۰ سلنه په اداري فساد کې له لاسه ورکړل شوې ده.[81]

په یو بیوزلي هیواد کې د پوهنې نوي سیستم ته زیات فنډ ورکول د اداري فساد لامل ګرځېدلی دی، ځکه چې نوموړی هیواد له خلورو لسیزو زیاتې مودې لپاره د وسلوالو شخړو څخه کړېدلی دی. افغانستان یوازې یوه کمزورې تاسیس شوې مدني ټولنه، لږه رښتینې حساب ورکونه، او یو داسې کلتوري حالت ته رسیدلی چې مفسدو کړنو ته د عادي چارو په سترګه ګوري. د مفسدو کړنو او د مالي مرستو د سترو ورکیدلو لپاره تر ټولو مهم دلیل د پروژو پلي کولو بې اغیزې څارنه ده.[82] دا چې امنیتي وضعیت خراب شوی دی، نو ځکه پراختیايي همکاران د پروګرامونو د څارلو په برخه کې کې د داسې هڅو چې ورځ تر بلې یې پیچلتیا ډېریږي، سختې دایرې ته راکاږل شوي دي. ځینې پراختیايي همکاران په زیاتیدونکي توګه د دریمګړو ډلو استازو باندې تکیه دي چې د مالي مرستو ویش او د پروګرامونو پلي کیدل وڅاري.

د امریکا د متحده ایالتونو پراختیايي اداري سره یو ځای، نړیوال بانک په افغانستان کې د پوهنې د بیارغونې ابتکاراتو تر ټولو ستر مرسته کوونکی دی چې خپلې مرستې د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق له لارې ترسره کوي. دوی د پوهنې کیفیت لوړاوي پروګرام څخه په ۲۰۰۴ کال کې د نوموړي پروګرام له پیل راهیسې ملاتړ کوي؛ د نوموړي پروګرام دویمه برخه، د پوهنې کیفیت لوړاوي پروګرام ۲ باید په ۲۰۱۲ کې بشپړه شوې وای، خو دوی ورته دوه کاله تمدید ورکړ او ۲۵۰ ملیونه ډالر یې اضافه ورکړل. د ۲۰۱۴ په پای کې، کله چې د بیارغونې ډېرې پروژې لا هم بشپړې شوې نه وې، د دوه کلونو لپاره بیا تمدید ورکړل شو چې اضافه بودیجه ورته ورنکړل شوه. په ۲۰۱۶ کې د پروګرام په رسمي پای کې د ښوونځیو ودانولو له ۴۰۰ زیاتې پروژې نیمګړې پاتې شوې، سره له دې چې ټول فنډ ورته ورکړل شوی و.

| نامکملې پروژې | د ودانیزو چارو مسوولین |
|---|---|
| 417 | د ښوونځیو شوراګانې |
| 27 | د ښوونځیو اداري شوراګانې |
| 19 | د هند له لوري تمویلیدونکي قراردادیان/کمپنۍ |
| 11 | د یونسیف له لوري تمویلیدونکي قراردادیان/کمپنۍ |
| 169 | دویم ایکویپ، د قراردادیانو/کمپنیو له لوري |
| 140 | د پوهنې لپاره نړیوال مشارکت، د قراردادیانو/کمپنیو له لوري |

د ځارنې او ارزونې کميټې رسمي اسنادو او رسمي راپورونو ته کتنه وکړه چې تقريباً د ۱۷۰۰ ښوونځيو ودانول، بيارغول، يا د زيربنايي پروژو بشپړول ښيي چې لا هم نيمګړي پاتې دي. د اداري فساد پر ورانډې د زيان منني ارزونې ټيم ونه شو کولای چې په بشپړه توګه د پوهنې کيفيت لوړاوي پروګرام د بيارغونې د نيمګړو پروژو شمير تاييد کړي، ځکه چې د بيارغونې، ترميم يا بشپړيدلو لپاره د مسئولو نهادونو له خوا ورته توپير لرونکي ارقام وړاندې شوي دي.

## 11.6 د پوهنې وزارت د مديريت په کچه جنډر/جنسيت

د پوهنې وزارت د مديريت په کچه د سياسي ارادې ښکاره نشتوالی او/يا د پوهنې وزارت دننه ليوالتيا کموالی شتون لري چې ښځې د رهبرۍ په بستونو کې ومني.

په کابل کې په لوړه کچه، اوس مهال يوازې څلور ښځې دي چې د رياست په کچه کار کوي – له شپږو معينانو څخه يوه هم ښځه نشته. کابل کې دپوهنې وزارت د لومړي بست رييسانو يوازې يو يې ښځه ده. د ولايتي رياستونو په کچه هيڅ ښځه نشته ده او د ښوونکو د روزنې يوازې يو مرکز مشري ښځه کوي. د پوهنې وزارت د رهبرۍ په لوړه کچه د ښځو نشتوالی د پوهنې لپاره د اداري فساد زمينه برابروي. د نورو ستونزو تر څنګ، دا چاره په بشپړه توګه په پوهنه کې د ښځو د ګډون استازيتوب نه کوي، په تيره بيا د دې په پام کې نيولو سره چې د افغانستان د اټکل شوو زده کوونکو ۳۸٪ ښځينه زده کوونکي دي. په کابل کې د پوهنې وزارت په لومړۍ درجه رئيسانو کې يوه ښځه رئيسه هم نشته.

د پوهنې وزارت رهبرۍ کې، د جنسيت برابرۍ نشتوالی، سيمه ييزې کچې ته هم غځيږي، چې د پوهنې وزارت له ۳۴ ولايتي رئيسانو څخه يوه هم ښځه نه ده.

## 11.7 د پوهنې دريم ملي ستراتيژيک پلان

د پوهنې وزارت ملي ستراتيژيک پلان د پوهنې وزارت او سترو پراختيايي همکارانو ترمنځ په نږدې همکارۍ سره جوړ شوی دی، او په افغانستان کې د پرمختګ د غوره لارې په اړه د جمعي هوکړې د يوې غوره درجې استازيتوب کوي. خو، پراختيايي همکاران هم خپل ځانګړي لومړيتوبونه لري، ځکه چې دوی هم خپلو دولتونو ته ځواب ويونکي دي.

> *"... د ډيرو پراختيايي همکارانو ستونزه دا ده چې دوی هڅه کوي چې د خپلو لومړيتوبونو پر بنسټ پراختيايي پروګرامونه جوړ کړي چې د حکومت پاليسی سره يوازې سرسري تړاو ولري."*
> **په نړيواله نادولتي موسسه کې د پوهنې مشر مامور**

د پوهنې وزارت دريم ملي ستراتيژيک پلان پر څلورو کلونو له ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۱ باندې تمرکز کوي، او موخه يې د خپلو پخوانيو پروګرامونو څخه په کټه اخيستلو سره د لاسرسي پر ځای په کيفيت باندې پياوړی تمرکز دی. دا د دې په معنی نه دی چې د پوهنې د لاسرسي ستونزه حل شوې ده. د بيلګې په توګه، حتی په هرات کې، چې په کابل پسې يو له امتياز لرونکو او ګڼ نفوسو ولايتونو څخه دی چې د ښوونځي عمر لرونکي ۷۵۰۰۰۰ زده کوونکي لري، له ۱۰۰۲ ښوونځيو څخه ۴۸۴ ښوونځي يې ودانی نه لري. د پلان په جوړښت کې، دا درک شوې ده چې مخکې د ښوونځي کيفيت د ښوونځي لاسرسي لپاره فرعي نقش لوبولی دی. د پوهنې وزارت دريم ملي ستراتيژيک پلان همدارنګه د پوهنې وزارت ملي ستراتيژيک پلان له پخوانيو پراوونو څخه د لرې کيدو استازيتوب کوي، ځکه چې دا په موضوعي بنسټ باندې جوړ دی، نه د پروګرام پر بنسټ. درې پراخه موضوعات يې: ۱)کيفيت او تړاو؛ ۲)د لاسرسي برابری؛ او ۳) ګټور او روڼ مديريت دي.

نوموړی پلان په احتیاط سره جوړ شوی او وړاندې شوی دی؛ پدې توګه، د دې پلان په پایله کې وزارتتوانیدلی دی چې د پوهنې لپاره دنړیوال مشارکت څخه د ۱۰۰ میلیونه ډالر له مخکې تائید شوې فنډ لپاره وړ پیژندل شوی ، چې موجوده اضافي اختیاري مالي مرستې هم ورسره دي. د پوهنې وزارت دریم ملي ستراتیژیک پلان پیلول د نړیوال بانک د څه ناڅه بریالي ابتکار (د پوهنې کیفیت لوړاوي پروګرام) د ځای ناستي پروژې له اعلان سره تصادف لري. د دې ترڅنګ، د ۲۰۱۷ په جنوري کې، د افغانستان لپاره د پوهنې کیفیت اصلاح پروژه اعلان شوه، چې ۳۰۰ ملیون ډالره بودیجه لري، او له ۲۰۱۸ څخه د ۲۰۲۱ کال تر ډیسمبر پورې به جریان ومومي، او د پوهنې وزارت ملي ستراتیژیک پلان سره به سمون لري.

سره له دې چې د پوهنې وزارت تر اوسه پورې د اداري فساد پر وړاندې ځانګړی پلان نه لري، د پوهنې دریم ملي ستراتیژیک پلان په روښانه توګه اداري فساد ته ځواب ورکوي او د دې د له منځه وړلو لپاره د پوهنې وزارت موخې روښانوي، چې داسې بیانوي:

*"خلک اداري فساد ته د دویمې سترې ستونزې په توګه ګوري چې افغانستان ورسره مخ دی. د پوهنې وزارت په ټولو کچو د پوهنې له ادارو/دفترونو څخه د اداري فساد له منځه وړل د ستر لومړیتوب په توګه یاد کړی دی. د عملي کارونو په برخه کې د ښوونکو ګمارل او د شکایتونو مدیریت، او همدا ډول د وړ قرارداد کوونکو او عرضه کوونکو په رڼه توګه په ټینګه کول شامل دي."*[83]

او:

*"د پوهنې وزارت به د نورو سهم لرونکو وزارتونو سره په همکارۍ، د اداري فساد پر وړاندېپیاوړې ستراتیژي چمتو کړي چې د خدمتونو په برابره او رڼه توګه وړاندې کولو کې د عامو خلکو او ډونرانو اعتماد راخپل کړي. د کړنلارو راپور شوې یا مشکوکه سرغړونه به په پرانیستې توګه پلټل کیږي او راپور کیږي"*[84]

د پوهنې کیفیت لوړاوي پروګرام له سترو زیان منونو څخه یوه – تدارکات – به د ملي تدارکاتو اداري ته د کنترول او څارنې په موخه د تدارکاتو اړوند ټولو پریکړو په لیږلو سره راکمه کړل شي.

خو د اداري فساد نوري زیان منني هم شتون لري چې د پوهنې وزارت دریم ملي ستراتیژیک پلان د کارکړنو او کیفیت شاخصونو کې ښکاره دي. دلته دوی د پوهنې وزارت دریم ملي ستراتیژیک پلان له دریو موضوعاتو سره یوځای بحث شوي دي:

**۱ موضوع – *کیفیت او تړاو*:** *په ټولو کچو کې زده کوونکي پوهې، مهارتونو، سلوک او ارزښتونو ته اړتیا لري چې تولیدوونکي، روغ رمټ او مسول اتباع واوسي چې د ټولنې ښېګڼه کې مرستې کولو ته چمتو وي او د کارکوونکو په ملي او نړیوال مارکیټ کې د اعتماد وړ کارګمارنې لپاره مجهز وي.*

د لومړۍ موضوع موخه د یونیسکو په ملاتړ د نصاب عمومي کتنې، چې اوس مهال ترسره کیږي، په بریالی پایل او د دوی د پروپوزلونو په پلي کولو باندې تکیه ده. سره لدې، د نصاب کتنه به دوامداري پاملرنې ته اړتیا ولري چې اصلاحات د حکومت د لومړیتوب په توګه وساتي. نوي کتابونه او اصلاح شوی نصاب باید د شونتیا تر بریده ژر نیته باندې ومنل شي؛ خو ښکاره خبره ده چې یو څه خالیګاه به شتون ولري، مخکې له دې چې نوموړی اصلاح شوی نصاب د زده کړې په پایلو باندې مثبته اغیزه ولري. د دې ترڅنګ، د ګمارونکو (دنده چمتو کوونکو) قناعت او خوښي ښایي د ځینو پروګرامونو له خوا لوړه شي چې د راتلونکو راپورونو له خوا تائید شوې ده لکه د GIZ O/S2 ابتکار (اتم څپرکی وګورئ)، چې موخه یې د لوړو مهارتونو د بنسټ جوړولو له لارې غیررسمي اقتصاد پیاوړي کول دي. د ټولنې پر بنسټ زده کړو سکتور څخه نوره بریا به هم د دې موضوع په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

**۲ موضوع – *برابر لاسرسی:*** *په افغانستان کې د ماشومانو، ځوانانو، او لویانو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو لپاره د زده کړو اړوندو، خوندي او کیفیت لرونکو فرصتونو ته زیات شوی عادلانه او ټول شموله لاسرسی.*

دویمه موضوع به د تاریخي او معاصرو اندیښنو پر وړاندې زیان منونکې وي چې له سترو ښارونو څخه بهر د حکومت د کنټرول او اغیزې په حد راڅرخیږي. دا چې ۵۰ سلنه شاوخوا ولسوالی د حکومت تر کنټرول لاندې نه دي، نو داسي خطر شته چې حاضري به ځېل شوې وي، یابه د حاضری او کارکړني په اړه ډېټا بې اعتباره ګڼل کیږي.

**۳ موضوع ـ ګټور او روڼ مدیریت:** *په ملي او سیمه بیزه کچه د پوهنې د عادلانه کیفیت لرونکي خدمتونو په رڼه، کم لګښت لرونکي او ګټوره توګه وړاندي کول.*

دریمه موضوع به د اداري فساد له خطر سره مخ وي تر هغي چې د ټولنو، ښوونځیو شوراګانو او ټولني د پراختیایي شوراګانو له خوا د ښوونځیو د فعالیتونو ښه اغیزناک او پیاوړي سیمه ییز څارونکي میکانیزمونه جوړ شي. د پلان د پایلو څارنه هم تر ډیره پورې د پوهنې د معلوماتي سیستم باندې تکیه ده، چې د اعتبار وړ نه ده، لکه څنګه چې په دې راپور کې روښانه شوې ده.

## 12. په ولایتونو، ولسوالیو او شوراګانو کې مدیریت او رهبري

د پوهنې د ښه کیفیت درلودونکی یو سیستم تر ډیره په ټولو کچو کې د بېلا بېلو ونډه والو تر منځ پر همکاری او همغږی تکیه کوي؛ یاد سیستم پر هغو وګړو متکي وي چې د یوې شریکې موخې لپاره ګډ کار کوي.[85] سره لدې، د فساد تر ټولو مهمو او ناوړه اغیزو څخه یوه د خلکو ویشل دي، چې افرادو ته پر ټولنیزو ګټو لومړیتوب ورکوي او د یووالي پر خلاف کار کوي.

په عیني ډول، فساد زده کوونکي د نورو زده کوونکو، زده کوونکي د ښوونکو، ښوونکي د ښوونځي د اداري، د ښوونځي ټولني د ولسوالی د پوهنې د آمریت، د ولسوالی د پوهنې آمریت د پوهنې د ریاست، د پوهنې ریاست په کابل کې د پوهنې د وزارت او د پوهنې وزارت دننه بېلا بېل ډیپارټمنټونه د یو بل پر خلاف دروي. د ولایت د پوهنې یوه پخواني مامور داسي وویل:

*"دلته د پوهنې په سکتور کې ستره ستونزه دا ده چې کله یو شخص وغواړي چې مثبت بدلونونه رامنځ ته کړي، د پوهنې ریاست نور غړي یې پر خلاف یو کیږي او هغه له ریاست څخه شړي یا یې بل ځای ته بدلوي. هیڅوک نشته چې په مناسب ډول د حالت په اړه قضاوت وکړي او له ریاست څخه د مفسدو وګړو د لرې کولو لپاره ګام پورته کړي. کله چې هغه وګړی چې د بدلونونو راوستلو هڅه کوي، انتقال شي، دولت په نورو ځایونو کې د خدمت کولو بل فرصت نه ورکوي او د هغه تقاعد هم سوځیږي. له همدې امله، سره له دې چې ډېر وګړي شته چې د فساد بندول غواړي، خو هغوی د دولت له کمزوري سیستم څخه ویریږي."*

له همدې امله، کافي نه ده چې یواځې ریښتیني فردي بیوروکراتان موجود سیستم ته راوستل شي. هغه وګړي چې یو لرلید ولري او پاک وي، د خپلو مشرانو له لوري یې باید ملاتړ وشي. دا په بشپړ ډول د رهبري یوه ستونزه ده چې د پوهنې وزارت او په حقیقت کې د افغان دولت ټولې اداري باید ورسره مخ شي.

### *کمزوري اړیکي*

اړینه نه ده چې د پوهنې د ونډه والو تر منځ وېشني دې ارادي وي او ښایي د کمزورو اړیکو له امله وي. په هر صورت، ارادي وي او که نه، د اړیکو د نشت له امله رامنځ ته شوې وېشني د ښوونځي د ټولني په کچه د فساد لامل کېدلای شي او دا د ټولني د غړو او د هغوی د ښوونځیو تر منځ د مثبتې ښکیلتیا خلاف پایلې لري.

دلته تر ټولو سترو ننګونو څخه یوه دا ده چې ښوونځي له والدینو او د ټولني له نورو غړو سره په ښه ډول خبري اترې نه کوي. د بېلګې په ډول، د یوه ښوونځي د ټولني والدینو چې د وزارت په کچه د اداري فساد زیان منني ارزونې لپاره ورسره مرکه شوې وه، وویل چې هغوی هیڅ معلومات او پوهاوی نه لري چې د هغوی د ماشومانو ښوونځی څه ډول اداره کیږي، بودیجه یې څه ډول ده او رسمي نصاب یې څنګه دی. په حقیقت کې، هغوی وویل

لومړی ځل و چې هغوی ښوونځي ته بلل شوي وو چېد وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزونې د ډله ييز بحث په خبرو اترو کې ګډون وکړي.

په نورو ښوونځيو او ولايتونو کې والدينو هم همدې ته ورته اندېښنې وښودلې. د ښوونځيو او والدينو تر منځ د اړيکو دغه نه شتون د دې لامل کيږي چې والدين د ښکيلتيا او ټولنې د ښوونځيو د مالکيت احساس ونه لري. دا په دې معنا هم ده چې د ښوونځي د درسونو او د ښوونځي د مديريت په اړه والدينو ته د معلوماتو نه شتون هغوی ته ستونزمنوي چې اداري فساد ونندکوي او د ښوونځي واکمن، د ولسوالی، ولايت او په ملي کچه د پوهنې واکمن، مسئول وګڼي.

## 12.1 د پوهنې رياستونه

د افغان دولت د ټولو وزارتونو په څېر، د پوهنې وزارت په لوړه کچه مرکزي شوی اداره ده او په دوديزه توګه له ډېر زړه نازړه توب سره يې ولايتونو ته واک سپارلی دی. د ولايت د پوهنې رئيس بست په لوړه کچه سياسي منصب دی چې په کابل کې د پوهنې وزارت دننه او سيمه ييز سياستوال يې په نيولو کې سيالي کوي. د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزونې ټيم په عمل کې وليدل چې د يوه رئيس نږدې ۹۰ سلنه وخت د بشري سرچينو پر موضوعاتو تېرېږي او اغېزمنې اړيکې جوړوي او په ولايت کې د پوهنې رياست اړونده بستونو د پلورلو سوداګريزې معاملې کوي. رئيسان ډېری مهال اړينه ګڼي چې د کارکوونکو د مديريت په بې ګټې کارونو کې لاسوهنه وکړي. د خپلوان پالنې، ملاتړ او ګمارنو تر منځ د اړيکې د له منځه وړلو په يوه هڅه کې اعلان شوی چې د پوهنې رياست ګمارنې به د وړوالي پر بنسټ په جدي ډول د پايلو لپاره د ظرفيت لوړولو تر پروسې لاندې ترسره کيږي. تر نن ورځې پوازې لږ شمېر ګمارنې د پايلو لپاره د ظرفيت لوړولو تر پروسې لاندې ترسره شوي دي.

د رياستونو اداري جوړښتونه د تدوين شوو مسووليتونو ننګونې ته د ځواب ويلو په برخه کې د هغوی ظرفيت او وړتيا له مخې په ستره کچه توپير لري. د دې تر شا دا واقعيت پروت دی چې د کارکوونکو ګمارنه د ښوونځيو، ښوونکو او څارونکو د رېښتيني شمېرې پر ځای د اداري وېش پر بنسټ ترسره کيږي. د بېلګې په ډول، په يوه ولايت کې يو رياست، چې د شاوخوا ۱۸۰۰۰ کارکوونکو اداري مسووليت پر غاړه لري، په همغه شمېره اداري کارکوونکي لري چې د ۳۰۰۰ کارکوونکو اداري مسووليت درلودونکی بل ولايت يې لري.

د پوهنې دريم ملي ستراتيژيک پلان او د ولسي تړون د ملي لومړيتوب نوي پروګرام (CCNPP) د وړاندوينې له مخې هغه پراخ شوی رول او ستر مسووليتونه چې ولايتونه به يې ولريد ولايتي کارکوونکو د ګمارنې د پاليسي يوې بياکتنې ته به اړتيا ولري. دا به د دې لپاره اړينه وي چې د ټولنې پياوړي کول تسهيل کړي او هغه ټولنيز مسووليت اخيستنې ته وده ورکړي چې د ټولنې پرمختياييشوراګانو له لارې يې منځګړتوب شوی دی. د دغه ټولنيز مسووليت اخيستنې هر کلی شوی دی او بايد ځينې ناوړه افراط او په اوسني سيستم کې څرګندې ناوړه ګټې اخيستنې ته ځواب ووايي. د بېلګې په ډول، د ښوونځي د يوې ټولنې والدينو هغه کيسې يادې کړې چې د پوهنې رياست ځينې غړو ښځينه زده کوونکي او نوې بريالۍ شوې ښځينه ښوونکې د لوړو نومرو ورکولو يا د ښوونې بستونو ترلاسه کولو په بدل کې جنسي اړيکو درلودلو ته مجبورې کړې وې.

دا څرګنده ده چې په تاريخي توګه د پوهنې رياست بستونه د ناز او انډيوالۍ پر بنسټ ورکړل شوي دي او په لوړه کچه سياسي جنبه لري، څکه نو د پوهنې د کار له نمونو سره يو ځای له والدينو څخه د پوهنې د خدمتونو د وروستيو کاروونکو په توګه د خپلو ماشومانو په استازيتوب هم ډېر شمير رايي اخيستل کيږي. په تيوري کې، رئيس د پوهنې وزير ته مسئول دی. په ډېرو ولايتونو کې، د والي ګټې بايد د ملاتړ شبکې دننه، چې په ولايتي کچه موجوده وي، په څرګند ډول په پام کې ونيول شي. په عمل کې، د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزونې ساحوي څېړنې وښودله چې د پوهنې رئيس د وخت ډېره برخه د پيشنهادونو/ پوښتنو په ځوابولو او د ښوونکو د ګمارنې اړوند چارو باندې تيريږي، د ښوونکو د ګمارنې چاره بايد له منطقي لحاظه د ولايت د ډېرو کوچنيو مامورينو له لوري پر مخ يووړل شي. دا د ښوونکو د ګمارنې په پروسه کې د فساد د شتون يو ثبوت دی چې د پوهنې ډېر رئيسان د ګمارنې په پروسه کې ډېره دلچسپي لري.

## د پوهنې رياست له لوري څارنه

له دې امله چې ولايتونو لپاره بېلې شوې بوديجې ډېرې محدودې دي، د پوهنې د رئيس پر ظرفيت جدي محدوديتونه شته چې په ولسواليو او ښوونځيو کې د عملياتو څارنه وکړي. له دې پرته، د پوهنې رياست، ښوونځيو ته د ښوونې او زده کړې د موادو د انتقالولو لپاره کومه بوديجه نه لري. دا په دې معنا چې ښوونکي او د ښوونځي مديران بايد ډېرى مهال پخپل لګښت د دغو توکو ترلاسه کولو لپاره ترتيبات ونيسي. د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزونې ټيم ته راپور ورکړل شو چې ځينې وختونه کله چې څارونکي له ولايت يا ولسوالى څخه رځي، د ترانسپورټ د لګښتونو ورکولو لپاره د ښوونځيو له ادارو څخه د يو شمېر پيسو تمه لري، چې دا کار يې خپلواکي په ځرګند ډول له خطر سره مخ کوي. په پايله کې، د ښوونځيو د ارزونو دقت او صداقت هم د فساد قرباني دی.

## 12.2 د ولسوالى د پوهنې مديريتونه

د ولسوالى د پوهنې مديريت رول دا دی چې تر يو کچې په نومورې ولسوالى کې د کړنو څارنه او ارزونه وکړي. سره له دې، د ولسوالى د پوهنې په مديريتونو کې د وزارت پر کارکوونکو دعوه کيږي چې له خپلو منصبونو او واک څخه يې د شخصي ګټو ترلاسه کولو لپاره ناوړه ګټه اخيستې ده. د بېلګې په ډول، ځينې ښوونکو وويل چې د هغوی په معاشونو کې له کومې تشريح ورکولو پرته لاسوهنه شوې ده. يوه ښوونکي د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزونې ټيم ته ووېل چې د ولسوالى د پوهنې مدير د ښوونکو له معاشاتو څخه ۴۰۰ افغانۍ له کوم لامل پرته وګرځولې او پر ښوونکو يې د شکايت نه کولو لپاره فشار اچولی و.

داسې ډېرې لارې چارې شته چې د ولسوالى د پوهنې مديريت کارکوونکي يې د ښوونځي د مديرانو د مسلکي توب د پياوړتيا لپاره کارولی شي. يوه ښوونکي ووېل چې د هغه د ښوونځي مدير په مياشت کې د يوې يا دوو ورځو لپاره ښوونځي ته حاضريږي. د همدې ولايت يوې ډلې والدينو همدا راز ووېل چې د هغوی د ماشومانو د ښوونځي مدير او همدا راز د ښوونځي ډېر ښوونکي ډېری مهال غيرحاضر وي. په نومورې ولايت کې د ښوونځي يوه مفتش همدا راز راپور ورکړ چې د پوهنې وزارت ډېر کارکوونکي خپلو دندو ته ډېری مهال نه حاضريږي. د څارنې او حساب ورکونې عمومي کمښت په دغو ټولو بېلګو کې د يوې شريکې ځانګړتيا په توګه وليدل شو. کله چې د زده کوونکو يوه ټولنه وينې چې دغه ډول کړنه زغمل کيږي، هغوی پوهيږي چې سيستم سره چل او دوکه کېدلی شي او دا ډېری مهال د هغوی پخپل کردار کې منعکس کيږي.

## 12.3 د ټولنې پراختيايي شوراګانې

په عمل کې د ټولنې پراختيايي شوراګانو او ولايتي ادارو تر منځ، چې ډېری مهال د ټولنې پراختيايي شوراګانو له کړنو څخه خبر نه وي، کمزورې همغږي موجوده وي. په حقيقت کې، د ټولنې پراختيايي شوراګانې پخپله د هغوی په ټولنو کې د ښوونځيو له کړنو څخه په کافي کچه خبر نه وي. د بېلګې په ډول، په يوه ولايت کې د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزونې ساحوي ټيم غړي ته د نجونو په يوې سيمه ييزې لېسې کې د يوې ستونزې په اړه ويل شوي وو چېرې چې يوه پراختيايي همکار ۵۰۰۰ امريکايي ډالر خيرات ورکړی و. دغه بسپنه د دې لپاره ورکړل شوې وه چې د ټولنې د پراختيايي شورا له لارې ښوونځی وده وکړي، خو د ادعا له مخې نومورې پيسې هېڅکله هغه ښوونځي ته ونه رسېدلې. کله چې د ولسوالى د پوهنې د مدير او د نومورې ښوونځي د مدير تر منځ ليدنه چمتو شوه، آن د ولسوالى د پوهنې مدير له نومورې بسپنې څخه خبر نه و. د ښکيلتيا د دغه نشتوالي او کمزورو اړيکو پايله د يوه واټن رامنځ ته کېدل وو چې په اسانۍ سره يې د بسپنې ورکېدلو ته اجازه ورکړه.

داسې ويل کيږي چې دغه بېلګه د ولايت په دغې ولسوالى کې د فساد له ډېرو نمونو څخه يوه وه. د ښوونځي شورا سمبوليکه ګڼل شوې وه چې د ښوونځي پر اغېزمنوونکو ستونزو يې کوم تاثير نه درلو، په بله وينا خيالي شورا وه. په عمومي توګه، د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزونې موندنو له دغې بېلګې سره موافقه درلوده او شوراګانو او د ټولنې پراختيايي شورا ته په معموليډول داسې کتل کيدل چې د کليوالو سيمو په پرتله يې په ښاري چاپيريالونو کې ډېره اغېزه درلوده؛ په کليوالو سيمو کې د وګړو ډېره برخه بې سواده وي او د استازيتوب له ديموکراسۍ محدوده لومړی-لاس تجربه لري.

## 12.4 والدین او د ښوونځي شوراګاني

والدین، کورنۍ او د ښوونځي شوراګاني ډېری مهال د خپلو ټولنو د ښوونځیو د پوهاوي، مدیریت او ملاتړ په برخه کې پوهه او ظرفیتونه نه لري. دا یوه داسې ستونزه ده چې د ولسي تړون د ملي لومړیتوب پروګرام د هغو تسهیلوونکو شریکوالو له لوري ورته باید ځواب وویل شي چې د ټولنې تر پراختیایي شورا او کلستر پراختیایي شوراګانو لاندې د پوهنې د فرعي کمېټو د روزنې مسوولیت به پر غاړه ولري ځو په راتلونکو کلونو کې په ټول افغانستان کې د پوهنې د کیفیت څارنه وکړي. د ولسي تړون د ملي لومړیتوب پروګرام له پرمختګ او درکسره همدې ته ورته ستونزې د روغتیا په ګډون د نورو سکتورونو اړوند هم راپورته شوې وې.

د بېلګې په ډول، د ښوونځیو ښېلا ښلو شوراګانو د پوهنې په تړاو د خپل رول او مسوولیتونو په اړه د مبهم والي څرګندونه وکړه. ډېرو والدینو او کورنیو همدا راز د خپلو ټولنو د ښوونځیو او په ټولیز ډول د پوهنې د سیستم په اړه محدود پوهاوی درلود. دغه ټول، ټولنو لپاره د پیاوړتیا له نه شتون او د خپلو ښوونځیو د مالکیت د محدود ظرفیت درلودلو څخه سرچینه اخلي. له دې سره د پوهنې داسې یو سیستم یو ځای کیږي چې روڼتیا پکې نشته او له لوړو کچو څخه پرېکړې پکې – چې د ښوونځیو ټولنې لکه د ښوونکو ګمارنه او د درسي کتابونو چمتو والی اغېزمنوي – په ډېره کمه کچه تشریح کیږي یا بحث وربانديې کیږي او که چېرې د ښوونځي د ټولنې په کچه وربانديې پوهاوی وشي، یا ډېر اختیاري او یا هم ډېر مفسد ښکاري.

د ښوونځیو ټولنې، په ځانګړي ډول هغه چې په لرې پرتو یا هغو سیمو کې وي چې لاسرسی ورته سخت وي، په داسې یوه سیستم کې بندي دي چې یو لوري ته په لوړه کچه مرکزي شوی، نه بدلېدونکی او میراثي دي او بل لوري ته دا ظرفیت نه لري چې د هېواد ډېرو برخو کې مناسبه څارنه او ملاتړ چمتو کړي.

*د ښوونځي د ټولنې او همدا راز د سیستم په نورو کچو کلیدي ونډه والو ته پیاوړتیا نه ورکول کیږي چې اداري فساد ونګوي او مثبت بدلونونه رامنځ ته کړي. د وزارت په کچه د اداري فساد زیان منني ارزونې په جریان کې د هغو ډېرو ښوونځیو- چې مشوره ورسره شوې وه – مدیرانو او سرښوونکو خپله غوسه څرګنده کړه چې د کمزورو ښوونکو د نظم او یا لرې کولو واک نه لري. په دې کې د هغو ښوونکو په اړه د کوم څه کولو وړتیا نه درلودل هم ګډون لري چې د اړونده مضمون په اړه پوهاوی او د ښوونې ظرفیت نه لري؛ هغه ښوونکي چې په فزیکي او شفاهي توګه ړټونکي او د زده کوونکو او نورو ښوونکو تهدیدوونکي وي؛ هغه ښوونکي چې له زده کوونکو څخه پیسې شکوي یا زده کوونکي په خپلو کورونو او پټیو کې کار کولو ته مجبوروي؛ هغه ښوونکي چې د ښوونې وړتیا نه لري، ډېری وختونه په ټولګي کې حاضر نه وي او که حاضر هم وي،ښکیل نه وي.*

د دې تر څنګ، مدیران او سرښوونکي، ښوونځیو ته د اړینو ښوونکو په ګمارنه کې محدود واک لري. د دې پایله دا کیږي، چې په ښوونځیو کې ډېری مهال هغه ښوونکي کم وي چې اړونده پیداګوژیکي مهارتونه او د مضمون په اړه پوهه ولري ځو معیاري ښوونه وکړي او رسمي نصاب په کافي کچه تر پوښښ لاندې راولي.

# 13. د پوهنې معلوماتي سیستم (EMIS)

د پوهنې پلان جوړونې لپاره د نوم لیکنې دقیق معلومات اساسي دي. په تېره لسیزه کې، د پوهنې وزارت له نړیوال بانک او نورو پراختیايي همکارانو سره په نږدې کار کولو په افغانستان کې د پوهنې د یوه فعاله معلوماتي سیستم په رامنځ ته کولو کې ډېر بریالی و،[86] خو د معلوماتو د دقت په اړه لا هم پوښتنې موجودې دي.

د پوهنې معلوماتي سیستم د اټکل له مخې په افغانستان کې شاوخوا ۱۶۰۰۰ ښوونځي موجود دي چې ۹,۲ میلیونه زده کوونکي پکې ثبت شوي دي. د کډوالۍ او له یوه ځایه بل ته د زده کوونکو لېږدېدلو له امله د دغې شمېرې تصدیقول ستونزمن دي ځکه چې ښوونځي باید هغه زده کوونکي د راتلونکو دوه کلونو لپاره وساتي چې په پرلپسې ډول غیر حاضر وي. دغه فرعي نفوس د اټکل له مخې ۲۰ سلنه کېږي.[87]

په داسي حال کې چې د پوهنې معلوماتي سیستم کې د معلوماتو کیفیت او اعتبار په تېرو کلونو کې غوره شوی ښودل کیږي، سیستم پر هغو معلوماتو تکیه کوي چې په یوه ښوونځي کې یا د سیمه ییزو مامورینو له لوري د ولسوالۍ په کچه راټول شوي او تائید شوي وي – له هغوی څخه ډېر یې مني چې مناسبه روزنه نه لري او ښوونځیو ته د ورتللو ظرفیت یې په جدي ډول محدود دی.

د امریکا متحده ایالتونو پراختیايي اداري [88] لپاره په یوه تازه څېړنه کې د معلوماتو د کیفیت تحلیل ترسره شوی و چې د پوهنې معلوماتي سیستم کې د معلوماتو دقت وازمویي. شمېرونکي په ټولو ۳۴ ولایتونو کې ۱۰۶۷ ښوونځیو (د ښوونځیو د ټولې شمېرې نږدې ۵ سلنه) ته استول شوي وو، چې په ښوونځیو کې په ریښتیني ډول په فزیکي توګه له موجودو زده کوونکو سره په پرتله د پوهنې معلوماتي سیستم کې د زده کوونکو او د کارکوونکو د شمېر دقت معلوم کړي. د څېړنې موندنو، چې د ۲۰۱۶ کال د اوړي په دوه میاشتو کې د ۷۸ شمېرونکو او ملاتړو کارکوونکو له لوري ترسره شوې وه، د پوهنې معلوماتي سیستم د ډېټا دقت په +/- ۱۲ سلنه کې تائید کړه. په نږدې هره قضیه کې، د پوهنې معلوماتي سیستم کې معلوماتو په ښوونځیو کې دننه د مشاهدو په پرتله ریښتیني شمېره زیاته ښودلې وه.

## 13.1 د ډېټا په داخلولو او تائیدولو کې ناسموالی

د پوهنې معلوماتي سیستم څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې پر وړاندې بله ننګونه د معلوماتو د داخلولو له نقطې څخه د زده کوونکو د شمېر باوري توب دی. د غیر باوري معلوماتو د پروسس کولو پر وخت مرکزي ډېټابیس ته دقیق معلومات داخلېدلی نه شي. څنګه چې د ساحوي شمېرنو د صداقت او باوري توب په اړه شکونه موجود دي، دغه کلیدي معلومات باید په سمه او خپلواکه توګه د ښوونځیو د یوې ملي احصایې له لارې تائید شي څو د لومړني او اساسي معلومات تائید کړي. د دقیقو معلوماتو نه شتون، خیالي ښوونکي، خیالي زده‌کوونکي او خیالي ښوونځي را منځ ته کړي دي.

د د پوهنې معلوماتي سیستم ریاست د معلوماتو تائید د ښوونځیو د پنځه سلني په نمونه کولو سره ترسره کوي. نوموړی ریاست د ښوونځیو په معلوماتو کې د شکونو او له تېرو کلونو سره د معلوماتو د توپیر د درلودلو پر بنسټ د معلوماتو د تائید لپاره ښوونځي غوره کوي.

د ځارنې او ارزونې په تحلیل کې د معلوماتو د دقت او صداقت پر وړاندې یو شمېر مشخصې ننګونې پېژندل شوې وې چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- ناخوندیتوب د شخصي معاینو لپاره د لاسرسي مخه نیسي،
- د معلوماتو د راټولونې فورمو په ډکولو کې د مسوولیت د احساس کموالی،
- فورمې پر وخت نه ډکول، او
- د ځینې ښوونځیو د موقعیتونو لیرې والی (د ټرانسپورټ نشتوالی، د ټرانسپورټ د تدارکاتو لګښتونه).

د څارنې ټیمونو (په ټول هېواد کې۴۵۰۰ وګړو) ومنله چې هغوی د معلوماتي تکنالوژۍ له وسایلو سره کافي بلدتیا نه لري، د معلوماتو د دقت او سموالي د بیا لیدلو پر مېتودولوژیو نه پوهېږي او له کوم تائید پرته د معلوماتو پر اصلي سرچینې (پخپله له ښوونځیو څخه راپورونه) تکیه کوي.

په ښوونځي کې معلومات له کتابي ریکارډونو (د ښوونکو ریکارډونه، د زده کوونکو عادي ریکارډونه او د ښوونځي د اسانتیاوو مشاهده کوونکي ریکارډونه)څخه ټولیږي؛ د ولایت په کچه، د پوهنې وزارت کارکوونکي محدود دي او په پایله کې یې د معلوماتو ریښتینولي په خطر کې وي. د امریکا متحده ایالتونو د پراختیایي اداری د ۲۰۱۷ کال د یوه راپور له مخې، "مامورین د خپلو نومونو په نه ښودلو سره د معلوماتو د کیفیت او پروسې د غوره والي لپاره د مهمو ننګونو په توګه د ولایت او په ځانګړي ډول د ولسوالی او ښوونځي په کچو د روزنې نه شتون او د ظرفیت واټنونه په ګوته کوي".[89]

په داسې حال کې چې د پوهنې معلوماتي سیستم ریاست کې د تخنیکي مرستې کارکوونکي د معلوماتو د مدیریت په برخه کې ماهر او تکړه دي، د پوهنې وزارت ډېری کارکوونکي په کافي کچه پوهه نه لري چې د پوهنې په مدیریت کې له معلوماتي ټکنالوژۍ څخه څه ډول ګټه واخلي. د څارنې او ارزونې کمیټې د مرکې د موندنو پر بنسټ، د پوهنې وزارت د معلوماتو ۲۰ بېلا بېل سیستمونه جوړ کړي دي. د ثبات او اتحاد اوسنې نه شتون ته په لیدلو، شونې ده چې معلومات له دغو سیستمونو څخه په یوه کې تازه شي، خو په نورو سیستمونو کې د یوه بدلون په توګه منعکس نه شي. دا په معلوماتو کې د توپیر او قوي بې ثباتۍ لپاره په بشپړ ډول لاره هواروي.

د څارنې او ارزونې ټیم وموندله چې په یوه ورکړل شوي ولایت کې د زده کوونکو او ښوونکو د شمېر اړوند د مختلفو ډیپارټمنټونو له لوري په چمتو شوو مجموعي معلوماتو کې ډېر توپیر موجود دی. د بېلګې په ډول، د پوهنې معلوماتي سیستم وايي چې د ۱۳۹۴ (۲۰۱۵) کال په اوږدو کې په یوه ولایت کې د زده کوونکو شمېر ۷۲۶,۲۶۶ تنه ثبت شوي زده کوونکي وو، په داسې حال کې چې د ثبت او اداینې ډیپارټمنټ په همدې کال کې دغه شمېره ۷۲۳,۴۹۷ ښودلې وه. د پوهنې معلوماتي سیستم مطابق په نوموړي ولایت کې د ښوونکو شمېر په دې ډول و: ۱۴,۷۹۱ تنه په ۱۳۹۴ کال کې، په داسې حال کې چې د ثبت او اداینې ډیپارټمنټ دغه شمېره ۱۴,۴۱۳ تنه ښوونکي ښودلې وه، د مالیې ډیپارټمنټ ۱۴,۱۰۹ تنه او د پوهنې رئیس په وینا نوموړې شمېره ۱۴,۲۶۰ وه. د دغه ځانګړي ولایت په قضیه کې، هغوی له ۱۳۹۲ (۲۰۱۱) کال راهیسې نوي ښوونکي ګومارلي نه وو. دغه توپیرونه په څرګند ډول د خیالي ادارو د تورونو خطرونه لا پسې زیاتوي.

## 13.2 په هغو ښوونځیو کې چې د څارنې او ارزونې کمیټې ورڅخه لیدنه کړې وه د پوهنې معلوماتي سیستم د مالوماتو د نمونې ازموینه

د دې څېړنې لپاره د معلوماتو راټولولو د تجربې د یوې برخې په توګه، له ښوونځیو څخه د لیدنې پر مهال، د ارزونې ټیم د ښوونځیو د نوم لیکنې او حاضرې معلومات د ښوونځیو له مدیرانو څخه راټول کړل. د څارنې او ارزونې کمیټې له لوري راټول شوي معلومات بیا د پوهنې معلوماتي سیستم له شمېرو سره د هر ښوونځي په اساس پرتله شول (پایلې یې په ځلورمه ضمیمه کې وګورئ). د هغو ښوونځیو شمېر چې معلومات ترې راټول شوي وو ۱۰۷ و، خو د پوهنې معلوماتي سیستم کې (د نوم لیکنې لپاره) یواځې د ۹۷ ښوونځیو معلومات او (د حاضرې لپاره) یواځې د ۸۸ ښوونځیو معلومات موجود وو. یاده ډیټا د تیرو ځلورو کلونو په اړه ځکه د اوسنې کال معلومات د څېړنې پر مهال (سرطان ۱۳۹۶) لا موجود نه وو.

## نوم لیکنه

کله چي په یادو ۹۳ ښوونځیو کې د تیر ځلور کلونو په ترځ کې د زده کوونکو د نوم لیکنې شمیرې د پوهنې معلوماتي سیستم ډیټا سره پرتله شوې، معلومه شوه چې د پوهنې معلوماتي سیستم شمیرې سمې دي.

| شرح | کال 1392 | کال 1393 | کال 1394 | کال 1395 |
|---|---|---|---|---|
| **د هغه فیصدی اوسط چې پر بنسټ یې د پوهنې معلوماتي سیستم د نوم لیکنې له شمیرو ډیر تخمین کړی دی.** | **2%** | **2%** | **-2%** | **1%** |

دا موندنه ښیي چې د پوهنې معلوماتي سیستم د بهبود لپاره د پوهنې وزارت دوروستیو کلونو هڅو یو څه نتیجه ورکړې ده.

**حاضري**

خو کله چې د نوم لیکنې نه، بلکې د حاضرۍ واقعي ډیټا کارول شوې ده، پایله یې په لویه کچه بل ډول وه. اوس د پوهنې معلوماتي سیستم د حاضرۍ معلومات تر ۲۳ فیصده لوړه تخمین کوي، پداسې حال کې چې د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۵ کال تر منځ ستر توپیر نه لیدل کیږي.

| شرح | کال 1392 | کال 1393 | کال 1394 | کال 1395 |
|---|---|---|---|---|
| **د هغه فیصدی اوسط چې پر بنسټ یې د پوهنې معلوماتي سیستم د حاضرۍ له شمیرو ډیر تخمین کړی دی (۸۸ ښوونځي).** | **24%** | **24%** | **21%** | **25%** |
| **د څلور کلونو لپاره اوسط** | **23%** | | | |

تفصیلي نتایج په څلورمه ضمیمه کې وړاندې شوي دي.

## 13.3 د پوهنې وزارت کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په کارونه کې کمزوري مهارتونه

د اداري کارونو او د معلوماتو مدیریت لپاره د معلوماتي ټکنالوژۍ کارول په اداري سیستمونو کې لا ډیره روڼتیا او دقت را منځ ته کوي. په هغه ځایونو کې چې خلک د ټکنالوژۍ پر کارولو پوهیږي او باور وربانديې کوي، رسمي دندې په اغېزمن ډول پلي کیږي. د پوهنې وزارت کې، ډیرو ځواب ویونکو راپور ورکړ چې د وزارت په ادارو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ کاروني مهارتونه ډیر کمزوري دي. له دې پرته، ډیر کارکوونکي د معلوماتي ټکنالوژۍ د سیستم یا ډیټابیس په برخه کې د خپلې پوهې او مهارتونو له ښه کولو سره علاقه نه لري او نه هم ورته د دغو وړتیاوو او مهارتونو لوړول اړین ګڼل کیږي. د پوهنې معلوماتي سیستم د ډیپارټمنټ له کارکوونکو سره د مرکو په جریان کې یو تکراري شکایت دا و چې په وزارت کې ډیر خلک په دې باور دي چې هغوی ډیر زاړه او د خدمت موده یې ډیره اوږده ده چې د معلوماتي ټکنالوژۍ پر زده کولو ځان وکړوي. د پوهنې معلوماتي سیستم کارکوونکو راپور ورکړ چې د پوهنې وزارت ډیر زاړه همکاران، معلوماتي ټکنالوژۍ ته یوازې په سمبولیکه بڼه ګوري او دا چې اغېزمن معلوماتي سیستمونه به د هغوی رول له منځه یوسي (د معلوماتي ټکنالوژۍ د سیستمونو په کارولو کې د هغوی اراده او هڅونه کموي).

*”مونږ پر یوې پروژې د درې کلونو لپاره کار وکړ چې په وزارت کې پانګه ثبت او خوندي کړو. له هغه وروسته وپوهېدلو چې د دولت په تګلاره کې یوه ستونزه موجوده ده چې د بریښنایي لاسلیکونو اجازه نه ورکوي، نو په هغه ځای کې مو پروژه بنده کړه.“*
**د پوهنې په وزارت کې اداري مامور**

د پوهنې معلوماتي سیستم ډیپارټمنټ کې د پوهنې وزارت عملیاتي کارکوونکي نږدې ټول د پراختیایي همکارانو په مالي مرسته تخنیکي مرسته کوونکي دي. د پوهنې په وزارت کې تخنیکي مرسته کوونکي ډېری مهال د دولت له لوري د ګمارل شوو همکارانو په پرتله یې د لوړې کچې تخنیکي وړتیاوې لري، سره له دې چې هغوی په وزارت کې دننه د خپلو مهارتونو او وړتیاوو په انتقالولو کې لږ بریالي شوي دي. همدا راز د تخنیکي مرسته کوونکو او د پوهنې وزارت د نورو کارکوونکو تر منځ د معاشاتو د توپیر اړوند اندېښنې هم موجودې وې[90]. څنګه چې ښاغلی احمدي، چې په پوهنې وزارت کې د کارځای په زده کړه کې د خپلې دکتورا څېړنه ترسره کوي، وایي، ”هغه پراختیایي کارکوونکي چې د تخنیکي مرسته کوونکو په توګه یادیږي، نړیوال تمویلوونکي (IIEP او نړیوال بانک) یې معاشونه ورکوي. د دغو دوو ډلو تر منځ د معاشاتو ستر واټن موجود دی، چې له امله یې د هغوی تر منځ اندېښنې او د ملکي خدماتو کارکوونکو لپاره غوسه را منځ ته کیږي. دا د بشپړ وزارت، آن د افغانستان بشپړ دولت، لپاره یوه عمومي ستونزه ده. د ملکي خدماتو مامورینو باور درلود چې د معاشاتو دغه واټن مناسب نه دی. [91]”

د پوهنې وزارت کارکوونکو تر منځ د معلوماتي ټکنالوژۍ کاروني کمزوري مهارتونه اداري فساد ته لار هواروي ځکه چې د کاغذ پر بنسټ سیستمونو باندې ډېر زیات اعتماد کیږي چې د بریښنایي ریکارډونو په پرتله په ډېری اسانۍ سره پکې دوکه او غلطي کېدلی شي. په کابل او ولایتونو دواړو کې د پوهنې وزارت په ټولو ډیپارټمنټونو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ کاروني ظرفیت کمزوری دی. د دغه پوهاوي د کچو په ګډون چې معلوماتي ټکنالوژي په اغېزمنه توګه څنګه وکارول شي، داسې ولیدل شول چې د معلوماتي ټکنالوژۍ کاروني وړتیا په ولایتونو کې په پراخه کچه توپیر درلود.

د دغه حالت لاملونه ډېر دي؛ د بېلګې په ډول، ځینې لرې پراته ولایتونه له سترو ښارونو څخه په کافي کچه واټن لري او ولسوالۍ او کلي یې د دولت تر کنټرول لاندې نه دي. د پوهنې وزارت نه شي کولی چې د خپلو کارکوونکو وړتیا ته وده ورکړي او اسانتیاوې ورته چمتو کړي؛ په ډېرو ولایتونو کې هغوی بریښنا ته د باور وړ لاسرسی نه لري څو په خپلو ډیپارټمنټونو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ له وسایلو څخه ګټه واخلي. د سند ورکولو لپاره د یوه سیستم د رامنځ ته کولو له تازه پرمختګ سره سره، د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د پوهنې وزارت کارکوونکو کمزوری ظرفیت په دې معنا و چې نوموړی سیستم په اغېزمن ډول چلېدلی نه شي.

*”د پوهنې وزارت کارکوونکو د معلوماتي ټکنالوژۍ کاروني مهارتونه کمزوري دي، ډېر کارکوونکي د ورځنیو اړیکو لپاره بریښنالیک نه کاروي او د سیستم ډېره برخه د کاغذ پر مخ چلیږي.“*
**پخوانی دولتي مامور**

د پوهنې وزارت د ګمارنې په پروسو کې د دندو غوښتونکو لپاره اړینه نه ګڼل کیږي چې د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې باید تر یوې کچې پوهه ولري. ډېری مهال هغه خلک ګمارل کیږي چې د معلوماتي ټکنالوژۍ په سیستمونو نه پوهیږي په داسې حال کې چې په دغه برخه کې ماهر او پوهه افراد له پامه غورځول کیږي.

په ډېرو ښوونځیو کې، په ځانګړي ډول د ولسوالیو په کچه، د ریکارډ کولو لپاره کمپیوټري سیستمونه نشته. د زده کوونکو حاضري او د ښوونکو ورځنیو ثبتېدنو په ګډون، معلومات په بنسټیز ډول د کاغذ پر مخ لیکل کیږي. د راپور ورکولو سیستم، چې د پوهنې معلوماتي سیستم ورباندې ولاړ دی، بې اعتباره پاتې دی.

# 14. تدارکات

## 14.1 د رغوني په پروژو کې د کمزوريو کنټرولول

د ډيرو څرګندو پروژو، لکه د ښوونځيو نوې ودانۍ، چټکه او پر وخت سر ته رسونه د نړۍ په ډېرو بې ثباته برخو کې د ثبات د ډېرو نوښتونو يوه نښه ده. د ښوونځيو ودانۍ په ځانګړي ډول د خوښۍ وړ دي ځکه چې دا د ودې او عصري کېدنې له يو تر ټولو ډېرو پېژندل شوو علامو څخه د عامه ملاتړ څرګندونه کوي. سره لدې، د رغوني او بيا رغوني پروژې له خطر څخه ډکې وي ځکه چې توکو، موادو او وسايلو ته اړتيا لري، چې په بې ثباته چاپېريالونو کې د دې ټولو تعقيب ستونزمن دی.[92]

په لرې پرتو سيمو کې د کومې بلې زېربنا په څېر د ښوونځيو د ودانيو په پرمختګ کې زيانمن توب د ودانۍ د کيفيت څارنه ده. په لرې پرتو او له لاسرسي وتلو ځايونو کې، د ودې څارنه او د کيفيت تائيد دواړه اداري فساد ته جدي لاره هواروي. د افغانستان په تازه تاريخ کې، چې په ډېرو سکتورونو کې د زېربنا پروژو ته نړيواله پاملرنه اوښتې ده، له دغو خطرونو سره مقابله دوام لري.

د ښوونځيو ودانولو لپاره د تدارکاتو د سيستم له لارې د پيسو جريان اداري فساد ته لار اواروي.[93] د افغان اقتصاد دولت – مرکزي طبيعت، تدارکات په ځانګړي ډول حساس کوي، چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول ورباندې د ميليونونو وګړو معيشت متکي دی.

> *"يو قراردادي زما دفتر ته په داسې حال کې راغی چې په لاسي بکس کې ورسره ۲۰۰/۰۰۰ امريکايي ډالر موجود وو؛ ما د نغدو پيسو اخيستل رد کړل او زما ژوند تهديد شو."*
>
> **اداري مامور، د پوهنې وزارت**

د هغه مقدار په ليدلو سره چې د تدارکاتو په برخه کې مصرف شوي دي، د تدارکاتو د پروسې په هر پړاو کې، د اړتياوو له ارزوني څخه د قرارداد تر پلي کيدلو او څارنې پورې، فساد موجود دی. د اقتصادي همکارۍ او پراختيا لپاره اداري[94] مطابق، د هيوادونو د تدارکاتو له ۲۰ تر ۲۵ سلنه بوديجه د اداري فساد له امله ضايع کيږي او افغانستان يې يوه غوره بيلګه ده. آن د اړتياوو د ارزوني په پړاو کې، قوي مامورين ډېرى مهال د تدارکاتو په پروسه کې د خپلې اغيزې په کارولو سره په نامناسبه توګه لاسوهنه کوي څو د پروژې ډول، د ګټه وړونکو شمير، د پروژې موقعيت او پلان شوو سرکونو، ښوونځيو او نورو ته تغيير ورکړي او د خپل واک ساحو ته يې وليږدوي. دغه خطرونه د پوهنې سکتور ته بې ساري نه دي.

## 14.2 د بولۍ/داوطلبۍ په پړاو کې د روڼتيا نه شتون

په همدې ډول، د اعلانولو په پړاو کې، د افغانستان د تدارکاتو قانون له مخې بايد قرارداد د يوه ټاکلي وخت لپاره اعلان ته ورکړل شي. خو د پوهنې وزارت د تدارکاتو برخې له مامورينو سره د مرکو له مخې، اعلانونه ځينې وختونه د سيالۍ د محدودولو په موخه د يوه لنډ وخت لپاره ورکول کيږي. د اړتياوو د ارزونې له پړاو څخه وروسته، قوي مامورين لا هم د تدارکاتو کارکوونکي مجبورولی شي چې د قرارداد اړتياوې په داسې يوه طريقه رامنځ ته کړي چې د يوه مشخص داوطلب په ګټه تمام شي او د تر ټولو ډېر غوره داوطلب په پرتله يې د اداري د دننه معلوماتو او اغيزې له لارې ګټونکی شي. دا کار د پيسو د مقدار يا د يوه قرارداد د ارزښت په لوړولو سره کيدلی شي څو د هغو شرکتونو شمير محدود کړي چې د نومړې پروژې لپاره ډېر ظرفيت لري.



***په غزني ولایت کې لېسه***

د سیاسي اغیز لرونکو وګړو له لوري څرګند ه لاسوهنه ښایي د داوطلبۍ د پروسې د پرانیستنې له پړاو څخه هغه مهال پیل شي کله چې بیروني خلک خپل شرکتونه تر ټولو غوره مقام ته ورسوي. د بېلګې په ډول، د راپور له مخې د پارلمان غړو او نورو چارواکو د تدارکاتو ادارو ته خپل شخصي استازي استولي وو څو باوري کړي چې د هغوی د خوښې پایله ترلاسه شي. د پارلمان نور هغه غړي چې د دولتي قراردادونو غوښتونکي شرکتونه نه لري، د دلالانو په توګه شتمني ترلاسه کوي او د ادعا له مخې قراردادونه هغو شرکتونو ته ورکوي چې د دغه خدمت لپاره یې په ناقانونه ډول پیسې ورکړي وي.

هغو ډېرو لوړپوړو چارواکو چې د څارنې او ارزونې کمېټې له لوري ورسره مرکې ترسره شوې، وویل چې قراردادونه یا د بریالي داوطلب له لوري پر بل داوطلب پلورل شوي او یا هم د هغو ډېرو داوطلبانو تر منځ وېشل شوي دي چې د انحصار د برخې په توګه یې فعالیت درلود. د ګټو د ټکر[95] په اړه د څارنې او ارزونې د پخواني راپور مطابق، د تدارکاتو د ملي اداري یوه مامور وویل چې لومړنۍ ښوونځي چې په تیرو ۱۳ کلونو کې نږدې ۸۰ سلنه قراردادونه له فساد څخه اغیزمن وو. د وزارت په کچه د اداري فساد زیان منني ارزونې لپاره د څارنې او ارزونې کمېټې تازه موندنې/ مرکې د دغې ادعا تصدیق کوي.



*د نورو ډېرو په څېر، د ودانۍ نه درلودونکی دغه ښوونځی په بدخشان ولایت کې دی*

د وزارت په کچه د اداري فساد زیان منني دغه ارزونه ښيي چې د پوهنې وزارت د تدارکاتو په ریاست کې دننه د تدارکاتو دورې، د پلان جوړونې له پړاو څخه د پلي کېدو تر پړاو پورې، په لوړه کچه له اداري فساد سره مخ دي.

پروژې د پالیسیو او معیارونو پر بنسټ نه پلان کیږي د کوم له مخې چې ټول ولایتونه او ولسوالۍ باید د بیا رغونې پروژو ترلاسه کولو برابر فرصتونه ولري. د بیا رغونې پروژې، په ځانګړي ډول د ښوونځیو د ودانولو پروژې، د پالیسیو له مخې نه بلکې د سیاسي پرېکړو پر بنسټ ورکړل شوي دي. د راپور له مخې د پارلمان غړو د پوهنې وزارت د لومړیتوب په لست کې د خپلې خوښې پروژې ننویستلې دي او د ولایتونو، ولسوالیو او ښارونو تر منځ یې په پراختیایي پروژو کې یوه بې ثباتي/ نامتوازن توب رامنځ ته کړی دی. د بېلګې په ډول، یو ولایت د ۲۰۱۷ کال لپاره له ۱۵ څخه زیاتې د بیا رغونې پروژې لري په داسې حال کې چې بل ولایت ته یوازې یوه پروژه ورکړل شوې ده.

د پوهنې وزارت د تدارکاتو مامورینو ویل چې ټولنیز حالتونه د تدارکاتو پروسه اغیزمنوي. د شرکتونو ډېری درلودونکي بې سواده دي او د داوطلبۍ لپاره اړین شرایط لکه د کاري تجربې درلودل، پرمختللی مالي سیستم او دفتر درلودل او د داوطلبۍ په اسنادو کې په تشریح شوو نورو تخنیکي شرایطو برابرېدل، نه مراعتوي. بې سواده داوطلبان د تدارکاتو له ریاست څخه دوه مشخصې پوښتنې کوي: د داوطلبۍ نیټه څه ده او د ضمانت پیسو مقدار څومره دی. که دغه ډول یو شرکت د کمې تجربې یا د نورو شرایطو نه پوره کولو له امله له سیالۍ څخه ووځي او له امتیاز څخه بې برخې شي، هغوی په مستقیم ډول لویې څارنوالۍ ته شکایت کړی و چې هغوی ډېر ټیټ نرخ ورکړی و خو د پروژې لپاره ګټونکي نه شول.

له دې پرته، په ناامنه ولایتونو کې ښايي د پوهنې وزارت پروژو اغیزمنه څارنه ونه شي. کله چې د یوې پروژې څارنه ونه شي، دا پخپله اداري فساد او د خیالي ښوونځیو پنځولو ته لار هواروي. بله ستونزه چې فساد زېږوي، د ښوونځي د ودانۍ لپاره د ځمکې او ساحې د معیار په اړه سیمه ییز ټولنیز ټکر دی- له دې امله ښايي پروژو کې فساد رامنځ ته شي.

## 14.2 د ودانۍ په ډیزاین کې د نرمۍ نه شتون او د سیمه ییزو موادو کارونه

د پوهنې وزارت د کومو ټولنیزو یا جغرافیایي فکتورونو په نظر کې نیولو پرته د ټولو پروژو لپاره یو محدود سیټ معیاري ډیزاینونه چمتو کړي دي او دا د ډېرو ننګونو او اداري فساد ته د چمتووالي استازیتوب کوي. د بېلګې په ډول، په کابل کې د شپږو ټولګیو یوه ښوونځي لپاره د زېربنا نمونه او د پروژې بودیجه د پنجشیر یا نورستان ولایتونو په یوه لرې پرته ولسوالۍ کې د یوه ښوونځي له هغو سره یو ډول ده. شرکتونه په دقیق ډول د پروژې واقعي لګښتونه نه اټکل کوي. هغوی د داوطلبۍ ګټلو په موخه ډېر کم نرخ ورکوي او بیا د پروژې د پلي کولو په پړاو کې له ډېرو ننګونو سره مخ وي. په پایله کې، هغوی مجبور وي چې وزارت ته د ټیټ معیار کار وکړي، چې د ساحې پر انجینرانو د فشار اچولو خطر هم ورسره مل وي څو پر هغه کار د تائید لاسلیک وکړي چې په څرګند ډول یې کیفیت د موافقې پر خلاف ټیټ او کمزورۍ وي.

په دغو پروسو کې د پارلمان د غړو له لوري لاسوهنه د راپور له مخې پراخه ده. داسې ادعا کیږي چې د پارلمان غړي د پروژو لپاره د ځانګړو شرکتونو سپارښتنه کوي. که چیرې وزارت موافقه ونه کړي او غاړه کینږدي، د پارلمان غړی ښايي هڅه وکړي چې د دغې پروسې اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي او د ناسمو کړنو ادعا وکړي. د راپور له مخې د پارلمان غړي په پرلپسې توګه د تدارکاتو په پروسه کې لاسوهنه کوي څو خپلو شرکتونو یا هغو شرکتونو ته پروژې ترلاسه کړي چې ښې اړیکې ورسره لري.

د وزارت په کچه د اداري فساد زیان منونې ارزونې ټیم ته ویل شوي وو چې د تدارکاتو ریاست ځینې کارکوونکي ځینې مشخصو شرکتونو ته د پروژې په اړه معلومات، په ځانګړي ډول اټکل شوي لګښتونه، ورکوي. دغه ټیم ته همدا راز خبر ورکړل شوی و چې د پوهنې وزارت د تدارکاتو ریاست دننه ځینې وګړو ځینې مشخصو شرکتونو ته د پروژو ورکولو لپاره اړیکي جوړې کړي دي چې دا کار د اختلاس او ټګۍ لپاره فرصتونه پنځوي. د پوهنې وزارت دننه د یوه کلیدي ځواب ویونکي د ادعاوو له مخې، هلته یو داسې شرکت شته چې د یوه ولایت په مختلفو ولسوالیو کې د اړیکو او د داوطلبۍ په پروسه کې د تفصیلاتو د نامناسبې شریکونې پر مټ د لسګونو پروژو لپاره خپلې داوطلبۍ لري.

د پوهني وزارت له لوري ملاحظې سپارښتنه کوي چې له ۲۰۱۲ کال راهيسې معياري ډيزاين او د اټکل سيستم د نوموړي وزارت د ډيزاين انجينرانو له لوري بنه شوی دی او نوي ډيزاينونه او اټکل د ساحې، موقعيت او موادو پر بنسټ کيږي.

راټول شوي معلومات ښيي چې د تدارکاتو رياست د ۲۰۱۴ کال لپاره ۴۷ ميليونه امريکايي ډالره، ۲۰۱۵ کال لپاره ۲۲ ميليونه امريکايي ډالره او ۲۰۱۶ کال لپاره ۹۰ ميليونه امريکايي ډالره تدارکات کړي وو. په داسې حال کې چې مشاهده کوونکو په تدارکاتو کې د فساد پر خلاف کړنو په تړاو د تدارکاتو په رياست کې پر پرمختګونو خبرې کړې دي، خطر لا هم موجود دی. د کنترول په برخه کې د شته کمزوريو په پيژندنې سره، د تدارکاتو رياست واک درلود چې خپلې نهايي پرېکړې بيرته واخلي څو نوموړې کړنلارې اوس د تدارکاتو د ملي اداري تر څارنې لاندې بشپړې شي.

د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزوني ټيم د مشاهدو مطابق، د تدارکاتو رياست د هغه مهال وېش له مخې د پروژو تدارک نه دی کړی چې د تدارکاتو په قانون کې تشريح شوی دی: که چيرې يوه پروژه بيا اعلان تـه ورکړل شي، بايد په ۹۰ ورځو کې دننه بشپړه شي. په هر صورت، د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزوني ټيم تـه د هغو پروژو يو لست وښودل شو چې له ۸۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ ورځو راهيسې په تعليق کې دي. نوموړي ټيم د اسنادو په بياکتنه کې وليدل چې ۱۷۸ پروژې د پوهنې د کيفيت لوړاوي پروګرام EQUIP کې سلګونه ورځې پـه تعليق کې پاتې دي او ۱۷۰۰ پروژې بشپړې شوې نه دي. د وزارت ډېرو مامورينو ادعا درلوده چې هغوی ته دغه حالت د زغم وړ نه دی او ويې منله چې فساد ښايي د دغو ځنډېدنو ممکن لامل وي، خو تر دې دمه هيڅ شرکت جزايي شوی نـه دی.

## 14.3 د اداري فساد ټول خطرونه لا هم پاتې دي

- "د بوديجو (يوه برخه) بوديجه د تدارکاتو کارکوونکو ته ورکول کيږي، که داسې ونه شي د پروژو د پيل کيدو پروسه د تدارکاتو له لوري درول کيږي."
- "د تفتيش يوه کارکوونکي په مرکه کې تبصره کوله چې هغوی يواځې په يو ولايت کې د يونسيف ۲۲ خيالي پروژې وموندلې."
- "د ولايتي رياستونو تر منځ د ساختماني شرکتونو په تړاو فساد شته دی. ساختماني شرکت له ولايتي رييس سره معامله کوي او دا کار د پروژو په کيفيت منفي تاثير کوي."
- "پارلمان غړي ځيني پروژې له مالیي وزارت څخه اخلي، پداسې حال کې چې د ودانۍ جوړولو لپاره ځای نلري. بيا موږ د پارلمان غړو سره په لانجه کې لوېږو. همدارنګه پروژې په سمه توګه د ولايتي د اړتياوو په اساس نه پلان کيږي. ځيني ولايتونه ۲۰ پروژې لري، حال دا چې ځينې نو بيا يوه پروژه هم نلري."
- "د پوهنې وزارت لـه لوري د رغنيزو پروژو (د ښوونځي ودانۍ) د څـارنې او ارزونـې لپاره ګمـارل شوي انجينـران لـه پلـي کوونکو شرکتونو سره په اختلاس کې شريکيږي. دا انجينران د پروژو په نيمګړتياوو او کمزوري کيفيت خبر دي ځکه دوامداره څارنه کوي، خو له شرکتونو سره په اختلاس کې د شريکوالي له امله مثبت راپور ليکي.
- "د پارلمان غړي په تدارکاتو کې ډېره لاسوهنه کوي. هغوی د پروژو اخيستلو لپاره مشخص شرکتونو وړانديز کوي. د پارلمان غړي همدارنګه وزارت دې ته اړ باسي چې پروژې آن هغو شرکتونو ته ورکړي چې د شرايطو پوره کوونکي ندي. که وزارت د پارلمان د غړي شرکت يا هغه شرکت ته چې د پارلمان غړي معرفي کړی پروژه ورنکړي، نوموړی وکيل بل شرکت تـه د پروژې د پلي کولو اجازه نه ورکوي."
- "که څه هم د تدارکاتو رياست پروژې اعلانوي او د آفرونو غوښتنه کوي، کله د دې رياست ځيني کـارکوونکي د پروژې پـه اړه معلومات، په ځانګړې ډول تخمين شوی قيمت، شرکتونو ته افشا کوي."
- "هغه انجينران چې د څارنې او ارزونې برخه کې کار کوي فاسد دي. هغوی همدارنګه وړتيا نلري ځکه د شفافي، رقابتي او لياقت پر بنسټ پروسې څخه نه، بلکې د تحصيلاتو په پام کې نيولو څخه پرته د پيسو د ورکړې او نفوذ د کارولو له لارې ګمارل شوي دي. له همدې امله ډېر فساد موجود دی."
- "د تيرو ۱۵ کلونو په ترڅ کې د پوهنې وزارت د تدارکاتو رياست يواځې يو تن له دندې لرې کړل شوی دی."
- "هغه شرکتونه چې شرايط يې ندي پوره کړي هم د تدارکاتو پروسه کې ستونزې راولاړوي. د تدارکاتو قانو يا د داوطلبی اسنادو په اساس، شرکتونه بايد د داوطلبي پروسه کې د شامليدلو لپاره مشخص شرايط پوره کړي. خو واقعيت دا دی چې دا شرکتونه شرايط نه پوره کوي، هغوی ، د داوطلبی له تاريخ او ضمانت پرته، نور شرايط (لکه کـاري تجربه، دفتر، کـارکوونکي) پـه پـام کې نه نيسي. هغوی ټيټ نرخونه ورکوي او تمه لري چې قرارداد وګټي."

- "د 2012 کال راهیسي د معارف د کیفیت لوړاوي پروګرام (ایکویپ) پروژې خپله قرارداد کوي او څارنه يې کوي. تدارکات، د معمول په څېر، پروژې مشخصو کمپنیو ته ورکوي، له شرکتونو سره اختلاس کې شریکیږي، اسناد افشا کوي او د پروژې د ورکولو له امله له شرکت څخه د قرارداد یو فیصدي اخلي."
- "د مرکه ورکوونکي له لوري یو سند شریک شو چې ښيي چې ۱۱۳ پروژې له شاوخوا ۳ کلونو راهیسي ځنډیدلي دي. دلیل يې دا دی چې د تدارکاتو کارکوونکي غواړي له شرکتونو سره معامله وکړي او اختلاس کې شریک شي. د ایکویپ په وینا دا پروژې باید د ۲۰۱۷ کال له پای څخه مخکې قرارداد شي."
- "د بامیان ولایت ۶۲ پروژې یواځې یو شرکت سره قرارداد شوي دي. دا د تدارکاتو له لوري د یوه شرکت په ګټه د پروژو برابرولو او فساد په معنی ده."
- "د ایکویپ دریم جز چې د (ټولنیز خوځښت او پوهاوي) په نامه یادیږي تر ټولو فاسده برخه ده. پدې وروستیو کې د مکتبونو د شوراګانو نوی ریاست رامنځ ته شو. ایکویپ د مخه د ټولنیز همغږي کوونکي د ۸۰۰ بستونو منظوري له نړیوال بانک څخه اخیستي وه. نوموړي ریاست یاد کارکوونکي وګمارل او بیا يې د څلور میاشتو لپاره پریښودل. وروسته د شوراګانو ریاست له هر کارکوونکي څخه د ګمارل کیدلو په بدل کې د یو میاشت تنخوا غوښتنه وکړله. او یا یاد ریاست هڅه وکړله چې د پروژې ټوله بودیجه ولوټي. په پای کې نړیوال بانک یاد پروګرام لغو کړ او یواځې ۱۷۰ تنه، د هر ولایت لپاره دوه تنه، وګمارل شول."
- "د ښوونځیو لپاره د دوانیو کرایه کول د فساد پر وړاندې ډیر زیان منونکي دي. د داسې کورونو لیدل چې اصلي کرایه يې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ده خو د ښوونځي لپاره په ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ کرایه شوي دي، د پوهنې وزارت د بودیجې د لویې برخې د غلا معنی ورکوي."
- "د تدارکاتو قانون په خلاف سلګونه پروژې له درې کلونو راهیسې قرارداد شوې نه دي. یواځې د ایکویپ ۱۷۸ پروژې له میاشتو او کلونو راهیسې د تدارکاتو ریاست کې پاتې دي. د پوهنې وزارت کارکوونکي وایي چې ۹۸ فیصده پروژې تمدید کیږي، چې دا کار د تدارکاتو قانونه خلاف دی او د دې کار لپاره د وزارت له لوري هیڅ سزا نه ورکول کیږي، ځکه د وزارت لوړپوړي چارواکي د فساد برخه دي."
- "د رغنیزو پروژو لپاره د څارنې او ارزونې ځانګې د فساد برخه دي او هغوی په ساحه کې له شرکتونو سره جوړجاړی کوي. همدارنګه ویل شوي چې د تدارکاتو ریاست دننه د فساد قوي شبکه جوړه شوې چې پروې د یو بل په ګټه چمتو کوي."
- له قراردادیانو سره د ارتباط د محدودیت په اړه یوه مرکه ورکوونکي وویل، "هغوی سزا نشي ورکولی، پروژه لغو کولی نشي او نه د پروژو بودیجه درولی شي. د تدارکاتو او قراردادیانو یوه ګډه شبکه فساد کوي." (د ټایپولوژي دویم او دریم ډول)
- "د تدارکاتو کمیټه یا د داوطلبي د پرانیستنې کمیټه ډیر مهم رول لوري، چې فساد کې ښکیل دي. هغوی قراردادونه مشخصو شرکتونو ته ورکوي. هغوی د قرارداد ګټونکی اعلانوي خو تر هغه وخت پورې قرارداد نه لاسلیک کوي، چې خپله برخه فیصدي ترلاسه کړي."
- "کله نه چې زه د تدارکاتو ریاست ت راغلی یم، د دې ریاست په کړنو کې د پام وړ بهبود راغلی دی. مثلا، د تدارکاتو ریاست په کال ۱۳۹۳ کې ۴۷ میلیونه ډالر، په کال ۱۳۹۴ کې ۲۲ میلیونه ډالر او په کال ۱۳۹۵ کې ۹۰ میلیونه ډالر تدارکات ترسره کړي دي. په تیرو دوه درې کلونو کې د پام وړ بهبود تر سترګو کیږي."



***د غزني ولايت په جاغوري کې د هلکانو ښوونځی***

**د ملا نصرالدين جونګړه**

یوه بله بېلګه د یوه ښوونځي د شورا د یوه غړي له لورې داسې بیان شوه: *"زمونږ د ښوونځي ودانۍ د ملا نصرالدين د جونګړې په څېر ده." [نصرالدين، د ۱۳ مې پېړۍ ترکی ملا هوښيار ګڼل کېده، خو ځينې وختونه احمقانه او ټوکې و] "دا يوازې يو ديوال او يوه دروازه لري. زمونږ ښوونځي هم همداسې دي: مونږ دېوالونه لرو، خو کوټې او اوبه نشته. مونږ د ښوونځيو لپاره هېڅ ودانۍ نه لرو، خو هيله لرو چې ملت به مو يو باسواده ملت وي او زمونږ په ولسوالۍ کې، آن په لرې پرتو سيمو کې، نجونې ښوونځي ته تللی شي."*

## 15. ادواینه او د ریکارډ ساتنه

د راپور له مخې د پوهنې وزارت یوازې ۵۳ سلنه کارکوونکو ته د بانکي حسابونو له لارې معاشونه ورکول کیږي او ۴۷ سلنه نورو ته یې نغدې ورکول کیږي[96] .

په ولایتونو کې نغدې پیسې له مرکز څخه ولسوالیو او بیا هر ښوونځي ته انتقالیږي په داسې حال کې چې د پیسو د اداره کولو او نهایي ترلاسه کوونکو ته د وېشلو څارنه یې تر پوښتنې لاندې ده. د نغدو پیسو ساتنه د ټولو ګډونوالو لپاره د فساد خطرونه زیاتوي، د کارکوونکو د شخصیت د سپکاوي خطر لوړوي او د پوهنې وزارت له لوري په چیکونو کې د خیالي کارکوونکو د ساتلو د امکان مخنیوی نه کوي.

په هرات ولایت کې د پوهنې ریاست په دې ډاډمنولو کې په فوق العاده توګه بریالی و چې د پوهنې وزارت ټول ښوونکي اعتباري بانکي حسابونه ولري او د بانک له لارې ورته ادواینه کیږي. دغې سیستماتیکې طریقې د پر وخت ادواینو په بڼه والي کې مرسته کړې وه او هغه فساد یې کم کړی و چې د ډېرو پیسو په انتقالولو او په ډېرو وختونو کې د وېشلو پر مهال پېښیږي.

په هر صورت، بانکي حسابونو ته د معاشاتو استول به د اداري فساد خطرونه په بشپړ ډول له منځه یو نه سي. له ښوونکو څخه د بانک لګښتونه او د انتقالاتو فیسونه ګرځول کیږي او د وزارت په کچه د اداري فساد زیان منونې ارزونې ټیم ته په سیمه کې د یوه خزانه دار په اړه ویل شوي وو چې له هر ښوونکي څخه یې هره میاشت د ۲۰۰ افغانیو غوښتنه کړې وه. هغو ښوونکو چې معاشات یې بانکي حسابونو ته استول کیږي، ځینو یې بانک ته د لاسرسي په برخه کې د ستونزو یادونه وکړه، په ځانګړې ډول له اطرافي او لرې پرتو سیمو څخه باید تر ټولو نږدې بانک ته اوږد واټن سفر وکړي. دغه سیستم هم د زده کړې په چمتو والي اغېزه ښندي: په یوه ولایت کې ولیدل شول چې په ځینې مشخصو ولسوالیو کې ښوونځي په یوه عادي ورځ بند وي ځکه چې ښوونکي یې باید تر ټولو نږدې بانک ته ولاړ شي.

ټیم ته د ښوونکو له لوري د اضافي وخت کار په بدل کې د ګټل شوې ادواینې د قضیو په اړه خبر ورکړل شو، چې ادواینه یې ترلاسه کړې نه وه. د یوه ښوونځي شورا راپور ورکړ چې د ولسوالۍ د پوهنې مدیریت د هغوی په سیمه کې د څو کلونو لپاره د ټولنې د ښوونځي د اضافي وخت په پیسو کې اختلاس کړی دی. په یوه بله قضیه کې، د اضافي وخت ساعتونو او ادواینې باندې سرښوونکو د خپلو همکارانو په استازیتوب دعوه کړې ده. په یوه بل ولایت کې، ښوونکو راپور ورکړ چې هغوی د اضافي وخت پیسو ترلاسه کولو لپاره د مهال وېشونو د پروسس کولو لپاره د ۳۰۰۰ افغانیو (یا زیاتو) په ورکولو مجبور شوي وو.

د پوهنې وزارت باید د هرات ولایت د بېلګې په تعقیبولو سره د ښوونکو د معاشاتو ورکولو لپاره د برېښنایي ادواینې پلي کولو لپاره چټک کار وکړي.

### 15.1 د معلوماتو په تصدیقولو کې د کنترول کمزورتیاوو

له دې امله چې په ښوونځیو کې ریکارډ ساتنه لا هم د کاغذ پر مخ ده، د معلوماتو د تحریفولو او د ریکارډونو د تنظیمولو خطرونه موجود دي. ښوونکي په کتابچه کې د راتګ او تګ پر مهال لاسلیک کوي او تمه ورڅخه کیږي چې د خپلو درسونو یو ریکارډ وساتي، خو دغه کړنه په پرلپسې ډول نه تعقیبیږي. د کاغذ پر مخ حاضري تحریف کېدلی او بدلېدلی شي.

څنګه چې یې کنترول لپاره د معلوماتو راټولولو په برخه کې یادونه وشوه، د کاغذ پر مخ ریکارډونه د ښوونځي او ولسوالۍ په کچه بشپړ شوي دي او یوازې په ولایتي اداره کې معلومات په برېښنایي ډول سیستم ته داخل شوي دي. دا چې کنترول د شمیرونکو له لوري د معلوماتو تائید د پنځه سلنه ښوونځیو یوې نمونې پورې محدود دي، په ناسمه توګه د زده کوونکو د شمېرې را منځ ته کولو او د دروغجنو ادارو پنځولو لپاره پراخ امکان موجود دی.

## 15.2 خيالي ښوونځي، زده کوونکي، ښوونکي او پروګرامونه

ډېرو کليدي ځواب ويونکو کنترول ټيمونو ته په ساحه کې د جعلي ښوونځيو په اړه وويل چې زده کوونکي فارغوي او اسناد يې پروسس کوي. له **خيالي ښوونځيو** پرته د څارنې او ارزونې کميټې ټيمونو ته د **خيالي زده‌کوونکو** په اړه هم وويل شول. دا هغه زده کوونکي دي چې په تخنيکي ډول د ښوونځي په راجستر کې څرګنديږي، خو ټولګيو ته نه حاضريږي – د ادعا له مخې ځيني يې آن په افغانستان کې ژوند هم نه کوي. په دغه ډول حالتونو کې، زده کوونکي (يا د هغوی کورنۍ) د ښوونځي په راجستر کې د هغې د نومونو ساتلو لپاره پيسې ورکوي او هغوی ټولګيو ته نه حاضريږي. داسې راپور ورکړل شو چې په ځيني قضيو کې زده کوونکي د ازموينو او له ښوونځي څخه د فارغېدلو د اسنادو لپاره ادابنه کوي.

د سندونو ورکولو پروسه د يوه خطر او نااغېزمنتوب په توګه پاتې ده. کله چې يو زده کوونکی له ۱۲ ټولګي څخه فارغ شي، د ښوونځي مديران د نوموړي زده کوونکي لپاره د ۱۰، ۱۱ او ۱۲ ټولګيو نتايج چمتو کوي او په کابل کې د پوهنې وزارت د نتايجو او اسنادو په رياست کې د نتايجو څانګې ته يې استوي. د نتايجو ډيپارټمنټ يې د ټېرو دريو کلونو له نتايجو سره پرتله کوي او د همدې رياست د اسنادو څانګې ته يې استوي. د اسنادو څانګه پر شهادتنامه د تېرو دريو کلونو نتايج چاپ کوي او د لاسليک لپاره يې وزير ته استوي. کله چې وزير شهادتنامې لاسليک کړې، بېرته د اسنادو څانګې ته لېږل کيږي څو ښوونځي ته يې واستوي؛ له هغه وروسته يې ښوونځی اړونده زده کوونکي ته شهادتنامې ورکوي. د تائيد او شهادتنامو ورکولو بشپړه پروسه د کاغذ پر مخ ده او هېڅ برېښنايي بديل رامنځ ته شوی نه دی.

د پوهنې وزارت بايد چټک ګامونه پورته کړي چې د شهادتنامو د ورکولو او تائيد کولو پروسه برېښنايي کړي ځکه چې په اوسنۍ پروسه کې د دوکې او جعلکارۍ لپاره پراخه فرصتونه موجود دي.

## 15.3 د جعلي شهادتنامو ثبوت

د پوهنې وزارت د داخلي تفتيش رياست له لوري او همدا راز د رسنيو په راپوروونو کې جعلي شهادتنامې پېژندل شوې وې. په کابل کې د پوهنې وزارت له يوه لوړپوړي مامور سره د څارنې او ارزونې کميټې په يوه مرکه کې يې يوه بېلګه څرګنده شوې وه. هغه په کابل ښار کې يو مدير په ګوته کړ چې د نتايجو او شهادتنامو په رياست کې له ځينې کارکوونکو سره په ګډه د شهادتنامو په ورکولو کې يې لاس درلود.

> *"...مونږ شپږ وګړي وليدل چې جعلي شهادتنامې يې ترلاسه کړې وې او ځينې ډېرې بنسټيزې پوښتنې مو ورڅخه وکړې. هغوی آن يوه پوښتنه هم ځواب نه کړای شوه. مونږ په دې اړه مسوول معيين ته راپور ورکړ، خو هېڅ ګام پورته نه شو."*
> **د داخلي تفتيش په دفتر کې يو مامور**

نوموړی مدير بالاخره ونيول شو او د محاکمې لپاره لويې څارنوالۍ ته وپېژندل شو. هغه ونيول شو، خو وروسته بېرته خوشې شو او د خوشې کېدلو لامل يې څرګند نه شو. د پوهنې وزارت کارکوونکي، د ارزونې ټيم ته همدا راز د خپل يوه خپلوان په اړه وويل چې د ۱۲ ټولګي د يوې شهادتنامې غوښتلو لپاره يې ورڅخه مرسته غوښتې وه، خو هغه په ځواب کې ورته ويلي وو چې دا کار امکان نه لري. وروسته يې خپلوان ورته ويلي وو چې د ۱۰۰۰ امريکايي ډالرو په بدل کې يې شهادتنامه ترلاسه کړې ده.

### 15.4 د جعلي شهادتنامو د ورکولو امکان

د وزارت په کچه د اداري فساد زيان منني ارزوني ټيم د ډېرو خصوصي ښوونځيو او پوهنتونو په اړه واورېدل چې د پيسو په بدل کې شهادتنامې ورکوي او زده کوونکی اړ نه وي چې ټولګي ته حاضر شي يا ازموينه ورکړي. د ادعا له مخې د ښوونځيو مديران د جعلي شهادتنامو په ورکولو او د معلوماتو په تحريفولو کې ککړ دي. د جعلي شهادتنامو په ورکولو کې بل خطر د هغو زده کوونکو دی چې په نورو هېوادونو کې ښوونځي بشپړوي. په پاکستان او ايران کې د افغان کډوالو لپاره ښوونځي، د افغانستان سفارتونو يا قونسلګريو کې د پوهني وزارت آتشي ته نتايج استوي. د پوهني وزارت کارکوونکو ومنله چې د نوموړو استازو له لوري د تائيد او تصديق کار کمزوری او د اعتبار وړ نه دی.

د څارني او ارزوني کميټه سپارښتنه کوي چې د پوهني وزارت بايد د پاکستان او ايران له اسلامي مدرسو څخه راتلونکو زده کوونکو لپاره د ازموينې پروسه سخته کړي څو هغوی و نه شي کړای چې د پوهني وزارت کارکوونکو ته د رشوت په ورکولو سره په ازموينه کې بريالي شي. دا هغه مهال ترسره کېدلی شي چې د يوې بلې اداري له لوري د ازموينې اخيستل باوري شي.

# 16. څارنه، ارزونه او تفتيش

اوس مهال د پوهني وزارت د کار **کومه بيروني څارنه نشته**. د څارني او ارزوني او تفتيش واحدونه په واقعيت کې د پوهني وزارت برخه دي، نو په دې ډول نوموړی وزارت پخپله د خپل کار بياکتنه کوي. د بيروني څارني د نه شتون په صورت کې، مفسدو کړنو ته د پرمختګ او غوړېدلو اجازه ورکول کيږي او يوه ستره کمزوري ده.

په نړيواله کچه دا عادي چاره ده چې يوه بيروني اداره يا دريمه ډله دولت ته په مستقيم ډول د راپور ورکولو لپاره څارنه وکړي او د پوهني د خدمت ټول اړخونه وڅاري. د پوهني دغه ډول خپلواکه څارنه په ۱۹۹۳ کال کې په برتانيا کې پيل او د پوهني د معيارونو څارلو لپاره اداره (OFSTED) رامنځ ته شوه. دغه نمونه اغېزمنه او بريالۍ وه او اوس مهال د نړۍ په ډېرو برخو کې کاپي شوې ده. همدې ته ورته د بيروني څارني اداري په نورو سکتورونو کې هم موجودې دي چې کيفيت تعقيب کړي، د معيارونو مرسته وکړي او عامو وګړو ته، چې پر دغو خدماتو متکي وي، اطمينان ورکړي.

د کيفيت ډاډمنولو دغو خپلواکو ادارو په لومړي ګام کې د پوهني متخصصين د کارکوونکو په توګه درلودل او له دې قيموميت سره چې څېړنه وکړي چې په ښوونځيو کې څه پېښيږي او په هېواد کې د هر ښوونځی يې له ۴ څخه تر ۶ کلونو دورې پورې تفتيش وکړ. دغه نمونه په نړۍ کې د خپرېدلو او انتقالېدلو پر مهال لا ډېره پرمختللي شوه. د بېلګې په توګه، د خليج په ځينې هېوادونو کې د هر ښوونځي، خصوصي او دولتي، هر کال تفتيش کيږي. څنګه چې دغه اداري لا ډېرې پيچلي او له مهارتونو برخمني شوې، د هغوی قيموميت وغځېد، څو د پوهني د سيمه ييزو او ولايتي واکمنو او په ځينې قضيو کې د پوهني د بشپړ وزارت بيروني ارزوني او تفتيشونه هم پکې ګډون ولري.

د څارني او ارزوني کميټه د پوهني وزارت د څارني د کړنو د ډېر پياوړي کولو سپارښتنه کوي:

- د داخلي تفتيش د کړني پرلپسي پياوړي کول
- د پوهني وزارت د لوړې کچې د تفتيش کمېټي تاسيسول
- د تعليمي ادارو لپاره د اعتبار ورکولو د يوې خپلواکه ملي اداري تاسيسول چې دولتي او خصوصي ښوونځي دواړه اداره کړي.[97]
- د پوهني د کيفيت د څارني او ارزوني لپاره د يوې خپلواکه اداري تاسيسول. دغه اداره بايد د پوهني په وزارت کې دننه نه وي، خو له وزات سره بايد نږدې کار وکړي. دغه اداره بايد اوسنی داخلي ظرفيت په لاس کې واخلي او د کړنو، پياوړتياوو، کمزورتياوو او واټنونو په اړه راپور ورکړي څو په ښوونځيو کې تعليمي ستونزو باندې پوهاوی رامنځ ته او مسووليت يې واخيستل شي.
- د ښوونکو د ټاکنو د سپيڅلتيا لپاره د څارني يوه اداره



# درېیمه برخه

# د پرمختګ لار

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې
د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه

# 17. مثبتې نښې

د پوهنې وزارت کې د فساد ستونزه ډېره ژوره او له اوږدې مودې راهیسې د ریښو درلودونکې ده. په نورو وزارتونو کې د څارنې او ارزونې کمېټې د تحلیلونو پر خلاف، د مامورینو، ښوونکو، والدینو، زده کوونکو او نورو ونډه والو له لورې په مرکو کې غندنه نږدې عمومي وه. هغوی په وزارت کې د کوم پام وړ ارزښتمنو نوښتونو یادونه ونه کړه. له همدې امله، د څارنې او ارزونې کمېټې هڅه وکړه څو هغه ساحې مشخصې کړي چېرې چې د بدلون او سمون لپاره انرژي موجوده وي.

سره له دې، د څارنې او ارزونې کمېټې د مثبتو پرمختګونو په اړه وپوښتل او د یو شمېر نوښتونو په اړه یې واورېدل، چې لږ تر لږه په تیاره منظره کې روښانه ځراغونه وو. مونږ د پرمختګ لار بحث، په ښوونځیو، د فعالو ټولنو تر منځ، د تمویلوونکو په پروګرامونو، د ښځینه ښوونکو په روزنه، د دوه ولایتونو د پوهنې په ریاستونو او په پروژو کې د پوهنې له مثبتو نوښتونو سره پیلوو.

1. **د ښوونځي او ټولنې په کچه**

په ښوونځي کې او د ټولنې په کچه، مونږ ځیرنه وکړه او د فساد په وړاندې د ټولنو د مقاومت او ورته د مایل کېدنو په اړه پوښتنې وکړې. په عمل کې د دې معنا دا وه چې د څارنې او ارزونې کمېټې د ځیرنې ټیم د ښوونځي د ټولنې له غړو سره له فساد سره د مخ کېدلو پر مهال د هغوی د تعامل د تګلارو، د زده کړې په اړه د هغوی د مثبتو تجربو او دا چې د مخکې تګ لپاره کومې لارې غوره دي، مشوره وکړه. دغه موندنې په لاندې ډول تشریح شوي دي:

## بدیل ښوونځي – د ټولنې پر بنسټ پوهنه او خصوصي ښوونځي

- د څارنې او ارزونې کمېټې د تحلیل له مخې، په پوهنې کې یو له روښانه ساحو څخه د ټولنې پر بنسټ پوهنه ده. د ټولنې پر بنسټ ښوونځي چې د وزارت په کچه د اداري فساد د زیان منونې ارزونې برخې په توګه ارزول شوي وو، په عمومي ډول د کیفیت، اړوندتوب، انعطاف او د هغوی له لورې چمتو کېدونکې پوهې ته د لاسرسي له لحاظه، خپلو دولتي جوړو څخه غوره ګڼل شوي دي. دغه ښوونځي په نمونه یې ډول هغو ټولنو ته د خدمت کولو لپاره جوړ شوي دي چې دولتي ښوونځي ورته جوړ شوي نه وي او د خپل طبیعت له مخې د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ویونکي او د ټولنې پر ګډون او سرچینو متکي وي.
سره له دې چې ډېری مهال نادولتي موسسې ورسره مرسته کوي، د ټولنې پر بنسټ ښوونځي میلان لري چې د ټولنې ګډون او مسوولیت اخیستنې ته لومړیتوب ورکړي، چې دا د فساد د کچې کمولو لپاره کلیدي فکتورونه دي. په حقیقت کې، کله چې ټولنې د خپلو ښوونځیو د پرمختګ، ساتلو او ملاتړ کولو کې ستر مسوولیت ولري، د فساد را منځ ته کېدلو لپاره ډېر کم ځای پاتې کېږي. څنګه چې د یوې ولسوالۍ د پوهنې مدیر وویل "د ټولنې په ښوونځیو کې د ملکي وګړو دخالت د فساد د مخنیوي لپاره یوه ښه لاره ده."
- د ټولنې پر بنسټ پوهنې تر څنګ، د خصوصي ښوونځیو بیلا بېلو ډولونو ښودله چې ټولنو ته معیاري زده کړې ته لاسرسی چمتو کوي او له فساد سره مقاومت کوي. د ګټې لپاره خصوصي ښوونځیو او د ټیټ لګښت د ټولنې پر بنسټ ښوونځیو تر منځ باید توپیر وشي چې د خپلو والدینو/کورنیو په مالي ملاتړ مخکې ځي. دغه د ټیټ لګښت ښوونځي په نسبي ډول آن په لږ عاید ټولنو کې هم د لاسرسي وړ دي او ډېر چې د څارنې او ارزونې کمېټې د تحلیل په جریان کې ولیدل شول، ماشومانو او ځوانانو ته د زده کړې په چمتو کولو کې ډېر مشهور او بریالي وو. په ځینې ټولنو کې والدینو د خصوصي ښوونځیو په ډېره ګټه خبرې وکړې. د بېلګې په ډول، یوې ډلې والدینو وویل چې خصوصي ښوونځي په ځینې وختونو کې پر دولتي سکتور یو غوره والی و ځکه چې خصوصي ښوونځي توانېدلي وو چې هغه ځوان ښوونکي وګوماري چې د مثبتو روشونو درلودونکي وي او د ښوونې د نوښتګرو طریقو په اړه پوهه لري. څنګه چې دلته وړاندې بحث وشو، خصوصي ښوونځي باید له لوړ لګښت سره موازنه نه شي. یو شمېر خصوصي او د ټولنې پر بنسټ ښوونځي شته چې له مختلفو لارو یې مالي ملاتړ کېږي لکه نادولتي موسسې/نړیوالې نادولتي موسسې، عامه-خصوصي شراکت، پخپله ټولنې او/ یا د دغو یوه ګډوله یې مالي ملاتړ کوي.

## د شوراګانو او ښوونکو له لوري فعال رول په غاړه اخیستل

- کله چي د ښوونځيو شوراګاني فعالي او ګډون کوونکي وي، کولای شي چي په خپلو ټولنو کي پوهني ته په وده ورکولو او ملاتړ کولو کي ډېري اغېزمني وي. د یوه ښوونځي شورا تشرېح کړه چي هغوی په ګډ کار کولو او په خپلو ټولنو کي له والدینو سره په لیدنه څه ډول توانیدلي وو څو په بریالی توګه هغوی وهڅوي چي خپلې نجوني ښوونځي ته واستوي. په یوه بل ولایت کي، یوې ډلي ښوونکو د خپل ښوونځي د شورا له لوري په هغه قوي او مثبت رول لوبولو رڼا واچوله چي د ښوونځي د زېربنا اړینو پروژو لپاره یې مالي ملاتړ پیدا کړ او په ټولنه کي له کورنیو سره یې له نږدې کار وکړ چي نجونو ته ښوونځي ته لاسرسی تسهیل کړي. په همدې ډول، یوې ښوونکي وویل چي د هغې د ښوونځي شورا ښوونځي سره ډېره مرسته کړې ده لکه د څښاک لپاره پاکو اوبو ته لاسرسی او فرشونه یې ورته چمتو کړي وو.
- په خپلو ټولنو کي د ښوونځیو د شوراګانو وکالت، همکاري او همغږي کولی شي چي پوهني ته لاسرسی او کیفیت غوره او د فساد کچه ټیټه کړي. د ټولني د یو شمیر ونډه والو له لوري د ښوونکو د ګمارني په پروسه کي د ښوونځیو شوراګانو ته د ډېر واک ورکولو سپارښتنه شوې وه چي د هغوی په اند د اداري فساد کچه به ټیټه او روڼتیا او په ټولیزه توګه په پوهنه کي د ټولني ګډون به زیات کړي.

## مدني فکر لرونکي ښوونکي، په سیمه ییز ډول معاش ترلاسه کوونکي ښوونکي او داوطلبانه کار

- د ښوونځیو او والدینو/ کورنیو تر منځ د اړیکو د ښه کولو لپاره نورې لارې هم شته – ښوونکي کولی شي چي په دغو پروسو کي فعال رول ولوبوي. د بېلګي په ډول، په یوه ښوونځي کي ښوونکي وویل چي هغوی په اضطراري حالتونو کي د ټولني له غړو سره د مرستي کولو لپاره د پیسو راټولولو یو صندق ایښی دی. هغوی همدا راز وویل چي ښوونکو پیسې راټولي کړې څو له یوه زده کوونکي سره د تذکرې په اخیستلو کي مرسته وکړي او هغه ښوونځي ته حاضر شي. همدغه ښوونکو وویل چي هغوی د یوې معیوبې نجلی له پلار سره په لیدلو وتوانیدل چي په بازار کي یې ډوډۍ پلورله او هغه یې وهڅوه چي خپله لور ښوونځي ته واستوي او اوس نومورې نجلی په خپلو درسونو کي ښه پر مخ روانه ده.
- په ځيني ټولنو کي ولیدل شول چي د ښوونکو د نه شتون په صورت کي په ښوونځیو کي داوطلب ښوونکي کار کوي. په حقیقت کي، دغه داوطلبانه کړنه د ډېرو کمو سرچینو درلودونکو ښوونځیو لپاره یوه اړتیا ده. په ډېرو ټولنو کي کورنی او د ټولني نور غړي د خپلو ښوونځیو ساتلو او ورته د سرچینو چمتو کولو لپاره خپل وخت، زحمت او پیسي ورکوي. داسي یو احساس شته چي دغه داوطلبانه کړنه د دولت هغې بې کفایتی ته ځواب دی چي په مناسب ډول له ښوونځیو سره مرسته نه شي کولی. په هر صورت، د داوطلبانه کړني روحیه او په ښوونځیو کي د ټولني د غړو ونډه اخیستنه د یووالي په را منځ ته کولو او د ټولني له لوري د خپلو ښوونځیو د مالکیت احساس په پیاوړي کولو کي ډېر ارزښتمن عمل دی. له همدې امله، دغه روحیه باید آن هغه مهال هم له لاسه ورنه کړل شي چي ښوونځي د دولت له لوري په لوړه کچه ملاتړ ترلاسه کړي.
- (په سیستم کي د فساد او نااغیزمنتیا له امله) د تکړه ښوونکو له کمښت سره د مخ کیدلو پر مهال یو شمیر ټولنو واک په خپل لاس کي اخیستی او د دغو تشو د ډکولو په موخه یې د ښوونکو د ګمارلو لپاره پیسي راټولي کړي دي. د وزارت له لوري د قرارداد ترلاسه کوونکو پر خلاف، دغه ښوونکي په مستقیم ډول د هغو ټولنو پر وړاندې د مسوولیت درلودونکي وي چي دوی یې ګومارلي او معاش ورکوي.
- د ښوونځي د ټولني غړي هم له یو بل سره په ګډ کار او مرستي کولو د اداري فساد په مخنیوي کي فعال رول لوبولی شي. د بېلګي په ډول، یوه ښوونځي هغه مهال د ښوونځي د یوه مفتش د فساد مخنیوی وکړ چي یوازې د فصلونو راټولولو پر مهال به ښوونځي ته ورته او له زده کوونکو څخه به یې غوښتل چي فصلونه ورسره راټول کړي. د ښوونځي ښوونکو په دې اړه د بحث او پرېکړې کولو لپاره یوه غونډه وکړه څو هیڅ مفتش ته اجازه ورنه کړي چي ښوونځي ته د پوهني د مدیریت له لوري له کوم رسمي لیک درلودلو پرته ورشي.

## یو څو فوق العاده ښوونځي، په عمومي ډول په ښارونو کي

- د خارني او ارزوني کمېټي ټیمونو د پرمختګ د یو څو قضیو په اړه هم واورېدل، چي ځيني غوره ښوونځیو قوي مشران درلودل. په ښارونو کي دا په همدې ولسوالی کي باید له یوه ښه پوهنتون سره تړلي وي. ډېری مهال د ښوونځي مدیر پوهیده چي اداره څه ډول پر مخ بوځي او له ټولني او والدینو سره څه ډول چلند وکړي، لکه د پوهني

وزارت له مرستي پرته توکي څه ډول بيا ورغوي. په يوه قضيه کې، مدير ډېر د ښه وجدان درلودونکی انسان و او د ښوونځي له درسي ساعتونو څخه بيرون اضافي مرسته يې ځارله او مشوره يې ورکوله. په بله قضيه کې، د نجونو د ښوونځي مديرې وويل چې هغه د کومي ستونزې پر مهال يوازې له سيمه ييزې شورا سره اړيکه ونيسي او ستونزه يې حل کيږي.

- د ځارنې او ارزونې کمېټې ټيم په کليوالو سيمو کې دې ته ورته د ځو نورو بېلګو په اړه واورېدل؛ په ټولو کې د سيمه ييزې ټولنې قوي ملاتړ مهم و.

## د ښځينه ښوونکو د ګمارلو غوره طريقې

- دا ښايي په ځانګړې ډول لرې پرتو او اطرافي سيمو کې ټولنو لپاره يوه ستره ننګونه وي چې تکړه ښځينه ښوونکې وګوماري ځکه د ښوونکو د روزنې له کورسونو څخه ډېری فارغيدونکې ښځينه ښوونکې د هغو ټولنو اوسيدونکی نه وي (او له همدې امله ورته اجازه نه وي يا نه غواړي چې له خپل کور او کورنۍ څخه لرې په بل کلي کې کار وکړي). په ځينې قضيو کې، د ښوونکو د روزنې له کورسونو څخه فارغې شوې ښځينه ښوونکې، ښايي ژوند سره له بلدېدلو څخه وروسته خپل کلي ته د کار کولو لپاره نه ستنيږي. په هر صورت، هغه کلي چې د نجونو لپاره ثانوي ښوونځې لري، له ۱۲ ټولګي څخه به يو شمير فارغاني هم ولري، چې په سمدستي ډول روزل کيدلی او بيرته خپلو کليو ته د ښوونکو په توګه استول کيدلی شي، خو دا هغه مهال امکان لري چې سيستم د دغه کار ملاتړ وکړي. د بيلګې په ډول، په يوه ولايت کې وليدل شول چې په کليو کې د ښځينه ښوونکو له جدي کمښت سره سره په نوموړي کلي کې له ۱۲ ټولګي څخه فارغاني ځواني ميرمنې موجودې دي او پخپل يا ګاونډيو کليو کې د ښوونکو په توګه ګمارېدلی شي.
- د ښوونځيو په ټولنو کې د ځارنې او ارزونې کمېټې له تحليل ترسره کولو سره سره، افغانستان لپاره د ناروې کميټه په بلخ ولايت کې د ښوونکو د پوهنې د يوه نوښتګر اقدام پر ارزونه بوخته وه. د ښځينه ښوونکو د پوهنې دغه پروګرام (FTEP) د دې لپاره رامنځ ته شوی و چې ځوانې ميرمنې د ښوونکو په توګه وګماري، روزنه ورکړي او بيرته يې په کليوالو سيمو يا هغو کليو کې چې رسيدنه ورته ستونزمنه وي، د ښوونکو په توګه ځای پر ځای کړي. دغه څلور کلن پروګرام (دوه کاله روزنه او دوه کاله د ښوونکو په توګه د خدمت پر مهال ملاتړ) د نړيوالې مرستې ماموريت (IAM) نړيوالې نادولتي موسسې له ملاتړ څخه برخمن و. د ښځينه ښوونکو د پوهنې پروګرام له کليو څخه ۱۵ تنه ځوانې ميرمنې وګمارلې (چې د ګمارنې پر مهال پخپله د ۸ څخه تر ۹ ټولګي کې د ښوونځيو زده کوونکې وې) او د ليسې زده کړې (تر ۱۲ ټولګي) او د ښوونکې پوهنه يې ورته چمتو کړې. د دغو ځوانو ميرمنو د روزنې او بيرته کليو ته د هغوی د ښوونکو په توګه استولو په موده کې، دغه پروګرام له ټولنو او د پوهنې له اړونده مديريتونو، رياستونو او په کابل کې د پوهنې له وزارت سره ډېر زيار وويست څو د دې ډاډمنولو لپاره د وکالت/ مشورې اړين کار ترسره کړي چې دغه ځوانې ميرمنې به په ريښتيني ډول بيرته په خپلو ټولنو کې د دولتي ښوونکو په توګه وګمارل شي. د ښځينه ښوونکو د پوهنې د پروګرام ارزونې وښودله چې دغه پروګرام د نوموړو ميرمنو په روزنه او بيرته په خپلو ټولنو کې د ښوونکو په توګه ګمارنه کې ډېر اغيزمن و او دمګړۍ له ۱۵ تنو څخه ۱۱ تنه يې د خپلې ټولنې په ښوونځيو کې د ښوونکو په توګه کار کوي، له دولت سره مناسب قرارداد لري او د ښوونکو په توګه د کار کولو لپاره د رشوتونو په ورکولو يا واسطو کارولو اړ نه دي. ټولنې له دغو ښوونکو او د هغوی له پوهې او مهارتونو څخه ډېرې راضي دي. سره له دې چې دا يو کوچنی پروګرام او يو څه د ډېر لګښت درلودونکی دی او همدا راز کار او وخت هم غواړي، خو ويې ښودله چې څه امکان لري او د اداري فساد په مخنيوي او نورو ننګونو، لکه محافظه کارانه ارزښتونو، پر وړاندې هم اغيزمن و، چې ډېری مهال ميرمنې په خپلو ټولنو کې له ښوونې څخه منع کوي. د افغانستان په نورو برخو کې د ښوونکو د ګمارنې په اوسني ناوړه حالت کې ۷۷ سلنه برياليتوب ډېر زيات دی.

### 2. د پوهنې ولايتي رياستونه

د پوهنې وزارت کې له هڅو سره سره، ډېر لږې نښې شته چې په ولايتونو کې د پوهنې رياستونه فعال وي او يو مهم توپير رامنځ ته کړي. د وزارت په کچه د اداري فساد د زيان منني ارزونې ټيمونو وموندله چې په يوه ستر ولايت، هرات، او په نسبي ډول يوه کوچني ولايت، پنجشير، کې د پوهنې رياستونو اغېزمن کار کړی دی، سره له دې چې هلته هم د فساد ډېرې ستونزې موجودې دي.

په ځرګند ډول، که چېرې د ولسي ترون د ملي لومړيتوب پروګرام او د پوهني درېيم ملي ستراتيژيک پلان دواړو موخې او تجويز شوې پاليلې عملي شي، په کابل او ولايتونو دواړو کې بايد د ظرفيت جوړوني او د سيمه ييزو ټولنو پياوړتياوې رامنځ ته شي.

### 3. د تمويلوونکو پروګرامونه

## د متحده ايالتونو نړيواله پراختيايي اداره او د ظرفيت لوړوني فعاليت نوښت

د پوهني په برخه کې د اداري فساد کمولو تر ټولو غوره نوښت، چې د څارني او ارزوني کمېټه ورڅخه خبره ده، د ظرفيت لوړوني فعاليت نوښت دی – دا د متحده ايالتونو د نړيوالي پراختيايي ادارې له لورې په پوهنيز سکتور کې د ظرفيت جوړوني يوه پروژه ده.

د ظرفيت لوړوني فعاليت د متحده ايالتونو د نړيوالي پراختيايي ادارې په مالي ملاتړ يوه نوې پروژه ده، چې د ۲۰۱۷ کال په پای کې به له Chemonics ادارې سره د پلي کوونکي شريک په توګه پېل شي. د دغه پروګرام موخه له هغو سترو اندېښنو څخه ډېرو ته ځواب ويل دي چې په تېرو وختونو کې يې د پوهني په سکتور کې د نړيوالو مرستو نوښتونو سر او بر ورک کړی دی. د پروژې په ځانګړتياوو کې پر سترو اندېښنو رڼا اچول شوې ده چې دغه پنځه کلنه، ۲۵ ميليون ډالري، پروژه يې د حل کولو موخه لري. د ظرفيت لوړوني فعاليت داسې طرحه شوی دی چې په مرکزي توګه به اداره شي، خو په ولايت کې به نوښت ولري چې په پنځو ولايتونو، بلخ، باميان، بادغيس، کندهار او پکتيا کې به فعاليت ولري. د تمرکز د اصلي ساحو او د ظرفيت لوړوني فعاليت د پروژې د پروګرام د متوقعه پايلو او د وزارت په کچه د اداري فساد د زيان منني د دغې ارزونې ځرګندېدونکو موندنو او سپارښتنو تر منځ د پام وړ موافقه موجوده ده.

| |
|---|
| د ظرفيت لوړوني فعاليت لپاره د تمرکز پنځه اصلي ساحې په دې ډول دي:<br><br>**د بشري سرچينو مديريت** – چې د بشري سرچينو پياوړي سيستمونه او کړنلارې جوړې شي څو په پوهنيز سکتور کې ګمارنې د يوې رڼې پروسې له لارې د معيار پر بنسټ ترسره شي چې له رازدارۍ او نېپوټېزم څخه پاکې وي کوم چې د اوسني سيستم اصلي ځانګړتياوې دي.<br><br>**ادراينه** – چې د نغدو پيسو اداينې سيستم ختم کړي څکه چې دا د غلا او رشوت لپاره لار هواروي. د دې لپاره پلان له سوداګريزو شريکالو، لکه له مخابراتي شرکتونو او بانکونو، سره کار کول دي څو د پوهني وزارت ولايتي کارکوونکو، په ځانګړي ډول ښوونکو، ته د برېښنايي اداينې سيستم جوړ شي.<br><br>**د داخلي تفتيش په دفتر کې يو مامور**– چې مالي کړنلارې ساده او بوديجوي مسووليت او همدا راز سيمه ييز ظرفيت ولايتي کچې ته وسپاري. دا له غوره نړيوالو کړنو سره مطابقت لري څنګه چې د ولايتي پياوړتيا او مسووليت منلو لپاره د پوهني درېيم ملي ستراتيژيک پلان په پروپوزل کې يې بېلګې ورکړل شوي دي چېرې چې سيمه ييز ظرفيت موجود وي.<br><br>**د پوهني معلوماتي سيستم** – چې هغه معلومات په ټينګ ډول تائيد کړي چې دغه برېښنايي سيستم ته داخل شوي وي.<br><br>**د مدني ټولنې پياوړي کول** – چې د سيمه ييزو ټولنو ظرفيت جوړ کړي څو هغوی ته باور او مسلکي پوهه ورکړي چې د ولايت، ولسوالۍ او د ښوونځيو په کچو د پوهني وزارت مامورينو مسوول ګڼلو پر ودې وتوانيږي. د ټولنې دغه پياوړي کول د تعليمي معيارونو په لوړولو کې يو کليدي عنصر دی، د غوره نړيوالې کړنې يوه بېلګه ده او والدينو او سيمه ييزو ټولنو ته د ښوونځيو په اړه د اغېزمنو نظريو ورکولو يوه پياوړې طريقه ده. په دغه قضيه کې، د ښوونځي شوراګانې او د ټولنې پراختيايي شوراګانې بايد پياوړې شي. |

### 4. پروژې

دغه تحلیل لپاره د معلوماتو راټولولو پر مهال داسې اعلان وشو چې د تدارکاتو مسوولیت د پوهنې له وزارت څخه د تدارکاتو ملي ادارې ته وسپارل شو. د تدارکاتو ملي اداري ته د تدارکاتو د سترو کړنو سپارنې ته باید د بشپړ حل په سترګه ونه لیدل شي. د تدارکاتو ډېرى ستونزې چې په تازه موده کې پېښې شوې دي، لږ تر لږه د EQUIP پروژې پورې تړاو نه لري، د هغو سترو قراردادونو له امله رامنځ ته شوي وې چې په مرکزي توګه مدیریت کېدلې او په مرکزي کچه بولۍ ته وړاندې شوي دي. خو دا لږ تر لږه د ښوونځیو د ودانولو په سکتور کې د فساد په کچه کې د یوه سمون ثبوت دی.

څنګه چې په دغه تحلیل کې یادونه وشوه، د رغنیزو چارو تر ټولو بریالۍ پروژې د کوچنۍ کچې سیمه ییزو قراردادونو له لارې ترسره شوې وې چې د نړیوالو نادولتي موسسو او پراختیایي همکارانو له لورې یې له نږدې څارنه کېدله. د رغنیزو چارو پروژو یوه ستره ستونزه دا وه چې د ښوونځي ډیزاین د ټولو لپاره یو ډول جوړ شوی و، چې ځینې یې په بشپړ ډول د هغې تولنې لپاره نامناسب وو چې پکې جوړ شوي وو. دا په دې معنا چې، د بېلګې په ډول، په کلیوالو سیمو کې چېرې چې کافي اندازه ځمکه موجوده وي، د څو پوړیزه ودانۍ پر ځای به دا ډېره مناسبه وه چې د یوه پوړ ودانۍ جوړه شي، په داسې حال کې چې په ښاري سیمو کې به د ښوونځي لپاره د څو پوړیزه ودانۍ جوړول ډېر مناسب کار وي ځکه چې هلته د وګړو شمېر ډېر او احاطه کمه وي. د ښوونځیو ډیزاین باید له داسې لارښوونو سره جوړ شي چې اضافي ځانګړي سیمه ییز کېدل او په سیمه ییزه کچه پیدا کېدونکي مواد (د قیمتي وارداتو په بدل کې)، سیمه ییز دودیز هنر او ډیزاین، د ځمکې او سیمې سیمه ییزې ځانګړتیاوې پکې ګډون ولري، چې دا ټول د سیلابونو او زلزلې خطر، له ګرندیو بادونو څخه خوندیتوب او محلي شوي فکتورونه چې یخني، ګرمي او نور ښیي، رانغاړي.

# 18. پایلې او راتلونکی پړاو

د څارنې او ارزونې کمېټې، پوهنې وزارت کې په تفصیلي ډول د هغو کړنو ارزونه وکړه چې له اداري فساد سره مخ دي. د څارنې او ارزونې کمېټې له ډېرو ښوونکو، سرښوونکو، د ښوونځیو مدیرانو، د ښوونځیو د شورا غړو، د ښوونکو روزونکو، په مرکز، ولایتونو او ولسوالیو کې د پوهنې وزارت کارکوونکو، تمویلوونکو او ونډه والو او د زده کوونکو له ډېرو والدینو سره خبرې وکړې. په ټولیز ډول، د څارنې او ارزونې کمېټې په کابل، بدخشان، بلخ، فاریاب، غزني، هرات، خوست، بامیان، پنجشیر او ننګرهار ولایتونو او ۱۳۸ ښوونځیو کې ۵۴۲ مرکې او ۱۶۰ د ډله ییزبحثونه ترسره کړل. ټولو دغه څېړنې ته خپل وخت ورکړ او له ګډون سره یې علاقه وښوده او څرګنده یې کړه چې پوهنه د هغوی د کورنیو او هېواد د راتلونکي لپاره ډېره مهمه ده.

په دغه څېړنه کې د فساد ریښتیني قضیې نه، بلکې له فساد سره مخ چارې او اړخونه او د فساد په اړه د خلکو نظریې او تجربې تحلیل شوې دي. په دغه طریقه د تحلیل کولو موخه د یوه څرګند انځور جوړول وو چې په کومو برخو کې د فساد جدي ستونزې موجودې دي او فساد په عمومي توګه د پوهنې سکتور او په ځانګړي ډول د ښوونځیو ټولنې څه ډول اغېزمنوي او بیا څېړنه هغه سپارښتنې کوي چې د پوهنې سیستم پیاوړی کوي او د اداري فساد کچه کموي. د څارنې او ارزونې کمېټې د غلطو معلوماتو له منځه وړلو لپاره د سیستماتیک مثلث کولو (د بیلا بیلو نظرونو د تایید لپاره یوه علمي تګلاره ده) سربیره ګډې کمې او کیفیتي طریقې کارولې دي.

## د څارنې او ارزونې کمېټې پایلې په لاندې ډول دي:

### 1. د فساد اصلي زیان منني

د څارنې او ارزونې کمېټې ټولې مرکې، د پوهنې ۳۶ ځانګړې زیان منني د یوې ډول پوهنې (تایپولوژي) مطابق تحلیل کړې. دغه فساد د ښوونځي په کچه له ستونزو څخه پیل، لکه د ښوونځي په شهادتنامو کې د تعدیل راوستلو

لپاره د رشوت ورکول، د وزارت په کچه تر ستونزو پورې رسیږي لکه د ښوونځي د وادنيو په جوړولو يا د درسي کتابونو په وېشلو کې اداري فساد ترسره کېدل. له دغو زيان منونو څخه ډېري يې په واقعيت کې د څارنې او ارزونې کمېټې له لوري وموندل شوې چې د افغانستان د پوهنې په سيستم کې موجودې دي. خو يوه زيان منونه – د معيار پر بنسټ نه، بلکې د خپلوۍ پالنې يا نيپوټيزم پر بنسټ د ښوونکو ګمارنه – په ځانګړي ډول تر ټولو ډېره پراخه څرګندېدله او د ښوونکو ګمارنه کې د ستري کچې فساد موجود و. دا په هېواد کې د زده کوونکو د پوهنې لپاره تر ټولو زيان منوونکې ستونزه ده.

## 2. د ښوونکو ټاکنه کې په ستره کچه فساد موجود دی

i) د امکان له مخې په پوهنې وزارت کې تر ټولو جدي فساد د ښوونکو له ټاکنې سره تړاو لري ځکه چې ډېرې ټاکنې، د معيار پر بنسټ نه، د واک درلودونکو د اغېزو او/ يا رشوت ورکولو په پايله کېترسره کيږي.

ii) دغه ډول اداري فساد پراخ او عادي شوی ښکاري. د پوهنې وزارت يا په دغه کړنه کې ونډه لري يا يې پر مخنيوي نه توانيږي. هغو ډېرو خلکو چې مرکې ورسره وشوې، د څارنې او ارزونې کمېټه د هېواد په ښارونو او ټولنو کې د زرګونو ښوونکو تر منځ د يوه داسې ښوونکي په موندلو ونګوله چې په جدي ډول د وړتيا/ معيار پر بنسټ ټاکل شوی وي. دا په دې معنا نه ده چې ټول ښوونکي د اداري فساد په نتيجه کې ټاکل شوي دي، خو دا د ښوونځي د ټولنې د غړو تر منځ د منفي نظريې څخه غبرګون دی چې په هېواد کې له بې باورۍ سره مرسته کوي.

iii) د څارنې او ارزونې کمېټې ته ډېرې بېلګې ورکړل شوې چېرې چې د ښوونکو لپاره د رسمي ازموينې پروسه ختمه شوې وه.

iv) همدا راز د ښوونکو په ټاکلو کې د ناوړه اغېزو دې ته ورته نورې ستونزې هم شته چې خلکو په مرکو کې بيان کړې: هغه ښوونکي چې هيڅ کله ښوونځي ته نه حاضريږي يا هره پنجشنبه يا د اونۍ په نورو ورځو کې مسلسل غير حاضر وي، هغه ښوونکي چې د ورکړل شوي مضمون د تدريس وړتيا نه لري، هغه ښوونکي چې څوک يې لرې کولی يا تبديلولی نه شي، هغه زاړه ښوونکي چې له تقاعد وروسته يې هم خپل ځايونه نيولي وي په داسې حال کې چې ځوان ښوونکي بې دندې ګرځي، هغه ښوونکي چې له زده کوونکو څخه د هغه په کور کې د کار کولو غوښتنه کوي، هغه ښوونکي چې له زده کوونکو څخه د اضافي درسونو لپاره د پيسو غوښتنه کوي څو په ازموينو کې برياليي شي او داسې نور.

v) د ښوونکو په ټاکنه کې د نيپوټيزم کچه او د ښوونې کمزورې کيفيت په دومره ستره کچه دی چې د ماشومانو پوهنه زيانمنه شوې ده.

vi) د ښوونکو په ټاکنه کې د اداري فساد د کچې دويمه پايله دا ده چې ماشومان د ژوند له لومړي پړاو څخه زده کوي چې فساد د ژوند يوه مهمه برخه ده. دا د افغان کلتور برخه نه ده او بايد نه وي او د افغانستان د راتلونکي لپاره زيانمنوونکې ده.

vii) د څارنې او ارزونې کمېټه پوهيږي چې د پوهنې وزارت له دغې ستونزې څخه خبر دی او د ښوونکو په ټاکنه او مسووليت منلو په زياتونه کې د لا ډېرې روڼتيا رامنځ ته کولو ته ژمن دی. د بېلګې په ډول، د پوهنې وزارت کار کوي چې د ګمارنې په پروسه کې د ښوونځي او ټولنې رول زيات کړي. په همدې ډول، وزارت د ګمارنې يو لا ډېرې رڼې طريقې ته چمتووالی نيسي، د ښوونکو منصبونه د هغو مضمونونو پر بنسټ پر کټګوريو ويشي چې ښوونکو ته اړتيا لري. د بېلګې په ډول، په هر ښوونځي کې د رياضياتو د ښوونکو لپاره اړتياوې په نظر کې نيولو سره، يوازې د ياد شوي مضمون لپاره انتخاب شوي کانديدان به په ازموينه کې ګډون وکړي. په هر صورت، د ګمارنې پروسه د ولايت د پوهنې په رياستونو کې پر مخ بيول کيږي. د څارنې او ارزونې کمېټه باور لري چې دغه ګامونه که څه هم د ستايلو وړ دي، په کافي کچه قوي او سيمه ييز نه دي چې د ښوونکو پر ټاکنه به ډېره اغېزه ولري.

## 3. دغه ډول ستر او پيچلی وزارت به تل له لوړې کچې فساد سره مخ وي؛ د اندازې او کار په برخه کې بايد کوچنی شي

دغه وزارت په هېواد کې تر ټولو ستر عامه ګمارونکی دی، چې ۲۶۲,۰۰۰ تنه يا ۶۸ سلنه دولتي د ملکي خدماتو مامورين يې ګمارلي دي. په دې ډول، دا د هغو وګړو لپاره يو لومړنی هدف دی چې د خپلو ملګرو، خپلوانو، همکارانو يا د همکارانو بچيو لپاره د منصبونو د پيدا کولو هيله لري.

i) دغه وزارت همدا راز دومره پراخه او پیچیده دی چې مدیریت یې نږدې ناشونی برېښي او له دې امله د اداري فساد لپاره پکې ډېر فرصتونه رامنځ ته کیږي. د څارنې او ارزونې کمېټه باور لري چې ډېر ګامونه باید واخیستل شي چې د وزارت اندازه یوې معمولې اندازې ته کمه کړي، چې د ښوونځي د سیستم د ورځنیو عملیاتو سره نه، بلکې له پالیسی سر او کار ولري. په دې توګه به د اداري فساد د لارو بندېدلو لپاره چمتووالی رامنځ ته شي.

ii) دا د څارنې او ارزونې کمېټې دنده نه وه چې د وزارت تنظیمي بیاکتنه ترسره کړي او د څارنې او ارزونې کمېټې د دې برخې سیستماتیک تحلیل هم نه دی کړی. خو د دغې بیاکتنې په اوږدو کې او د تحلیل د تولید په توګه، د څارنې او ارزونې کمېټې ډېرې کړنې مشخصې کړې چې ښایي له وزارت څخه یې لرې کول ګټور وي او دا به یې له کم شوي اداري فساد سربېره د کړنو د غوره والي پر لور رهبري کړي. په دې کې د ښوونکو ټاکنه، د ښوونکو د روزنې پوهنځي، د ښوونځیو ودانول، تخنیکي او مسلکي زده کړه او رزونه او څارنه او ارزونه ګډون لري. له دغو مسوولیتونو څخه ځینې یې ښایي له مرکز څخه لرې او د د ولسي تړون ملي پروګرام د یوه ګډ عنصر په توګه ټولنو او د ښوونځیو شوراګانو ته وسپارل شي.

iii) د څارنې او ارزونې کمېټه همدا راز پرېکړې ته رسیږي چې نورې کړنې به د اداري فساد د کمولو د یوې طریقې په توګه د لا زیاتې بازار-متمرکزې طریقې څخه ګټه واخلي. د درسي کتابونو چاپ او وېشنه د دې یوه څرګنده بېلګه ده. د سمون په برخه کې له ډېرو هڅو سره سره، چې د تمویلوونکو پراخ ملاتړ هم ورسره و، د چاپ او په ځانګړې ډول د درسي کتابونو وېشنه د پخوا په څېر له اداري فساد څخه ډکه ښکاري. د دې بیاکتنې د برخې په توګه د هېواد ډېرو برخو ته د تګ پرمهال ولیدل شول، چې د رسمي درسي کتابونو د نه شتون لامله د بازار یو غیر رسمي سیستم لا دمخه موجود دی.

iv) د څارنې او ارزونې کمېټې د ښوونځي په سیستم کې یوازې یو څو څرګندې نښې وموندلې. ځینې ښوونځي داسې وو چېرې چې مدیران او/ یا ټولنه له غوره ښوونکو او د اداري فساد له کمې کچې سره د ښوونځیو پر اداره کولو توانېدلي وو. د څارنې او ارزونې کمېټې له لوري په مشاهده شوو قضیو کې، په عمومي توګه د دې لامل د والدینو له لوري مالي همکاري وه چې غوره ښوونکي او د ښوونځي مواد چمتو کړي. له دې پرته، والدینو او ټولنو په کلیوالو ټولنو کې د ټولنې پر بنسټ ښوونځي او ځینې کم-لګښته خصوصي ښوونځي د خوښې وړ وګڼل. د هغوی په اند دا د غوره ښوونکو او کم اداري فساد درلودونکي اغېزمن ښوونځي وو. د دغه ډول ښوونځیو د هڅولو تر څنګ، د ټولنې پر بنسټ حل لارې او عامه-خصوصي شریکوالی د پوهنې وزارت د ملي سیستم د اندازې د کمولو لپاره نورې لارې چارې وې. دولت همدا راز کولی شي چې د دغو ښوونځیو له غوره نمونو څخه زده کړه وکړي او د دولت د پوهنې په سیستم کې د مثبتو بدلونونو راوستلو لپاره دغه تجربه وکاروي.

v) د څارنې او ارزونې کمېټه له هغو راپورونو څخه خبرتیا لري چې د ټولنې پر بنسټ پوهنه ښایي ډېر لګښت درلودونکې وي[98] او له هغو ستونزو څخه هم چې د دغو ښوونځیو د متعددې دوه اړخیزې بسپنې څخه رامنځ ته شوي وي. په هر صورت، هغه د ډېر سیمه ییز مالکیت په برخه کې د ډېرې ګټې ښکارندويي کوي. دا یوه داسې ساحه ده چېرې به چې د پراختیایي همکارانو له لوري زیات شوی تمرکز او تمویل ډېر مثبت وي.

vi) د ټول وزارت د مدیریت د ستونزمن کېدو یو مهم اړخ د ډېرو سمو معلوماتو لپاره اړتیا ده، په داسې یوه سیستم کې چېرې چې ډېر مامورین کمپیوټرونه نشي کارولی او د معلوماتي ټکنالوژۍ سواد نه لري. دلته ستونزه یوازې د تمویل او روزنې نه ده، بلکې ډېرو مامورینو د معلوماتي ټکنالوژۍ د سیستمونو د کارولو کې خپل نازړه توب څرګند کړ ځکه چې دا به د پایلو د اغېزمنولو لپاره د هغوی وړتیا کمه کړي. د دې خبرې څرګند ثبوت د پوهنې معلوماتي سیستم کې د ناسمو معلوماتو کیسې دي، چېرې چې په ۲۰۱۶ کال کې د متحده ایالتونو د پراختیایي ادارې په یوه څېړنه کې وموندل شول چې د معلوماتو ناسموالی ۱۲ سلنه دی. د څارنې او ارزونې کمېټې له ۱۳۸ ښوونځیو څخه د زیاتو هغو پر بنسټ یوه کوچنۍ ازموینه تر سره کړه او ویې لیدل چې د معلوماتو ناسموالی او توپیر له تیر راپور سره ورته دی. همدې ته ورته یوه ستونزه د اداینې په برخه کې هم موجوده ده.

vii) داسې څرګندیږي چې ځینې ولایتي دفترونه او د ښوونځي اړوند مدیریت کې له ډېرو کلونو راهیسې پراخ اداري فساد موجود و. د پایلو لپاره د ظرفیت لوړولو اداري له لارې د نوو ټاکنو د برخې په توګه دا ښایي بیا پیلولو او اصلاح ته اړتیا ولري که نه نو د پایلو لپاره د ظرفیت لوړولو اداري له لوري نوی ټاکل شوی شخص به دغو کړنو ته له دوام ورکولو پرته بله چاره ونهویني.

viii) په همدې ډول، د پوهنې وزارت ځینې برخې د لوړې کچې له اداري فساد څخه ډکې دي. دغه ډول اداري باید بندې شي او وروسته د یوه اصلاح شوي بدل په بیا پرانیستلو غور وشي. د څارنې او ارزونې کمېټې ټیم ته په تکراري ډول دا بېلګه ورکړل شوې وه چې په ولایتونو کې باید د سواد زده کړې پروګرام پلی شي.

ix) د څارني او ارزوني کمېټي ته د اسیا بنسټ له لوري د پوهنې وزارت د تشکیل د بیاکتني ترسره کولو په اړه معلومات ورکړل شوي. سره له دي، تر کومه بریده چې د څارني او ارزوني کمېټه توانېدلې چې دغې کتنې ته له نږدې وګړو یې تصدیق کړي، دا د کنټرول او مدیریت کولو د ورتیا زیاتولو لپاره د اندازي او کاري ساحې په کمولو متمرکزه نه ده.

## 4. پر ښوونکو او مامورینو دواړو د خپلوان پالنې اغېزه جدي ده

تر هغه چې دغه اغېزه ختمه یا یې په اساسي توګه مخنیوی ونه شي، د ښوونکو په ټاکنه کې د فساد د مخنیوي په برخه کې د پرمختګ لیدل به ستونزمن وي. د دې لپاره باید د پوهنې وزارت له لوري، د ولسمشریز فرمان له لارې، د والیانو او د پارلمان د غړو له لوري پرېکړه نیوونکي ګامونه پورته کړای شي. په ځانګړي ډول، د پارلمان غړي لیدل شوي دي چې تر هغه لوړې کچې په ټاکنو کې لاس لري چې د هغوی منصب یې اجازه نه ورکوي.

## 5. د ښوونځي نصاب ډېر پراخه دی او فساد ته لار هواروي ځکه چې ښوونکي هڅه کوي په کانکور ازموینه کې د زده کوونکو بریالي کولو لپاره هغوی په ناسم ډول چمتو کړي

د څارني او ارزوني کمېټي له لوري داسي کومه سپارښتنه نه شته چې نصاب یا د نصاب د ودې پروسه یو څه مفسده ده، بلکې هغه څه چې د څارني او ارزوني کمېټي مشاهده کړي دي، دا دي چې یو پراخ نصاب، چې د نړۍ په هر ځای کې د تر ټولو لند تعلیمي کلونو کې تدریسیږي، پر ښوونکو او د ښوونځي پر مدیریت فشار اچوي چې دا هغوی مفسدو کړنو ترسره کولو ته مجبوروي څو خپل زده کوونکي د کانکور په ازموینه کې بریالي کړي.

i) دغه فشار د ډېرو مضمونونو د ښووني له اړتیا څخه رامنځ ته کیږي او یوازې لږ ښوونکي توانیږي چې دغه مضمونونه او په موجود وخت کې ډېر زیات مواد تدریس کړي. په پایله کې، ریښتیني اداري فساد ته لار هواریږي ځکه چې ښوونکي لارې چارې لټوي چې په ناکافي کچه چمتو شوي زده کوونکي په کانکور ازموینه کې بریالي کړي. ښوونکو وویل چې د دغه کار ترسره کولو یوازینۍ لاره د ناسمو میتودونو څخه ګټه اخیستل دي، لکه مخکې له مخکې د ازمویني د پاڼو ورکول، د ښووني لپاره انتخاب کول، د ازمویني د نومرو لوړول او نور. دا په ډېره اسانی سره مفسدو کړنو ته لاره اواروي.

ii) دا ښایي له دې نګوني پرته هم یوه ستونزه وي چې ښوونکي د هغوی په ګمارنه کې د شوي اداري فساد له امله، چې مخکې وربانديې بحث وشو، مناسبه ورتیا نه لري.

د څارني او ارزوني کمېټه د تعلیمي نصاب د تحلیلولو ورتیا نه لري، خو دې پایلې ته رسیږي چې د نصاب اندازه او پراختیا کمول به – هر ډول یې چې په پوهنې وزارت کې د پوهنې متخصصین غوره ګڼي – د ښوونځي په کچه د اداري فساد د زیان منني په کمولو کې ګټوره اغېزه ولري.

iii) د څارني او ارزوني کمېټه پوهیږي چې د پوهنې وزارت هم د نصاب د ستر پراخوالي/ زیاتوالي په اړه همدې ته ورته نظر لري. د پوهنې وزارت د ښووني د ساعتونو د شمېر زیاتول ناسم ګڼي. د پوهنې وزارت همدا راز موافقه کوي چې د مضمونونو د شمېر کمول به ښوونکو ته ډېر وخت ورکړي چې د ازموینو لپاره چمتو والی ونیسي. په دې توګه د نصاب په اندازه کې ډېر کموالی د ورپسې خطرونو کمولو لپاره یوه عملي چاره ده.

## 6. د اصلاحاتو ذهنیت درلودونکي وګړي ډېر کم دي چې په پوهنې وزارت کې اصلاحات غواړي یا یې توان لري

د څارني او ارزوني کمېټي ټیمونو له ټولو هغو وګړو چې مرکې یې ورسره وکړې، وغوښتل څو په دې اړه بحث وکړي چې ایا د پوهنې په وزارت کې اصلاح غوښتونکي افراد یا ډلې موجودې دي او کچه یې څومره ده.

i) د دغې پوښتني ځواب دا و چې په پوهنې وزارت کې دغه ډول خلک یوازې یو څو تنه وو. د دغه ډول پېژندل شوو افرادو شمېر له هغو کم و چې د څارني او ارزوني کمېټي په نورو وزارتونو کې ترسره کړو تحلیلونو کې تشخیص کړي وو.

ii) بل لوري ته د مرکه ورکوونکو ځواب دا و چي که چېرې د اصلاحاتو راوستل جدي وای او لوړپوړي چارواکي د اداري فساد پر خلاف سمونونو ته په څرګند ډول ژمنتیا درلودای، ډېر خلک به يې مرستي او ملاتړ ته چمتو شوي وای.

iii) په دې تيوري او عمل کې چې سترو ادارو کې څه ډول اصلاحات راوستل شي، د دغه تناقض حل کولو لپاره په عمومي توګه درې عناصر دي چې څه ډول د اصلاحاتو ذهنيت درلودونکي عناصر را مخې ته کړي:

- لومړی د هغو لوړپوړو وګړو سترو کتله سره يو ځای کول دي چي اصلاحاتو ته په څرګند ډول ژمن اوسي؛ دغه ډول ستره کتله اوسم هال د پوهني په وزارت کې موجوده نه ده.
- دويم د يوې قوي موخي درلودل دي چي څرګنده وي او په هر ځل د مشرتابه له لوري ورباندې ټينګار شوی وي او هر يو – کارکوونکي او ښاريان – يې پر مخ يوسي. دغه ډول پر مخ بيوونکي قوه اوسم هال موجوده نه ده.
- دريم عنصر دا دی چي هلته بايد د اداري دننه داسي جوړښتونه موجود وي چي د اصلاحاتو فعاليتونه پر مخ بوځي او هغو ټولو ته مکافات ورکړي چي په رسمي يا نارسمي ډول د پرمختګ ليدل غواړي. د دغو کړنو په امتداد سپارښتني په راتلونکي برخه کې شوي دي.

## 7. د نويو فارغانو او د ښووني د پرانيستو دندو تر منځ ستر بېلوالی د امکان له مخې د فساد له امله دی

i) له دارالمعلمينونو څخه فارغ شوي ۷۵ سلنه د ښوونکو په توګه د کار په ترلاسه کولو نه توانيږي.

ii) د پوهني وزارت له دغي ستونزې څخه خبر دی. د بېلګي په ډول، د پوهني وزارت پلان لري چي د ښوونکو د روزني د کورسونو څارنه پياوړې کړي څو غوره ښوونکي فارغ کړي، د ۱۴ ټولګي فارغانو يا د لسانس او يا د لوړې ډګرې درلودونکو ګمارني ته لومړيتوب ورکړي او همدا راز د ۱۲ ټولګي فارغانو ته په هغو سيمو کې د ښوونکو په توګه دنده ورکړي چېرې چي د ۱۴ ټولګي فارغاني موجودې نه وي. سره له دې، هغه اساسي واقعيت چي فساد د دغي بې کارۍ مهم لامل دی، بايد په ډېر مستقيم ډول حل شي.

iii) د نويو فارغانو او د ښووني د ځايونو تر منځ ستر جلاوالی په بنسټيز ډول بيان شوی نه دی. په داسي حال کې چي د پوهني وزارت يو څه هڅي وکړې، لکه د ښووني او روزني پوهنتون او پوهنځي بايد په هېواد کې د ښوونکو د پوهني اړتياوو ته ډېر ځواب ويونکي وي، د دارالمعلمينو، پوهنتونونو او په ولايت کې د سيمه ييزو دندو ورکوونکو تر منځ د قوي اړيکو جوړولو اړتيا لا هم موجوده ده څو د نويو فارغانو روزنه ضايع نه شي.

iv) په همدې ډول، د پوهني وزارت او د لوړو زده کړو وزارت تر منځ د ستراتيژيکو پلانونو د همغږۍ اړتيا شته څو باوري کړي چي د ښوونکو مسلکي ظرفيت د ملاتړ له هغو سيستمونو سره اړخ لګوي چي اوس مهال د ودې په حال کې دي، په ځانګړي ډول په افغانستان کې د ښوونکو لپاره د ظرفيت چوکاټ سر.

v) د دارالمعلمينونو زده کوونکي يو کال په يوه ښوونځي کې ځای پر ځای کول، چي وروسته له وخت څخه ښوونه وکړي، په داسي حال کې چي لا يې هم نوم په دارالمعلمين کې ثبت وي، به په کم لګښت د ښوونکو کاري قوه زياته کړي. دا به همدا راز د فراغت پر مهال کار لپاره هغوی چمتو کړي او د هغه اداري فساد د کچي په کمولو کې به مرسته وکړي چي اوس مهال د ښوونکو په ګمارنه کې کيږي. د پوهني وزارت يوه نوې پاليسي لري چي دغه ډول خدمت پرمهال روزنو ظرفيت پياوړی او پراخ کړي.

## 8. د پلټني، تفتيش او څارني سيستمونه اغيزمن نه دي يا هيڅ نشته

ټولي اداري د معلوماتو او کنترول سيستمونو، پلټني سيستمونو او د خپلواکي څارني سيستمونو په ګډون د سيستمونو څو مختلفو پوړونو ته اړتيا لري چي کنترول يې کړي:

i) د پوهني وزارت د څارني او ارزوني ورتيا لري چي د پوهني چمتو کولو تخنيکي کيفيت معاينه وکړي، خو دغه وړتيا کوچنۍ، داخلي او د کمو سرچينو درلودونکي ده. نور هېوادونه د تعليمي معيارونو د پلټلو او ساتلو لپاره بيروني اداري لري چي د پوهني له وزارت څخه په بشپړ ډول خپلواکي وي.

ii) په همدې ډول، د پوهني وزارت دننه د تفتيش کړنه شته، خو قوي نه ده او د مفسدو کړنو او پروسو مخنيوی نه کوي.

iii) د څارني يوازينی بيروني مېکانيزم، چي د تفتيش له عالي اداري څخه راپور ورکوي، اغيزمن نه ليدل کيږي.

## 9. له جنسیت سره تړلي زیان منني

له ۲۰۰۲ کال راهیسې، په تعلیمي، تولنیزو او کلتوري فعالیتونو کې د ګډون لپاره د زیاتو شوو فرصتونو په برخه کې، په افغانستان کې د نجونو او مېرمنو په پیاوړي کولو کې پرمختګ شوی دی. په ښوونځیو کې د نجونو، د ښځینه ښوونکو او د دارالمعلمینونو د ښځینه زده کوونکو شمېر زیات شوی دی. سره له دې، داسې راپور شته چې په کارځای کې جنسي ځورونه او د ښوونځیو د شهادتنامو او د دندو د لوړولو په بدل کې د جنسي خوښونو غوښتنې پراخه دي. دغه ډول فساد له رشوتونو اخیستلو ډېر ناوړه دی.

د پوهنې وزارت کې د سیاسي ارادې او/ یا علاقمندۍ د پام وړ کمښت موجود دی چې ښځې د زعامت په منصبونو ومني چې دغې ستونزې ته د ځواب ویلو په هڅو کې به بنیادي وي.

## 10. د پوهنې معلوماتي سیستم

د پوهنې معلوماتي سیستم ستونزې معلومې دي او لادمخه ډېره هڅه کېږي چې په سیستم او ډیټا ټولولو کې غوره والی راشي. د څارنې او ارزونې کمیټې د خپل تحلیل له لارې په ۸۸ ښوونځیو کې د نوم لیکنې او حاضرۍ ډیټا په اړه د پوهنې معلوماتي سیستم کتنه وکړله. نتیجه دا وه چې د پوهنې معلوماتي سیستم د نوم لیکنې په اړه سمې شمېرې لرلې، له دوه فیصده یا کم توپیر سره.

خو د څارنې او ارزونې کمیټې د څلور کلونو، له ۱۳۹۲ څخه تر ۱۳۹۵ پورې، د حاضرۍ ډیټا هم د پوهنې معلوماتي سیستم له ډیټا سره پرتله کړله. دلته نتیجې وښودله چې د ۸۸ ښوونځیو لپاره د پوهنې معلوماتي سیستم د حاضرۍ کچه ۲۳ فیصده ډېره تخمین کوي، پداسې حال کې چې د بهبود کوم بهیر نه لیدل کېږي. د څارنې او اروزنې کمیته په ملي کچه د دې نتایجو د تعمیم وړاندیز نه کوي، ځکه د نمونې اندازه کوچنۍ ده. سره لدې نتیجه دا ښیي چې د حاضرۍ په برخه کې، مثلا کال کې د یوه تخمین په ځای لکه اوس چې کېږي کالې کې دوه تخمینونو، کافي اندازه غوراه والې ته اړتیا ده.

## راتلونکي پړاوونه

موندنې ښیي چې د افغانستان د پوهنې په سیستم کې د فساد زیان مننه ډېره ده، چې د افغان ماشومانو پوهنه، پر بنسټیزو دولتي خدماتو د عامو وګړو باور او په تېرو کلونو کې ترلاسه شوې لاس ته راوړنې په سخت خطر کې اچوي.

د وزارت پیچلتوب، د فساد د ستونزو ژورتیا او تاریخي سیاسي لاسوهنو د پوهنې وزارت کې د اغېزمن زعامت د پرمختګ مخه ډب کړې ده چې کولای شي له ریښتینولۍ او پاکۍ سره عمل وکړي. جلالتمآب وزیر بلخي صاحب، د وزارت په کچه د اداري فساد د زیان منني ارزونې بشپړ ملاتړ وکړ. د دې لپاره باید د بشاغلي وزیر صاحب ستاینه وشي. دا لومړی ځل دی چې په افغانستان کې دغه ډول یوه پراخه څېړنه ترسره کېږي.

د فساد ستونزې د وزارت او آن تر ټولو ډېر ژمن وزیر له ظرفیت څخه پورته دي. د څارنې او ارزونې کمېټه د ستونزې سختیدلو لاملونه په لاندې ډول ویني:

- د پوهنې وزارت د نورو وزارتونو په پرتله ډېر غټ او پیچلی دی.
- په وزارت کې دننه پر ډلو وېشل کېدنې او بېلوالي، د اصلاحاتو پر وړاندې د مقاومت کلتور رامنځ ته کړی دی.
- سره له دې چې د پوهنې وزارت کې ډېرو افرادو وویل چې هغوی د مثبت بدلون لپاره چمتو دي، چاپېریال د اصلاحاتو لپاره منفي ښکاري.
- د پوهنې وزارت د پالیسۍ او عملیاتو یوه ګډوله ده: د نړۍ په نورو ځایونو کې ډېرې کمې بیوروکراسۍ توانیږي چې د ډېرو کلیدي مسوولیتونو له بېلولو یا له مرکز څخه ختمولو پرته دواړه رولونه په اغېزمن ډول سره یو ځای کړي.
- د پوهنې وزارت کې د خدمت کولو ذهنیت نشته چې د کارکوونکو او د ښوونځیو د ټولنو باور ترلاسه کړي.

- د پوهنې وزارت نه دی توانېدلی چې د پیاوړو خلکو له لوري د اغېز ښندلو مخنیوی وکړي.

له همدې امله، مخکې لار باید د فساد زیان منلې په یوه بنسټیزه او د پایښت وړ طریقه باندې د اوږدې مودې لپاره حل کړي. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې لومړی چټک ګام باید د دولت د زعامت په کچه او په ولایتونو کې د ښوونځې د ټولنو تر منځ د موندنو او سپارښتنو په اړه يو بحث وي، څو د تر ټولو مناسبو اصلاحاتو په اړه یو عمومي لیدلوری را منځ ته کړي. د څارنې او ارزونې کمېټه د لاندې کړنو سپارښتنه کوي:

**راتلونکی ۱ پړاو: د څارنې او ارزونې کمېټې پر موندنو د لوړې کچې بحث او پایلې رامنځ ته کړئ**

i) د ملي وحدت حکومت زعامت له لوري د دغه راپور د موندنو يوه بیاکتنه او بحث او همدې ته ورته د پوهنې د زعامت او نړیوالو پرمختیایي همکارانو له لوري د دغه راپور د موندنو بیا کتنه او بحث باید ترسره شي.

ii) په دې پسې به د دولت کړنې رامنځ ته شي څو د اصلاحاتو د خپلې خوښې لاره وښيي، د پوهنې وزارت ته اضافي مخکښې سرچینې چمتو کړي او د دولت په بودیجه او پلانونو کې د پوهنې په اړه پرمختګ ته لومړیتوب ورکړي.

iii) د پارلمان د غړو له لوري د دغه راپور د موندنو بیاکتنه او بحث.

**راتلونکی ۲ پړاو: په ولایتونو کې کړنې ترسره کړئ څو د څارنې او ارزونې کمېټې د موندنو په اړه بحث او پایله ترلاسه کړئ**

i) **د ټولو ونډه والو د خبرولو لپاره د څارنې او ارزونې کمېټې تحلیل په پراخه کچه خپور کړئ.** وزیر، د مشورې او ملاحظې لپاره په یوه د پوهېدنې وړ ژبه، دغه بشپړ راپور او یو لنډیز یې په پراخه کچه خپروي: ۱) په ملي، ولایتي او د ولسوالی په کچو د پوهنې وزارت کارکوونکو ته؛ ۲) د دارالمعلمینو رئیسانو او ښوونکو ته؛ ۳) د ښوونځیو مدیرانو، سرښوونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د شورا غړو ته؛ ۴) والدینو او ماشومانو ته؛ ۵) نورو ونډه والو ته چې هیله یې ولري لکه نړیوالې نادولتي موسسې/ نادولتي موسسې چې د پوهنې په برخه کې کار کوي.

ii) **لاندې یادې غونډې ترسره کړئ چې د څارنې او ارزونې کمېټې د راپور اصلي موندنې معاینه او بحث وربانديې وکړئ او همدا راز پر ممکنو حل لارو خبرې وکړئ؛**

- **په ولایتي کچه غونډې،** چې والیان یې مشري وکړي، څو په دې اړه بحث وکړئ چې د حالت د ښه کولو لپاره هر ولایت څه ډول عمل کولی شي او ولایتونه، ولسوالی او ټولنې څه ډول زیات واک ترلاسه کولی شي. د دغو بحثونو پایلې به ملي بحث ته معلومات ورکوونکې وي. د ښوونځیو ټولنې د پوهنې ملاتړ کولو سره لېوالتیا لري او ډېری مهال غواړي چې خپل وخت او سرچینې قرباني کړي څو ډاډه شي چې د هغوی ماشومان هغه ډول پوهنه ترلاسه کوي چې د قانون له مخې یې حق ورکړل شوی دی.

a. **د ځوانانو یو کنفرانس** چې نارینه او ښځینه پکې یو ډول ګډون ولري او د ځوانو معیوبینو، د مختلفو نژادونو، ژبو، مذهبونو او شالیدونو درلودونکي استازي پکې برخه وال وي. دا د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ځوانانو چارو په معینیت کې ترتیب کېدلی شي ځکه چې هغوی لا دمخه د ځوانانو یو عملي پارلمان تاسیس کړی دی.

b. **له پرمختیایي همکارانو سره یو کنفرانس جوړول** او هغوی ته فرصت ورکول چې د دغه راپور ښوونې په نظر کې ونیسي او دا چې هغوی څه ډول کولی شي چې د خپلو پروګرام جوړونو او سرچینو کارولو له لارې ښه ځواب ویلی او مرسته کولی شي.

iii) له دې وروسته به د جلالتمآب ولسمشر او اجرائیه رئیس تر څارنې لاندې د لوړپوړو دولتي چارواکو یوه مشورتي غونډه ترسره شي څو د ولایتونو، ولسوالیو، ټولنو، ځوانانو او ملي او نړیوالو پرمختیایي همکارانو له لوري د موندنو او تجویز شوو حل لارو بیاکتنه وکړي چې دولت په ښه ډول ځنګه کولی شي چې پېژندل شوې ستونزې حل کړي.

د څارنې او ارزونې کمېټې پوهاوی دا دی چې د پوهنې وزارت د دغه ډول مسلسلو بحثونو او عملي ورکشاپونو جوړولو لپاره چمتو دی.

## 19. سپارښتنې

د پوهنې سیستم د اداري فساد د زیان منني کمول پخپله یو پای نه دی، بلکې دا په افغانستان کې د پوهنې د کیفیت د ډېر ښه کولو د عمومي موخې یوه برخه ده. له همدې امله د فساد کمولو لپاره ځینې اړین اصلاحات هغو ته ورته دي چې د نورو لاملونو، لکه غوره کنترولونو، غوره سیستمونو او ډېرو اغېزمنو اداري جوړښتونو، لپاره ورته اړتیا ده. د ساري فساد ستونزې یواځې د فساد ضد اصلاحاتو پر بنسټ حل کېدلی نه شي.

په دې توګه به د اداري فساد لپاره د زیان منني د کمولو د اصلاح په تګلاره کې د کیفیت د ودې دواړه عادي کړنې ګډون ولري – په نمونه یې ډول اداري پیاوړتیا – او نورې هغه کړنې چې هغوی ته د فساد ضد یو ډېر څرګند اړخ ولري.

د څارنې او ارزونې کمېټه د اصلاحاتو اقدامونه له لاندې لسو عمومي ډولونو سره سم طبقه بندي کوي:

A. د ښاریانو کړنې او د سیمه ییزې څارنې نور ډولونه؛
B. اداري اصلاحات، چې اغېزمنتیا هڅوي او د مفسدو کړنو مخه نیسي؛
C. د اداري بدلون رهبري - وزارت، ښوونکي، دارالمعلمینونه، د پوهنې ریاستونه او د پوهنې مدیریتونه څه ډول اغېزمن کېدلی شي چې اداري بدلون رامنځ ته کړي؛
D. قانوني او د کړنلارو بدلونونه – څه ډول د قانون پلې کېدنه، اداري بندیزونو او د ښاریانو د شکایتونو په مېکانېزمونو کې د ناکامېدلو چاره وکړي؛
E. وګړو ته د بدلون سیګنالونه – ځانګړې کړنې، لېږ یا ډېرې، څو وګړو ته وښیي چې بدلونونه رامنځ ته کیږي؛
F. نړیواله ټولنه او د پراختیایي همکارانو کړنه؛
G. د معلوماتو سیستمونه، د کنترول او پلټنې سیستمونه او خپلواکه څارنه؛
H. د روڼتیا ګامونه – د پالیسۍ، پروسې او کړنې روڼتیا او د تګلارو، معیارونو، پلانونو، بودیجو، پایلو او راپورونو پرانیستې خپرونه به څه ډول د اداري فساد په کمولو کې مرسته وکړي؛
I. تعمیل – د نظم کړنې، څېړنې، محاکمې او معافیت له منځه وړل؛
J. د دولتي عرضې د انحصار لپاره د بازار پر بنسټ بدیلونه.

د دغو ټولو عنوانونو تر هر یو لاندې سپارښتنې تجویز شوې دي. د څارنې او ارزونې کمېټه باور لري چې دغه ۶۶ سپارښتنې د وزارت د اداري فساد سره د مبارزې تګلارې بنسټ جوړولی شي.

### A. د ښاریانو کړنې او سیمه ییزه څارنه

1. د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د ښوونکو د ګمارنې مسوولیت لرې او د هر ښوونځي ټولنې ته یې وسپارئ. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې د ښوونکو ګمارنه دې د ولسوالیو کچو ته واړول شي. دغه بدلون ښایي د ولسمشر له لوري یوه نوي فرمان ته اړتیا ولري.

دا د اوسني سیستم لپاره یو مهم بدلون دی او تفصیلي بحث او بیاکتنې ته به اړتیا ولري. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې د دغه بحث د پیلولو په روحیه به پروسه په لاندې ډول وي:

a) د ملکي خدماتو کمیسون (CSC) له پوهنې وزارت سره یو ځای په راتله ډول په ملي، ولایتي، د ولسوالۍ او ټولنې په کچو تش بستونه اعلانوي.
b) د ټولنې د پرمختیا شورا درې غړي، لږ تر لږه د یوې ښځینه غړې په ګډون، به د ګمارنې کمېټو د برابرو غړو په توګه، د اعلانولو له لومړي پړاو څخه نیولې د ښوونکو تر نهایي انتخابولو پورې، د ګمارنې د پروسې په ټولو پړاوونو کې ګډون ولري.

c) د ښوونکو ګمارنې لپاره ازمویني باید د ډېرو انتخابونو پوښتنو ته بدلې شي چې د مارنې کمېټه يې په اسانۍ سره ولیدلی شي (د ټولنې پراختیايي شوراګانې چې د ولسي تړون د ملي لومړيتوب پروګرام برخه دي، د تسهيلوونکو شريکوالو له لوري په راتلونکو څو مياشتو کې ظرفيت جوړونه ترلاسه کړي، د ټولنې نورو پراختيايي شوراګانو لپاره بنايي اضافي ظرفيت جوړونې ته اړتيا وي).

d) د ښوونکو د ازموينو پايلې به د پوهنې وزارت او د ملکي خدماتو کميسون وېب پاڼو او د ولسوالۍ او ټولنې په کچو په ځينې عامه ځايونو کې اعلان شي.

- دا باید د پوهنې وزارت او پرمختیايي همکارانو له لوري پر تاسیس شوي پراخ معیار بنا شوی وي.
- د ښوونځي د ټولنې له لوري د ګومارنې لپاره تر نظر لاندې نیول شوو ښوونکو لیست باید عام او د پوهنې وزارت په وېب پاڼه په اسانۍ د لیدلو وړ وي.
- د پوهنې له وزارت څخه یوه خپلواکه د څارنې اداره باید جوړه شي چې هغه مهال شکایتونه ترلاسه کړای شي کله چې دغه سیستم ولیدل شي چې کار نه کوي.
- که چیرې هغه معیار پوره نه شي، چې موافقه ورباندې شوي وي، د ګمارنې پر پروسو د پوهنې وزارت د کنټرول د بیا ارزونې په ګډون د جزايي کړنو يو سيستم بايد جوړ شي.

2. د پوهنې په حل لارو کې د ګډون لپاره د ښوونځيو او ټولنو تر منځ پرلپسي او پراخه غونډو ته وده ورکړئ او رسمي يې کړئ. د څارنې او ارزونې کمېټې د دغه تحليل په اوږدو کې د ښوونځيو ټولنو ته د مشورې ورکولو پروسې ګډونوالو ته يو څه هيله ورکړې وه ځکه چې له دې مخکې له ډېرو څخه د دغو ستونزو په اړه پوښتل شوي نه وو او وهڅول شول چې د هغوی غږ به واورېدل شي. د ښوونځي د ټولنې غړو د والدينو او ښوونځيو تر منځ د پرلپسي او پراخو غونډو غوښتنه کړې وه.

3. په اوږد مهال کې، د پوهنې مسووليت د ښوونځيو ټولنو، د ټولنې پرمختيايي شوراګانو او کلستر شوراګانو، ولسواليو او ولايتونو ته وسپارئ، د ښارپانو ګډون وهڅوئ او وړتيا ورکړئ او د ولسي تړون د ملي لومړيتوب له پروګرام سره سم څارنه وکړئ. د پام وړ کچه روزنه او مسلکي وده به اړينه وي، خو دې ته باید د يوې موخې په توګه وليدل شي د کوم په لور چې د پاليسۍ د اوږد مهال پلان جوړونه بايد هدف وټاکل شي.[99]
دا باید د ولسي تړون د ملي لومړيتوب له روان پروګرام سره تړلې وي چېرې چې به د ټولنې پرمختيايي شوراګانې او کلستر شوراګانې د پوهنې فرعي کمېټې ولري، کوم چې به د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د استازو او د ولسي تړون د ملي لومړيتوب پروګرام تسهيلوونکو همکارانو (نادولتي موسسې او نړيوالې نادولتي موسسې) له لوري روزل شوي وي.

4. په سيمه ييزه کچه موجودو موادو او اصلي ډيزاين سره (مرجع يونيسکو)، د ښوونځيو په ودانولو کې د ټولنو په مرسته کولو، چې د پوهنې وزارت معيارونه او د نړيوال ډيزاين اصول تعقيب کړي، سيمه ييز مالکيت او کلتوري تنوع ته وده ورکړئ. د اداري فساد له پېژندل شوو زيان منو سره سره، د فساد پر ضد د تدارکاتو د پالیسیو او کړنلارو په تعقيبولو، د موادو چمتو کولو او د ودانولو لپاره د کاريګرو ګمارلو او د ښوونځيو ساتلو په برخه کې سيمه ييزو ټولنو سره قراردادونو کولو ته دوام ورکړئ.

5. په دې اړه د پاليسۍ يوه بياکتنه ترسره کړئ چې د ټولنې د ګډون مثبت درسونه څه ډول د پوهنې له مالکيت سره يو ځای شي – د ټولنې پر بنسټ پوهنې څخه، کوم چې د دولتي ښوونځيو د غير مرکزي کولو پروسې ته راوستل کيدلی شي.[100]

## B. اداري اصلاحات

د څارنې او ارزونې کمېټه د هغو اداري اصلاحاتو ملاتړ کوي چې لا دمخه د پوهنې وزارت کې تر کار لاندې دي. له دې پرته، د څارنې او ارزونې کمېټه د لاندې يادو شوو سپارښتنه کوي:

6. د ازمويني او ټاکنې يوه اصلاح شوې پروسه بايد تاسيس شي چې په لوړه کچه رڼه او له تعديل او د چاروکو له اغېزې خوندي وي. په نورو هېوادونو کې په منطقي ډول بشپړې پروسې پېنځول شوي دي.

7. د غوښتونکو او لومړي پړاو کې انتخاب شوو (شارټ ليست شوو) کانديدانو ليست بايد په پرانيستي ډول خپور شي.

8. د پوهنې وزارت د کار ساحه کمه کړئ څکه چې د کمې شوې اندازې فعال مديريت به اسان وي.
- د اوسنۍ بياکتنې په پرتله چټکه اداري اصلاح بايد رامنځ ته شي، چې موخه يې د اندازې د کمولو ګامونو او پراګماتيکې ساحې تجويزول دي.
- په دې کې بنايي د پوهنې وزارت ځيني برخې د خپلواکو ادارو په توګه منل وي يا نورو وزارتونو ته د مديريت لپاره وسپارل شي او يا دا چې ځيني عملياتي مسووليتونه له مرکز څخه ولايتونو، ولسواليو او د ښوونځيو ټولنو ته وسپارل شي او يا نور ګامونه واخيستل شي.
- په دغه بياکتنه کې بايد د ولايتونو او ولسواليو تر منځ د توپير او مثبتې سيالۍ لپاره قوه هم وليدل شي څو معياري پوهنه چمتو او د داخلي، ساتنې او بشپړونې کچې غوره کړي.

9. يوه خپلواکه اداره تاسيس کړئ څو د ښوونکو د ګمارنې د غير مرکزي شوې پروسې څارنه وکړي. د نوموړې ادارې موخه بايد دا ډاډمنول وي چې يو شمېر کانديدان د معيار پر بنسټ تجويز شي، ټاکنې/ ګمارنې د معيار او د ګمارنې د نورو منل شوو شرايطو پر بنسټ مساويانه وي، ګمارنې له سياسي لاسوهنې څخه پاکې وي او پروسه له رشوتونو ورکولو څخه پرته نهايي شي.

10. باوري کړئ چې د ښوونکو د ګمارنې پروسه د هدف وړ ټولنو کې د وګړو انعکاس کوي او نارينه او ښځينه کانديدانو دواړو ته د سهميې د سيستمونو له مخې برخه ورکړل شي.

11. د سهميې ارتجاعي سيستمونه هم بايد وکارول شي څو باورترلاسه شي چې له کليوالو ټولنو او د نژادي او ژبې له پلوه لږه کيو ته لومړيتوب ورکړل شي.

12. د پوهنې وزارت د نصاب رياست، دارالمعلمينو او د پوهنتونونو د ښوونې او روزې پوهنځيو تر منځ د نږدې همکارۍ لپاره اغېزمن مېکانېزمونه جوړ شي چې د ښوونځي نصاب او د لومړنيو او ثانوي کچو لپاره د ښوونکو د پوهنې پروګرامونو لپاره نصاب په غوره توګه رامنځ ته شي.

13. د پوهنې د موخې پر بنسټ، د نصاب داسې بياکتنه چې مضمونونو ته د لومړيتوب ورکولو له لارې د تدريسي مضامينو د شمېرې او ژوروالې کمول پکې راشي. په دې ډول به د پوهنې وزارت د ښوونکو ظرفيت په ښه ډول مقايسه کړي او په ازموينو کې به د زده کوونکو د کاميابولو لپاره د پرلپسې اداري فساد کچه کمه کړي. په مهمه توګه کمول بايد د هغو وګړو له لوري تشريح شي چې د نصاب مسووليت لري: د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې دا بايد لږ تر لږه ۲۵-۳۰ سلنه، بنايي زيات نه زيات ۵۰ سلنه وي. په اوږد مهال کې، همدا راز د درسي ساعتونو شمېر له سيمه ييزو نورمونو سره (شاوخوا ۵۰ سلنه) زيات شي. په سپارښتنه کې بنايي د نصاب بياکتنې ته اړتيا وښودل شي او د پوهنې د موخې پر بنسټ د تدريس کېدونکو مضامينو شمېر ته لومړيتوب ورکړي او پر کمولو يې فکر وکړي.

14. تخنيکي او مسلکي زده کړه او رزونه ، د پوهنې وزارت، د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت، خصوصي سکتور، پرمختيايي همکارانو (لکه نادولتي موسسو/ نړيوالو نادولتي موسسو) له ګډون سره يوه خپلواکه اداره کړئ. دا به د پوهنې وزارت کاري ساحه محدوده کړي او همدا راز به په دې ډاډمنولو کې مرسته وکړي چې د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې پروګرامونه د دندو د بازار اړتياوې پوره کوي.

15. نوي فارغان ښوونکي په ښوونځيو کې د دندو له بازار سره برابر کړئ.

- د دارالمعلمينو، پوهنتونونو او په ولايت کې د سيمه ييزو دندو ورکوونکو تر منځ قوي اړيکې را منځ ته کړئ څو د نويو فارغانو روزنه ضايع نه شي.
- د پوهنې وزارت او د لوړو زده کړو وزارت تر منځ ستراتيژيک پلانونه همغږي کړئ څو باوري کړئ چې د ښوونکو مسلکي ظرفيت د ملاتړ له هغو سيستمونو سره اړخ لګوي چې اوس مهال د ودې په حال کې دي،، په ځانګړي ډول په افغانستان کې د ښوونکو لپاره د ظرفيت چوکاټ سره.
- د ښوونکو د روزنې کورسونه (د ډيپلوم کچه) لږ تر لږه يو کال وغځوئ او په ټولګيو کې د ښوونې عملي تجربه، د ښوونې د چمتو والي په پروګرامونو کې ځای کړئ.
- د ښوونکو د سند ورکولو سيستم د پوهنې دريم ملي ستراتيژيک پلان د برخې په توګه عملي کړئ او ښوونکو لپاره د هغوی د پوهې او تجربې پر بنسټ د بېلا بېلو مسلکي ودو عمده ټکي بيان کړئ.[101]
- د ښوونځي ټولنې پياوړې کړئ چې له والدينو او زده کوونکو څخه شکايتونه او اندېښنې ترلاسه او د حل لپاره يې کار وکړي.
- د داخلېدلو او وتلو پر وخت د ګوتې لګولو د معلوماتو ټکنالوژۍ د کارولو په ګډون، د ښوونکو او د ښوونځيو د کارکوونکو له پرلپسې غيرحاضرۍ سره تعامل کولو لپاره ټکنالوژيکې حل لارې وکاروئ.

16. د سواد زده کړې پروګرام تبديل کړئ څو پکې موجود پراخ فساد محدود شي. له دې پرته، د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې له نوې او خپلواکې ادارې سره د سواد زده کړې رياست په مدغمولو فکر وکړئ څو باوري کړئ چې فارغان به د دندو لپاره په ښه معيار برابر وي.

17. د ښځو چارو وزارت په همکارۍ نجونو او ښځو لپارهد سواد زده کړې ارتجاعي پروګرامونه جوړ کړئ څو د ښځو پياوړتيا او د کورنيو غښتلي کولو ته وده ورکړئ (لکه د کارګرو ښځو لپاره د سواد زده کړې لنډ پروګرامونه چمتو کول).

18. په هغو سيمو کې چې بانکونو ته لاسرسی اسانه وي، د بانکي حسابونو له لارې د ښوونکو د معاشونو ادايني لپاره د پوهنې وزارت خوځښت زيات کړئ او د لرې پرتو سيمو ښوونکو لپاره د ګرځنده ټيليفون ادايني (مبايل منی) له لارې د معاشونو ورکول پيل کړئ. د دې لپاره د هرات غوره بېلګه تجربه کېدلی شي. هغه ښوونکو ته چې د بانکي حسابونو له لارې معاشونه ترلاسه کوي، د بانکونو د کم فيس په اړه ډېره څرګندتيا ترلاسه کول هم اړين دي.

19. د ښوونکو د پوهنې او مسلکي ودې لپاره د پرمختګ مثبتې لارې تعقيب کړئ څنګه چې د پوهنې دريم ملي ستراتيژيک پلان او د پاليسۍ په نورو اسنادو او اړونده سيستمونو کې بيان شوي دي.[102] دغه پروسې بايد د ادراي فساد د زيان منني په کمولو کې د هغوی د ونډې له مخې په نظر کې ونيول شي.

20. د پوهنې وزارت بايد د معلوماتي ټکنالوژۍ په مرسته د ازموينې د پايلو/ شهادتنامو د تصديقولو او خپرولو پروسې سيستماتيک کولو لپاره چټک ګامونه پورته کړي ځکه چې په اوسنۍ پروسه کې د دوکې او لاسوهنو لپاره پراخ فرصتونه موجود دي.

21. د هغو زده کوونکو لپاره د ازموينې پروسه سخته کړئ چې د پاکستان او ايران له اسلامي مدرسو څخه راځي او د پوهنې وزارت د چارواکو له لوي د پيسو/ رشوت له ترلاسه کولو څخه وروسته په ازموينه کې د برخې اخيستلو اجازه ورکول کيږي. دغه کار هغه مهال کېدلی شي چې ازموينه د يوې بلې ادارې له لورې واخيستل شي.

## C. د اداري بدلون زعامت

د ځانګړو اداري اصلاحاتو تجویزول یو کار دی. اصلاحات که ښه وي که نه، د اصلاحاتو په ریښتیني ډول پلي کول یوه سخته دنده ده. دا په بشپړ ډول په افغانستان پورې ځانګړي نه دي، بلکې د سترو ادارو د مدیریت کولو او بدلولو یوه پېژندل شوې ځانګړتیا ده: د اداري بدلون ډېرې ستر پروګرامونه بریالیتوب ته نه رسیږي. له همدې امله په دغه برخه کې سپارښتنې پر دې تمرکز کوي چې د پوهنې وزارت څه ډول د بدلون په رهبري کولو کې غوره کېدلی شي.

22. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې یوه قوي، ثابته او مخکښه موخه باید موجوده وي چې د پوهنې پر ټول وزارت فشار راوړي څو له خپلو اصلاحاتو سره پر یو واحده لاره مخکې لاړ شي. **د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي د پوهنې وزارت دغه موخه باید په درېو کلونو کې دننه د اداري فساد د مخکښو زیان منونو لپاره حل وي، چې هغه ښوونځیو ته د ښوونکو نامناسبه ټاکنه ده.**
د څارنې او ارزونې کمېټه باور لري چې د پوهنې وزارت پر دغه ډول د اصلاح پر یوې مهمې موخې تمرکز کولو سره د هغه خطر مخه هم نیولی شي چې ډېر ژر د ډېر کار ترسره کولو هڅه وشي، دا داسې یوه تګلاره ده چې ډېر کم وخت کې پایله لري.

23. د دې لپاره چې د دغه ډول یوې موخې پر لور پرمختګ په اسانی سره د لیدو وړ وي، د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې د معیار پر بنسټ د ټاکل کېدونکو ښوونکو د بریالیتوب کچې معلومولو یو ساده سیستم جوړ شي، چې په سیمه ییزه کچه کار کوي. دا ښایي د ټیلیفون د یوه اپلیکیشن تر کچې ساده وي چې د هر ښوونځي ټولنه یې په شپږو میاشتو کې وکاروي څو د یو/ټولو نویو ښوونکو پر ټاکنه رایه ورکړي. دا مرکزي کېدلو ته اړتیا نه لري او د سیمه ییزو زده کوونکو یا پوهنپالو له لورې په ولایتونو کې جوړېدلی شي.

24. د بدلون د زعامت ټول پروګرامونه د زعامت او پلي کېدنې یو جوړښت ته اړتیا لري. په لومړي سر کې دا یوه قوي اتل، په عمومي توګه وزیر، ته اړتیا لري. مونږ سپارښتنه کوو چې د پوهنې وزیر دې ۱) له ټول وزارت څخه د اصلاحاتو د څارنې لپاره د زعامت یوه کمېټه جوړه کړي؛ ۲) په پوهنې وزارت کې دې د اصلاحاتو لپاره د بشپړ رسمي وخت یو لوړپوړی مشر وټاکي؛ ۳) پوهنې وزارت کې د بشپړ رسمي وخت لپاره یو کاري ځواک وګماري چې په وزارت کې د اصلاحاتو همغږي، څارنه او پلي کېدنه پرمخ بوځي؛ ۴) په هر ریاست کې لوړپوړي سپانسران او د کار په کچه محراقي نقطې وګماري څو د وزارت په هغه برخه کې د اصلاحاتو مشري وکړي. له دغه ډول یوه جوړښت سره به لا هم ستونزمنه وي، خو له دغه ډول جوړښت پرته د پروګرام د بریالي کېدلو چانس ډېر کم دی.

25. د دغه ډول اصلاحاتو ستونزمنتوب دا معنا لري چې د دې لوړپوړي غړي باید د وزارت له دننه څخه – هغوی چې په ریښتیني ډول پوهیږي چې د پوهنې وزارت څه ډول کار کوي – او د وزارت له بیرون څخه – هغوییچې د هغه څه په اړه چې ترلاسه کیدلی شي ډېر پرانیستي وي او اداري تاریخ او کلتور سره یې تړاو لږ وي. له همدې امله، د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې د کابینې په کچه د ملي وحدت حکومت اړونده کمېټې ته دنده وسپارل شي او باوري شي چې د پوهنې وزارت د اصلاحاتو اړینې سرچینې ترلاسه کړي دي چې د اصلاحاتو له ډلې سره یو ځای شي.

26. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې په هر ولایت کې شبکې رامنځ ته شي او په ولایت کې د اصلاحاتو مسوول دې ټولې اړوندې ډلې یکې سره یو ځای کړي. د شبکې موخه به دوه اړخونه ولري: له ولایت سره مرسته وکړي چې د پوهنې په چمتو کولو کې تر ټولو غوره شي او په اصلاح راوستلو کې د ټولو ګډونوالو ملاتړ وشي. نړیوال پرمختیایي همکاران یو څه مرسته کولی شي او ګډونوال او هغه چې ښه کار ترسره کوي، د اضافي مسلکي روزنې (لکه، د ښوونکو پرمختللي کورسونه) په ترلاسه کولو کې ورسره په مرستې کولو مکافات ورکول کېدلی شي. همدا راز هغه ولایتونه چې ډېر پرمختګ کوي، ښایي وکړای شي چې د ډېرو ښوونکو لپاره اضافي تعلیمي بودیجه ترلاسه کړي. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې پراختیایي همکاران دې د دغه ډول شبکو پر تمویل غور وکړي.

27. د پايلو لپاره د ظرفيت لوړولو پروسه د پوهنې وزارت د ولايتي رياستونو د اوسنيو ګمارنو څخه آخوا وغځوئ.[103]

### D. قانوني او د کړنلارو بدلونونه

28. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې ولسمشر دې د يوه فرمان په صادرولو سره د پارلمان غړي يا نور اغېز درلودونکي چاراوکي منع کړي چې له وزارت سره د ښوونکو د ګمارنې په اړه خبرې وکړي. که چېرې هغوی بيا هم داسې وکړي، د پوهنې وزارت د پارلماني چارو دفتر بايد پارلمان ته راپور ورکړي او هغوی بايد له قانون څخه د سرغړوونکي غړي پر ضد ګام پورته کړي. دغه کړنه بايد يوازې د ښوونکو د ګمارنې په پروسه کې نه، بلکې د پروژو لپاره د قراردادونو د اخيستلو په تړاو هم عملي شي.

29. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې پارلمان د يو قانون له مخې دا يو جنايي جرم وګڼي چې څوک د پوهنې وزارت پر کارکوونکو د نويو ښوونکو يا نورو کارکوونکو د ګمارلو لپاره له اغېزې اچولو کار واخلي او همدا راز دغه کړنه د پروژو لپاره د قراردادونو د اخيستلو په تړاو هم تکرار شي.

30. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې د شکايتونو ترلاسه کولو او حل کولو لپاره يو خپلواک مېکانېزم جوړ شي. يو ممکن مېکانېزم د يوې بيروني اداري کارول دي، چې د پوهنې وزارت او پرمختيايي همکارانو يو بورډ يې څارنه وکړي. بل مېکانيزم د افغان ملي پوليسو د شکايتونو رسولو له ټيليفوني کرښې څخه زده کړه کول دي. بل مېکانېزم ښايي د غير مرکزي شوې طريقې کارول وي چې په هر ولايت کې د ټولنې د کلسټر پراختيايي شوراګانو سره تړلې کوچنۍ ډله موجوده وي. همدا راز، بل مېکانېزم د پوهنې د کيفيت د څارنې او ارزونې د خپلواکې ادارې تر څنګ د شکايتونو ترلاسه کولو بله اداره جوړول وي (۴۸ سپارښتنه ووينئ).

31. باوري کړئ چې د ښوونکو او د ښوونځيو د مديرانو په ګډون، د پوهنې وزارت کارکوونکو لپاره د مسووليت منلو يو روڼ سيستم موجود دی څو له قانونه د سرغړونو په صورت کې له بنديزونو سره مخ شي، له دندې ليرې شي او محاکمه شي.

32. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې د سپېڅلتيا، ريښتينولی او د اداري فساد پر ضد د اخلاقو يو کوډ رامنځ ته او د پوهنې وزارت پر ټولو کارکوونکو تحميل شي او ورڅخه د سرغړونو په صورت کې له عامي ترټنې او قوي غبرګون سره مخ شي.[104]

33. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې د پوهنې وزارت دې، هر څومره چې امکان ولري، ټول معاشونه په برېښنايي توګه بانکي حسابونو يا ګرځنده ټيليفونونو ته واستوي او نغدي اداينې دې بندې کړي څکه چې په ستره کچه د فساد له زيان منني سره مخ دي.

34. د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې ټول ستر قراردادونه بايد د تدارکاتو د ملي اداري او د تدارکاتو د ملي کمېټې له لورې وارزول شي. کله چې قراردادونه وشي، د تدارکاتو د ملي اداري او پوهنې وزارت د يوې ګډې کمېټې له لورې يې بايد پلي کېدنه له نږدې وڅارل شي، او د نړيوال بانک قراردادونو د تدارکاتو غوره کړنو کې لارښووني بايد تعقيب کړي.

35. له دې پرته، د تدارکاتو لپاره، د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې په کليوالو سيمو کې د ودانيزو چارو د ټولو سترو قراردادونو د پلي کولو مسووليت، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت ته او په ښار کې د پروژو مسووليت دې د ښار جوړونې وزارت ته وسپارل شي.

### E. وګړو ته د بدلون سيګنالونه

د ادارو په جوړښت کې اصلاحات پرته له کوم شک څخه اړين دي، خو دا يوازيني کارونه نه دي؛ دا اصلاحات ورو او د ناکامۍ کچه يې لوړه ده. ملکي وګړي لږ تر لږه له ۱ څخه تر ۳ کلونو پورې کومه پايله نهويني او يا دا چې

خدمات له ښه کېدلو څخه وړاندې بدتر کېدلی شي، نو هغوی له مرکز څخه د سترو اصلاحاتو پر اعلانونو باور او یا زغم نه لري.

له همدې امله، دا اړینه ده چې د پوهنې وزارت د اصلاح پلان کې مهم بدلونونه ګډون ولري چې وګړو ته په سمدستي ډول سېګنال ورکوي چې ریښتیني بدلونونه پر لاره دي.

36. په چټک ډول اعلان کولو باندې فکر وشي چې ښوونکي به په راتلونکو شپږو میاشتو کې دننه (اپریل ۲۰۱۸ پورې) د سیمه ییزو ټولنو له لورې وټاکل شي. د پوهنې وزارت کې دننه د تشو بستونو په څیر، د پوهنې ریاستونو او مدیریتونو په ګډون، په شپږو میاشتو کې دننه (اپریل ۲۰۱۸ پورې) د ټاکنو نور کلیدي معلومات خپاره کړئ.

37. د ګرځنده ټیلیفون یو پروګرام جوړ کړئ څو، څنګه چې لا دمخه پورته تجویز شوي وو، د معیار پر بنسټ د ښوونکو په ګمارنه کې د بریالیتوبونو/ ناکامیو راپور ورکړي. د ورته موخو لپاره د ګرځنده ټیلیفون د نورو پروګرامونو په جوړولو غور وکړئ لکه په هغو ځایونو کې چې د ګرځنده ټیلیفون پوښښ نه وي، د ښوونکو پر غیرحاضرۍ د راپور ورکولو او کمولو لپاره د بدیل په توګه، د ښوونځي شورا باید ډېر مسوولیت پر غاړه واخلي او هره میاشت د ښوونکو د حاضرۍ پر پاڼه لاسلیک وکړي. څنګه چې د ولسي تړون ملي پروګرام کې یې یادونه وشوه، د ښوونځي شورا باید د سمبولیک رول لوبولو پر ځای د ښوونځي په چارو کې لا ډېره فعاله ونډه واخلي.

38. د ولایت د پوهنې ریاستونه او والیان د پوهنې د ریاستونو او په ولسوالیو کې د پوهنې د مدیریتونو له کارکوونکو او د ښوونځیو له سیمه ییزو ټولنو سره پرلپسې لیدنې ترتیبوي څو د اداري فساد (او له پوهنې سره تړلو نورو ستونزو) په اړه د ټولنو اندېښنې واوري او ټولنو ته ملاحظې ورکړي چې له فساد سره څه ډول مقابله کیږي. ټولنیزې رسنۍ (لکه فیسبوک، یوټیوب او نور) د پوهنې په برخه کې د مثبتو کیسو او نوښتونو شریکولو د وسیلې په توګه وکاروئ.

39. په اوړد مهال کې، د فردي ښوونځیو بودیجې یا هر ښوونځي لپاره د لګښتونو رسمي پلانونه خپاره کړئ. دغه کړنه د اداري فساد د کمولو تر ټولو پیاوړی ګام پېژندل شوی دی او دا د ټولنو د پرمختیایي شوراګانو او کلستر پرمختیایي شوراګانو او د ښوونځیو شوراګانو له لارې ترسره کېدلی شي.

## F. د نړیوالې ټولنې او پرمختیایي همکارانو عمل

40. د تمویلوونکو پروګرامونه د پورته تجویز شوې اصلي موخې سره برابر او همغږي کړئ (د معیار پر بنسټ د ښوونکو ګمارنه).

41. د متحده ایالتونو نړیوالې پراختیایي اداري په مالي مرسته د ظرفیت لوړوني فعالیت نوښت وغځوئ. څنګه چې د پوهنې دریم ملی ستراتیژیک پلان او د ولسي تړون د ملي لومړیتوب پروګرام کې انځور شوي دي، دا د ولایتي پیاوړتیا لپاره د لارښود پروګرام په توګه کارېدلی شي څو سیمه ییزه څارنه غوره او په ښوونځیو او دارالمعلمینو کې د خدماتو چمتو کوونکو مسوولیت منل زیات کړي.

42. د ښوونځیو پوهنه کې د ټولنې پر بنسټ پوهنې طریقو ملاتړ پراخ کړئ.

43. تخنیکي مرستیالان د مسلکي ودې د یوه سیستماتیک پروګرام له لارې منظم کړئ څو د پوهنې وزارت د کارکوونکو د معلوماتي ټکنالوژۍ مهارتونو ته وده ورکړي او د *تشکیل* بیاکتنه وکړئ څو عملیاتي مسوولیتونه له تخنیکي مرستیالانو څخه د پوهنې وزارت رسمي کارکوونکو ته وسپارل شي.

44. د پوهنې وزارت ته د بسپنې پر چمتو کولو غور وکړئ څو د خدماتو، لکه اداینه او د امکان له مخې د پوهنې معلوماتي سیستم، بیروني کولو ته اجازه ورکړي او تسهیل یې کړي.

45. د پوهنې وزارت د بسپنې پر ورکولو غور وکړئ څو د اداري فساد پر ضد د اداري اصلاح د ملي جوړښت ملاتړ وکړي او په هر ولایت کې د اصلاح کوونکو ملاتړي شبکې سپانسر کړي.

46. د پراختیایي همکارانو تر منځ او د پوهنې وزارت دننه اداري حافظه غوره کړئ.[105]

47. د ښوونځیو د ودانیو د نوي پړاو لپاره د تولنې قوي څارنې، د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق کلکې څارنې او د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق له څارنې څخه د نړیوال بانک مرکزي اداري رسمي څارنې له لارې د څارنې او سپړنې سیستم جدي کړئ.

## G. د معلوماتو سیستمونه، د کنټرول او پلټلو سیستمونه او خپلواکه څارنه

د مدیریت او مالوماتو دقیق سیستمونه، د کنټرول اغېزمن سیستمونه، د کیفیت د پلټلو سیستمونه او د خپلواکې څارنې سیستمونه د ټولو ښه اداره شوو او لږ فساد درلودونکو ادارو د دفاع کرښې دي.

48. لومړی، د پوهنې معلوماتي سیستم په تړاو، د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي چې دا باید له لاندې یادو شوو سره غوره شي:

- هر کال دوه ځلې، د ښوونځي د کال د پیل او پای پر مهال، ښوونځیو ته د پوهنې معلوماتي سیستم له ریاست څخه شمېرونکي واستوئ څو تصدیق کړي چې د پوهنې معلوماتي سیستم په ډېټابیس کې ثبت شوي معلومات د ښوونځي له هغو سره یو ډول دي.
- د پوهنې معلوماتي سیستم د تصدیق نمونه له اوسنی کچې (۵ سلنې) څخه ۲۰ سلنې ته زیاته کړئ آن که دا کار باید په پړاوونو کې ترسره شي.
- د پوهنې وزارت ډېټابیسونه سره تنظیم/یو ځای کړئ څو د پوهنې معلوماتي سیستم، د بشري سرچینو معلوماتي سیستم او د اداینې پر تائید او معاینه کولو وتوانیږي. دغه یو ځای کول باید د پوهنې معلوماتي سیستم ریاست له لوري کنټرول شي څو د پوهنې په وزارت او د دولت په نورو برخو کې، د معلوماتو په مدیریت او راپور ورکولو کې ثبات موجود وي.
- د معلوماتو راټولولو لپاره لارښودونه غني او بیاکتنه یې وکړئ څو د معلوماتو راټولونې د پروسې ټول اړخونه تر پوښښ لاندې راولي.
- د معلوماتو راټولونکو (څارونکو) ته باید د راټولولو او سند جوړولو/ راپور کولو د تخنیکونو په برخه کې روزنه ورکړل شوې وي څو د معلوماتو راټولونه، ثبتونه او تصدیقونه په یوه باخبره او باثباته طریقه ترسره شي.
- د پوهنې معلوماتي سیستم، معلومات د لاسرسي وړ او باوري کړئ چې د ولایت، ولسوالی او ټولنې په کچو شریک شوي وي.
- د ښوونځي د معلوماتو سیمه ییز تصدیق چمتو کړئ. دا باید د ښوونځي د څارونکو او یا د یوې خپلواکې ادارې له لوري ترسره شي څو تصدیق کړي چې د ښوونځیو له لوري چمتو شوي معلومات سم دي.[106]
- باوري کړئ چې (د پرمختیایي همکارانو او افغان ښوونکو په ګډون) د اړونده ونډه والو څخه جوړې خپلواکې بیروني ادارې له لوري د پوهنې وزارت د مالوماتو او کنټرول سیستمونو یوه مرحله یي بیاکتنه ترسره شي.

49. د پوهنې معلوماتي سیستم کې د بشري سرچینو د ریکارډ ساتلو د معلوماتو یو ډېر پیاوړی سیستم پلی کړئ. دا د ښوونکو او پوهنې وزارت لپاره یوه ستره ستونزه ده چې د ښوونکو کلنی ارزونه، تقاعد او نوري اداري ستونزې تعقیب کړي او اوس مهال ډېر ورو پر مخ ځي.

50. د داخلي تفیتش په اړه:

- د تفتیش کوونکو شمېر زیات او له پوهنې وزارت څخه بیرون د کافي شمېرې تکړه مفتیشن وګمارئ.
- د داخلي تفتیش د راپور ورکولو لارې پیاوړې کړئ. د داخلي تفتیش کړنې ته له پوهنې وزارت سره په رسمي تړاو ورکولو غور وکړئ.
- د پوهنې وزارت د داخلي تفتیش ټول راپورونه د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړی نېټې څخه خپاره کړئ او باوري کړئ چې کلیدي ونډه والو ته د لاسرسي وړ دي.
- له پرمختیایي همکارانو څخه وغواړئ چې د پوهنې وزارت د تفتیش په ډیپارټمنټ کې د ډېرو تکړه مفتشینو د ځای پر ځای کولو تمویل وکړي.

51. د مالیې وزارت، پراختیايي همکارانو او مدني ټولنو له لوري د استازو په ګډون د پوهنې وزارت په لوړپوړې کچه د تفتیش یوه کمېټه تاسیس کړئ.
- دغه کمیټه به د داخلي تفتیش راپورونو او د څار عالي اداري، سیګار او Checchi په څېر د نورو ادارو بیروني راپورونو بیاکتنه وکړي.
- د تفتیش کمېټه به هر کال د کنترول د تشخیص شوو کمزورتیاوو او ترسره کړو کړنو یوه بیاکتنه خپره کړي.

52. د عامه او خصوصي ښوونځیو دوارو د نظم په موخه د پوهنې ادارو لپاره د اعتبار ورکولو یوه خپلواکه ملي اداره رامنځ ته کړئ.[107]

53. یوه خپلواکه اداره تاسیس کړئ چې د پوهنې د کیفیت څارنه او ارزونه ترسره کړي. دغه اداره باید د پوهنې وزارت کې موجوده نه وي، خو باید له وزارت سره نږدې کار وکړي. دغه اداره باید اوسنۍ داخلي وړتیا په لاس کې ونیسي او د عمل – غښتلتیاوو، کمزورتیاوو او واټونو – په اړه راپور ورکړي، څو په ښوونځیو کې د پوهنې ستونزو په اړه مناسب پوهاوی رامنځ ته او مسوولیت ومنل شي.

## H. د روڼتیا کړنې

د روڼتیا له ډېرو کړنو څخه لا دمخه په تېرو برخو کې یادونه وشوه. تر ټولو جدي او مهم یې د ښوونې د ټولو بستونو د خالي ځایونو او د ښوونې د هر موجود بست لپاره د ممکنو کاندیدانو لیست خپرول دي. له دې پرته، د څارنې او ارزونې کمېټه سپارښتنه کوي:

54. د څارنې او ارزونې کمېټه د پوهنې وزارت څخه وپوهېدله چې د ښوونکو ټول پرانیستي بستونه اوس مهال اعلان شوي دي. سره له دې، ډېرو ځواب ویونکو د دغه کار ستاینه ونه کړه او موافقه یې ورسره ونه ښودله. د پوهنې وزارت باید یوه ساده وېب پاڼه جوړه کړي چېرې چې ټول پرانیستي بستونه په اسانۍ د لیدلو وړ وي.

55. د پوهنې وزارت باید په هر ولایت کې په ټولیز ډول او له تفصیل سره د ښوونکو د ټولو بستونو د وضعیت په اړه معلومات خپاره کړي.

56. د پوهنې وزارت باید د اداري فساد پر ضد خپله تګلاره د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه خپره کړي. له دې وروسته باید په هرو دریو میاشتو کې، د ۲۰۱۸ کال له اپریل میاشتې څخه پیل د ۲۰۱۹ کال تر پای پورې، د دغې تګلارې د پلي کولو په اړه د پرمختګ بیاکتنې خپرې کړي.

57. په مرکزي او سیمه ییزه کچو دوارو کې د روڼتیا یو نوښت پیل کړئ څو د پوهنې وزارت په درېو کلونو کې دننه په 'پرانیستي دولت' کې تر نورو مخکې شي.
دا د پوهنې وزارت له صفونو څخه له یوه کوچني کاري ځواک سره پیلیدلی شي، چې دنده به یې د هغو معلوماتو په نښه کول وي چې باید عامو خلکو سره شریک شي.. دا به رسمي اسناد، لکه پالیسي، معیارونه، مالي اسناد، لکه ټولې بودیجې، له بودیجو څخه لګښتونه، د مالي تویپرونو راپورونه، د کمارنې معلومات څنګه چې په مخکینیو سپارښتنو کې یاد شوي وو، په پوهنې سکتور کې ټول راپورونه، د اداري فساد پر ضد پلانونه او پرمختګ، تر پوښښ لاندې راولي. د پوهنې وزارت کولی شي چې دغې نظریې ته د مرکز او د هر ولایت/ ولسوالۍ په کچه وده ورکړي.

## I. د تعمیلولو ګامونه

58. د پوهنې وزارت باید پراګماتیک ګامونه پورته کړي څو په څرګند ډول وښیي او والدین یې ووینې چې له دې وروسته به د پوهنې په وزارت کې مفسدې کړنې د زغملو وړ نه وي.
د څارنې او ارزونې کمېټه د دغې پالیسۍ په تړاو د غور کولو لپاره د لاندې یادو شوو کړنو سپارښتنه کوي:

59. په شپږو میاشتو کې دننه (اپریل ۲۰۱۸ پورې)، د پوهنې وزارت مشرتابه د پوهنې وزارت د اداري فساد ضد پالیسي پیلوي او د پوهنې وزارت لوړپوړي چارواکي یې په ټولو ریاستونو، ټولو ولایتونو، ټولو ولسوالیو او د ښوونځیو په ټولو ټولنو کې وړاندې کوي.

60. په راتلونکو شپږو میاشتو کې دننه د دغې پالیسۍ د عملي کولو په چمتو والي کې، د پوهنې وزارت د شکایتونو ثبتولو لپاره یوه ټلیفوني کرښه رامنځ ته کوي چې ملکي وګړي او د پوهنې وزارت کارکوونکي یې کارولی شي. په همدې ډول، د پوهنې وزارت د پوهنې د کیفیت خپلواکه اداره تاسیسوي، چې د کیفیت په اړه د هغه تبصرو په ترلاسه کولو کې هم رول لري چې ښایي له فساد سره تړاو ولري.

61. د پوهنې وزارت رهبري باید له لویې څارنوالۍ سره همغږي ولري څو باوري کړي چې د لويې څارنوالۍ په محاکمو کې هغو موجودو قضیو ته د امکان تر بریده لومړیتوب ورکړل شي چې د پوهنې وزارت د پخوانیو یا اوسنیو کارکوونکو پورې تړلې وي. په شپږو میاشتو کې دننه باید له دغو قضیو څخه ځینې یې تعقیب شي.

62. د پوهنې وزارت باید په شپږو میاشتو کې (اپریل ۲۰۱۸ پورې) د ټولو موجودو بندیزونو، د نظم د کړنو، د محاکمو د اختیارونو او نورو منصرف کوونکو میکانیزمونو، چې د پوهنې په وزارت کې موجود دي، بیاکتنه بشپړه کړي. د دې موخه دا ده چې د پوهنې وزارت کې د نظم او دسپلین د موجودو وسایلو په اړه پوهاوی رامنځ ته شي ، چې ایا په بشپړه توګه ورڅخه ګټه اخیستل شوې ده، او دا چې په ډېرې سختۍ سره د هر بندیز کارولو لپاره پوټانسیل ولیدل شي.

63. د پوهنې وزارت زعامت باید پر اداري فساد شکمن مامورین تر څېړنې لاندې ونیسي او د څېړنې پر مهال یې له دندو څخه لیرې کړي.

64. د پوهنې وزارت له کارکوونکو څخه باید د هغوی په قراردادونو کې په رسمي توګه تعهد واخیستل شي چې د اداري فساد د ټولو پېښو په اړه به راپور ورکوي.

### J. د دولتي عرضې د انحصار لپاره د بازار پر بنسټ بدیلونه

65. د درسي کتابونو لپاره د بازار حل لور ته ګام واخلئ. د درسي کتابونو سوداګریز چاپولو ته د اوښتلو لپاره د اختیارونو معاینه کولو په موخه د امکان څېړنه ترسره کړئ.[108]

د هغو والدینو لپاره د اختیارونو مطالعه وکړئ او پلې یې کړئ چې (د هغوی د ګرځنده ټلیفونونو له لارې) برېښنایي ووچرونه ورکړل شوي دي کوم چې هغوی د درسي کتابونو په بدل کې په سیمه ییزه توګه بیرته اخیستلی شول.

# ضميمې



## ضمیمه 1. : د پوهنې په وزارت کې د فساد د تورونو په اړه  د رسنیو او مطبوعاتو د راپورونو بیلګې

| د اندیښنې ساحه/کچه | د پوهنې په وزارت کې د فساد معمول ډولونه | د شواهدو سرچینه او عمده ټکي |
|---|---|---|
| **پلان کول ، بودیجه چمتو کول او پریکړې** | د فاسدو چارواکو او سیاستوالو لخوا د تعلیمي بودیجو انحراف ( د حکومتي حسابونو او نړیوالو مرستو څخه ) چې کیدای شي د اصلي پلان شویو پروژو لپاره د سرچینو د کمښت لامل شي او د احتمالي فساد لپاره لار هواره کړي. | **افغان نشراتي شبکه، د ۱۳۹۴ کال د سلواغې ۲ مه**<br><u>په پوهنې وزارت کې د فساد په اړه هغه تفصیلات چې د حقیقت موندنې کمیسیون له خوا افشا شوي</u><br>• د 770 $ میلیونه ډالرو اختلاس<br>• د ورتیا لوړولو په نوم د 400 $ میلیونه ډالرو اختلاس<br>• د رنې او شفافې پروسې پر ځای د شخصي اړیکو له لارې د 1200 سلا کارانو ګمارل<br>• نږدې د 75،000  خیالي ښوونکو شتون چې هره میاشت یې 125،000 ډالر مجموعي معاش ترلاسه کړی<br>• د نږدې 30000 خیالي ښوونځیو شتون<br>• - د " نویو درسي کتابونو چاپولو په نامه" د 288 ملیون ډالرو اختلاس |
| | د پوهنې وزارت د ښوونکو او کارکوونکو د ګمارنې په پروسه کې فساد | **سلام وطندار ورځپاڼه، د ۱۳۹۵ کال د تلې ۲۸ مه**<br>• د غزنې په شاوخوا 30 ښوونځیو کې د مدیرانو په ګمارنه کې د فساد ادعا. تورن کسان عبارت دي له: د غزنې د معارف ریاست دوه کارکوونکي، پارلمان کې د غزنې یو شمیر استازي، د سیاسي ګوند غړي، کابل کې د پوهنې وزارت یو  شمیر کارکوونکي چې قضیې یې لوی څارنوالۍ ته راجع شوي دي.<br>• د فساد په اړه ادعاوې عبارت دي له:<br>- په لیکلي ښه د کاندیدانو د آزموینې د ترسره کولو څخه ډډه کول<br>- د ښونځیو مدیرانو ته په اوسطه توګه د 5-15 وړیا نمرو ورکول<br>- ځینو نوماندانو ته د پایلو د غلطو  پاڼو چمتو کول<br>- د کاندیدانو تجربه له پامه غورځول<br>- د کاندیدانو د وړتیاوو او  زدکړو په اړه نیمګړي  شواهد |
| | د دارلمعلمینونو د ودانیو په جوړونه کې نیمګرتیاوې | سیګار, IP-19-17 جمعه، مرغومی ۱۰، ۱۳۹۵، مخونه : 10 9 ,7 ,6 ,5 ,3 ,2 |
| | د داسې خدمتونو لپاره د پیسو غوښتنه چې وړیا دي | ۸ صبح ورځپاڼه، د ۱۳۹۴ کال د سلواغې ۱۳ مه<br>**<u>د هرات د پوهنې ریاست کې فساد</u>**<br>د پوهنې وزارت لخوا ټاکل شویو دوه تخنیکي کمیټو د هرات ولایت په یو شمیر نا امنو ولسوالیو کې یوه ارزونه ترسره کړې ده چې ددې ارزونې موندنې په دې ولایت کې په لاندې ډول فساد په ډاګه کوي:<br>• د خیالي ښوونکو او زده کوونکو ، بې سواده او نا لوستو ښوونکیو، خیالي ښوونځیو او  غیر فعال ښوونځیو شتون |

| | | |
|---|---|---|
| | | • نامستحقو افرادو ته د ښوونکو د معاشونو ویشل<br>• ښوونکي د ښوونځي شهادت نامه نلري<br>• په لیست کي د ښوونکو نوم شته خو ښوونکی شتون نلري<br>• د خپل صلاحیت څخه بهر عمل کول، د پوهني وزارت قوانین او مقررات له پامه غورځول، د پوهني وزارت قوانینو او مقرراتو په اړه د پوهاوی نشتوالی<br>• له ښوونکو څخه د غیرقانوني فیس ترلاسه کول<br>• د قراردادي ښوونکو په ګمارنه کي د خپلولی پالل<br>• د ښوونکو په معاشونو/امتیازونو کي اختلاس<br>• د یو شمیر ښوونکو لخوا د دوو معاشونو ترلاسه کول<br>• د هغو کسانو لخوا د معاشونه ترلاسه کول چي په لست کي دي خو په حقیقت کي ښوونکي نه دي<br>• د خپلو معاشونو / ګټو په اړه د یوشمیر ښوونکو د پوهاوی نشتوالی<br>• د ښوونکو د ټیټي وړتیا له امله د نیمګړي نصاب تدریس |
| | د پوهني په سیستم کي قومي، ژبني تبعیض | **جمهور خبري آژانس ، کب ۱۳۹۲**<br>مالي فساد، خپلوي پالنه، توکمیز او ژبنی تبعیض، لرې پرتو ولایتونو / ولسوالیو کي د پوهني سیستم د څارني نشتوالی، د کابل معارف ته ځانګړي امتیازونه په پام کې نیول، د افغانستان د پوهنې د سیستم سترې نیمګړتیاوې دي. |
| | دولت او پرمختیایي همکارانو ته د ډیرو بودیجو ترلاسه کولو په موخه د غلطو معلوماتو برابرول | **افغان خبري آژانس ، د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۲۴ مه**<br>د دولت لخوا ټاکل شوې تخنیکي کاري ډلې په ټول هیواد کې د 1007 ښوونځیو ارزونه ترسره کړې چې د دې ارزونې موندنې په لاندې ډول دي:<br>• د فعال او غیر فعاله ښوونځیو د شمیر، د ښوونځیو د اداري کارکوونکو ، ښوونکیو او زده کونکیو د شمیر، او هغو ښونځیو چې ودانۍ لري او هغو په اړه چې ودانې نلري د غلطو راپوررونو ورکول<br>• د ښوونکو معاشونو په ورکړه کې ځنډ<br>• په هیواد کې د فعالو او غیر فعالو ښوونځیو د شمیر، ودانۍ لرونکو او بې ودانۍ ښونځیو، د ښوونکو معاشونو او داسې نورو مواردو په اړه د مخکیني وزیر له خوا د ناسمو چمتو شویو مالوماتو په اړه د پوهنې وزارت د نوي وزیر ادعاوې<br>**طلوع نیوز، سلواغه/۱۳۹۴**<br>**<u>د پوهنې په وزارت کې د ښونځیو زدکوونکو په شمیر کې توپیرونه</u>**<br>• د پوهني وزارت د وزیر په وینا، په ټول هیواد کي د ښوونځیو اوسنیو زده کوونکو شمیر له 7 میلیونو څخه کم دی، پداسې حال کې چې د پوهنې د پخواني وزیر لخوا دا شمیر 11.5 میلیونه راپور ورکړل شوی وو.<br>• د ښوونځیو زده کوونکو شمیر چې د مالیي / اداري اوسني معین لخوا وړاندې شوی خورا مختلف انځور څرګندوي چې شاوخوا 9.2 میلیونه زده کونکي په ټول هیواد کې ښيي. |
| | د ملي یووالي په حکومت کي فساد سره د مبارزې په اړه د سیاسي هوډ او ارادې نه شتون | **افغانستان ورځپاڼه (The Daily Afghanistan)، د ۱۳۹۵ کال د مرغومي۲۰ مه**<br>**<u>افغانستان کې د اداري فساد د څرخ دوران</u>**<br>• د خیالي ښوونځیو، د خیالي زده کوونکو او خیالي ښوونکو شتون<br>• د سیګار (2016) راپور په دې خیالي بنسټونو باندې د امریکي د متحده ایالاتو د 750 $ میلیونه ډالرو مرستې |

| | | |
|---|---|---|
| | | ضایع کیدو ته اشاره کوي. |
| | سلاکاران چې د وړتیاوو او تحصیلاتو کچه یې ښکته ده خو لوړ معاشونه او صلاحیتونه لري | **افغانستان ورځپاڼه، د ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۱۹ مه**<br>د افغانستان ولسمشر له خوا د ګمارل شوي ټیم د ارزوني موندني په لاندي ډول دي:<br>• د سلګونو خیالي ښوونځیو او زرګونو خیالي ښوونکو او زده کوونکو شتون<br>• د درسي کتابونو چاپولو د تخصیص په ګډون معارف ته د نړیوالي ټولنېپه ملیونونو ډالرو مرستو کي اختلاس<br>• د فعال او غیر فعاله ښوونځیو په شمیر کي توپیر<br>• د ښوونځیو ودانۍ بشپړه شوي نه دي پداسي حال کي چي قراردادیان پوره پیسي ترلاسه کوي<br>• د زدکړې خیالي پروګرامونه<br>• د بورسونو په ویشلو کي خپلوي پالل<br>• د بازار په پرتله په لوړه بیه د ښوونځیو لپاره د کورونو په کرایه نیول |
| | د پوهنې په وزارت کي د کره او تازه مالوماتو نشتوالی( غلط معلومات) | سیګار ,SP-62-15-۲۱ غبرګولی، ۱۳۹۴,مخونه: .9 ,8 ,7 ,6 ,5 ,4 ,3 ,2 ,1 |
| | د پوهنې په وزارت کي د کره آمارو او ارقامو نشتوالی، او د اداري فساد له امله د اړینو معلوماتو چمتو کولو کي د همکارۍ نشتوالی | **ماندګار ورځپاڼه ، د ۱۳۹۴ کال د لړم ۱۲ مه**<br>د پوهنې په وزارت کي د فساد ارزوني لپاره د حقیقت موندني د ډلي غړی - د وردګ د فساد قضیه ولسمشر ته سپارل کیدی شي - د پوهنې وزارت کي د کره آمارو او ارقامو نشتوالی، او د اداري فساد له امله د اړینو معلوماتو چمتو کولو کي د همکارۍ نشتوالی |
| | غیر مجاز او پرته له سنده لګښتونه په افغانستان کي د BESST او CBSG پروګرامونو په پلي کیدو کي ترسره شوي. | **مالي پلټنه ,FA-18-14سه شنبه، د ۱۳۹۲ کال د مرغومي ۱۷ مه** |
| | د شته فساد له کبله د کارکوونکو لخوا د دندو پرېښودنه | **پیام افتاب خبري آژانس ، ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۱۹ مه**<br>د هرات د دارالمعلمینو(TTC)رییس استعفا ورکړه<br>هغه د خپلي استعفا لاملونه په لاندې ډول بیانوي:<br>• په هرات کي د پوهنې ریاست د رییس له خوا له صلاحیت څخه ناوړه ګټه اخیستنه<br>• د بودیجې اختلاس<br>• د پوهنې رئیس له خوا ناقانونه کړنې، غیر منطقي اظهارات او ویناوې ، ګواښونه، سپکاوی ، خپلوي پالنه او سیاسي ګمارنې. |
| | په افغانستان کي د لومړني او ثانوي زده کړو لپاره د USAID لخوا د خپلو پروګرامونو د هر اړخیزو ارزونو نشتوالی | سیګار، د ۱۳۹۵ کال د غوایي ۷ مه، مخونه:24 , 23 ,9 ,4 ,3 ,2<br>• د توجه محراق، چهارشنبه، د لیندۍ ۱۹ مه ، ۱۳۹۳ |

| | | |
|---|---|---|
| | د متحده ایالاتو په ودانیزو پروژو کې ضیاع، درغلي ، له بودیجو ناوړه ګټه اخیستنه، او داسې نور. | |
| | د قرارداد ټولو شرایطو پوره کیدوه څخه مخکې د پروژې د بشړتیا تائیدي | سیګار-تفتیش ,01-10 ۴ لړم، مخونه: 13 , 12 ,7 ,6 ,5 ,3 . |
| **تدارکات/قرارداد** | قراردادي د قرارداد ټولې پیسې واردمخه ترلاسه کړي دي خو د ښونځي د ودانۍ چارې یې نیمګړې پریښې دي. | **باختر خبري آژانس ، د ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۱۲ مه**<br>• بامیانو څخه د دویم مرستیال (سرور دانش) د کتنې پرمهال د بامیانو د پوهنې ریاست مشرتابه د دې ولایت د پوهنې په سکتور کې د شته ننګونو په اړه وایي<br>• د بامیان د ښوونې او روزنې ریاست د مشر له قوله، د ښوونکو تقاعد، د بشري منابعو کموالی او د قراردادي ښوونکو د معاشونو ورکول د بامیانو د ښوونې او روزنې سکتور ترټولو ستونزمنې برخې دي<br><br>**۸ صبح، د ۱۳۹۵ کال د چنګاښ ۸ مه**<br>● • د ښوونځیو نیمګړې ودانۍ<br>• د ښوونځیو ودانیو په ترمیم او ساتنه کې فساد(د اختصاص شویو بودیجو اختلاس)<br>• بډی او اخاذي<br>• د ښوونځیو ساختماني ساحو څخه د څارنې نشتوالی<br>• د سلاکارانو، ښوونکو او اداري کارکوونکو په ګمارنه کې خپلوي پالنه<br>● د بستونو پلور (ګمارنې لپاره بډې ورکول)<br>• د ګمارنې پروسه کې د سیاستوالو لاسوهنه<br>• په ناامنو ولسوالیو کې د ولایتي شورا د غړیو ترمنځ د ښوونکو د معاشونو ویشل |
| | د اداري کارکونکو او ښونکو په ګمارنه، د دندې په تخصیص او سپارلو، مقرریو، تبدیلۍ او ترفیع کې د منل شویو معیارونه له پامه غورځول | **دري خبري آژانس ، ۱۳۹۴**<br>• د پوهنې په وزارت کې د ښوونکو په ګمارنه کې په پراخه کچه فساد<br>• په افغانستان کې شاوخوا 55 سلنه د ښونځیو ښوونکي اړینې وړتیاوې او تحصیلات نلري |
| | د ښوونکو د ګمارنې او ځای پر ځای کولو لپاره د بډو اخستل | **فرهنګ خبري آژانس ټولنه، د ۱۳۹۵ کال د چنګاښ ۱۲مه**<br>ولسي جرګه کې د غزني استازیو او د غزني ولایتي شوراګانو یو شمېر غړو له قوله، اخلاقي فساد او بډې د غزني د پوهنې په سیستم کې د فساد معمولې کړنې دي.<br>اریانا نیوز ، د ۱۳۹۵ کال د چنګاښ ۱۵ مه<br>د کابل په ښوونځیو کې فساد<br>د کابل په ښوونځیو کې د ښوونکو په ګمارنه کې بډې، خپلوي پالنه او سیاسي فشار |
| | د ښوونکو او د ښوونځي کارکوونکو په ګمارنه کې د ځایي جنګ سالارانو او با | **اورال ورځپاڼه، د ۱۳۹۴ کال د وږي ۲۶ مه**<br>په معارف کې د فساد زنځیر - له وزارت څخه تر ښوونځیو پورې. د غزني ولایت د نهور ولسوالی څخه د راپور له مخې د |

| | | |
|---|---|---|
| | نفوذه کسانو لاسوهنه | نهور په ښوونځيو کې د فساد لانديني ډولونه شتون لري:<br>• د ښوونکو غير حاضري<br>• د ګمارنې په لړۍ کې د محلي ځواکمنو کسانو لاسوهنه<br>• د وړ ښوونکو ، درسي کتابونو ، فرنيچر او د ښوونځي نورو تجهيزاتو نشتوالی<br>• زدکوونکو سره د ښوونکو او د ښونځي اداري له خوا ناوړه چلند |
| | د مرکزي وزارت لخوا تخصيص شويو بوديجو او همدارنګه د نړيوالي ټولنې يا نادولتی موسسو لخوا د مرسته شويو پيسو څخه ناوړه ګټه اخيستنه | **۸ صبح، د ۱۳۹۵ کال د مرغومي لومړۍ نيټه**<br>• په کندوز ولايت کې د پوهنې بوديجه کې د 16 $ ميليونه ډالرو په ارزښت اختلاس |
| | د ښوونکو او زدکوونکيو غير حاضري | سيګار ,SP-12-17-۱۲ لړم ۱۳۹۵? 5, 6, 7, 8, 9, 10, 11, 12,13, 14, 15, 16,<br>د ۸۵ ريپورټ مقاله، ۱۹ مخ |
| | • د پوهنې وزارت په ساختماني پروژو کې ناقص او نيګړې پلان، د خونديتوب ستونزې او د کيفيت کمزوری کنترول | سيګار- تفتيش ,10-02 ۱۰ تله ۱۳۸۸. 3, 5, 7 and 9 |
| | | **آشنا راډيو، د ۱۳۹۲ کال د وږي ۲ مه**<br>د بلخ د پوهنې رياست کې فساد<br>• د بلخ د پوهنې رياست مشر لخوا د ښځينه ښوونکو جنسي ځورونه<br>• د بلخ ولايت په تعليمي پروژو کې پراخ فساد<br>• له واک او صلاحيت څخه ناوړه ګټه اخيستنه<br>**نور تلويزيون، د ۱۳۹۴ کال د مرغومي ۱۵ مه**<br>د زابل ولايت په معارف رياست کې فساد<br>• د زابل ولايت د پوهنې رئيس د فساد او له واک څخه د ناوړه ګټه اخيستنې په تور لوی څارنوالۍ ته معرفي شوی دی<br>• په زابل کې د پوهنې رياست د ځينو کارکوونکو دندې د فاسد رئيس سره د اړيکو درلودو په تور وځنډيدلي ږ |
| | په سيمه ييزو بازارونو کې د ښوونځيو د تجهيزاتو او درسي موادو پلورل | **پيوندګاه خبري آژانس، غوايی** ۱۳۹۵<br>د ارزګان د ښوونځيو دريمه برخه د اداري فساد او نا امنۍ له کبله تړل شوي<br>• په ټول ارزګان ولايت کې د نجونو درې ښوونځيو په ګډون 100 ښوونځي د لاندې عواملو له کبله تړل شوي دي:<br>- پراخ فساد<br>- د دولت له خوا د پاملرنې او منظمې څارنې نشتوالی<br>- دوامداره ناامني<br>• د فساد له کبله ښوونکي خپل معاشونه ترلاسه کولی نشي او ښونځيو کې لازم او اړين توکي نشته |

| | | |
|---|---|---|
| | | |
| | د پوهني په سکتور کي خلکو ته د چارواکو د حساب ورکوني نشتوالی | **پیام آفتاب، ۱۳۹۵**<br>د بلخ د پوهنې په سیستم کې مالي فساد او د حساب ورکوني نشتوالی<br>• په ګمارنه کې خپلوي پالنه او رشوت ورکول<br>• د حساب ورکوني نشتوالی |
| | د اسنادو جعل او تزویر | **افق خبري آژانس**<br>• د باميانو د پوهني رياست 12 لوړ پوړي چارواکي په زندان او د جريمو په ورکولو محکوم شول.<br>• د مسؤليتونو په ترسره کولو کي ناغيري او د اسنادو جعل او تزوير د فساد لويې بيلګې دي |
| | د ګمارني او د دندي اشغالولو لپاره د ښوونکيو له خوا بډې ورکول | **ازمون ملي ورځپانه، د ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۲۰ مه**<br>• د افغانستان په معارف وزارت کي بډې، قومي او شخصي اړيکې په پراخه کچه شتون لري.<br>• د ګمارني پروسي کي پراخه خپلوي پالنه<br>• د شهادتنامو ترلاسه کولو لپاره د پيسو ورکول |
| | د ښونځيو د جعلي شهادتنامو پلور | **جرغی او برجکی خبري شبکه، د ۱۳۹۰ کال د زمري ۱۳ مه**<br>د ښونځيو د جعلي شهادتنامو پلور |
| **تدارکات او ځای پرځای کول** | د هغو ښوونځيو لپاره اختصاص شوې بوديجه کې اختلاس چې د ډېرو کلونو راهيسي تړل شوي دي | پژواک خبري آژانس، د ۱۳۹۴ کال د کب۲ مه<br>• د خيالي ښوونکيو شتون، په ځانګړې توګه د هرات په ناامنه ولسواليو کې<br>• د ښوونکو د تحصيلاتو ټيټه کچه<br>• ښوونکو ته په داسې حال کې معاشونه ورکول کيږي چې ښوونځي يې تړل شوي دي<br>• په يو شمير تړل شويو ښونځيو کې د ښوونکو معاشونه د دغو ښونځيو سرمعلمينو ته ورکول کيږي<br><br>• د ښوونکو په ګمارنه کې د ځايي زور واکو لاسوهنه<br>• د ښوني او روزنې له پروسو څخه د منظمې څارني نشتوالی، په ځانګړې توګه په لرو پرتو او نا امنه ولسواليو کې<br><br>**همرساني، د ۱۳۹۵ کال د ليندۍ ۱۴ مه**<br>غور ولايت کې د معارف په بوديجه کې اختلاس |
| | بازار کې د هغو خوراکي مرستو پلورل چې زدکوونکو ته ځانګړې شوې دي | **باميان ورځپانه، د ۱۳۹۰ کال د مرغومي ۱۰ مه**<br>• په بازار کې د هغو مرستندويو توکو خرڅول (غوړي او بسکيټ) چې د باميانو د ښوونځي شاګردانو ته ځانګړې شوي |
| | د ښوونځيو د اداري ناوړه چلند | **افغان نيوز خبري آژانس، د ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۱۲ مه**<br>• د باميان په مرکز کې يوشمير ښځينه زدکوونکو د ښوونې او روزنې په رياست کې د اخلاقي فساد(جنسي |

| | | |
|---|---|---|
| | | څورونې) په وړاندې اعتراض وکړ<br>• زده کوونکو سره د ښووني او روزني د رئیس ناسم چلند |
| | د معارف په بودیجه کې کې اختلاس | د افغانستان د سولې پرس– د زدکوونکو خبري آژانس- د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۸ مه<br>• بورسونو لپاره د نوماندانو د آزموینې په پروسه کې فساد<br>• د اداري کارکونکو، مدرسینو او د خدماتي کارکونکو په ګمارنه کې توکم پالنه او پلوي |
| | خیالي زدکوونکي، ښونځي او ښوونکي | د سیګار ریپورټ<br>سیګار, SP-12-17-۱۴ لړم ۱۳۹۵, مخونه: 5, 6, 7, 8, 9, 10, 11, 12, 13, 14, 15, 16, 17 , 18 |
| د خصوصي ښوونځیو او خصوصي دارالمعلمینونو رامینځته کول او اعتبار ورکول | له جوړیدو وروسته په ډیره کمه موده کې د ښوونځي د ودانۍ زیانمنیدل | سیګار, SP-12-17-۱۴ لړم ۱۳۹۵, مخونه: 5, 6, 7, 8, 9, 10, 11, 12, 13, 14, 15, 16, 17 , 18<br><br>سیګار, SP-38-16-۳۰ غوایی ۱۳۹۵ , مخونه:1,2,3,4, 5 |
| | د ښوونکیو د تحصیلي کچې ټیټوالی | جامعه باز ورځپانه ، د ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۱۹مه<br>په کابل کې د لاندې دلایلو له امله د۵۲ خصوصي ښوونځیو کار او فعالیت وځنډول شو:<br>• د ښوونکو د تحصیلاتو او وړتیا ټیټه کچه<br>• د زده کړې ټیټ کیفیت<br>• د مالیې د ورکړې څخه تیښته<br>• د کار او فعالیت د جواز نه لرل |
| | د پوهنې وزارت له خوا د ناکره مالوماتو وړاندې کیدل | **اصلاح انلاین، د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۷ مه**<br>په افغانستان کې د سواد زده کونې پروګرامونو په اړه د ستراتیژیکو او سیمه ایزو مطالعاتو د مرکز موندنې. د CSRS د موندنو له مخې، د افغانستان د سواد زده کونې په سیستم کې لاندې نیمګړتیاوې روښانه دي:<br>• د هغو اشخاصو په شمیر کې توپیر چې د (2009-2014) په موده کې یې د سواد زده کونې له پروګرامونو څخه ګټه پورته کړې ده.<br>• د نالوستو کسانو(نارینه او ښځو) د شمیر په اړه د باوري او کره مالوماتو نشتوالی او په تیرو لسو کلونو کې د سواد زده کړې کورسونو څخه د فارغانو کره شمیر<br>• د سواد زده کونې هغو کورسونو د شمیر په اړه ارقامو کې توپیرونه چې د پوهنې وزارت او د احصایې ملي اداری لخوا وړاندې شوي دي<br>• د سواد زده کونې د معیاري نصاب نشتوالی<br>• هغو بودیجو څخه ناوړه ګټه اخیستل چې د پوهنې وزارت، ټولنې او نړیوالو نادولتي ادارو له خوا د سواد زده کونې پروګرامونو ته ځانګړې شوې دي<br>• ځایي بازارونو کې د هغو درسي توکو پلورل چې د سواد زده کونې کورسونو لپاره ځانګړي شوي دي<br>• د سواد زده کونې خیالي کورسونه او د سواد زده کونې خیالي ښوونکي |

## 2. ضمیمه: د ولایت، جنسیت، ښوونیز، ناښوونیز په اساس د پوهني وزارت کارکوونکي. ۱۳۹۵ (۲۰۱۶)[1]

| | د پوهني وزارت کارکوونکي 1395 (2016) | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ښوونکی | | | مامور/استازی | | | کومکي کارکوونکي | | | مجموعي تشکیل | | |
| | | نارینه | ښځینه | مجموعه | نارینه | ښځینه | مجموعه | نارینه | ښځینه | مجموعه | نارینه | ښځینه | مجموعه |
| 1 | کابل | 3,989 | 1,766 | 5,755 | 414 | 33 | 447 | 780 | 21 | 801 | 5,183 | 1,820 | 7,003 |
| 2 | کاپیسا | 2,970 | 568 | 3,538 | 393 | 19 | 412 | 732 | 19 | 751 | 4,095 | 606 | 4,701 |
| 3 | پروان | 5,312 | 956 | 6,268 | 640 | 30 | 670 | 1,299 | 42 | 1,341 | 7,251 | 1,028 | 8,279 |
| 4 | وردک | 4,287 | 266 | 4,553 | 694 | 8 | 702 | 1012 | 7 | 1,019 | 5,993 | 281 | 6,274 |
| 5 | لوګر | 2,837 | 419 | 3,256 | 349 | 16 | 365 | 632 | 23 | 655 | 3,818 | 458 | 4,276 |
| 6 | غزني | 5,052 | 1,711 | 6,763 | 553 | 67 | 620 | 1,275 | 65 | 1,340 | 6,880 | 1,843 | 8,723 |
| 7 | پکتیا | 2,874 | 149 | 3,023 | 370 | 4 | 374 | 652 | 1 | 653 | 3,896 | 154 | 4,050 |
| 8 | ننګرهار | 12,649 | 1,592 | 14,241 | 898 | 16 | 914 | 2,197 | 53 | 2,250 | 15,744 | 1,661 | 17,405 |
| 9 | لغمان | 3,854 | 297 | 4,151 | 429 | 8 | 437 | 727 | 12 | 739 | 5,010 | 317 | 5,327 |
| 10 | کنر | 3,916 | 215 | 4,131 | 473 | 7 | 480 | 936 | 6 | 942 | 5,325 | 228 | 5,553 |
| 11 | بدخشان | 7,045 | 3,477 | 10,522 | 636 | 105 | 741 | 1,446 | 70 | 1,516 | 9,127 | 3,652 | 12,779 |
| 12 | تخار | 5,982 | 2,525 | 8,507 | 657 | 64 | 721 | 918 | 56 | 974 | 7,557 | 2,645 | 10,202 |
| 13 | بغلان | 6,936 | 2,419 | 9,355 | 432 | 32 | 464 | 1,667 | 62 | 1,729 | 9,035 | 2,513 | 11,548 |
| 14 | کندز | 4,812 | 1,937 | 6,749 | 423 | 45 | 468 | 987 | 85 | 1,072 | 6,222 | 2,067 | 8,289 |
| 15 | سمنګان | 1,773 | 757 | 2,530 | 142 | 16 | 158 | 464 | 27 | 491 | 2,379 | 800 | 3,179 |
| 16 | بلخ | 5,381 | 6,595 | 11,976 | 457 | 151 | 608 | 1,478 | 219 | 1,697 | 7,316 | 6,965 | 14,281 |
| 17 | جوزجان | 2,665 | 1,977 | 4,642 | 171 | 58 | 229 | 817 | 50 | 867 | 3,653 | 2,085 | 5,738 |
| 18 | فاریاب | 3,499 | 2,024 | 5,523 | 175 | 44 | 219 | 1,126 | 66 | 1,192 | 4,800 | 2,134 | 6,934 |
| 19 | بادغیس | 2,090 | 462 | 2,552 | 230 | 15 | 245 | 542 | 26 | 568 | 2,862 | 503 | 3,365 |
| 20 | هرات | 7,930 | 8,407 | 16,337 | 454 | 133 | 587 | 1,606 | 377 | 1,983 | 9,990 | 8,917 | 18,907 |
| 21 | فراه | 1,707 | 983 | 2,690 | 277 | 33 | 310 | 555 | 52 | 607 | 2,539 | 1,068 | 3,607 |
| 22 | نیمروز | 629 | 911 | 1,540 | 209 | 18 | 227 | 245 | 35 | 280 | 1,083 | 964 | 2,047 |
| 23 | هلمند | 2,290 | 498 | 2,788 | 301 | 4 | 305 | 594 | 39 | 633 | 3,185 | 541 | 3,726 |
| 24 | کندهار | 4,024 | 745 | 4,769 | 453 | 26 | 479 | 1,400 | 85 | 1,485 | 5,877 | 856 | 6,733 |
| 25 | زابل | 731 | 75 | 806 | 180 | 4 | 184 | 389 | 14 | 403 | 1,300 | 93 | 1,393 |
| 26 | ارزګان | 1,143 | 39 | 1,182 | 111 | 1 | 112 | 260 | 4 | 264 | 1,514 | 44 | 1,558 |
| 27 | غور | 4,066 | 482 | 4,548 | 404 | 12 | 416 | 884 | 13 | 897 | 5,354 | 507 | 5,861 |

[1]- سرچینه: د پوهني معلوماتي سیستم یا EMIS

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4,188 | 856 | 3,332 | 524 | 15 | 509 | 264 | 19 | 245 | 3,400 | 822 | 2,578 | باميان | 28 |
| 4,741 | 63 | 4,678 | 811 | 5 | 806 | 279 | 0 | 279 | 3,651 | 58 | 3,593 | پکتيکا | 29 |
| 2,100 | 197 | 1,903 | 301 | 6 | 295 | 218 | 1 | 217 | 1,581 | 190 | 1,391 | نورستان | 30 |
| 4,424 | 1,171 | 3,253 | 814 | 62 | 752 | 426 | 63 | 363 | 3,184 | 1,046 | 2,138 | - سرپل | 31 |
| 5,528 | 206 | 5,322 | 709 | 5 | 704 | 425 | 6 | 419 | 4,394 | 195 | 4,199 | خوست | 32 |
| 1,854 | 315 | 1,539 | 309 | 18 | 291 | 225 | 13 | 212 | 1,320 | 284 | 1,036 | پنجشير | 33 |
| 4,181 | 1,253 | 2,928 | 554 | 55 | 499 | 432 | 69 | 363 | 3,195 | 1129 | 2,066 | دايکندی | 34 |
| 36,192 | 21,748 | 14,444 | 6,042 | 1451 | 4,591 | 3,355 | 1,013 | 2,342 | 26,795 | 19,284 | 7,511 | کابل ښار | 35 |
| **261,840** | **72,068** | **189,772** | **39,973** | **3,509** | **36,464** | **19,531** | **2,555** | **16,976** | **202,336** | **66,004** | **136,332** | | **مجموعه** |

## ۳ ضمیمه: د جنسیت او ولایت په اساس خصوصي ښوونځي (2016) 1395

| ګڼه | ولایت | لومړنی ښوونځی | | منځنی ښوونځی | | لیسه | | ښوونکي | | زدکوونکي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | هلک | انجلۍ | هلک | انجلۍ | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه |
| 1 | ارزګان | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | بادغیس | 0 | 0 | 3 | 0 | 0 | 0 | 24 | 10 | 140 | 50 |
| 3 | بامیان | 4 | 0 | 1 | 0 | 2 | 0 | 35 | 15 | 600 | 78 |
| 4 | بدخشان | 2 | 0 | 1 | 0 | 4 | 0 | 44 | 20 | 787 | 300 |
| 5 | بغلان | 6 | 0 | 3 | 0 | 4 | 0 | 27 | 30 | 700 | 400 |
| 6 | بلخ | 16 | 0 | 13 | 0 | 22 | 0 | 200 | 275 | 2,000 | 274 |
| 7 | پروان | 0 | 0 | 2 | 0 | 6 | 0 | 50 | 15 | 800 | 419 |
| 8 | پکتیا | 4 | 0 | 3 | 0 | 7 | 0 | 100 | 18 | 1,900 | 183 |
| 9 | پکتیکا | 0 | 0 | 1 | 0 | 1 | 0 | 20 | 12 | 600 | 75 |
| 10 | پنجشیر | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 11 | تخار | 3 | 0 | 2 | 0 | 5 | 0 | 80 | 11 | 800 | 39 |
| 12 | جوزجان | 2 | 0 | 1 | 0 | 4 | 0 | 70 | 11 | 800 | 99 |
| 13 | خوست | 11 | 0 | 51 | 0 | 31 | 0 | 600 | 208 | 7,000 | 870 |
| 14 | دایکندي | 3 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 20 | 15 | 400 | 22 |
| 15 | زابل | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 3 | 1 | 60 | 17 |
| 16 | سر پل | 0 | 0 | 1 | 0 | 2 | 0 | 20 | 13 | 600 | 22 |
| 17 | سمنګان | 1 | 0 | 1 | 0 | 1 | 0 | 20 | 5 | 200 | 82 |
| 18 | کابل ښار | 100 | 0 | 300 | 0 | 199 | 0 | 4,000 | 1,982 | 50,000 | 13,844 |
| 19 | غزني | 20 | 0 | 10 | 0 | 4 | 0 | 200 | 79 | 3,000 | 953 |
| 20 | غور | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 3 | 1 | 40 | 14 |
| 21 | فاریاب | 3 | 0 | 0 | 0 | 3 | 0 | 40 | 6 | 500 | 79 |
| 22 | فراه | 4 | 0 | 3 | 0 | 4 | 0 | 100 | 43 | 1,000 | 437 |
| 23 | کاپیسا | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 3 | 1 | 70 | 12 |
| 24 | کندهار | 9 | 0 | 10 | 0 | 20 | 0 | 300 | 108 | 8,097 | 290 |
| 25 | کندز | 3 | 0 | 7 | 0 | 3 | 0 | 80 | 17 | 1,000 | 283 |
| 26 | کنړ | 2 | 0 | 3 | 0 | 2 | 0 | 40 | 16 | 700 | 114 |
| 27 | لغمان | 2 | 0 | 2 | 0 | 2 | 0 | 30 | 13 | 900 | 96 |
| 28 | لوګر | 2 | 0 | 7 | 0 | 2 | 0 | 100 | 33 | 1,000 | 722 |
| 29 | ننګرهار | 40 | 0 | 30 | 0 | 14 | 0 | 400 | 157 | 7,000 | 1,046 |
| 30 | نورستان | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 31 | نمروز | 2 | 0 | 6 | 0 | 2 | 0 | 70 | 10 | 900 | 160 |
| 32 | هرات | 50 | 0 | 50 | 0 | 42 | 0 | 1,000 | 681 | 20,000 | 4,706 |
| 33 | هلمند | 2 | 0 | 8 | 0 | 2 | 0 | 70 | 14 | 1,800 | 240 |
| 34 | وردګ | 1 | 0 | 1 | 0 | 1 | 0 | 20 | 7 | 400 | 85 |
| 35 | کابل ولایت | 10 | 0 | 10 | 0 | 10 | 0 | 200 | 50 | 2,000 | 872 |
| **مجموعی** | | **303** | **0** | **532** | **0** | **401** | **0** | **7,969** | **3,877** | **11,5794** | **26,883** |
| **تولیزه مجموعه** | | **1,236** | | | | | | **11,846** | | **142,677** | |

## ۴ ضمیمه: په مطلوبه ولایتونو کې ټاکلو ښوونځیو لپاره پرتلیزه نوم لیکنه (شمولیت)، حاضري او EMIS

### الف. ټاکل شوي ښوونځي لپاره د EMIS مالوماتو په وړاندې شمولیت

د دې ارزونې په وخت کې (جولای ۲۰۱۷) د روان تعلیمي کال لپاره مالومات نشته. د تیرو څلورو تعلیمي کلونو معلومات په ښوونځي کې د ثبت شمیر او د EMIS ډیټابیس کې ساتل شوي شمیر ترمنځ توپیر ښیي. په ډیرو مواردو کې پراخه توپیر شتون لري (د سلنې په ستون کې یوه د (-x) علامه ښیي چې د EMIS شمیر د زدکوونکیو د شمولیت له شمیر څخه زیات دی او (+x) علامه ښیي چې د شمولیت شمیر له EMIS څخه زیات دی.

| شمیره | ښوونځی | ولایت | 1392 | | | 1393 | | | 1394 | | | 1395 | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | شمولیت | EMIS | % Variance | شمولیت | EMIS | % Variance | شمولیت | EMIS | % Variance | شمولیت | EMIS | % Variance |
| 1 | عبدالرحیم شهید د هلکانو لیسه | کابل | 13,762 | 11,381 | -21 | 13,836 | 11,532 | -20 | 15,662 | 13,022 | -20 | 15,136 | 13,911 | -9 |
| 2 | زینب کبری د نجونو لیسه | کابل | 7,396 | 7,152 | -3 | 7,204 | 7,231 | 0 | 7,547 | 6,931 | -9 | 7,541 | 7,082 | -6 |
| 3 | د ابو قاسم فردوسي لیسه | کابل | 2,755 | 3,235 | +15 | 2,018 | 3,421 | +41 | 3,082 | 3,102 | +1 | 3,011 | 3,207 | +6 |
| 4 | گل دره د نجونو لیسه | کابل | 547 | 840 | +35 | 642 | 509 | -26 | 626 | 542 | -15 | 638 | 532 | -20 |
| 5 | یسرا ښوونځی (د نجونو ښوونځی) | کابل | 192 | 298 | +36 | 312 | 281 | -11 | 717 | 399 | -80 | 590 | 463 | -27 |
| 6 | امیر حمزه | کابل | 2,353 | 2,429 | +3 | 2,418 | 2,290 | -6 | 2,439 | 2,430 | 0 | 2,532 | 3,554 | +29 |
| 7 | غلام حیدر خان (ورځ) | کابل | 6,708 | 6,274 | -7 | 6,290 | 6,336 | +1 | 6,300 | 6,367 | +1 | 6,250 | 6,359 | +2 |
| 8 | غلام حیدر خان | کابل | 1,100 | 1,745 | +37 | 1,300 | 1,426 | +9 | 1,370 | 1,646 | +17 | 1,400 | 1,359 | -3 |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | (شپی) | | | | | | | | | | | | | |
| 9 | رابعه بلخي | کابل | 2,404 | 2,380 | -1 | 1,997 | 2,308 | +13 | 2,157 | 2,335 | +8 | 1,936 | 3,221 | +40 |
| 10 | محمود هوتکي | کابل | 3,864 | 4,060 | +5 | 3,746 | 3,799 | +1 | 2,840 | 3,708 | +23 | 2,500 | 3,309 | +24 |
| 11 | ملکه جلايي ليسه | هرات | 1,950 | 2,726 | +28 | 2,200 | 2,413 | +9 | 2,413 | 2,276 | -6 | 2,420 | 2,420 | 0 |
| 12 | فخرالمدار س ليسه | هرات | 620 | 933 | +34 | 800 | 910 | +12 | 933 | 933 | 0 | 1,028 | 1,079 | +5 |
| 13 | دارالحفاظ | هرات | 382 | 440 | +13 | 320 | 383 | +16 | 413 | 413 | 0 | 374 | 394 | +5 |
| 14 | امير علي شير نوايي د نجونو ليسه | هرات | 2,812 | 4,035 | +30 | 3,052 | 3,110 | +2 | 3,145 | 2,982 | -5 | 3,069 | 3,069 | 0 |
| 15 | سلطان غياث الدين غوري | هرات | 5,500 | 8,561 | +36 | 6,130 | 7,500 | +18 | 7,053 | 6,817 | -3 | 7,431 | 7,227 | -3 |
| 16 | امير علي شير نوايي د هلکانو ليسه | هرات | 2,400 | 2,917 | +18 | 2,545 | 2,706 | +6 | 2,911 | 2,787 | -4 | 2,641 | 3,260 | +19 |
| 17 | گوهر شاد د نجونو ليسه | هرات | 5,671 | 9,073 | +37 | 5,500 | 7,930 | +31 | 7,354 | 8,051 | +9 | 5,977 | 7,849 | +24 |
| 18 | د زراعت او وترنرۍ انستيتيوت | هرات | 620 | 980 | +37 | 610 | 634 | +4 | 828 | 528 | -57 | 711 | 722 | +2 |
| 19 | تجربوي د نجونو ليسه | هرات | 2,950 | 3,685 | +20 | 3,400 | 3,497 | +3 | 3,614 | 3,614 | 0 | 3,714 | 3,792 | +2 |
| 20 | تجربوي د هلکانو ليسه | هرات | 2,000 | 2,997 | +33 | 2,670 | 2,862 | +7 | 2,288 | 2,874 | +20 | 2,837 | 3,299 | +14 |
| 21 | د انجيل ولسوالی زره دار قوه | هرات | 752 | 1,246 | +40 | 1,050 | 1,288 | +18 | 1,107 | 1,519 | +27 | 1,171 | 1,196 | +2 |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| +4 | 1,803 | 1,729 | +6 | 1,697 | 1,602 | +2 | 1,779 | 1,747 | -70 | 1,016 | 1,724 | بلخ | خولم د هکانو لیسه | 22 |
| +38 | 1,290 | 799 | +4 | 1,241 | 1,196 | -7 | 1,312 | 1,408 | +2 | 1,439 | 1,416 | بلخ | خواجه برهان د هکانو لیسه | 23 |
| +11 | 1,210 | 1,073 | -1 | 1,137 | 1,146 | +11 | 1,165 | 1,035 | +9 | 1,273 | 1,160 | بلخ | خواجه برهان د نجونو ښوونځی | 24 |
| +12 | 1,063 | 933 | 0 | 1,014 | 1,014 | -1 | 1,165 | 1,171 | -1 | 1,156 | 1,165 | بلخ | مسعود شهید لیسه | 25 |
| +6 | 1,369 | 1,284 | 0 | 1,289 | 1,289 | +7 | 1,357 | 1,257 | +11 | 1,431 | 1,267 | بلخ | امین حسین د نجونو لیسه | 26 |
| +6 | 729 | 686 | +6 | 691 | 652 | -1 | 845 | 853 | +1 | 883 | 873 | بلخ | عبدالروف خلمی لیسه | 27 |
| -8 | 381 | 410 | +6 | 358 | 335 | 0 | 307 | 307 | +1 | 345 | 342 | بلخ | تنګي د نجونو لیسه | 28 |
| +7 | 4,964 | 4,606 | -1 | 4,770 | 4,822 | -7 | 4,857 | 5,206 | 0 | 5,306 | 5,305 | بلخ | سلطان رازیه د نجونو لیسه | 29 |
| -2 | 5,920 | 6,037 | +8 | 5,612 | 5,189 | -6 | 6,389 | 6,744 | +20 | 8,052 | 6,437 | بلخ | سلطان غیاث الدین لیسه | 30 |
| +4 | 2,186 | 2,095 | -2 | 2,080 | 2,130 | +5 | 2,236 | 2,117 | -1 | 2,147 | 2,170 | بدخشان | خردمن شاهد | 31 |
| +5 | 547 | 521 | 0 | 460 | 462 | +1 | 493 | 489 | -27 | 374 | 475 | بدخشان | گنده چشمه | 32 |
| +13 | 674 | 585 | -1 | 632 | 639 | +2 | 682 | 669 | -9 | 615 | 669 | بدخشان | سم دره | 33 |
